# خبریاله

(ناول)

ډاکټر عبدالهادی حماس

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دکتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم:

خبرياله ناول

ليکوال:

ډاکټر عبدالهادي حماس

د چاپ شمير:

۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ کال:

۱۳۹۷

کمپوز:

محمد صديق علمي

خپرندوی:

**ماشاءالله کتاب پلورنځی**

ګرديز ښار غزني لين

د عبدالحميد ګرديزی  تجارتي مارکيټ

اړيکې: ۰۷۷۵۱۷۳۸۰۷ // ۰۷۸۹۶۳۱٤۲٤

:۰۷۹۹۷۳۰۲۷٤

**بشپړ حقوق خوندي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**هغه ریښتوني خبریال ته چې خپل سپېڅلي مسلک**
**ته ژمن او له خپله ارزښته خبر وي.**

**ډاکټر عبدالهادي حماس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دې ستر ځواک په ستر او مهربانه نامه

## د سر څو ټکي

کوچنی وم لومړنی زده کړې مې پرمخ بوولې، هماغه مهال مې د يو چا له خولې د ژورناليست کليمه واوريده خورا ښه راباندې ولګېده ،دومره پرې پوه شوم چې ژورناليست په راډيو کې کار کوي په هغه وخت کې راډيو ګانې دې ګوتو په شمار وې ډيرې ارزښت منې وي نو ما هم فکر کاؤ چې ژورناليست يا خبريال دې نړۍ تر ټولو مهم کس دی او تر ټولو ستره دنده لري ،ځکه چې په معنوي لحاظ ددې دندې ارزښت ورځ تر بلې زما په زړه کې ځای نيو کله يې چې په ارزښت ښه ډاډه شوم نو ،له هماغې لحظې مې هوډ وکړ چې زه بايد ژورناليست يا خبريال جوړ شم ورو ورو له دولسم ټولګي نه دفراغت وخت رانيږدې کيده ما هم کلکه پوښتنه کوله چې زموږ په جنګ ځپلي هيواد کې چيرې د ژورناليزم پوهنځي پيداکړم او د هغه د پاره کانکور ورکړم ،خو تقدير بيا بله پريکړه وکړه زما د فراغت سره هيواد په جګړوکې ؤ ننګرهار چې هغه مهال پرامنه ولايت ؤ پوهنتون يې دې ژورناليزم ځانګه نه درلوده زما دوهم انتخاب طب شو زه يې دې طبابت لوري ته بوتلم او ژورناليزم راڅخه پاتې هيله شوه

سره ددې چې زما دې هيلې له نيمګړي کيدو وخت وتلی خواوس هم د خبريالي جذبه راسره ده کله کله وايم کاش يو ښه خبريال واې او په دغه اغيزمنه دنده کې مې دې زړه له تله خلکو ته خدمت کولی

شايد خلکو ته سوال پيدا شي چې دا مهال تر ټولو بريالی مسلک طبابت دی هم پکې خير دی او هم پکې خرما تاسې څنګه ژورناليزم خوښ دی حال داچې ته يو تر ټولو لوړ مسلک طبابت کې خپلې چارې مخته بيايې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ځواب دادی چې له طبابت هم ژورنالیزم ارزښتمن او مهم مسلک دی ځکه چې ډاکتر یوه انسان ته په یوه وخت خیر رسوي خو خبریال په یوه وخت کې ډیرو انسانانو ته خیر رسوي، طبیب په یوه وخت کې یو کس له درده خلاصوي خو خبریال که خپله دنده په په سمه توګه تر سره کړي په یوه وخت دې ډیرو دردونه او ستونزې هواروي ،خو سرچپه ځومره چې خیر رسونکی دی بیا په شر کې هم کتلوي اغیز کوي که ډاکتر بې غوري وکړي یوه کس ته دې مرک ګواښ او خطر پیښوي خو که خبریال غفلت وکړي نو بیا شاید یوه ټولنه ووژني

ډاکتر په یوه وخت کې دې یوه ناروغ غږ اوري او خبریال بیا دې یوې چامعې غږ اوري دې یوې جامعي اواز پورته کوي دې هغوي په ستونزو کې دې هغوی سره دې سیوري په ډول تر اخره مل وي

نن سبا رسنۍ چې دې نړۍ څلورمه قوه ورته ویل شوې ده همدا جورنالیست یې پر مخ وړي یوازې همدا خبریال یې د چلوولو ځواک لري ،که یوه ټولنه ویښه وي حتما راز به یې دې راویښیدو همدا خبریال وي ،دې رابیداریدو بنسټ به یې جورنالیست جوړ کړی وي او دې هغوي له برکته به په هوښ او د خپلو حقونو غوښتلو ته ځک ناست وي

همدارنګه که یوه ټولنه د غفلت سره ژوند کوي ،له خپلو حقونو ناخبره او له بدبختیوسره مل وي نو شاید ښه خبریال ونه لري او یا هم خبریال یې خپل مسولیتونه هیر کړي وي کنه دې ښه خبریال په شتون کې دې ټولنې ناخبري او بې غوري ناشونې ده

زه پوره باور لرم چې خبریال دې ټولنې سترګې ،غوږ او غږ دی

که یوه ټولنه له ښه خبریاله محرومه وي نو هغه په حقیقت کې دې بدن له سترګو ،غوږونو او ژبې بې برخې ټولنه ده دې یوه نیمګړي انسان په څیر هیڅ دې ژوند بساینې قسمت نه لري

په نړي کې خوځښتي او انقلابي کسان خپل بدلون دې خبریال او په دوی پورې اړند رسنیو له برکته منځته راولي کنه چې رسنی نه وي ډیر اغیزمن سیاست مدار هم چې ډیر څه یې دلاسه پوره وي څه نشي کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په هر حال دې خبريال په ارزښت که هر څومره وغږيږم هم کمه ده دا چې خبريال څوك دى ښه به دا وي چې ناول کې يې ولولی**

**د ليکنې په پاى کې دې ليکوالې او ژورناليستې اغلې رڼا دوراني غورځنگ نه دې زړه له کومي مننه کوم چې د ناول په اړه يې نيکې مشورې راکړې ،او دناول منځپانگې په لا ښه والي کې راسره مرستندويه وه ،همدارنگه گران ورور افضل زيار نه مننه کوم چې زما د کاري بوختياؤ له کبله يې زما ملتيا وکړه او دې ناول ايډيټ يې راته په ورين تندي ومانه خداى ج دې دواړه نه کموي**

**په هيواد کې دې ژمنو خبريالانو دې ډيريدو ،هوساينې او دې هغوي پر وجود کې د برکتونو په هيله**

**ډاکتر عبدالهادي حماس**

**پکتيا گرديز**

**۹/۱/۱۳۹۷**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ماشاءالله خپرندویه ټولنې یادښت

ماشاالله خپرندویه ټولنه چې نوی یې په کار پیل کړی دې خپلو هیوادوالو دې پاره په علمي ډگر کې له ډیرو هیلو سره میدان ته راوتلي او دې زړه له تله غواړي چې په علمي ډکر کې خپلو هیوادوالو ته خدمت وکړي

په مورنۍ ژبه دې اثارو چاپ په هیواد کې یوه مهمه اړتیا ده ،او دغه اړتیا او تشه دې ماشاالله خپرندویې ټولنې مسولینو ښه درکړې ځکه خو کلک هوډ لري چې ددغې مهمې اړتیا دې پوره کولو دپاره پریکنده گامونه واخلي

دا ټولنه په ویجاړ هیواد کې د دعلمې مشالونو د روښانه کولو په وزله غواړي د هیواد هره لوړه او تیاره ژوره روښانه کړي خپل دې ملي ژبو لیکوالان وهڅوي تر څو نوې پنځونې وکړي په خپله مورنۍ ژبه کې لیکنې او ژباړې وکړي او ماشاالله خپرندویه ټولنه یې ورته په معیاري ډول د چاپ په گاڼه ښکلي کړي

ماشاالله خپرندویه ټولنه هوډ لري چې دې معیاري کتابونو د چاپ په برخه کې له خپلو لیکوالانو سره اوږه په اوږه ودریږي د هغوي دې تشویق دپاره د هغوی وړتیا وي د گران هیواد د وگړو مخکې کیږدي

دادی نوی پیل یې د هیواد په کچه پیږندل شوي لیکوال ډاکتر عبدالهادي حماس له کتابه کوي او د هغه پنځلسم اثر چې ناول دی او خبریاله نومیږي چاپوي او ستاسې ته یې د لوستو دپاره چمتو کوي

موږ باورلرو چې دغه له تلوسې ډک کتاب به ستاسې ادبي تنده ماته او تر پایه به مو دې لوستو دې پاره ځان سره وساتي

موږ به په راتلونکي کې هم نورگټور کتابونه چې د هیواد په خیر او ښیگڼه وي ستاسې خدمت ته وړاندې کړو او له لوستو به مو برخمن کړو

موږ به لیکوالان وهڅو چې په نورو ژبو کې اړین کتابونه وژباړي او زموږ په واک کې یې راکړي ،تر څو موږ یې چاپ کړواو ټولنې ته دې لا ښه خدمت جوگه شو

دپرمختللي افغانستان په هیله

درنښت

استاد نورعلي همتیار ځاځي

د ماشاالله خپرندویې ټولنې مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحيم

د کماندو ځواکونو قومندان د يوه ټيپي سرتېري د کټ په ژۍ ناست ؤ، هغه ته د مورال ورکولو په اراده يې د هغه مېرانه ستايله، چې ټليفون يې وشرنګېده، ژر يې د ځنګ جيب ته لاس کړ خو ټليفون يې هلته ونه موند، د تليفون کړنګا ته نور هم ځير شو، تر څو يې اصلي ځای ومومي، ښي لوري ته د کټ په سر يې پرې سترګې ولګيدې، پر سکرين د نوم له کتو سره جوخت لکه موچی چيچلی کس تيارسی ودرېده؛ ځکه چې ټليفون دده په سر د يو عصاب خرابي مشر- قومندان ؤ؛ ژر يې غوږ ته ونيو. ورته وويل شول:

ياسر قومندانه! بېړنی خبر دی.

- موږ چمتو يو، خو قومندان صيب خير خو دی؟
- د کماندو سرتېري دې ژر تيار کړه؛ رښا د هېواد مشهوره خبرياله په خپل دفتر کې برمته نيول شوې؛ دفتر دې لوړپوړيزو ودانيو په پنځم پوړ کې دی. موږ اړيو د الوتکې په وسيله د دې لوړ پوړيزې ودانۍ له بامه سرتېري پرې را ښکته کړو، له لاندې اړخه ختل ناشوني دي يوې ډلې مو هڅه وکړه خو ټول وويشتل شول؛ برمته کونکي ډېر ماهره او جنګيدلي کسان لري که له لاندې بيا هڅه وکړو هم له زيان پرته کومه ګټه نه لري. ياسر په خبره کې ورولېده قومندان ته يې وويل دوی څه غواړي؟ موخه يې څه ده؟

هغه ځواب ورکړ:

د رښا په بدل په زندان کې د لوی انسان تښتونکي خدای داد د خوشي کېدو غوښتنه کوي؛ رسنۍ هم راغلې دي پېښه په ژوندۍ بڼه خپروي، هېوادوال ټول منتظر دي، چې کماندو سرتيري څه کوي. بريا ګټي او که له برمته کونکو ماتي خوري؛ خو ياد ساته ياسره موږ رښا ژوندۍ غواړو ،زموږ کمه تېروتنه هم د لوی زيان لامل کېدای شي.

ياسر : موږ چمتو يو قومندان صيب! خو له بامه الوتکه شايد لوړپوړيزه ودانۍ ونړوي؛ دا ودانۍ شايد د الوتکې د ناستې تاب ونه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قومندان : له موږ سره د هليکوپټر يوه ماهر پيلوټ د تعمير په سر د ناستې ژمنه کړې او د هر ډول زيان څخه د مخنيوي ډاډ يې راکړی دی.**

**ياسر : موږ چمتو يو، خو يوه ستونزه لرو، زموږ نښان ويشتونکي ټپي دي روغتون کې بستر دي، اړينه ده چې د رڼا له دفتر سره خوا کې دوهمه لوړپوړيزه ودانۍ هم زموږ په واک کې وي، هلته بايد يو نښان ويشتونکی ولرو.**

**مشر قومندان وويل: ته انديښنه مه کوه، موږ هلته داسې نښان ويشتونکي ځای پر ځای کړي دي چې ګل هم نه خطا کوي، تاسې ته مو هيلېکوپټر را غوښتی، له پاسه مو پر لوړپويزې وداني ښکته کوي نور په خپل نظامي هنر ستاسې دنده ده، چې دوښمن څنګه مهار کوئ. ياسر چې نوی ځوان ؤ او په کم وخت کې د سترو مافيايي کړيو په ماتيدا او ځپلو مشهور ؤ د امر مو پر ځای کېږي ځواب سره يې ټيلفون پرې کړ. په خپلو سرتېرو يې غږ وکړ: په دريو دقيقو کې چمتو شئ. د دوی له چمتو کېدو سره سم ياسر قومندان د دوی د چمتووالي ارزيابي پيل کړه؛ مګر د ليکه شويو سرتېرو په څنګ کې يې شريف سرتيری تر سترګو نه شو، په بيړه يې زنګ ورته وواهه ورته ويې ويل: شريف زمريه! ته دا بېړني عمليات وګوره او ته د تا تری تم کېدل وګوره؛ ته خو پوهېږې، چې زما داسې عادتونه نه خوښېږي.**

- **قومندان صيب! په يوه نښته کې بند پاتې يم، يوه ډله خلکو د رڼا خبريالې دفتر تر بريد لاندې نيولې دی غواړي، چې رڼا له ځان سره برمته کړي، ډېر بد حال دی له هماغه اړخه ډېر شور او د ډزو غږونه اورم.**
- **موږ هم په هغه دفتر عمليات کوو، وسله درسره شته؟**
- **هو**
- **نو زموږ تر رارسېدو کوم اقدام ونه کړې، وضعيت په چټکۍ سره څاره، رڼا ته هر ګواښ خپل ګواښ وګڼه، هغې ته زيان ټولو کمانډو ځواکونو ته زيان او بدنامي ده، نو خپل ځواکونه بدنامي ته مه پرېږده، برمته کونکي څاره او وګوره چې دوی څو تنه دي په دغه ځای کې ستا شتون ډېر اړين دی، موږ مکلف يو چې رڼا ژوندۍ وژغورو؛ دې پيښئ ځای ته ټولې رسنۍ راغلې دي، د کمانډو ځواکونو دې عملياتو جريان په ژوندی بڼه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپروي، که موږ په دې عملیاتو کې بریالي نه شو نو موږ ته به بلا ستونزې جوړې کړي.

سرتېري ښه صیب! وویل.

شریف د رڼا دفتر ته په دېرش متري کې ولاړ ؤ غوښتل یې ځان ته یو ډاډمن ځـای پیدا کړي، چې په ننبه شوې مرمۍ یې له غاړې سره تېره شوه، سر یې ټیټ کړ او ژر له ده سره نږدې خونې ته ننه وت، خپله وسله یې راواخیستله، مرمۍ یې تېره کـړه د تیارسۍ په ډول یې دفاعي حالت ونیو؛ د وره له چولې یې دهلېز ته وکتـل، د رڼـا فتر مخې ته یې په یوه ساتونکي نظر ولګېد، چې وارخطا وارخطا یوې بلـې خواتـه ګوري څو له حمله کونکو کوم کس پرې وار لومړی نه کړي. له کـیڼ لـوري یـې د ضربه یي مرمیو غږ واوریده، ساتونکي هغه لور ته پـه دفـاعي حالـت کـې د خپلـې وسلې زخه ونیوله، چې له بله اړخه یې مرمۍ پـه کپـری ولګېـده، لـه درز سره پـه ځمکه ولوېده. د هغه له لوېدو سره سم شریـف یـوه ډلـه برمتـه کـونکي وسـله وال ولیدل، چې د وژل شوي ساتونکي په خوا کې د دفتر په لور په بېړه اوچت ګامونـه اخلي؛ ترڅو خونې ته ننه وځي او هدف ترلاسه کړي. شریف پوه شو چې دوښـمن موخې ته د رسېدو په حال کې دی په غړېدلو سترګو یـې دا ظلـم لیـدل ونـه شـو زغملی په دې خاطر، چې وحشي وسله وال د رڼـا عـزت تـه زیـان ونـه رسـوي، د قومندان امر یې له یاده وباسه، لاس په ماشه دهلېـز تـه راووت دوه وسـله وال یـې داسې له مخې لرې کړل لکه د ارې په وړانـدې د ونـې برغنډونـه، چـې غـورځي، هغوی د ده مرمیو ته مقاومت ونه کړ په ځمکه ولوېدل، شریف دریم کس په زخـه کړ خو له پیر مخکې یې سینه یې وسوځېده درې غبرګې مرمۍ یې له سینې ووتـې سترګې پرې تورې شوې وسله یې له لاسه ولوېده نور نو وسله والو ته میـدان خـالي شو هغوی په بېړه د رڼا د دفتر په لور رهـي شـول. وسـله والـو کسـانو دفـتر تـه لـه داخلېدو سره سم شور او ځوګ جوړ کړ، دوی هڅه کوله، چې په خپلو قهرجنو او وحشیانه غږونو او د وسلو په ښکاره کولو رڼا وارخطـا او ووېـروي، ترڅـو د دوی لـه غوښتنې سره سم هغه څه وکړي، چې دوی یې ورته وایي. دوی په دې تمه ؤ چـې رڼا به یې په لیدو زارۍ پیل کړي او چغې به ووهي خو رڼا د دوی د تمې خلاف لکه یو زړه ور سپاهي د برمته کونکو په ور ننوتو، په دوی غږ وکړ ورته ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مخکې رانه شئ، تاسې بې اجازې زما دفتر ته نشئ راتللای، په بېړه ووځئ. د ډلې مشر ورنږدې شو د تمانچې ميل يې د رڼا په سر کېښود ورته ويې ويل:**
**شور ونه خورې کنه ماغزه دې شيندم، تا له مورږ اجازه اخيستې وه، چې زموږ د ډلې په اړه دې د انساني قاچاق راپور خپور کړ او له کبله يې زموږ مشر خدای داد ونيول شو؟ تاسې له مورږ اجازه اخيستې وه، چې زموږ قوي ډله دې تيت او فرق کړه او د مشر له سيوري دې محرومه کړه؟ تاسې موږ ته لويه ضربه راکړه، په ميلونونه روفۍ زيان مو راورساوه؛ زموږ د ټول کاراوبار خنډ شوئ، تا موږ نه پېژاندو چې له موږ سره سر وهل له کمر سره سر وهل دي. له موږ سره د داسې لوبې جرئت خو تر اوسه چا نه ؤ کړی، تاسې دا جرئت له کومه کړ؟ له موږ سره د مخامخ کېدو لپاره خو زورور خلک هم سل ځله فکر کوي، بيا اقدام کوي؛ ځکه هغوی پوهېږي، چې له موږسره د مقابلې پايله څه وي؛ يوازې او يوازې مرګ بس.**
**رڼا په وسله وال برمته کونکي کې قهرجنې سترګې ونيوې؛ ورته ويې ويل:**
**ځناوره! که ته ما په مرګ ګواښې زه له مرګه نه ډارېږم او نه زما په مرګ کيسه ختمېږي؛ رڼا يوه نه ده چې په وژلو به يې کيسه ختمه شي او ستاسې د انساني وحشتونو لړۍ به همداسې روانه وي؛ زما نور د همدې لارې لارويان شته، چې د هر ظالم له ظلمونو به پرده پورته کړي، د هغوی وحشي کړنې به ولس ته د لمر غونډې روښانه کړي، هيڅ يو ظلم به مو نه پټېږي، هغوی به تر هغو خپلو نارو ته دوام ورکوي، چې ستاسې له بربريته ټول بشريت وژغوري، وحشت مو له منځه يوسي او خلکو ته ډاډمن ژوند برابر کړي. له دې سره سم وحشي وسله وال د رڼا سرته په نيول شوې تمانچه هغه په سر ووهله، د وسله وال تمانچه خورا درنه وه رڼا په سر شديده ضربه وخوړله، له خپله سره يې ځاځکي، ځاځکي وينې ليدې چې د څڅوبي په څېر يې له ګوړګوتي ويښتانو د مېز پر مخ لوېدې، خو دا چې د حق او باطل جنګ ؤ رڼا د ظربې له لاسه په مخ کې هم تروه نه شوه خپلو خبرو ته يې دوام ورکړ، وسله وال ته يې وويل:**
**زه رڼا نومېږم، دوه کاله وړاندې مې د ژورنالېزم له پوهنځي څخه د فراغت په ورځ د ولس سره ژمنه کړې او قسم مې خوړلی، چې زه به خپل سپېڅلي مسلک ته وفاداره او ژمنه پاتې کېږم، د هر غدار پټه څېره به بربنډه وم، د هغوی وحشتونه به برملا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم، له ولس سره به د هرې ستونزې په وړانـدې لکـه سـپر درېـږم د هـيڅ داسـې وحشت د اور لمبې به رانه څپانده نشي، چې وګړي مې وسوزوي او ظالم يـې لکـه سپينه کوتره سرې سترګې وګرځي، دا فکر زما په وجود کې چې د ظـالم د ظلـم پـه وړاندې به خاموشه شم خيال دې محال او جنون دی نو؛ ځکه زما د ګواښـلو هڅـه مه کوئ. رڼا غوښتل د خپلو هيلو خبره نوره هم وغځوي، خو د وحشي ځناور برمته کونکي له درانه سوک سره يې خوله پيوند شوه، د رڼا سر ګنګس شو، شونډې او لـه ګذارسره لګېدلی مخ يې بې خوده شو؛ ځکه د مخ غوښه يې د درانه سوک او د مخ هډوکو ترمنځ راغله، د سوک ګذار دومره ځواکمن ؤ، چې د رڼا له سره يـې پړونـی وغورځاوه، په سترګو يې توره شپه شوه، خو له دې بد وضعيت سره سره يې بيا هـم ژر پړونی په سر کړ؛ څو حيا او عفت يې مات نشي، له هغه وروسته يې خپل نـازک لاس خپلو شونډو ته ويوړ د لاس له راښکته کېدو سره سم يې خپلې قلمي ګـوتې او ورغوی د خپل ځان په وينو سور وليده، له ګنګسيته خپل عـادي حالـت تـه نـه وه راغلې، چې ورته وويل شول:

ته دامه هېره وه، چې ته زموږ په ولکه کې يې، د ژونـد او مـرګ پرېکـړه دې مـوږ کوو، ته موږ ته ليکچر مه راکوه او نه موږ دې فلمي خبرو ته وخت لرو.

- موږ درته د پوليسو د مشر ټليفون رخ کوو ورته ووايـه، چـې زمـوږ رئـيس خدايداد چې ستا پليتې ژورناليستې له املـه پـه بنـد کـې دی را خوشـې کړي، کنه ته وژل کېږې.
- زه دا کارنه شم کولی، زما ساه دومره ارزښت نه لري، چې د خپلو مظلومو خلکو په سر يې سودا کړم، که زما په مرګ هم تمام شي زه دا کار نه کـوم او نه د مرګ پروا لرم.
- دا سمه ده چې د خپل ځان پروا نه لرې، خو د خپلو اولادونو په فکر کـې هم نه يې؟ ته مجبوره يې چې زموږ غوښتنه ومنې، ماشومان دې در په ياد کړه، هغه به څنګه شي؟
- ما واده ندی کړی، زه به د واده جشن هغه وخت کـووم، چـې ستاسـې ناولې څېرې د خپل هېواد له پاکې ځمکې ورکې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



برمته کوونکي له غروره ډکه خندا وکړه، ويې ويل: مور هم نه لرې؟ خويندې او وروڼه هم نه لرې؟
رڼا د دې خبرې په اورېدو ټکان وخوړ، تر دې دمخه يوازې د ځان په وير کې وه مور، دوه خويندې او کوچنی ورور ترې هېر ؤ.
له ځان سره مشغوله شوه، ويې ويل:
شايد زما د پېښې نشرات په ژوندۍ بڼه په ټلوېزوني خپرونو کې خپاره شي؛ که مور او خويندې مې دا حال په ټلوېزون کې ويني زړه به يې ودرېږي.
ژر يې وسله وال کس ته وويل:
د پولسو مشر ته زنګ وکړه، تاسې چې څه وايئ زه يې منم د پوليسو مشر ـ ته هغه خبرې کووم، چې تاسې يې غوښتنه لرئ.
د پوليسو د مشر نمبر رخ شو، رڼا په ژړغوني اواز په قومندان غږ وکړ ورته ويې ويل:
قومندان صيب! د پېښې نشرات لکه، چې په ژوندۍ بڼه دي، د خدای لپاره زموږ د کوڅې برېښنا پرې کړئ؛ که مور او خوندې مې زما په برمته کېدو خبرې شي زړه به يې وچوي، هغه د زړه او شکر ناروغي لري له دې خبرې سره رڼا غريو نيولې شوه سترګې يې له اوښکو ډنډ شوې ستونی يې را ډک شو د خبرو کولو ځواک يې نيمګړی شو په مېز ايښی دسمال يې راواخيست خپلې اوښکې يې پرې پاکې کړې، بيرته يې خپل همت را ژوندی کړ، سره ورغلی ستونی يې چوله شوه د خبرو توان يې وموند قومندان ته يې وويل:
قومندان صيب! تاسې مه وارخطا کېږئ زما مرګ او ژوند د دې وحشيانو په لاس کې ندی، زما ژوند د هغه چا په لاس کې دی، چې زما په تن کې ساه ښکته پورته کوي، زما په اړه فکر ونه کړئ او نه زما په سر د دغو ځناورو خبرو منلو ته چمتو شئ، ما به خدای ژغوري او که ونه هم ژغورل شم تقدير به مې د ژوند پاڼه زېړه کړې وي، نو پروا يې مه لرئ؛ ځکه ولس په ما دا حق لري، چې زه ورته د ځان قرباني ورکړم. که ووژل هم شم، يوه رڼا به خاموشه شي، ګوندې زما وژنه سل رڼا ګانې نورې وزېګوي او د ډېرو مظلومو د وژلو مخنيوی شي ماته مې له ژونده هم دا مهمه ده، چې که مور مې يو ساعت هم زما په برمته کولو ناوخته خبره شي له ماسره به مو لوی کمک کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا دې نورو خبرو دپاره ژوره ساه واخيسته خو خبرو کولو ته وخت پـاتې نـه شـو، ځکه چې د وسله والو برمته کونکو مشر په مخابره کـې پـر خپلـو ملګـرو غـږ وکـړ: هيلېکوپټر زموږ د لوړ پوړيزې ودانۍ په سر کېناست، سرتېري د وزر لرونکو مرغانو په څېر ترې را کوزېږي اوس ګوابن له پورته طرفه دی هڅوی غواړي په هـر قيمـت تر رڼا ځان راورسوي او هغه زموږ له منګولو وژغوري؛ خو د دوی سرتېرو تـه اجـازه ورنه کړئ،چې تر خپلې موخې راورسيږي، د وسله والو د مشر خبرې په خوله کـې پاتې شوې، ځکه چې مرمۍ يې په ټنډه سريښ شوه، لنډ مهال له پاسه دهليزونـه د بټ نېنو په څېر د مرميو درزا په سر واخيستل، وسله وال پوه شول چـې دا کمانـډو ځواکونه د هغو سرتېرو په څېر نه دي، چې دوی مخکې په لاندې پوړ کې لـه پښـو وغورځول.

دوی باوري شول چې دا برېښنا ته ورته تېز عمليات کوي؛ ځکه خو يـې د مقاومـت مرال شېبه په شېبه کم ځواکه کېده او د دوی کسان يو په بـل پسـې د مرميـو ښـکار کېدل، صحنه ترې خالي کېده له وروستي کس نه نوره لاره ورکه شوه رڼا يـې د سر په ويښتانو کې ونيوله، په ورمېږ يې د تمانچې ميل ورکېښود يو داسې پنا ځای ته يې ويوړه، چې هلته يې د ډال په توګه وکاروي، څو دقيقې نه وې وتلې چې کمانـډو ځواکونه رڼا او وسله وال کس ته په لس ميتري کې ودرېـدل. کمانـډو د وسـله وال کس اړخ ته د ويشتولو په موخه وسلې په زخه کړې خو هغه ځان پنا کړی ؤ، يوازې وسله يې ښکارېده، چې د رڼا سر ته يې نيولې وه. رڼا د کمانډو سرتېرو په ليدو هيله مندې سترګې د هغو په څېرو کې ونيولې، له خوښي يې په لېمو کـې اوښـکې ډنـډ شوې، د کمانډو ځواکونو ډلګي مشر په قهرجنه لهجه پر وسله وال غږ وکړ، ورته ويې ويل:

بې غيرته ايله دې په مېرمنو زور رسېږي؟ نارينه ؤ ته بهر راووځـه، چـې د ژونـد پـه خوږو دې پوه کړي.

هغه لا هماغسې په خپل ځای کې پټ سنګر نيولی ؤ. ډلګي مشر بيا غږ پرې وکړ ورته ويې ويل:

ته نه پوهېږې، چې زموږ تور سرو ته، څوک د زيان رسولو هڅه وکړي موږ څه سزا ورکوو، تسليم شه کنه داسې به دې ودردوم، چې خپل مرګ رانه په زاريو وغواړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسله وال کس يې په ځواب کې ګواښرنده وويل: که د رڼا ژوند غواړئ نو وسلې پـه ځمکه کېږدئ، ماته د وتلو لار راکړئ کنه لـه مانـه مخکـې بـه د رڼـا پـر سر مرمـۍ خښېږي.

کماندېو کسانو د هغه د وارخطاي په پار په هغه نورې چغې هم وکړې د مرګ ګواښونه يې ورته واورول، خو هغه خپله تېره خبره تکراروله او ويل يې: زما له مرګ مخکې به مو خبرياله مري؛ زه ستاسې په اخطارو نه ډارېږم او نه تسليمېږم.

د کماندېو سرتېرو يوه او بل ته وکتل، ډلګي مشر ته يې وويل: مور بله لاره نه لـرو، وسلې بايد په ځمکه کېږدو؛ ځکه چې د رڼا ژوند مونږ ته تر هر څه مهـم دی، دوی خپلې وسلې په ځمکه کېښودو ته لانه وې رسولې، چې شيندلي مـاغزه او وينـې لـه چت سره پيوند شول؛ ټولو يو بل ته حيران وکتل، وارخطا يې په يو بل کې سترګې خښې کړې ټولو فکر وکړ، چې رڼا يې وويشته. عمليات ناکام شول هر څـه پـه اوبـو لاهو شول؛ رڼا هم زبون وهلې ولاړه وه، لنډ مهال وروسته د رڼا برمته کونکی لکه د ونې برغنډ د هغې له څنګ سره ولوېد؛ نښان ويشتونکي په خپله مخابره کې غږ وکـړ ويې ويل:

مه وارخطا کېږئ د خفګان څه نه دي شوي، د رڼا له برمته کـونکي وسـله وال مـې خلاص کړئ. د ټولو الوتو رنګونو ته وينه ورغله، له خوښي يې يو بـل پـه غېـږ کـې ونيول د رڼا له روغتيا ډاډمن شول؛ هغه يې له پنځم پوړ راښـکته کـړه، امبولاسـونه ولاړ ؤ خو رڼا روغتون ته له تللو ډډه وکړه، ويې ويل:

زه ښه يم که له ماسره ښه کوئ نو کورته مې ورسوئ، د مور څنګ ته ځم مخکې له دې، چې مور مې زما له پېښې خبره شي بايد ما ووينې.

د رسنيو استازي هم خورا ډېر راغلې وه؛ ځکه د دوی يوې هم مسلکې د ښـامار پـه خوله کې د ژوند خطرناکې شېبې شمېرلې او ژغورنه يې دوی ته له ډېر ارزښته خالي نه ؤه، کور ته له تګ مخکې خبريالان پرې راټول شول د څو جملو ويلو هيلـه يـې ترې وکړه.

رڼا له خپل جيبه دسمال را واخيست د خپل مخ وينې يې پرې پاکې کړې، تر څو د انساني قاچاق، ډلې د زور زياتي نښانې له ليدونکو پټې کړي؛ خبريالانو تـه يـې پـه لنډو الفاظو کې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یوه خبریاله یم، په حقیقت کې د ولس ژبه یم، د هېـواد د سـتونزو پـه راپورتـه کېدو کې د خلکو د زړه اهتزاز یم؛ خو یو شمېر د انسـانیت پـه جامـه کـې وحشي- ځناور غواړي دا اهتزاز ودروي دا غږ خپ کړي، د ولس دا ژبه ودروي هیله یې ده چې په دې هېواد کې چې کوم وحشي کړنې دوی تر سره کوي باید په وړاندې یې څوک ونه درېږي او نه یې په وړاندې اواز اوچت شي، کنه د تل لپاره به یې بې غږه کړي او له منځه به یې یوسي؛ خو زه دا د حق اواز خاموشي ته نه پرېږدم، که مـوږ څوک په مرګ ګواښي او یا مو د ترور هڅه کوي، وژني مو او زموږ د له منځه وړلـو اراده لري، هیڅ پروا یې نه لرو او نه دا کار زمونږ په رسالت کومـه اغېـزه کـوي، د یوې رڼا په له منځه وړلو دا بهیر نه درېږي او نه زموږ د څپانده بهیر په وړاندې داسې کړنې کوم خنډ رامنځته کولی شي.

هغوی که دا هیله لري، چې له موږه به میدان ورخالي شي د هغوی دا هیله خـوب دی، خیال دی او محال دی.

دوی غواړي موږ ووېروي، خو زموږ په زړونو کې د خدای وېره، مسلک ته ژمنتیا او له ولس سره دومره مینه ده، چې د دوی وېرې ته پکې ځای ندی پاتې شوی.

رڼا غوښتل نورې خبرې وغځوي، خو د خبرو په منځ کې چوپ شوه له یـوه لـوري سره یې سترګې وګنډل شوې سترګې یې نه رپولې، خو د اوښکو غټې غټې څـاڅکي یې د ګرېوان په لوري څڅېدل. ټول ولاړ خلک اړ شول د رڼا د سترګو نظر پـه لـور وګوري، له کتو سره سم یې ولیدل، چې یو څوک پښې لوڅې په اوچتو ګـامونو د رڼا په لوري را روان دي، د لېونیو په څېر تګ، زیړ زبېښلی مخ لـري، پـه وارخطـا څېره او راوتلو سترګو له دوی د یوه ورک کس په لټه کې دي، په لومړي سر کې خو ټول حیران شول چې دلته څه روان دي خو د را روان کس په رانږدې کېدو ټولـو احساس کړه، چې د رڼا مور، دوه خویندې او کوچنی ورور په داسې حالت کـې د دوی په لور په اوچتو ګامونو لاره لنډوي، چې د مور پړونی یې په ګرېوان کې پروت دی. د مور ناسم او وېرېدلي حالت ټول خلک خفه کړل، د هغې لالهانده او بګراوه کړنو هر چاته د مور د مینې کیسه کوله.

د خپل اولاد په مینه کې د جنون تر بریده ویریدلې مورکۍ راورسیده او له خپلـې لښتې لور نه یې غېږ ګډه کړه، زړه ته یې نږدې کړه، بار بار یې په مـخ او ټنـډه پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**داسې حالت کې ښکولوله، چې د هر ځل ښکولولو سره به یې په وجود هم ژور نظر غورځاؤه، تر څو یې د پېښې له لاسه پر وجود ټپونه ووینې کله یې چې د رڼا په غېږ زړه موړ شو تاو شوي لاسونه یې ترې لرې کړل بیا یې ښکته پورته ورته وکتل؛ په ژړه غوني اواز یې ورته وویل: لورې! ډېره یې ووهلې؟ د هغوی هیڅ رحم درباندې رانه غی؟**

**رڼا یې د ډاډ هڅه وکړه ورته ویې ویل:**

**مورې! هر څه سم دي، ماته هیڅ زیان ندی اوښتی، خدای ستا د دعاو له برکته لـه هغو وحشي خلکو وژغورلم، خو ته چا خبره کړې؟ مور یې وویل:**

**لورې! یو ناڅاپه مو په غیر معمول ډول برېښنا لاړه، لږ وروسته له بهر څخه دې ماما زنګ وکړ ویې ویل:**

**رڼا چیرې ده؟ ما ځواب ورکړ: هغه دفتر ته تللې.**

**بیا یې وویل: تاسې له کوره مه وځئ د هغې په دفتر کې څه ګډوډي پېښه شوې، زه چاته زنګ کوم هغه به یې کورته راولي، نور یې ټلیفون پرې کړ.**

**ددې خبرې په اورېدو اسمان او ځمکه راباندې راغله، په ځان نه یم پوه شوې، چې په څه ډول تر دغه ځایه راورسېدم.**

**رڼا خپله مور له لاسه ونیوله ورته ویې ویل: ځه مورې کورته ځو، نورې خبرې هلته کوو.**

**دوی کورته لاړې، رڼا د خپل وجود په وینو رنګ شوې جامې بدلې کړې، بیا د خپلې مور څنګ ته راغله ورته یې وویل:**

**مورې! نن مې په خپلو سترګو ولیدل، چې ستاسې له دعاوو فولادي دېوالونه راته جوړېدل او هرې بلا ته به د سپر په څېر درېدل.**

**مور یې خبرې ور پرې کړې مخ یې ترې واړاؤ، ورته ویې ویل: زه له تا خفه یم.**

**ـ ولې؟**

**ــ ته طب پوهنځي ته بریالۍ شوې وې، هغه دې ونه وایه؛ څه به ښه وه چې اوس دې د انسانانو روغتیا پالنه کولای، ولې دې ژورنالیزم ته ځان رابدل کړ؟ له دې سرخوږي دې څه غوښتل؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا په خنداشوه؛ خپلې مور ته يې د قناعت په پار وويل: مورې! زه دا درسره منم، چې زما مسلك له ننگونو سره مل دى؛ خو زما مسلك له طبابت څخه زر ځله ډېر خيررسونکی دی؛ طبيب د يوه انسان ژوند ژغوري خو ژورنالېست بيا د ټولنې ژوند ژغوري، طبيب يوه انسان ته د خداى په مرسته نيك مرغي ور رسوي خو ژورنالېست بيا د ټولو د ښه راتلونکي په لټه کې وي.

ــ لورې خبره دې منم، خو زموږ په هېواد کې دا هر څه د ځان په بيه کېږي، دلته خو د بيان ازادي نشته دلته، چې څوك د چا گټې وننگوي يا د چا د فساد برغولی پورته کړي د مرگ سزا ورکول کېږي، دلتـه انصاف نشـته زور حـاکم دی، ټوپـک برلاسی دی او ټوپک له مرگه پرته نور څه کولی شي؟ موږ پرته له تا څوك لرو؟ که خدای مه کړه ته ونه اوسې، د دې کور پالنه به بيا څوك کوي؟ ته پـه دې خوښـه يې، چې مور دې بيا د گدايي له لوښي سره د هر کور دروازه ټکوي؟

رڼا يې په خوله لاس ورکېښود ورته ويې ويل:

مورې! هغه ورځ دې خدای ج نه راولي، چې ته نورو ته اړه شې.

مور يې د رڼا لاس له خپلې خولې لرې کړ، خبرو ته يې دوام ورکړ

- ته ضدي يې، ما څومره منتونه او زارۍ درته وکړې، چې طـب پـوهنځی ووايه کار به دې له روغتون او ناروغـانو سره وي، لـه دې هـره ورځ مـړه کېدو به دې څه غوښتل، تا داسې مسلك غوره کـړ، چـې هـره لحظـه د گواښ سره مخ کېدای شې.

رڼا د مور خبرو غمجنه کړه؛ ځکه د مور له خبرو يې درك کوله، چې هغه د خپلـې لور گواښ څومره ځوروي نو د مور د ډاډ گېرنې په اړه يې هغې ته وويل:

مورې! ته په حقه يې، موږ په داسې يوه هېواد کې ژوند کوو، چې دلته زور، جـبر او پيسه حاکمه ده. دلته اوس هم خلك د ټوپک له شپېلۍ روزي گټي خـو د حـل لاره دانه ده، چې کرار کېښنو. دلته د باطل د ورك کولو لپاره قرباني تـه اړتيـا ده، دلته د سمون او ټيکاو لپاره سرښندنو ته اړتيا ده، موږ که غواړو خپله ټولنه د روڼتيـا په لور بوځو نو اړينه ده، گواښ ومنو او دې ته چمتـو شـو چـې خپلـه وينـه د دې هېـــواد د بقـــا او ښـــه راتلـــونکي لپـــاره نذرانـــه کـــړو. دوی خبرې کولې، چې رڼا ته زنگ راغی، د ټليفون په سکرين يې وليدل، چـې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رئیس سکرتر یې زنګ وهلی؛ پرته له دې، چې د رڼا د روغتیا پوښتنه وکړي ورته وویل شول: رڼا سبا سهار رئیس صیب بللې یې، رئیس صیب ویل: چې د کار له پیل وړاندې باید زما دفتر ته راشي.**

**رڼا ورته وویل سمه ده، نور ټلیفون پرې شو. د سکرتر د خبرو لـه اوریـدو سره رڼـا نارامه شوه.**

**له مور نه یې خپل اطاق ته د تللو اجازه وغوښته، خپل بستر کـې څملاسـته او لـه دفتره د راغلي ټلیفون په اړه یې فکر مشغول شو، له ځـان سره پـه خـبرو شـوه، زه رئیس ولې غوښتې یم؟ هغه په بدل د دې، چې ماته ډاډ راکړي، راشي زما پوښـتنه وکړي او ما وهڅوي برعکس یې زه په غیر متراقبه ډول دفتر ته وغوښتم؛ داسې څه شوي، چې رئیس راسره په داسې رویې مجبور شوی؟ هغې په دې اړه ډېر سـوچونه وځغلول خو ډاډمن ځواب یې ترلاسه نه کړ.**

**رڼا په همدې سوچونو کې سترګې سره ورغلې، خو یوې ژورې اندیښنې یـې خـوب ګواښه ، کله به نیمه ویښه ویده شوه او کله به یې بیا لـه چـت سره سـترګې وګنـډل شوې ، له ازانونو نه مخکې یې دې ازان په تمـه سـترګې رڼـې وې ، دې سـهار پـه راختو یې اودس او لمونځ وکړ لا یې رسمیات پیل نه ؤ چې مرکزي دفتر ته ورسېده ، په دغه دفتر کې به دوی حاضري هم لاسلیک کوله د حاضري خونې ته لاړه، لـه جیبه یې قلم راوکیښ غوښتل یې چې د خپل نـوم ځـای کـې لاسـلیک وکـړي، د حاضري مامور یې د لاسلیک په ځای خپل رغوی کېښود. رڼا دوه ګامه شاته لاړه، بیا یې د حاضري په مامور کې غوصه ناکې سترګې خښې کړې ورته ویې ویل:**

**دا څه ډول بې ادبي ده، ! زه تا سره دا ډول ټوکې نه لرم.**

- **لورې! زه ټوکې نه کوم، نه ستا د ځورولو هڅه کوم او نه زما عمر د داسې ټوکو سره سمون خوري، موږ ته همداسې دسـتور راکـړل شـوی؛ رئـیس ویلي چې لومړی رڼا باید زما دفتر ته راشي، له هغه وړاندې د حاضري پـه کتاب کې د لاسلیک اجازه ور نه کړئ.**

**رڼا له غوسې سره سپینه شوه، له ده سره یې نورې خـبرې پـرې کـړې، د رئـیس د خونې په لور رهي شوه. د حاضري مامور ور پسې له شاه غږ کړ: لورې! موږ سـتا پـه پاکې، وطن دوستې او هغه مبارزې ویاړو، چې په خپل وجود کې یې د دې بېچاره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولس لپاره لرې، زه درته ډېر درناوی لرم؛ خو هيله ده له ما خفه نشې، ماته له پاسه امر ؤ، زه مجبور وم کنه ته د داسې رويې ور نه وې.**

**رڼا يې خبرې اوريدې خو ځواب يې نه ورکاؤ، په چابکو قدمونو يې د رئيس د دفتر لار لنډوله، د هغه د دفتر وره ته ورسېده، دروازه يې ټک، ټک کړه. د ننوتلو اجازې غږ يې واورېد، ور يې پرانيست رئېس ته مخامخ په يوه چوکۍ کېناستله.**

**رئيس ته يې وويل:**

**مهرباني صيب!**

**هغه يې په دې لنډه او د هيله مندي خلاف خبره باندې لنډه مسکا وکړه ويې ويل:**

**ته د يوه رئيس سره خبرې کوې، نه سلام نه سترې مشې او نه کوم احترام؛ دا عادت مې دې خوښ نه شو.**

- **هو تاسې لوړ خلك خو ځانونه واجب الاحترام ګڼئ، ښکته خلك درته د خدای پيداوښت هم نه ښکاري.**
- **ولې؟**
- **ښه ښېلګه يې زما پرونۍ پېښه ده؛ زه د وحشي ښامار له کومي راوويستل شوم، يوه لحظه مې هم د ژوند هيله نه درلوده، بس دوهم ژوند خدای را په برخه کړ زما مور، يتيم ورور اوخويندو ته به مې خدای کتلي ؤ، چې وژغورل شوم خو تا د يوه رئيس په توګه زما د حال پوښتنه هم ونه کړه او د يوه انسان په توګه دې هم راته ونه کتل، چې په ما څه تېر شول خواخوږي خو دې يو وارې راسره ونه کړه؛ بلکې د يوه عسکر په ډول دې راوغوښتم او بيا دې د دفتر د غړيتوب حق هم را څخه واخيست، په حاضري کې د لاسليک کولو اجازه هم رانه کړل شوه. ولې؟**
- **اغلې رڼا! له ټولنې سره توافق وکړه؛ دا د اصحابو دور نه دی، چې هر څه د خدای ج د وېرې او د ضمير لرلو له مخې کېږي، دا يووېشتمه پېړۍ ده؛ دلته به سازش کوې، ډېر هغه څه به نه وينې، چې ګورې يې، لږ د ځان په فکر کې هم اوسه.**

**رڼا يې خبره ورپرې کړه ورته ويې ويل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رئيس صيب! دا سمه ده، چې وخت تېر شوی خو زمانه بدلون نه کوي، زمانه هماغه زمانه ده هغه مو خدای ج دی، هغه مو پيغمبر دي او هغه يې سپارښتنې دي يوازې څه، چې بدل شوي هغه زموږ ضميرونه دي، چې تل د باطل څخه اغېزمن دي، تل ناوړه وېرې پکې ځای نيولی وي او له کبله يې سر ښکته ژوند تېروو.

- رڼا جانې! ته ځوانه يې، جذبات دې له تعقل څخه وړاندې دي، تا له پرونۍ پېښې هم پند ندی اخيستی، ته اوس هم په هغه پخواني خره سپره يې او اوس هم هغه پخوانۍ بابولالې وايې.

په رڼا يې خبرو ښه اغيز ونه کړ له ځان سره يې وويل: دا سړی دې په خبره نه پوهېږي، خبرې او دليل ورسره بې ګټې دي؛ نيغ په نيغه د رئيس د خبرو په منځ کې ورولوېده ورته ويې ويل: رئيس صيب! هغه خبره وکړه، چې زه دې ورته رابللې يم؟

- رڼا جانې! ملک په يوه بحران کې دی، دلته هر سړی خپله شپه تېروي، ګذاره کوي، دا ملک په ما اوتا نه جوړېږي، اوبه له پاسه خړې دي ما اوتا يې دلته چې د رېښولو هڅه کوو دا د وخت له زيان پرته بله ګټه نه لري.

رڼا، چې کم يې د خندا عادت لاره او لکه د شهزاده لور خبرې يې بې اړتيا نه اوږدولې د رئيس په خبرو يې نری مسکا وکړه، ويې وويل: داسې هم نه ده چې ته وايې دامنم، چې زموږ ملک کې بلا ستونزې دي، د هېواد پالنې احساس ختم دی، مسوليت پېژندنې کډه کړې او په خپلو خلکو زړه سوی پای موندلی خو دا نه درسره منم، چې سمون نشي راتلای؛ که زه ښه شم او ته ښه شې سبا زما او ستا په څنګ کې بل ملګری ښه کېږي د هغو نه بيا نور الهام اخلي، چې يوه ورځ به ټوله ټولنه ښه شي نا انډولي، بې انصافي، ظلم، فساد دا هر څه به له منځه لاړشي موږ مسلمانان يو، له خدايه هيله نه پرې کوو.

رئيس د مېز په سر د چايو ډکه پياله خولې ته کړه غوړپ يې ترې وکړ بيا يې د تمسخر مسکا وکړه رڼا ته يې وويل:

رڼا جانې! زه تا ته قناعت نه شم درکولی او دا هم زياتوم، چې ستاسې لپاره پر ځان خطر نه شم اخيستی.

- زما لپاره تاته خطر؟ زه پوه نشوم، زما له لوري تاته څه خطر دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ستا له برمته کېدو او ژغورل کېدو وروسته د مافيا يوه غړي ماته ټليفون وکـړ، ويـې ويـل:
ستاسې د يوې کارکوونکې له لاسه موږ ته ډېر زيان ورسېد، مشر مو د بند د تورو تمبو تر شاه سختې شپې او ورځـې تېـروي، مـوږ خپـل دوښـمن د ځمکې په سر نه پرېږدو خو له بده مرغه لومړی ځل دی، چې زموږ ښکار بچ شوی هغه هم رڼا خبرياله ده، مـوږ دلتـه چاتـه د خپلسـري اجـازه نـه ورکوو، تر دې چې د حکومت سره ډغرې وهو.
که بل ځل هم د رڼا د کوم راپور له مخې موږ ته زيان ورسېد بيا نور موږ د رڼا سره کار نه لرو تاسې مو ټارګېټ ياست او هيڅ زړه سوی به دربانديې ونه کړو.

رڼا وويل: ښه! نو بيا؟

- يا ځان د ټولنې له روانو حالاتو سره برابر کړه او يا دنده پرېږده، هيله مې داده چې ته نور ضدونه پرېږدې، د شهرت نورې لارې هم شته، ته د ځان په خطر کې اچولو سره ځان مشهوروې دا عاقلانه کار نده.

رڼـا لنـډه مسـکا وکـړه، پـه رئـيس کـې يـې سـترګې ونيـوې، ورتـه ويـې ويـل: رئيس صيب! تاسې ترکستان ته روان ياست، زما مسؤليت ادا کولو تـه زمـا د شـهرت پرستي خطاب کـوئ؟ زه د ولـس اواز اوچتـوم، تاسـې مـې خـود غرضـه او ځـان غوښتونکې بولی؟ له تامې دا هيله نه وه.

رئيس يې په دې خبرو په قهر کړ، له يوې خوا د رياست هوا له بلې خوا د رڼا پېغراتو جذباتي کړ، رڼا ته يې وويل:

زه اوس يو بل کار هم کوم چې له مانه به يې هيڅ تمه نه لرې، د ځنګ له دوسـيې څخه يې کاغذ را واخيست او د رڼا مخې ته يې کېښود، ورته ويې ويل: دا لاسـليک کړه.

- دا څه دي؟
- ستا استعفی ليک؛ موږ ستا په شان سر زورو کسانو ته اړتيا نه لرو او نه خپل ځان ستا په خېر، د ځان غوښتونکو د کړنو له امله په ګوابښ کې اچـولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا پرته له دې چې کوم ځنډ وکړي، له دسکول نه يې قلم را واخيست او پانه يې لاسليک کړه.

رئيس له پسخند ډکه مسکا وکړه، رڼا ته يې ويل:

ځه خير، که يوه بااستعداده ژورنالېسته مو له لاسه ورکړه، ريس هم وژغول شو.

رڼا ناهيلې سترګې چت ته ونيوې، د پکي باد يې په سترګو ويښتان وغوړول، ساعت زنګ وواهه ستن په نهو ولاړه وه، قلم يې په دسکول کې کېښود، رئيس ته يې مخ ور واړاو، په قهرېدلې ژبه يې وويل: ايا يوه ورځ به نه مرې؟ د تل لپاره به په دې نړۍ کې اوسې؟ د دندې له ساتلو پرته د کوم بل څه په اړه هم سوچ کوې؟

- رڼاجانې! ځه نور دې دلته کار خلاص شو او که نه ځې، ساتونکي راغواړم هغه بيا د يو چا د وتو په چل پوهېږي.
- زه ځم خو اوس زه ستا کومه د لاس لاندې ماموره نه يم او نه ته زما رئيس يې، زه اوس د خپلې ارادې څښتنه يم، نور راسره د متقابل احترام په نظر کې نيولو سره خبرې کوه. له تګ مخکې غواړم يوه بله خبره هم درته وکړم، ملنګ ته يوه دروازه ترلې، سل خلاصي وي هيڅ وخت فکر ونه کړې، چې تاسې ته له استعفې سره به موږ له لوږې مړه شوه، تاته به بيرته راشو او په زاريو به درنه دنده دې خيرات په ډول وغواړو، زموږ روزي تاسره نه، له خدای ج سره دی، هغه مو ساتندوی دی، له دې خبرې سره رڼا په خوا کې دسکول راواخيست د رئيس له دفتره رهي شوه.

ريس له شاه ورپسې غږ کړ، هيڅوک به هم دنده درنه کړي، ته ضدي يې شهرت طلبه يې، د ځان مشهورولو لپاره هر څه کوې.

رڼا يې خبرې اورېدې د هغه د خبرو مناسب ځواب ورسره ؤ خو له ځان سره يې ويل: چاته يې وايې رئيس کله په خبره پوهېږي، قدمونه يې يو په بل پسې اخيستل د دفتره له عمومي دروازې ووته ښه شېبه مزل يې وکړ د کور کوڅې سر ته لانه وه رسيدلې، چې د ټليفون زنګ يې وکړنګېده، له دسکول يې ټليفون را واخيست، زنګ يې له کوره ؤ، غوږ ته له نيولوسره سم يې د کوچني ورور چغې واورېدې، رڼا وارخطا شوه په ورور يې غږ وکړ: اسده وروره! څه خبره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هله ژر راشه مورجانه بې هوښه شوې، له خولې يې ځګونه ځي د شکر درمل يې هم خلاص شوي لکه، چې د شکر له لاسه داسې شوې.

رڼا خپله هم له دې غږ سره له وارخطايي لکه پاڼه ورپېده خو دا چې ورور يې خورا په وېره کې ؤ د هغه د همت زياتولو هڅه يې پيل کړه، هغه ته يې وويل: وروره! زه د کوڅې سر کې يم، ژر در رسېږم، په مور به هيڅ هم نه کېږي.

ټليفون يې پرې کړ، عمومي سړک ته په منډو شوه، ترڅو ټکسي- راونيسې او مور روغتون ته يوسي.

د سړک غاړې يوې اوبلې خوا ته يې د روحي ناروغ په څېر د ټيکسي لټولو په نيت کتل، څو موټر پيدا کړي، ويې نيسي او مور روغتون ته ورسوي، کيڼ اړخ ته لرې يې په يوه ټيکسي باندې سترګې ولګېدې، په هماغې ټيکسي کې سترګې ټومبلې وې، څو ترې فنا نه شي ژر يې ونيسي او کور ته يې بوځي خو له ښي اړخه يې د يوه ټاير ښوېدلي بريک غږ واورېده،ور ويې کتل نوى ماډل کروزين يې مخې ته ودرېد، ښيښه ښکته شوه، په رنګيز او جذاب ځوان يې سترګې ولګيدې چې د موټر جلب ته ناست دى، تورې عينکې يې په سترګو دي، رڼا هم دې موټر او ځوان نندارې دې سترګو له څاره نه لوله ، ځوان له بريک سره په سترګو را لوېدلي ټيټانيک ويښتان پورته کړل، بيا يې وپوښتل: اغلې! له لرې مې درباندې نظر ؤ لالهانده دې يوه او بل خواته کتل خير خو دى؟ ايا کومه ستونزه مو درلوده؟

د رڼا سترګې له اوښکو ډکې وې په هلک يې غږ وکړ: وروره! څه خپله لار وهه که لالهانده ګورم که عادي تا پورې څه اړه لري؟

په دې وخت کې د رڼا په نظر کې نيولې ټيکسي راورسېده، لاس يې ورته وښوراؤ خو هغې سپارلي لرله ورته ونه درېده، اه يې له خولې ووت، دعا يې وکړه، ويې ويل: خداى دې ژر موټر پيدا کړې کنه مور به مې مړه شي، بيرته يې په ولاړ موټر کې سترګې ونيوې، ځوان لا هماغسې ښکته ښيښه موټر کې ناست دى او د رڼا د بد حالت نندارې يې کوله. رڼا ورنږدې شوه په قهرجنه څېره يې ورته د تلو اشاره وکړه بيا يې ورسره ژبه هم مله کړه ورته ويې ويل:

دلته د څه لپاره ولاړ يې؟ مور خپل غم ته پرېږده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځوان، چې شاپور نوميده له موټره راښکته شو رڼا ته نږدې ودرېد، ورته ويې ويل: اغلې! زه کومه بلا نه يم، چې ودې خورم او نه کومه بده اراده لرم داسې راته ښکاري، چې په کومه ستونزه کې يې؟**

- **نو ته زما په کومه رشته زما له غمه مړ يې؟**
- **ولې دلته انسانيت مړ دی؟ خواخوږي نشته؟ ولې موږ په دې هېواد کې ګډ ژوند نه کوو؟ ولې دلته مسلمانه وروګلوي نشته؟**

**رڼا يې له خبرو صداقت حس کړ، د هغه په خبرو ډاډه شوه.**

**په ژړغوني غږ يې ويل: مور مې د مرګ سره لاس او ګرېوان ده، کوما کې ده غواړم ټيکسي ونيسم او روغتون ته يې ورسوم.**

- **اغلې! په ما د خپل کور د غړي په څېر باور وکړه، ستا مور زما مور ده، زه نن له دفتره رخصت يم، که ته کومه نيوکه نه لرې زه درسره روغتون ته د ناروغ په وړلو کې مرسته کوم.**

**رڼا چوپ خوله ولاړه وه د هغه د خبرې ځواب يې ځکه نه ورکاوه، چې د هغه د شخصيت په اړه لا پوره ډاډه شوې نه وه؛ هلك هم پوهېده چې د بې باوري له لاسه ورته نجلۍ څه نه وايي؛ ځکه يې نور هم د هغې د باوري کېدو هڅه وکړه، رڼا ته يې وويل:**

**ژر کوه وخت نه ضايع کوو خدای مه کړه مور جانه به دې لاسه ورکړې. له دې خبرې سره د رڼا وېره نوره هم د مور د مرګ په اړ زياته شوه، نه او هو يې ونه ويل، د کروزين شا سيټ ته وخته، خو زړه يې ناراحته ؤ لا يې هم په دې اړه يې فکر مشغول ؤ، چې ځوان يې دوکه نه کړي، په دې بهانه يې ونه تښتوي او يا هم د هغه د کومې لوبې ښکار نه شي خو د مور د ناروغۍ وېره پرې زوروره شوه. تر هر څه يې روغتون ته د هغې وړلو ته لومړيتوب ورکړ. موټر يې د کور دروازې خوا ته ودرېده. له کوره يې مور په بې هوښه حالت کې راوباسله او موټر ته يې پورته کړه، د روغتون په لور يې حرکت وکړ.**

**رڼا د مور سر په خپل زنګون کېښود، د هغې خاموشه وضعيت به کله، کله ووېروله، ښکته او پورته به يې ورته وکتل کله، کله خو به يې ساه اخيستوته متوجه شوه، بيا به يې نبض ونيو د هغې دساه اخيستو او د نبض خوځښت به ډاډه کړه، د هغې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مرګ له ویرې به څوشېبې مطمینه شوه، له ځان سره به یې وویل: خدایه مرګ او ژوند ستا په واک کې دی؛ زما مور زما ژوند ده له دې ژونده مې مه محرومومې.**

**موټر ته په ختو کې یې د مور د سر ویښتان بې نظمه شوي و، یو شمېر یې په مخ پراته ؤ، رڼا غوښتل چې لاس وروړي، د هغې په سترګو رالوېدلي ویښتان تر غوږو ورتاؤ کړي، په دسکول کې یې ټلیفون وشرنګېده، ټلیفون یې راواخیست غوږ ته یې نږدې کړ؛ نجیبې خورلنې یې له سلام نه وروسته وویل:**

**رڼا خورې! ستا له برمته کېدو زه اوس خبره شوم، زه درته ملامته یم، چې ستا پوښتنه مې ناوخته وکړه، تا خو له لویې پېښې خدای ج بچ کړې یې.**

- **مننه خورکۍ! بس چې څوک خدای نه وي وژلي، هغه څوک نشي وژلی. ما خپل مرګ په خپلو سترګو ولید خو الله ج به مې کومه دانه پریښې وه.**
- **شکر چې روغه یې، بس نو بلا وه برکت یې نه وو؛ زموږ وطن له داسې بدبختیو ډک دی. دا لومړۍ او وروستۍ پېښه نه ده، چې موږ یې تجربه کوو موږ باید همت ولرو.**
- **نجیبې خورې! موږ باید له دې بدترو پېښو لپاره تیاری ولرو، مقابله به کوو حالاتو ته نه تسلیمېږو، د سمون راوستلو لپاره اړ یو، چې هر خطر په ځان ومنو.**
- **هو بلکول،که داسې ونه کړو نو بیا به میدان یوازې ظالیمانو ته پاتې شي، ته اوس دفتر کې یې؟**

**موټر یو دم بریک وواهه رڼا رډې سترګې د مور په طرف ور واړولې، د زړه دربا یې په غوږنو محسوسېده، نجیبې ته یې وویل: نه دفتر کې نه یم، هلته مې استعفی ورکړه.**

- **ولې؟**
- **دفتر رانه هغه څه غوښتل، چې زما مسلک نه قبلول، دوهم وړاندیز یې استعفی وه، چې ما باید لاسلیک کړې وای.**
- **ښه دې کړي، د وجدان له ملامتي دې ځان خلاص کړی، روزي په دفتر کې نه، له خدای سره ده؛ د خدای ج شکر دی چې خپلې مورکۍ، کوچني ورور او خویندو لپاره ته ژوندۍ پاتې شوې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا ترهېدلې سترګې په مور کې خښې کړې وې، په زېږ زبېښلي مخ يې مچ خپل وزرونه رپول ژر يې د لاس په حرکت ترې لرې کړ ،بيايې نجيبې ته يې وويل:
خورې! که ته نه خفه کېږې بيا بل وخت خبرې کوو؛ مور مې ناروغه ده بې هوښه شوې ده، روغتون ته په لاره يو.
نجيبې ښنه وغوښته او د مرستې ست يې وکړ، خو رڼا دې مننې په ويلو سره ټليفون پرې کړ.
شاپور د رڼا د ټليفون خبرې ټولې د زړه په غوږو واورېدې، له ځان سره يې وويل:
شاپوره تا خو عادي نجلۍ موټر ته نه ده پورته کړې دا خو مشهوره ژورنالېسته رڼا ده، شاته يې وکتل، په رڼا کې يې سترګې وټومبلې، هغې زړه نا زړه يې ويل:
که غلط شوی نه يم تاسې مشهوره خبرياله رڼا نه ياست؟

- هو، مشهوره نه يم خو هماغه يم.
- ښه! ډېر ښه، ما دې تصوير ليدلی ؤ خو اوس تاسې په حجاب کې ياست، وبښۍ، چې ما مخکې ونه پېژندۍ، بيا يې نـری مسـکا وکـړه ويـې ويـل: ستاسې نوم خو دومره غټ دی، ما فکر کاوه، چې په ضد مرمۍ موټر کې له شا او مخته باډي ګارډانو سره به چارې مخته بيايۍ خو خبر نه وم، چې دا پېژندل شوې څېره دومره شکسته نفسه ده، چې روغتون ته د ناروغـانو وړلو لپاره عادي موټر هم نه لري او په ټيکسي کې يې لېږدوي.
- زما توپير له نورو سره همدا دی، چې زه معنوياتو ته ارزښت ورکـوم، نـه ماديانو ته. زه د يوې غريبې کورنۍ يم، د موټرو دارايي، شان او شوکت په نسبت خپل ولس ته ترجيح ورکوم او هيله مې ده، چې د هغوی مينه لاس ته راوړم د ولس مينه ماته تر هر څه لوړه ده.
- تاسې اوس دنده نه لرئ؟

رڼا وويل ته څه پوه شوې؟

- په ټليفون کې ستا له خبرو پوه شوم، د ټليفون له خبرو دې جوته شـوه، چې تا هغه پخواني دفتر ته استعفی ورکړې.
- هو ما استعفا ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاپور دې روغتون دروازې په ګڼه ګوڼه کې موټر يوه اړخ ته ودرواوه، رڼا ته يې وويل:

خو ولې ؟

ــ دا لوی داستان دی، اوس روغتون ته راورسېدو بيا به شي.

دوی دواړو د رڼا مور امينه، بېړنۍ خونې ته ورسوله، ډاکترانو ازموينې او بېړنۍ درملنې پيل کړې، خو شاپور ناڅافه ورک شوه، لږ شېبه وروسته د ډاکترانو ازموينو وښوده، چې د امينې شکر خورا لوړشوی، انسولين او نور درمل ورته پيل شول، په دې وخت کې شاپور هم را پيدا شو رڼا ته ور نږدې شو ورو يې ورته وويل:

د حساب په څانګه کې مې شل زره افغانۍ ورکړې، د ناروغ د بهر کېدو په صورت کې باقې پيسې ترې واخله، رڼا يې خبره ورپرې کړه ورته ويې ويل: مور پيسې راوړې ته دې خپلې پيسې بيرته ترې واخله.

- نه رڼا جانې! ستا مور زما هم مور ده زه يې پر ځان حق ګڼم، زما د پيسو ورکړه دا مانا نه لري، چې تاسې بې پيسو ياست، د رڼا له ټينګارسره سره بيا هم شاپور د هغې خبره ونه منله، رڼا ته يې د قناعت په ورکولو سره هغه اړ کړه، چې نور د پيسو د بيرته اخيستلو منتونه بس کړي، شاپور جيب ته لاس کړ، کارت يې راوباسه رڼا ته يې ونيو هغې ته يې وويل:

زما نوم شاپور دی، د يوه رسنيز مرکز مشر يم، که مو دنده غوښته زموږ يو مهم بست خالي دی؛ موږ به مو په وياړ ومنو دا مې د دفتر کارت دی دې اړتيا په وخت کې له موږ سره په اړيکه نيولی شئ، زه به ډير خوښ شم، چې ستاسې غونډې ريښتونې خبرياله له موږ سره کار وکړي.

رڼا يې ځان د نيکي احسان مند وباله، کارت يې ترې واخيست له مرستې يې مننه وکړه. شاپور نور د خپل کور په لور وخوځيد.

رڼا کارت لا دسکول ته نه ؤ اچولی، چې نرسه يې په خوا کې ودرېده، رڼا ته يې ويل:

رڼا ته يې؟

- هو، زه يم

- ناروغ مو په هوښ راغی، تاسې ته غږ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا لکه لمر وغوړېده د شونډو سپيره والي يې د وينو سرخي ونيو، تر او تازه شـوه د خپلې مور د بستر په لور يې په بيړه قدمونه واخيستل.

مور يې لا دمخه په بستر کې د غېږې لپاره ورتـه لاسـونه غـوړولي وو، د رڼـا پـه ور رسېدو هغې په غېږ کې ونيوه، مور ته په غېږ ورکولو سره د رڼا له گوتو کـارت خطـا شو، د بستر لاندې ولوېد.

د رڼا له خوښي په سترگو کې اوښکې راغلې مور ته يې وويل:

شکر، چې ژوندۍ دې وينم، ما خو ويل لکه، چې يتيمه شوم، د پلار له سيوري خو مځکې بې برخې وم فکر مې وکړ دا ځل خدای مه کړه د مـور لـه مينـې او مهربانـه سيوري هم بې برخې کېږم؛ خو خدای ج مې تل دعـاوې قبلـوي، تـل مـې د زړه فرياد اوري دا دی ته اوس روغه رمټه يې او انشاالله ډېر ژر به رخصت کړل شې.

امينې خپله لور رڼا په ټنډه، يو او بل مخ ښکل کړه بيا يې وويل:

لورې! زه دې يوازې نه پرېږدم کله دې، چې ژوند جوړ کړم، واده دې کړم بيا مړه کېږم. د مور په خبرو د رڼا مخ له شرمه تک سور شو، مور يې په غېږ کې ونيوه ورتـه ويې ويل:

که لور دې واده کړې نو له هغې پرته ژوند کولی شې؟

ــ له تا پرته ژوند خو به ډېر پيکه شی، ډير به بې خونده شي؛ خـو د ژونـد اصـول همدا دي، همدا يې طريقه ده، چې پېغلې بايد واده وکړي.

امينه يوه ورځ ډاکترانو نوره هم بستر کړه په سبا يې د نورمال وضعيت سره رخصـت کړه.

رڼا او مور يې دواړه کورته ورسېدل، حالت عادي شول، څه وخت وروسته رڼـا د مور له روغتيا ډاډه شوه، خو دا چې د کور د لگښتونو مسؤليت د هغې په غاړه ؤ نو اړه وه دنده ولري، يوه ورځ په همدې چرتونو کې وه، چې د شاپور هغه خبره ور په ياد شوه، چې رڼا ته يې په خپل دفتر کې د کار کولو وړانديز کړی ؤ، دسکول يـې خلاص کړ ترڅو هغه کارت راوباسي او اړيکه ورسره ونيسي، د دسکول څنڅـير يـې کش کړ؛ خو کارت يې نه موند په سوچ کې شوه له ځان سره يې وويل: دا بـه مـې چېرې غورځولی وي بايد ويې پلټم؛ ځکه ماته يې پيدا کېدل اړيـن دي، رڼـا لا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کارت د پیدا کولو په فکر کې وه، چې د نجیبې زنګ ورته راغی، ورته ویې ویل: د مورکۍ روغتیا اوس څنګه ده؟**

- **ښه ده! شکر اوس بیرته خپل لومړني حالت ته تللې ده، خوراک کوي غړېږي او ان کله، کله ټوکې هم کوي.**
- **ښه! شکر، چې خدای یې روغتیا نصیب کړه او رښتیا تـه نـوې دنـده نـه پیلوې؟**
- **ولې نه خو چې پیداشي.**

**نجیبې د کمپیوټر په سکرین کې سترګې نیولې وې، کړکۍ یې خلاصه کړه، شمال د ګلانو خوشبوي په ټوله کوټه کې خپره کړه په څېره یې خوښي خپره شوه ویې ویل: همدا اوس مې په یوه سایټ کې ولیدل چې افغان رسنیز دفتر یو تن کارمند ته اړتیا لري، نن یې د سي وي ګانو د ثبتولو وروستۍ ورځ ده، که غـواړې زه بـه دې سي وي ور واستوم.**

**د رڼا سترګې یو ځل بیا له خوښي وځلېدې، په شونډو یې مسکا خپره شوه، په هیله منده لهجه یې وویل: خورې! دا کار حتما وکړه، زه دندې تـه اړتیـا لـرم، تـه خـو پوهېږې کنه چې ټوله کورنۍ زما لاس ته ګوري او زه د کورنۍ ناوسه حالت نـه شـم لیدی.**

- **سمه ده! سي وي دې له ماسره شته همدا اوس یې ورلېږم، سبا مو ازموینه ده تر دولسو بجو دوام کوي، زه یې ادرس په مسیج کې درلېږم.**

**نجیبې د رڼا سي وي هغه دفتر ته ایمېل کړه، رڼا ته یې هم ادرس واستاوه.**

**رڼا هیله منده خپل بستر ته لاړه، له ځان سره یې وویل:**

**انشاالله له پخوانۍ دندې به په ښه دنده کار وکړم خدمت به وکړم او د خپل مسـلک په چوکاټ کې به د خلکو او مسؤلینو تر منځ د اړیکو پول جوړه شم رڼا پـه همـدې سوچونو کې له اوږدې بوختیا وروسته د خوب پـه سـمندر کـې ډوبـه شـوې وه، د مرغیو چڼا، د سهار له اذانه سره یو ځای په فضا کې خورېده، د بـلال پـه شـان پـه خواږه غږ اذان او د مرغیو د غږ د نغمو اهتزازونه د رڼا تر غوږونو هم روسـېدل، لـه خواږه خوبه راویښه شوه، سور بخونه بړستن یې له مخ کش کړه، دېوال ته یې وکتل په ساعت یې سترګې ولږېدې، ستن په پنځو ولاړه وه، د ازموینې په ور یادېـدو یـې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ټکان وخوړ، ژر جگه شوه لمونځ یې وکړ، چاې یې وڅښه د ازموینې لپاره یې ځان چمتو کړ، له یو بلا هیلو سره له کوټې ووته.**

**هغه د حرکت په حال کې وه، چې د مور له کوټې یې د هغې زگېروی واورېده، په منډه منډه ورغله د هغې په الوتي څېره یې نظر ولگېده، هغې ژوره ساه اخیسته، په ټنده یې خولې را ماتې وې، ژر بهر ووتـه ټیکسي- یـې ونیولـه، دواړه تـر روغتونـه ورسېدل؛ ډاکترانو ورته ازموینې پیل کړې؛دا ځل یـې د مـور د پخـوانۍ نـاروغې خلاف د وینې شکر ډېر ښکته شوی ؤ ډاکتر پرې هغه پخواني درمل پرې کـړل ورتـه ویې ویل: هغه پخواني درمل مو ډېر قوي دي، شکر مو د نورمال حالته ډېر ټیټوي، زه درته مناسب کمزوري درمل لـیکم، ډاکـتر ورتـه درمـل ولیکـل دوی دواړه یـې رخصت کړل.**

**رڼا خپله مورکۍ تر کور ورسوله، دې دفتر ازموینې تـه یـې ډېـره بیـړه وه، ژر یـې ساعت ته په دې هیله ور وکتل چې که وخت وي ځان به ور ورسوي ، یولس بجې وې دې ازموینې ځاې یې هم ډېر لرې وو، بس زړه نازړه د ازموینې پـه لـور روانـه شوه، رڼا هغه مهال دې دفتر په دروازه پښه کیښوده چې لا لـس دقیقـې یـې پـاې وخت ته پاتې وې ، خو دفتر د انټرویـو کسـان خـلاص کـړي ؤ، هیڅـوك هـم د ازموینې ورکولو لپاره نه لیدل کېدل، رڼا د دفترساتونکي ته وویل:**

**ښښنه غواړم وروره! زه د انټرویو لپاره راغلې یم، که زما له راتگه ستاسې مشر خبر کړئ منندویه به مو شم.**

- **خورې! د انټرویو وخت ختم شو مشر بهر ووت، یوازې اداري مرستیال په دفتر کې دی.**
- **که هغه ته هم ووایې ښه به وي کېدای شي، له ماسره مرسته وکړي؛ ځکـه زه کار ته ډېره اړتیا لرم.**

**ساتونکی ننه وت مرستیال ته یې د هغې د راتگ وویل.**

**مرستیال له غروره ډکې سترگې په ساتونکي کې خښې کړې، ویې ویل: ورتـه ووایـه چې وخت ختم دی، دا چې په دې مهمه ورځ دومره ناوخته راغلـې یـې؛ خـداې خبر د رسمي ورځو به دې څه حال وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا لوړ پوړيزې ودانۍ ته سترګې نيـولې وې، د ګلانـو پـه رنګـا رنـګ پـاڼو د لمـر ځلېدونکې شغلې ځلېدې، په دهلېز کې د بوټو کړپا شوه، په ونه دنګ ډنګر سړی را ووت، په ناهيلې اندازه يې وويل: خورکۍ! هغه وايي وخت ختم دی، ته تلی شې.

د رڼا په زړه کې لا هم د هيله مندۍ څرکونو ټوپونه وهل، ساتونکي ته يې وويل: په تکليف به شې خو دې مصاحيبې مسول ته ووايه چې رسمي وخت ته لا لس دقيقې پاتې دي.

ساتونکی بيا ننه وت مرستيال ته يې وويل: ميرمن وايې چې لا خو رسـميات نـه دي ختم شوي ،لس دقيقې ورته پاتې دي.

مرستيال په ټلوېزون کې سترګې ګنډلې وې، پياله يې ور پورته کړه د غرور سرخـي يې په مخ کې له ورايه ځرګنده وه په قهرېدلي انـداز يـې وويـل: دا څـومره سـپين سترګې ده، په لسو دقيقو کې موږ څه کولی شو؟ د يوه سوال ځواب هم پکې نشـی ترسره کېدای، ورته ووايه، چې څه لاړه شه د ځان په څېر د لټانو اداره وګوره، هلته به دنده واخلې.

ساتونکی راووت رڼا ته يې وويل: خورې! هغه دې پيغام نه مني لا په قهـر هـم شـو، ويل يې: څه لاړه شه موږ ته سر خوږی مه جـوړه د ځـان پـه څېـر چېرتـه د لټـانو دفترونه پيدا کړه، هلته دنده واخله.

رڼا د دې خبرې له اورېدو سره سم له څوکۍ پورته شوه، ساتونکي ته يـې وويـل: د چټلو خلکو خبرې هم چټلې وي، موږ نورو ته د وخت د ارزښت سپارښـتنه کـوو، دوی خپله لټيي د هر کس په تن کېويني، په لسو دقيقو کې لس انټرويو اخيسـتل کيږي.

په اوچتو قدمونو له دفتره د وتو په تکل کې شوه، د دفـتر د حـوېلۍ دروازه نيمـه چوله وه، رڼا د خلاصولو لپاره لاس ور ووړ له بهره هم يوه کس د دروازې خلاصـولو په موخه د رڼا په لاس، لاس کېښود، رڼا د داسې حالت سره، چې څوک بيګانه يـې په لاس، لاس کېږدي تر دې دمه نه وه مخ شوې، وارخطا شوه ژر يې خپـل لاس د ځان په لور کش کړ شاته يې څو قدمه واخيستل، څو له بهره راتلونکي ته د ننه وتـو موقع ورکړي، په دې حال کې په لاس کې نيول شوې دوسيه ترې ولوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې دوسېي ته ژر ټېټه شوه له دوسې تیت او فرق ورقې یې راټولې کړې، بهر تـه د وتو په لټه کې شوه په وتو کې یې د سترګو له کونجه په ځوان نظـر ولړېـده ویـې پېژانده، هغه بل څو ک نه وو هماغه شـاپور ؤ، هغـه ځـوان چـې لـه رڼـا سره یـې روغتون ته د مور په وړلو کې مرسته کړې وه خو د شاپور شک هم نه شـو، چـې دا رڼا ده؛ ځکه رڼا به تل له رسمي دندې پرته په حجاب کې ګرځېده، د هغه له لیـدو رڼا په دې هم پوه شوه، چې دغه د شاپور دفتر ده، هغه ته یې د ځان پېژندګلوي؛ ځکه ونه کړه چې د مرستیال رویې یې ډېره نارامه کړې وه، هیڅ د خبرو توان یـې نه درلود، رنګ یې الوتی وو، له لبرېزو شونډو یې د سرخي ښاپېرۍ تښـتېدلې وې، د ژر وتلو هڅه یې کوله، په بېړه بهر ووته. له دوسیې یو لوېدلی کاغذ ترې پاتې شو شاپور هغه په دې موخه راواخیست، چې د مېرمنې له دوسې لوېـدلی کاغـذ بیرتـه هغې ته ورکړي، په راخیستو کې یې د کاغذ لیکلو ته پام شو، د رڼا پېژند پاڼه وه، له لوستلو سره سم یې ټکان وخوړ پوه شو، چې له ده سره مخامخ شوې مېـرمن رڼـا د دندې په لټه کې دفتر ته راغلې ده؛ خو دا چې ولـې بـې سـواله بـې ځوابـه بیرتـه ګرځېدلې؟ په لامل یې باید ځان پوه کړي. بهر ور پسې ووت هغې لا څو ګامـه نـه ؤ پوره کړي، چې له شاه یې غږ واورېد، اغلې رڼا! ودرېږه. رڼا حق حیرانه ودرېده؛ له ځان سره یې وویل: دا څوک دي، چې زما نوم اخلي، پـه شـا یـې وکتـل ګـورې شاپور را روان دی، کاغذ یې هم په لاس کې دی، رڼا ته یې وویل:

تاسې دلته کله راغلې یاست؟ زه لږ مخکې د مراجعینو له مصاحبېو خلاص شوم، بهـر ووتم، ستاسې ټلیفون ته له ډېر مخکې په تمه وم؛ خو بیا مو اړیکه ونه نیوله، تاسـې څنګه دلته پېښه راکړې او بیرته زما له لیدو پرته داسې په بېړه ځئ؟

- بس راغلې وم، یوې خورلڼې مې دلته د دندې له اعلانه راته وویل، خو زه نه پوهېدم چې دغه ستاسې دفتر دی.
- ولې ما خو کارت درکړی وو؟

ستا کارت مې ډېر وپلټه، خو نه پوهېږم چېرته رانه لوېدلی.

د هغې خورلڼې په لاربښوونه دلته راغلې وم، خو فکر کـوم وړ ونـه بلـل شـوم ان د مصاحبې وخت هم رانه کړل شو، په بېړه ځکه راووتم، چې نـور دلتـه راتـه د بـې انصافي له امله ځمکه تنګه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاپور يې په خبره وخندل، ورته ويې ويل:
گيله دې په سر سترگو خو دا لاره ده دلته خبرې نه کېږي، دفتر کې خبرې کوو.

- لومړی دې مرستيال ته اخلاق وښايه له خلکو سره د رويې هنر ور زده کړه، بيا يې خلکو ته د مصاحبې لپاره کېنوه.
- ولې هغه څه کړي؟
- له ما سر يې ښه چلند ونه کړ، ملنډې يې راباندې ووهلې، زه د ملنډو تاب نه لرم، ډېره مې نارامه کوي.
- رڼا جانې! ته په حقه يې، مرستيال مې د خپلوانو له ډلې دی، ستا په څېر ټول خلك ترې خفه دي موږ هم پوزې ته ترې راغلي يو، بس دعا کوو، چې يو بل مناسب کس پيدا کړو، چې دغه بست ډك کړي؛ ډېر ورته په تمه شوم، چې اصلاح شي خو گټه يې ونه کړه. شاپور د رڼا غصه راکمه کړه، بيا يې هغې ته د لاس په اشاره دفتر ته د تللو وويل.

هغې هم ومنله، رڼا او شاپور دفتر ته ننه وتل،په مرستيال يې سترگې ولگېدې چې دې هندي فلم دې ليدو په موخه يې گوشي په غوږو کې ټومبلې دي

د دوی په ليدو مرستيال گوشي لرې کړې؛ ځکه مخې ته يې داسې يوه لښته، جذابه او سپوږمۍ مخې مېرمن ودرېده، چې د هندي فلم نجلۍ نه يې د ښکلا وزن څو برابره زيات ؤ، مرستيال د رڼا په ليدو لکه جل وهلی څو لحظې بلې نړۍ ته لاړ، وروسته لږ په خود شو له ځان سره يې وويل:

د سترگو مخکې دې ريښتونې د فلم نجلۍ ولاړه ده او ته هسې د فلم په کتو وخت ضايع کوې.

له رڼا سره د خبرو په پلمه يې هغې ته سترې مشی ورکړه؛ خو رڼا د ده د تمې خلاف په تروشه ټنډه ورته د ځواب په دود يوازې سر وخوځاؤ.

مرستيال يې له دې حرکته ناخوښ شو له هغې سره يې د خبرو غځولو په پار وويل:
ولې مېرمنې، له چا سره دې جنگ کړی که څنگه؟ حالت دې نورمال راته نه ښکاري. رڼا چې له مخکې يې زړه ورته ډك ؤ، د نه په لنډ ځواب يې د هغه خوا نوره هم بده کړه، خو د رڼا سره يې د خبرو اشتيا لا نه وه سوځېدلې، بيا يې وويل:
نو ولې دې تروشه ټنډه نيولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **له یوه احمق سره د مخامخ کېدو له امله.**
- **دا احمق څوک دی؟**

**رڼا له ځان سره ورو وویل: ته یې کنه.**

**هغه را ځک شو رڼا ته یې وویل:**

**مېرمنې تاسې څه وویل؟**

- **نه ما څه نه دي ویلي، هسې غوږونه دې برېږي.**
- **وی ته خو سره مچی یې، ته خو له ماسره داسې چلند کوې لکه ما چې خفه کړې یې.**
- **د احمقانو یو خوی مې ډېر خوښېږي، هغه دا چې ځان پېژني چې احمق یم.**

**شاپور د رڼا په خبره وخندل مرستیال ته یې وویل:**

**رڼا، پېژنې؟**

- **نه**
- **رڼا د هېواد مشهوره ژورنالېسته پېغله ده، په لنډ وخت کې د شهرت خاونده شوه.**
- **له کوم بنیاده یې شهرت تر لاسه کړ؟**
- **د ریښتینولي په لمن نیولو سره.**
- **دا خو به هغه رڼا نه وي، چې څو ورځې مخکې برمته شوې وه؟**
- **هو هغه ده.**
- **دا خو داسې په قهر ده لکه ما، چې برمته کړې وي حال دا چې زه د دې گنا مرتکب نه یم.**

**رڼا یې په خبره غاښونه وچیچل، بیایې له ځان سره وویل: خدایه صبر راکړې، هغه ته له څه ویلو مخکې یې ځواب ته شاپور اوږه ورکړه.**

- **زه هم رڼا کمه پېژنم؛ ځکه ناسته پاسته مې نه ده ورسره کړې خو د دې په اړه مې ډېر څه اورېدلي، د دې ایمانداري، مسلک ته ژمنتوب، ریښتینولي او زړه سوی یې له لویو ځانگړتیاوو څخه دي؛ هغه ظاهرآ مغروره او ترخه مالومېږي، خو په حقیقت کې داسې نه ده، څومره چې د دې په اړه زه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالومات لرم هغه ډېره خواخوږې مېرمن ده، پاک زړه لري، تل د حق پلوي کوي، خپل ځان هم  گواښ او خطر ته ورکوي خو حق ته حق وايې؛ ځکه خو یې خیانت گر په ارامه نه پرېږدي، ستونزې ورته جوړوي.

مرستيال لا هم د اړیکو جوړولو کوښښ کاوه، په عاجزه لهجه يې وويل: ښه توب دې ته وايي، چې بې ځایه دې په یوه سړي په قهر شي؟

د رڼا هم د صبر کاسه ډکه شوه، نور يې د مرستيال مکارۍ نه شواى اورېداى، د چورتونو لړۍ یې وشلوله ویې ویل: لږ مخکې انټر ویو ته راغلې وم خو تاسې د مصاحیبې اجازه رانه کړه ولې؟

- ښه هغه ته وې؟ خو اغلې! وخت ختم ؤ.
- ايا تاسې په اعلاناتو کې د انټرویو وخت تر دولسو بجو نه ؤ ښودلای؟
- تر دولسو بجو مو وخت ټاکلی ؤ، خو دولسو ته لس دقیقې پاتې وې، په لسو دقیقو کې موږ انترويو نشوه اخیستلی او ناوخته راتلل د مراجعه کونکي له دندې سره د دلچسپي نه درلودلو مانا لري، له دندې سره مینه نه لرونکي خلک د هیڅ ادارې نه خوښېږي، له همدې امله مو له تاسې سره د خبرو دلچسپي پیدا نه کړه. ایا زما خبرو ته څه دلیل لرې؟

رڼا يې حماقت له ورايه درک کړی وو، ترخه موسکا يې وکړه ویې ویل: هو یو نه ډېر دلایل لرم.

- نو مهرباني وکړئ، غوږ یم.
- له تاسره مې څومره وخت ووت؟
- پنځه دقیقې.
- په پنځو دقیقو کې ته زما له انټرویو تېر شوې، ماته اوس پوره مالومه شوه، چې ته څومره ظرفیت لرې، څومره وزن لرې او د انسانیت درجه دې څومره ده. د يو چا پېژندنه هسې خلک وايي ډېر وخت ته اړتیا لري، وخت ته نه، بلکې د ارزيابي کونکي په وړتیا پورې اړه لري، که مصاحیبه اخیستونکی وړتیا ولري نو په ډېر کم وخت کې تول کولی شي.
- ښه نو تاسې زه څنگه ارزیابي کړم؟
- ته هسې خبرې اورېدوې، چې زما نه خوښېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړکۍ خلاصه وه، په دېوال درې رنګـه بيـرغ د بـاد څپـه يـز حرکـت رپـاوه، رڼـا ورېښمينې زلفې له سترګو لرې کړې، شاپور باغچې ته کتل، لـه طبعيـت څخـه يـې خوند اخيستو. د مرستيال رنګ تک سور اوښتی وو، کوښښ يې کاوه، چـې خپلـه بې علمي پټه کړي، په اطاق کې خپره شوې خاموشي يې ماته کـړه، شـونډې يـې وخوځولې، ويې ويل: انټرويو ته ناوخته تګ، هسې خبرې دي او که د يـوه لـټ، بې کفايته او بې مسؤليته کس ځانګړتيا ده؟

- انټرويو ته ناوخته راتلل تل د يوه چا په غفلت او بـې کفـايتي دلالـت نـه کوي، هغه هم بيا زموږ په څېر لـه سـتونزو ډک هېـواد کـې، دلتـه ډېـر مجبوريتونه دي،ډېر دې کار خلک هم ناوخته راتللو ته اړ کوي؛ که تا زما د ناوخته راتلو دليل پوښتلی وايې او مناسب ځواب مې نه درلودی شـړلې به مو وم خو که خبرې مې قناعت بښونکی وې، څه اسمان رالوېده، چـې لس دقيقې مو نورې هم غځولې وايې؟

رڼا نه غوښتل، چې بې ځايه ملامتي ومني، ويې ويـل: ګـوره وروره! زمـا لټې نه خوښېږي، له هر څه ډېره له لټې کرکه کوم، له هغه چا کرکه کوم، چې د وخت په ارزښت نه پوهېږي.

- نو ايا ماته ستاسې د ناوخته راتلو لامل ويلی شې؟
- هو
- مهرباني.
- زه دا اصل منم، چې انټرويو ته بايد سړی په ټاکلي وخت لاړ شي، زه هـم دې خبرې ته ارزښت ورکوم، بشپړه تياري مې نيولې وه او فکر کـوم کـه ستونزه نه وايې رامنځته شوې زه به لومړی مېرمن وم، چې دلته به حاضره شوې وم، خو د راتګ پر مهال مې د مور حالت خورا خراب شو؛ اړه شوم چې تر روغتونه يې ورسوم؛ ځکه زه د کور سرپرسته يم مشران نه لرم، چې د کور پالنه مې وکړي؛ نو ايا مور مې همداسې په بد وضيعت کـې پريښـې وايې او زه دلته راغلې وايې؟

د رڼا خبرو د شاپور ذهن هم ځان ته را جلب کړ، روانو او مستدللو خبرو يې خوند ورکړ، د هغې با مسؤليته ژوند او ژمنتيا يې ډېر خوښ شول په زړه کې يې د هغـې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صداقت ډېوه لا بله شوه، نه يې غوښتل د مرستيال او رڼا په خبرو کې مداخله وکړي؛ ځکه د هغې هره خبره يې په زړه لګېده، هرې خبرې يې ځانګړی وزن لاره، بحث يې په منطق ولاړ وو، شاپور يې له هرې خبرې بيل بيل خوند اخيسته ؛ په ذهن کې يې بيلابيلې خبرې ګرځېدې له ځان سره يې وويل: داسې يوه ځيرکه او همت ناکه مېرمن ما په اسمان غوښته او خدای ج په ځمکه راکړه، نو پرېکړه يې وکړه، چې رڼا خپله مرستياله وټاکي،ځکه ډاډه شو چې هغه به له ده هم دې افغان رسنيز دفتر ته اغيزمنه واقع شي ،په ذهن کې له دې پريکړې سره يې د فکرونو لړۍ وشکيده په خپل مرستيال يې غږ وکړ

په کومه اندازه، چې ته فکر کوې رڼا، هغسې عادي مېرمن نه ده، ټول افغانستان يې علميت او سپېڅلتيا ته درناوی لري، په ريښتيا هم د هغې د ناوخته راتګ لامل زه خواشينی کړم، که د رڼا په ځای بل څوک شي، نو فکر نه کوم دومره درانه مسؤليتونه په دومره کم عمر کې وزغملای شي. څو ورځې وړاندې هم د هغې مور سخته ناروغه وه، تصادفاً زه ورسره مخ شوم او ناروغه مې ورسره له روغتونه ورسوله

- ښه نو تاسو يو بل له پخوا پېژنئ.
- له پخوا يا اوس پېژندل مهم ندي، مهم دا دي چې يو انسان څومره وړتيا لري او څومره د مثبت بدلون لپاره اغېزمن واقع کېدای شي.

مرستيال چې سليم نومېده په ژور سوچ کې ځان ته مخاطب شو:

کمبخته سليمه، څه موقع دې له لاسه ورکړې، په لاس درغلې باز دې له منګولو ووت که دې رڼا ته د انټرويو موقع ورکړې وايې او بيا مې بريالۍ اعلان کړې وايې نو تل به دا بغدادي کوتره زما د جادو تر اغېز لاندې وه، هغه دندې ته ډېره اړتيا لري او په دې سخت وخت کې بايد ما لاس ورکړی وايې؛ لوی اسويلی يې وويست لاسونه يې ومروړل، په دې وخت کې شاپور غږ پرې وکړ: سليمه! په کوم فکر کې غرق شوی؟

له دې خبرې اورېدو سره د هغه رنګ زيړ شو، ځواب يې ورکړ: نه نه هسې.

وروسته شاپور د دروازې د دروازې ساتونکي رابللو لپاره زنګ وواهه،دې زنګ په غږ د دروازې ساتونکی راننه وت، هغه ته يې د اداري مدير د راغوښتلو وويل، هغه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم له خبريدو وروسته پرته له ځنډه مخې ته ودرېد، شاپور ورته سپارښتنه وکړ: لـه ډوډۍ وروسته، يوه بېړنۍ غونډه جوړه کړه

مدير چې له مخه يې دا ډول اظتراري غونډه نه وه نيولې، په حيرانتيـا سره وويـل: رئيس صيب! موضوع؟

شاپور نه غوښتل، چې په موضوع مخکې له مخکـې څـوک خـبر شي ويـې ويـل: موضوع به هلته روښانه شي

لنډ وخت وروسته ناسته برابره شوه، شاپور ناستې ته وويل: موږ په خپل افغان رسنيز دفتر کې تلويزون، راډيو، او يوه چاپي رسنۍ لرو

د څه وخت را په دې خوا يې چارې ټکنۍ شوې دي، زه هم کله دلتـه او کلـه بهـر کې يم، زموږ رسنيز دفتر يوې ښې رهبري ته اړتيا لري، د چارو ښه سمون لپاره مـو وغوښتل په رهبرۍ کې لږ بدلون راولم، موږ خپل رسنيز دفـتر تـه نـوې مرسـتيال وګمارله دا دی درپېژنم يې بيا يې د رڼا لور ته اشاره وکړه، همدا زمـوږ مرسـتياله ده دا مېرمن به زموږ د دفتر رهبري کوي، اغلې رڼا نومېږي، زما زياتره چارې هـم دې ته سپارم، رڼا د دې رسنيز دفتر باصلاحيته کـس دی، لـه دې خـبرې وروسـته يـې وخندل بيا يې وويل:

ان زما د ګوښه کولو صلاحيت هم لري، خبر اوسئ، که مو د دې لـه امـره سرغړونـه وکړه په تاسې خوبه بريک هم ونه نيسي.

ددې خبرې له اورېدو سره په مرستيال سليم باندې سر وګرځېده، مخکـې لـه دې چې جلسه ختمه شي، له ناستې ووت.

رئيس د جلسې د پای وويل.

رڼا لاس پورته کړ د خبرو اجازه يې وغوښته، خو رئيس د خبرو موقع ورنه کړه ورته ويې ويل نورې خبرې په دفتر کې کوو.

دوی دواړه لاړل او د رياست په خونه کې کېناستل، رڼا شاپورته وويل:

ماته دې هلته ولې د خبرو موقع رانه کړه؟

- زه پوهېدم چې ته څه وايې.
- ته له کومې خبرې ډارېدې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هلته مې ستاسې خبرو ته ځواب نه شو ويلی، ته چې څه وايې دلتـه يـې ووايه.
- زه غواړم پوه شم دا هر څه د څه لپاره؟
- ياني څه؟
- زه دې ولې مرستياله وټاکلم، هغه هم له انټرويو پرته؟
- ته انټر ويو ته اړتيا نه لرې او نه دلته داسې څـوك ويـنم چـې لـه تـا دې انټرويو د اخيستو وړتيا ولري، زه غواړم ستا هيلې همدلته پوره شي.
- زما هيلې تاته دومره مهمې دي؟
- هو، ماته تر ډېر څه مهمې دي.

رڼا حيرانه شوه، سترګې يې د شاپور په سترګو کې خښې کړې، ويې ويل: لامل يـې پوښتلی شم؟

- ځکه چې ستا هيلې زما هيلې دي.

دا نو څه مانا، زما هيلې څنګه ستا هيلې کېدای شي، صفا خبره وکړه؟

- ستا دا هيلې دادي، چې ژوناليزم دې سپيڅلی مخته لاړ شي، کنه؟
- هو
- تاسې غواړې، چې رسنۍ دې د ملي ګټو په خلاف ونه کارول شي کنه؟
- هو
- ته غواړې، چې رسنۍ دې د چا لاسپوڅې نشي کنه؟
- هو
- تاسې غواړی، چې ژورناليست دې د ولس ژبه واوسي، کنه؟
- هو، دا ټولې زما هيلې دي.
- بس دا هيلې زما هم دې؛ ځکه وايم، چې ستا هيلې زما هم دي.

رڼا وخندل بيا يې شاپور ته وويل: بيا خو نړۍ مننه؛ خو که کومـه بلـه موخـه لـرې واضح يې ويلی شې.

- نه بل هيڅ داسې څه نشته، چې ته يې په اړه تشويش لرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چې داسې نو بیا خو راته کاري ښه فرصت دی، خو مخکې لـه دې چـې خپل کار پیل کړم، زه غواړم څـو خـبرې د خپـل ماموریـت پـه سر کـې څرګندې او له پوښ وتلې (پوست کنده)درته وکړم.
- مهرباني
- ماته لوړه او تېته څوکۍ بې توپیره دي، ماته مهم د خپـل ولـس خـدمت دی، که ته فکر وکړې چې ما به د امتیازاتو په بدل کې واخلې، دا هسـې چتې د وخت ضایع کول دي؛ تر دې دمه داسې پیسې نه دي چاپ شوې او نه داسې شته پیدا شوي، چې زه پرې واخیستل شم او زما تګلاره هم ته درک کولی شې، هیله ده زما د تګلارې د خوځښت خنډ نه شې، کنه زمـا دوهم اقدام به درته د استعفې وړاندیز وي.

شاپور د رڼا د دې خبرو په اورېدو غونې ځیږ شو، ستونی یې را ډک شو، سترګې یې ډنډ شوې خو دا، چې یو حیاناک نارینه ؤ د خپلې کمزوري د پټولو هڅه یې د مخ په اړولو وکړه، بیا یې لږ وروسته چې حالت سم شو رڼا ته مخ راو ګرځاؤه، ورته ویې ویل:

زه ډاډه یم چې ته هیڅکله داسې کار نه کوې، چې هغـه د هېـواد پـه زیـان وي، هیڅکله داسې څه نه کوې چې خپل ضمیر ته پرې خجالت کېږې ته ملي ګټـو تـه ژمنه یې، ماته ستاسې پیداکول، د انځر د ګل په څېر دي.

ستا هیلې زما هیلې دي، ستا غوښتنې زما غوښتنې دي، ستا موخې زما موخې دي؛ نو ولې سوال پیداشي، چې زه به ستا د کارونو خنډ ګرځم؟

ستا د لا ډاډ لپاره زه د ځان د ګوښه کېدو واک هم درکوم، که رسمي هوکړه لیـک غواړې هم تیار یم، چې درته لاسلیک یې کړم.

- بس سمه ده منه کوم، چې دومره باور راباندې کوې، زما هر ډول تشویش او وېره ختمه شوه، زه هم ژمنه درسره کوم، چې ستا باور به مات نه کړم او نه به تا له خپلې ګمارنې پښیمانه کړم.

شاپور د هغې د مقرري پاڼې لاسلیک کړې او اداري مدیر ته یې وسپارلې.

رڼا هم نوره د خدای پاماني اجازه واخیسته، خو مخکې له دې چـې ووځـي اداري مدیر ورته کیلي مخته ونیوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا په حيراني ورته وکتل، ويې ويل: دا څه دي؟

- دا ستا د موټر کيلي ده، بهر موټروان ناست دی، هغه ته يې ورکړه تا رسوي، سهار هم بيرته تاسې دفتر ته را رسوي او د رئيس صيب هدايات دي، چې که مور دې خدای مه کړه ناروغه کېده نو روغتون ته يې پکې وړلی شې.

رڼا کورته لاړه د خپلې مقررۍ خوښي يې له مور او کورنۍ سره شريکه کړه، هغوی هم ټول د دې له زيري سره خوښ شول او د دې خوښي لمانځنه يې پيل کړه.

سليم هم خپل کور ته ځړېدلې شونډې، پړسېدلی او تروه مخ ورسېد، پيغله خور مليحه، چې د حقوقو پوهنځي د وروستي کال محصله او د شاپور کوژدن وه ورته رامخکې شوه، ترې ويې پوښتل: وروره! ډېر خفه راته مالومېږې، خير خو دی؟

- مليحې خورې! هيڅ سم نه دي.
- ولې؟
- مېړه دې زه له دندې گوښه کړم.
- خو ولې؟
- ځکه چې يوه بله د فلم نجلۍ يې پيدا کړې، هغې په خپلو نازونو زړه ترې وړی، هوش يې له لاسه ورکړی، د هغې د خوشحالي لپاره نه پوهېږي، چې څه کوي.

که دفتر برباد شي هم په کيسه کې يې نه ده، هغه يې زما په ځای له مصاحيبې پرته خپله مرستياله وټاکله.

مليحه د دې خبرې په اورېدو لکه بريښنا نيولې وربړدېده، زړه يې ټکان پيل کړل، له غوسې تکه سره شوه سم دستي يې ټليفون راواخيست شاپور ته يې زنگ وکړ؛ هغه د گوشي په اخيستو سره مليحې لکه قهر شوې سره مچۍ چک لگول پيل کړل، هغه ته يې وويل:

زما ورور دې له دندې وباسه؟ زما په لاسته راوړلو کې دې هغه ژمنې څه شوې؟ تا خو ويل چې دې کور هر غړی به دې زما دې شرکت په لوړو پوستو کار کوي له پيسو سره به لوبې کوي، يو غر به دې په بله راته ويشت بل په بل، تا خو اوس سرچپه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورور له لوړ پوسته لرې کړ په کور دې کيناؤ ،اوس دې هغه باتې څه شوې؟ کـه د نوې ليلا په لومه کې راګېر يې؟

- مليحې! له خبرو سره دې پام کوه؛ ته دا مه هېروه چې د خپـل راتـونکي خاوند سره خبرې کوې ما غوښتل، چې ستا د کور هر غړی له مـاسره کـار وکړي، زما ملا را وتړي زه پرې ډاډه شم، زما کار خپل کار وګڼي، ما خپله ژمنه تر سره کړه خو د تمې خلاف ستا د کورنۍ غړي په عوض د دې، چې زما ننګه وکړي، کارونه مې لکه د کور غړي په څېر صادقانه مخ تـه بـوځي زما پښې وهي؛ تاته خو مالومه ده، چې زه زياتره وخت بهر کې يم؛ زما په نه شتون کې سليم ورور دې زما نامتو اداره له صفر سره ضرب کړه.

کارمندان په عوض ددې، چې تشويق کړي، کار ته يې متوجه کړي هر يـو يـې لـه ځانه خپه کړی، هيڅ کارکوونکی لـه دوو مياشـتو زيـات وخـت لـه مـوږ سره نشي- تېرولی؛ داسې رويه ورسره کوي چې له کاره يې پرې زړه تـور شي، بيـا کاشـکې د دفتر د کارونو له امله يې مامورين خفه کولی، خپلې شخصي غوښتنې پرې مني او د انکار په صورت کې يې له دفتره شړي. موږ دوه مياشتې وروسته يو ځل د مامورينو د نويو دندو اعلان ته اړ کېږو، تر کومه به دا لړۍ روانه وي؛ بار بـار مـې سـتا ورور خپلو تېروتنو ته متوجه کړ، خو اصلاح نه شو؛ اړ شوم چې له دندې يې ګوښه کړم.

مليحه: سمه ده زه به ستا په خبرو باور وکړم خو سر له سبا زه هغه نجلۍ، چې د سليم په ځای مو ګمارلې په دفتر کې ونه وينم، زما ورتلو ته اړتيـا پيدانـه کـړې، کنـه پـه ټېلو، ټېلو به يې له دفتره درته وباسم.

- ولې؟
- ځکه چې دا زما غوښتنه ده.
- زما دفتر د کمپيوټر ګېم نه دی، چې هر څوک پکې د خپلې خوښې لوبه وټاکي او تر سره يې کړي؛ زما دفتر کې قـوانين او مقـرارات دي، انسـاني کرامت ته درناوی او د ورتياوو ساتل دي.
- زما ورور ولې انسان نه ؤ؟ د انساني کرامات وړ نه ؤ؟ چـې بـې عزتـه دې را وشاړه.
- ستا ورور کثافات ؤ، چې بايد لرې غورځېدلی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **شاپوره! خبرې دې په احتیاط کوه؛ ماته مې کـورنۍ هـر څـه ده او زه د کورنۍ د کوم غړي سپکاوی نه شم زغملی.**

**شاپور د ملیحې په بې ځایه خبرو احساساتي شو ویې ویل: هیڅ انسان سـپکاوی نـه شي زغملی، خو چې څوک د بـل چـا سـپکاوی کـوي، بایـد خپـل سـپکاوي تـه چمتوالی ونیسي.**

- **شاپوره! ته خو مخکې داسې نه وې، څه نه ؤ چې تا به زما لپاره نه کـول، اوس ولې داسې بدل شـوې؟ ولـې دې پـه رویـه کـې تـوپیر راغـی؟ ایـا مرستیالې خو دې کوم جادو نه دی درباندې کړی؟ داسې خو نه ده، چې د هغې لپاره دې د ژوند ملګرې پردۍ کوې؟**

**ــ زما مرستیاله دومره ټیټه مېرمن نده، چې داسې وړو خبرو ته دې په خپـل ذهـن کې ځای ورکړي، هغه ډېر لوی فکر لري، دومره لوی، چې ستا په کوچني مغز کې نشي ځایدلی.**

**ملیحې یې په ځواب کې وویل: ښه دا د اپلاطون لور څوک ده، چې د یوې حقوق دانې په مغز کې یې فکر نشي ځایدای؟**

- **ملیحې! زه ډېر ستړی یم، ستا دا ستړي کونکې خبرې مې نور هم سـتړی کوي، بیا خبرې کوو؛ شاپور نوره اړیکه پرې کړه.**

**د ملیحې په لاس نیول شوی ټلیفون تر ډېره د هغې له غوږ سره نیول شوی پاتې شو ورو، ورو یې له غوږه لاس راښکته کاوه، د ستړي شوي بنې ادم په څېر یې قدمونـه یو په بل پسې ځکول؛ څو خپل ځان د ناستې ځای ته ځان ورسوي.**

**شپه تېره شوه، سهار ملیحې ځان چمتو کړ، څو د خاوند دفتر ته لاړه شي او هغه د دفتر مرستیاله شهزادګۍ ووینې، چې خاوند یې د هغې په خوا کې لکه سپر ولاړ دی او ځان پوه کړي، چې کیسه له کوم ځایه او څه ډول پیل شوې ده.**

**رڼا هم سهار وختي پاڅېده، له پوره چمتووالي سره یې د خپل دفتر په لور حرکـت وکړ، چې لومړی دنده یې پکې پیل کېده؛ لـه رسـمیاتو سره سـم خپـل دفـتر تـه ورسېده، په کار یې پیل وکړ، د دروازې ساتونکي ته یې وویل: زه نن غواړم خپـل کارونه منظم کړم، یوازې اداري مدیر را وغواړه، چې ځینې هدایات ورته لـرم نـور دلته څوک مه راپرېږده؛ ځکه زه نن باید ډېر کار وکـړم، هغـه هـم ژر اداري مـدیر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورته له لاسه راوست، رڼا ورته وویل: یو ساعت وروسته ټول کارکونکي د جلسې خونې ته را وغواړه، زه ورسره یوه ناسته لرم؛ هغه ورته لاس په نامه کېښود یې وویل:**
**سمه ده ښاغلې!**
**رڼا د خپل مېز تر شاه د خپل کمپیوتر تر مخې کېناسته هغې احساس کړې وه، چې سخت کار یې پر وړاندې دی او د اداري تنظیم کول یې باید له لومړیتوبونو څخه وي، دا په همدې سوچونو کې وه، چې د دروازې ساتونکي یې دروازه ټک، ټک کړه راننه وت رڼا ته یې وویل:**
**یوه مېرمن راغلې، غواړي تاسې سره ووینې.**
**- ورته ووایه نن ډېره بوخته یم لږ وروسته جلسه لرم سبا به گورو.**
**هغه ووت، ملیحې ته یې وویل: مرستیاله ډېره بوخته ده، نن نه شي درسره لیدی.**
**ملیحه د دې خبرې له اورېدو سره نوره هم احساساتي شوه، ویې ویل:**
**مرستیالې صیبې ته ووایه، چې ډېر اړین کار درسره لرم، ډېر وخت دې نه ضایع کوم، یواځې غواړم څو خبرې درسره وکړم.**
**د دروازې ساتونکی بیا راننه وت؛ رڼا ته یې وویل: مېرمن ډېر ټینگار کوي، وایې چې د لیدو وخت دې راکړي.**
**رڼا په داسې حال کې، چې د کمپیوتر له سکرین سره یې سترگې تړلې وې ورته وویل: ورته ووایه راشه، خو هیله ده ډېر وخت مې ونه نیسې.**
**مېرمن راغله، رڼا ته مخامخ په یوه څو کی کېناستله، رڼا هماغسې د کمپیوټر سکرین ته کتل، د خپلو پلانونو، مهال ویش په جوړولو بوخته وه**
**مېرمن یې د لومړي ځل لپاره څېرې ته د سوداگر په سترگه وکتل.**
**له لښتې ځواني، جذابه څېرې، خوږې خاورې، انساني مغروریت نوراني گرد سپوږمیز مخ پرته یې بل څه پکې پیدا نه کړل.**
**شته اندیښنه او ورسره وېره یې نوره هم زیاته شوه، د خپل کوژدن د بدلو ارادو په اړه نوره هم شکي شوه؛ ځکه له ځان سره یې، چې رڼا پرتله کوله د اسمان او ځمکې په اندازه یې توپیر خپل زړه ته لوېده.**
**د رڼا مغروریت دومره اغېزمنه کړه، چې وارخطا شوه، نه پوهېده چې کیسه له کوم ځایه پیل کړي خو دا چې یوه مېرمن د خپل مېړه سره د چا په نزدېکت هم شکي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي نو بيا هرې جګړې ته تيارې شي؛ ځکه خو له وراخطايي سره، سره له رڼا سره لفظي جګړې ته چمتو شوه له ځمکې سره ټومبلې سترګې يې راپورته کړې په رڼا کې يې ونيوې هغې ته يې وويل:

اغلې مرستيالې! که له کاره وزګاره يې غواړم يو څو خبرې درسره وکړم.

- مهرباني

- زه د نوې دندې مبارکي په ځنګ کې غواړم څو خبرې درته وکړم، په دې دنده ستا له راتګ مخکې زما ورور کار کاوو.

- ښه! ته د سليم خور يې؟

- هو زه د سليم خور يم، موږ ستا په راتګ ټکان وخوړ، ستا په مقرري حيران شو، چې شاپور يو ناڅاپه ولې داسې بېړنۍ پرېکړه وکړه.

رڼا چې د مليحې بې بنسټه خبرې واورېدې ورته ويې ويل: خورې! ته ماته روحي ناروغه ښکارې.

- ولې؟

- ستا دا خبرې ما پورې څه اړه لري، چې له مايې پوښتې؟ ورشه له رئيس يې پوښتنه وکړه، هغه مسؤل کس ده، هغه به درته ځواب ووايي.

- زه روحي ناروغه نه يم، له خپلو خبرو سره پام کوه، دا مه هېروه، چې د حقوقو د پوهنځي د اخيري کال له يوې محصلې سره خبرې کوې، زه يوه حقوق پوه يم سږ کال فارغېږم او په دې ښه پوهېږم چې ستونزه چيرې ده او له چا پوښتنه وکړم .

رڼا له تعجب ډکه خندا وکړه، ورته ويې ويل: ته فارغيږې اوکه پوهنتون درنه فارغيږي؟

- اغلې مرستيالې! هيله کووم له خبرو سره دې پام کوه.

رڼا د دفتر کارونو خورا ستړې کړې وه، د ډېرو خبرو سپکه يې په ځان کې نه ليده، په تونده لهجه يې وويل: نو ته د کوم حق له مخې دا خبرې ماته کوي او په دې اړه زما مسؤليت څه دی؟

- زه مليحه نومېږم، د شاپور کوژدن يم، زه حق لرم چې د هغه کړنې وڅارم او بايد پوه شم، چې هغه څه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **ښه! نو دا له ما پورې کومه اړه لري او زه څه خدمت کولی شم؟**
- **زه ستا په اړه تشويش لرم.**
- **د څه تشويش؟**
- **نن سبا ډېرې مېرمنې د دندې د اشغال لپاره ډېر داسې څه کوي، چې لـه انسانيته وتلي وي.**
- **مطلب؟**
- **ځينې بې عفته نجونې د څوکۍ د لاسـته راوړلـو لپـاره خپـل عـزت هـم پلوري، موږ په دې اړه انديښنه لرو، چې شاپور ستا په اړه ولې داسې غير معقول او له احساساتو ډکه پرېکړه وکړه؟**
- **نو ته زما په اړه هم داسې فکر کوې؟**

**مليحې د هو په دود سر وخوځاوه؛ خو مخکې له دې چې په خوله هو ووايې، د رڼا د مېز په سر ليف ټاپ کمپيوټر يې په کپړۍ ونيښت؛ سترګې پـرې تيـاره شـوې لـه چوکۍ وغورځېده.**

**د دفتر مامورين راغلل، شور او ځوګ جوړ شو.**

**له رڼا يې وپوښتل: دا ولې؟**

- **کله، چې قانون پوهه د جهل له خوبه را ويښه شي خپله درته وايـي چـې هغه ولې داسې شوه زه نوره د خبرو تاب نه لـرم جـذبات مـې دومـره پـه ځوښ راغلي چې نه پوهېږم څه ډول يې ساړه کړم.**

**د دفتر کارکونکو هم رڼا احساسوله چې خورا عصباني ده، نـورې يـې خـبرې ورسره اوږدې نه کړې، هغوی مليحه په امبولانس کې واچوله، روغتون ته يې ورسوله.**

**رڼا هم په دفتر کې له لږ ځنډ پاتې کېدو وروسته خپل کـور تـه پـه دې اراده لاړه، چې نور دلته کار نه کوي.**

**د دفتر اداري مسؤل له مليحې سره روغتون ته لاړ، د هغې له بستر کولو وروسته يې شاپور ته زنګ وکړ، ورته ويې ويل: هېواد روغتون ته کيدای شي يو ځل راشې؟**

- **ذاکره! خير خو دی؟**
- **هو خير دی مليحه لږ خوږ ده.**
- **په څه شي خوږ ده، واضح خبره وکړه؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هسې، چې دلته راشې درته وايم يې خو حالت يې د اندېښنې وړ نده.

شاپور په بيړه روغتون ته ځان ورساوه، ويې کتل، چې مليحه په بستر کې پرته ده، له بې هوښۍ را بيداره شوې وه، له هغې يې وپوښتل: مليحې! ولې، څه دربانـدې وشو؟

- که دا پوښتنه دې له نوې مرستيالې! وپوښتې ښه به وي.

شاپور اداري مدير ته مخ ور واړاؤ، ورته ويې ويل: ذاکره! څه خبره ده؟

- رئيس صيب! د مليحې له رڼا سره شخړه راغلې وه، نه پوهېږم چې مليحې ولې او په څه خبره رڼا دومره احساساتي کړې وه، چې مليحه په ليف ټاف ويښتلې.
- رڼا څه شوه؟
- هغه کور ته لاړه.

شاپور دستې جيب ته لاس کړ، هغې ته يې زنګ وکړ ورته ويې ويل: رڼا! مـا لـه تـا داسې هيله نه درلوده، تاسې خو د خپلو خلکو او هېـواد د خـدمت لـوړې دعـوې کولې، هغه دعوې دې همدا وې، چې يو نسان دې د مرګ تر کومې ورساؤه؟

رڼا: څوک چې زما عزت ته په بده سترګه وګوري؛ زه پرته له دې چې فکر وکړم هـر څه کولی شم حتا له هغه ژوند هم اخيستی شم.

شاپور حيران شو ويې ويل: زه پوه نه شوم؟

- له خپلې مېرمنې دې وپوښته.
- عجيبه ده هغه وايي له مرستالې دې وپوښته او ته وايې، چې لـه مېرمنـې دې وپوښته، زه خو ليونی کېږم دلته څوک شته، چې په حقيقت مې پوه کړئ؟
- زه دې پوهووم؛ مېرمن دې راغله، ماته يې وويل: ستا پر ځـای زمـا ورور کار کاؤه، خو تا زما مېړه اړولی، د هغه ذهن دې ورخراب کړی، تا ځـان فروشي کړې. له دې خبرو سره زه هم په ځان پوه نشـوم دا ښـه وه، چـې ليف ټاف ته مې پام شو او هغه دومره دروند نه ؤ، که له هغه لوی شی پـه لاس راغلی وای هم صرفه مې پرې نه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاپور ته د خپلې مېرمنې هغه بېګنۍ خبرې ور په ياد شوې،چې ويلې زه په رڼا پسې دفتر ته ورځم او په زوره يې له دفتر باسم ،نو ډاډه شو چې کوژدن يې ضد کړی، د رڼا د ناراحته کېدو لپاره قصدي ورغلې او هغې ته يې سوې سپورې ويلې دي، د ده او د رڼا شخصيت يې داغمن کړی، ټليفون يې پرې کړ، پـه احساسـاتو کـې يـې د مليحې تر چپرکټه ځان ورساؤ.

هغې ته يې وويل: ته په کوم حق زما دفتر ته تللې وې، تا په کوم حق د رڼا سپکاوی کړی؟

- واه د مرستيالې خو ډېر طرفداری کوې، زه يې د مرګ تر کومې ورسـولم او ته يې اوس هم ملا تړې، ستاسې تر منځ خامخا يو څه شته چې ما شک کولو ته اړه کوي.
- د سر له دې ضربې، چې مړه وای ښه به وه، ته تل پـه خپـل نـاولي فکـر باندې ځان او ماته ځور راکوی، ته تر هر څه لومړی د فکر مينځلو ته اړتيا لرې، ته ليونۍ يې؛ ستا له لاسه زما ژوند تنګ شوی، ساه مې درېږي.
- هو ساه خو به دې له ماسره خود درېږي، ته ملامته نه يې ساعت دې تېـر دی.

شاپور يې په خبره سور او شين واوښت له قهرجنې څېرې سره په بستر ورښکته شـو، په دواړو لاسو يې مليحه په مرۍ کې ونيوله، ورته ويې ويل: ستا له تهمتونو نـور پـه تنګ شوی يم، بس ده نوره ډېره شوه، رڼا خو ښـه وه، د ژونـد دوبـاره موقـع يـې درکړه، زه دې وژنم.

په دې وخت کې ذاکر راغی شاپور يې له لاسه ونيو لرې يې ترې بېوست د هغـه لـه بوولو وروسته ذاکر د ډاکترانو خونې ته ورغی ډاکترانو درمل ورته وليکل او بيا يـې هغه ته د مليحې د خاريجولو سپارښتنه وکړه؛ ذاکر، مليحې ته ټيکسي ونيوله د هغې کورته يې ولېږدوله.

سهار له رسمياتو سره سم شاپور دفتر ته ورسېد، دفتري کارونه يې پيل شـول؛ خـو هغه د رڼا دفتري خونه د نظر لاندې نيولې وه، چې هغه به کله کـار تـه راځـي، لـه رسمياتو يو ساعت تېر شو، خو رڼا مالومه نه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له خپل ټليفون څخه يې هغې ته زنګ وواهه خو هغې د سور بټن پـه کېکـاږلو سره ټليفون پرې کړ، وروسته يې د دفتر له ټليفونه له هغې سره اړيکه ټينګه کړه.**
**رڼا دې شاپور دې دفتر شمېره ونه پېژانده، زنګ يې واخيست شاپور ورته وويل:**
**اغلې! ته خو په دفتر کې نه يې، خير خو دی؟**
- **هو خير ده.**
- **ايا ستا د نه راتګ لامل پوښتلای شم؟**
- **بس ستاسو له دفتر سره مې کار پرېښود.**
- **ولې؟**
- **بس خوښه مې نه شوه.**
- **اغلې مرستيالې! کومه بې ادبي چې ستا په مخ کې زما کوژدن کړې د هغې سزا خو دې خپله ورکړه، له هغه په ډېره سزا شـايد تاسـې هـم رواداره نـه شئ، پاتې شوه د دفتر خبره، ته بايد دومره کمزورې نه شې، چې د يــوه غير مسؤل کس په خبره دفتر پرېږدې.**
- **ته ماته د همت راکولو درس مه راکوه، همت خلك له مـا زده کـوي، زه دومره د کمزوري هوډ والا نه يم چې د يو چا له خبرو دومره اغېزمنـه شـم چې دفتر پرېږدم.**
- **نو بيا ستونزه چېرې ده، ولې نه راځې؟**

**خو نه راځم په دې کې د چا څه کار**
**شاپور نه غوښتل د رڼا په څېر يوه تکړه کارکوونکې له لاسه ورکړي په نرمه لهجه يـې وويل: اغلې رڼا! زه غواړم تا پوه کړم، چې د هغې مداخله زما په ناخبري او د دفتر د اصولو خلاف په خودسري ډول شوې، زه ډېر ناوخته پرې خبر شوم، خو ډاډ درکوم چې بيا به نه تکرارېږي او که بيا هم له دفتره خفه يې زه رسماً درنه بښنه غواړم.**
- **سمه ده، ښښې ته اړتيا نه شته يوازې دومره غواړم، چې پرونـۍ پېښـه بيـا تکرار نشي.**
- **ژمنه ده بيا به نه تکرارېږي.**
- **نن ډېره فکري ستړې يم سبا درځم؛ په همـدې خـبرې سره رڼـا د شـاپور ټليفون پرې کړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا پرېکړه وکړه، چې سبا باید دفتر ته لاړه شي؛ نو سم دستي يې اداري مسؤل ته زنګ وواهه ورته ويې ويل:**

**سبا ټول کارکوونکو ته خبر ورکړه، چې نهه بجې جلسه لرو، څوک ناوخته رانشي ـ؛ هغـــه ښـــه صـــيب! وويـــل نـــور يـــې خـــبرې پـــرې کـــړې.**

**ټوله شپه رڼا د دفتر د تنظيم لپاره فکر وکړ بريالۍ نقشه يې جوړه کړه او په سبا د يوه پراخه پلان سره دفتر ته ورسېده، نهه بجې رسماً غونډه پيل شوه؛ رڼا غونډې تـه د خپلې پاليسي د تطبيق وينا پيل کړه هغوی ته يې وويل:**

**وروڼو او خويندو!:**

**زموږ دفتر له دې وروسته د قبايلو هوټل ندي، چې تګ راتـګ پکـې د خلکـو پـه خوښه وي.**

**دلته رسميات اته بجې پيل او تر څلورو بجو دوام کوي، د يوې دقيقې ناوخته راتلو هم، چې منونکی دليل نه وي راته د زغم ندی؛ جدي کار ته اړتيا ده، زه د تنخـوا په بدل کې کار غواړم؛ که يې څوک نشي کولی همدا نن د استعفی ليک راوسپاري چې په بدل کې يې بل د کار سړی وګمارم کنه کار غواړم او د دفتر د پاليسي خلاف دې رانه څوک د مرستې تمه نه کوي. مننه!**

**جلسه ختمه شوه.**

**خو رڼا تر څلورو بجو د دفتر په کارونو کې خورا بوخته وه، له څلورو بجـو وروسـته چې رسميات ختم شول موټروان ته يې وويل:**

**موټر چمتو کړه زه نوره کورته ځم، رڼا موټر کې کېناسـتله د کور په لور يـې حرکـت پيل کړ له لږ مزل وروسته يې د سړک په خوا کې يوه ډله خلک وليـدل، چـې لـه يوې پېښې (حادیثې ) راتاؤ دي، د دوی په منځ کې يـې پـه يـوه مېـرمن سـترګې ولګېدې، چې له ويره سرشکوي او خپل مخ په څپېړو وهي، د مېرمنې په خوا کـې يوه ماشومه هم ولاړه ده، رڼا چې د دوی ننداره وليده موټروان ته يې وويل:**

**وروره! موټر ودروه، دلته خامخا کومه پېښه شوې د خلکو په منځ کې هغه مېرمن ډېر بد حال کوي زه ورښکته کېږم؛ خامخا څه ستونزه ده، زه بايـد د دوی پـه سـتونزه ځان پوه کړم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا ژر له موټره ښکته شوه، د ډله خلکو په منځ کې یې مېرمنې ته ځان ورساوه، هغې ته یې وویل:

موري! څه خبره ده؟ ولې داسې بدې ورځې کوې؟ هغې په کوکو او چیغو په رڼا کې هیله مندې سترګې ونیوې، رڼا ته یې په بهانده اوښکو او ژړه غونې اواز وویل:

لوري! زه خو تبا شوم، د ځګر ټوټه رانه بېله شوه، په لسم ټولګي کې مې یوه لورکۍ وه، درې ورځې مخکې د ښونځي په لاره د را رخصتېدو په مهال وتښتول شوه، دا دی اوس یې مړی په یوه دښته کې پیدا شوی، خلکو یې مړی تر روغتونه رسولې، له روغتونه زنګ وشو چې موږ د طب عدلي ازموینو، وروسته مړی در وړو.

زه کونډه یم له خدای ج پرته نور څوك نه لرم، هیڅوك مې د غم خوړلو نه شته، زه ډېره مظلومه یم، د چا ډار او وېره نه رانه کېږي؛ ځکه خو داسې راسره کېږي.

- د مورکۍ بدو ورځو، خوارې برخې او ویر خورا اغېزمنه کړه، خپلې اوښکې یې هم لکه د باران څاڅکي په ګریوان کې راغلې

د بورې مورکۍ په خوا کې کېناسته، سپین دوسمال یې له دسکوله را وکیښ اوښکې یې پرې پاکې کړې بیا یې هغې ته مخ ور واړاوه له هغې یې وپوښتل لور دې یوازې وه، چې له مکتبه راتله؟ هغې ځواب ورکړ: نه یوازې نه وه، په څنګ کې یې ماشومې لور ته ګوتې ونیوې ورته ویې ویل:

دغه لور مې هم ورسره وه؛ رڼا هغه ځان ته نږدې کړه، په غېږ کې یې ونیوله، ورته ویې ویل:

څنګه چل ؤ شهزادګۍ ته یې راته ویلی شې، چې څه کیسه وه؟ هغې ځواب ورکړ: موږ دواړه یو ځای را روانې ؤ، ناڅاپه یو د تورو ښیښو موټر راته ودرېد دوه کسان راښکته شول، وسله هم ورسره وه زما له خور یې لاسونه تاؤ کړل دوهم کس په خوله لاس ورکېښود، موټر ته یې واچوله هغې ډېره هڅه وکړه، چې چغې ووهي ځان خلاص کړي؛ خو برمته کوونکو کلکه نیولې وه؛ خوله یې وربنده وه. کسانو اوربزونه وهلي وو د خور په پورته کېدو کې مې، د یوه کس څېره ولیده خو ومې نه پېژانده.

رڼا ماشومه نوره هم سینې ته نږدې کړه؛ په مخ یې ښکل کړه ورته ویې ویل: که هغه کس ووینې، وبه یې پېژنې؟

هغې په ماشومانه انداز وویل: هو پېژنم یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا سمدلاسه د اړوندې حوزې امير ته زنګ وکړ د پېښې تفصيل يې ترې وغوښت، خو د حوزې امير له پېښې ناخبري وښوده ورته يې ويل: ته چې کومه پېښه يادوې، دلته نده واقع شوې او که شوې هم وي نو موږ ته يې په اړه چا راپور نه دی راکړی. خو رڼا يې په لنډ ځواب او د ځان خلاصولو په دې پلمه په غوصه شوه ورته ويې ويل:**

**داسې څنګه کېدای شي، چې تاسې د يوې پېغلې زده کوونکې له تښتولو او بيا وژلو ناخبره ياست؟ حال دا چې دا پېښه ستاسې له حوزې سره نږدې شوې وه.**

- **رڼا جانې! موږ څه ډول خبر شو، موږ ته په دې اړه چا عريضه نده کړې، چې پلټنه مو کړې وای.**
- **که څوک تاسې ته عريضه ونه کړي بيا تاسې کوم اجرات نه کوئ؟ تاسې کوم مسؤليت نه احساس کوئ؟ تاسې د هغه چا په فکر کې نه ياست، چې د هغوی له برکته تاسې د معاشاتو او امتيازاتو څښتن ياست؟**

**د حوزې امير چې د رڼا خبرو ته ځواب نه درلود ټليفون پرې کړ.**

**رڼا د وژل شوې زده کوونکې خور له ځان سره واخيسته، تر څو يې د حوزې امير ته بوځي او ورته ووايي، چې دغه ماشومه د تښتونکو له ډلې يو کس پېژني، تاسې بايد پلټنې پيل کړئ. هغې د دې موخې د تر لاسه کولو لپاره د حوزې دروازې ته ورسېده، دوه ساتونکي د دروازې مخې ته ولاړ وو، د رڼا موټر دروازې ته ورنږدې شو د يوه سرتېري په ليدو ماشومې په موټر کې چغې کړې، ويې ويل:**

**هغه کس چې زما خور يې موټر ته پورته کړه دغه سرتېری وو، هلته په عادي جامو کې ؤ، اوس يې دريشي کړې، رڼا د ماشومې په خوله لاس کېښود ورته ويې ويل:**

**غږ له خولې ونه باسې، نه داسې ووايې، چې دا سرتېری پېژنم، زه ژمنه کوم چې ستا د خور قاتل به برملا کوم او هغه ته به سزا ورکوم، خو اړينه ده، چې خوله چپ ونيسې، تر څو دوی شک وانه خلي. رڼا د ماشومې په سرلاس راکش کړ د هغې سترګو ته يې په ځير ،ځير وکتل ورته ويې ويل:**

**ته همدلته کښېنه، زه ورښکته کېږم تر څو له دوی سره وغږېږم؛ ماشومې د هو په دود سر وخوځاوه، رڼا له موټره ښکته شوه، هغې لاڅو ګامه نه ؤ اخيستي چې کوچنۍ ماشومې يې هم تر شاه قدمونه تعقيب کړل. رڼا د هغې د قدمونو ترپا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



واورېده، له ګوتې ونيول شوه په شاه يې راوکتل په ماشومې يې نظر ولګېده د هغې غږ يې واورېد، ورته ويې ويل:

زه هم درسره ځم، رڼا ماشومې ته ور ټيټه شوه هغې ته يې په غوږ کې وويل: راسره لاړه شه خو پام دې وي، چې کوم ليونتوب ونه کړې او غږ دې له خولې راونه باسې.

د حوزې په دروازه کې ولاړ سرتېري، چې په ماشومې سترګې ولګېدې، ژر يې له غاړې په تاؤ ګولي بند کې خوله او پوزه پټه کړه، رڼا هم نوموړی سرتېری وليد، چې د ماشومې په ليدو يې د څېرې پټولو هڅه وکړه، سرتېرو ته په رسېدو رڼا ځان وروپېژاند او له اميرسره د ليدو غوښتنه يې څېنې وکړه. مخ پټي سرتېري ورته وويل:

دلته منتظر شئ؛ زه امير صيب ستاسې له راتګه خبروم، هغه د امير خواته لاړه رڼا يوې ګوښې ته کېناستله، پاتې سرتېري له رڼا پوښتنه وکړه:

خورکۍ! خير خو ؤ، څنګه راغلي ياست؟

- خير چيرته دی وروره! درې ورځې وړاندې د دې خوارکۍ ماشومې بلـه خور، چې د لسم ټولګي زده کوونکې وه وتښـتول شـوه، نـن يـې جسـد پيداشوی اوس د څېرنو لپاره په روغتون کې ده، بيا يې مخ بل طـرف تـه واړاؤ، ويې ويل:

د حوزې په سل متري کې دومره لوی جرم ترسره کېږي، خو تاسې يـې مخـه نـه نيسئ، مخنيوی خو لا لويه خبره ده له پېښې خبر هم نه ياست، له دې مـالومېږي، چې تاسې هم ورسره شريک يی.

سرتېري يې خبرې واورېدې، ترخه مسکا يې وکړه، رڼا ته يې وويل:

خورې! ته په حقه يې ما دې خبرې واورېدې، خو زما د لاس ګوتو ته وګوره وينې، چې د يوه لاس ګوتې هم يو شان نه وي؛ موږ دا منو چې زمـوږ لمـن هـم لـه بـدو خلکو خالي نده ده، خو دا په دې مانا هم ده، چې ټول بد خلک يو، د څينـو پـه کړنو په ټولو پوليسو همدا تور پورې کول به، له انصافه لرې وي.

- زه درسره سل په سلو کې موافقه يم، جرم فردي عمل دی، هغه که په هره طبقه کې وي او په دې اعتراف کوم، چې په ټولو يـې اطـلاق انصـاف نـه دی.

سرتېری د رڼا لور ته نږدې شو، هغې ته ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خورې! زه دې درک کوم، له خبرو دې څرګندېږي، چې یوه خواخوږې ښځه یې، له دې وړې بې کسه ماشومې سره دې همدردي خوند راکړ؛ موږ په خپله ټولنه کې داسې کم خلک لرو، چې له تمې پرته او د خپل ایماني مسؤلیت له مخې یو نیک کار تر سره کړي، په ټولنه کې د ستا په شان د خلکو ډېر کمی احساسوو ، راتـه ښکاري چې ته یوه ایماندازه خبریاله یې. زه ستاسې ته د پېښې په اړه لـه یـوه رازه پرده پورته کوم، خو شرط به دا وي، چې راز به راز وي.**

**رڼا له خپله ځایه پاڅېده، د سرتېري په لور یې څو ارام قدمونه واخیستل، هغه ته یې په ځیر ځیر وکتل ویې ویل: زه ژمنه کوم، چې ستا خبرې به له ماسره محرمې وي، یوازې که یې اړتیا شوه نو ستا په اجازه به یې په محکمه کې څرګندې کړم.**

- **سمه ده زه درسره موافق یم، که محکمه کې اړتیا شوه نو زه او زما د راز ملګري حاضر دي، چې خپله شاهدي ووایي؛ ځکه چې موږ دلته وجداناً نارامه یو.**
- **راځه موټر کې کښېنو که هغه بل سرتېری راشي بیا موږ خبرې نه شو کولی، هغه د رڼا خبره ومنله په موټر کې د کښېناستلو نه، وروسته سرتېري وویل:**

**امیر صیب اوس هم دننه د شرابو محفل جوړ کړی، هغه سرتېری چې ور ننووت د پرې ملګری یې دی.**

**هغه زده کوونکې نجلۍ، چې ته یې یادوې ما پـه خپلـو سترګو ولیده، چې د امیرصیب کسانو موټر ته پورته کړه د هغې چغې مې اوس هم په مغزو کې انګازې کوي، سترګو ته مې درېږي، خو دوی هیڅ زړه سوی پرې ونه کړ. هغه یې وتښتوله. دوی د میلمستون په نوم ځانګړی ځای لري، هلته نجونې وړي بیا د راز د نه افشا لپاره له اختطاف شوې کس ژوند اخلي؛ هغه خبرې اورېدې کړې، رڼا یې خبرې له ثبت سره یو ځای په غور اورېدې، هغه وویل: همداسې بې ضمیره خلک د نظامي یونیفورم څخه ناسمه ګټه اخلي، خپلې ناولې موخې پرې خړوبوي، رنګه هم د ټولو هم مسلکه بده وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتېري غوښتل نورې خبرې هم وکړي؛ خو هغه بل سرتېري له لرې پرې راغږ کـړ؛ راشه امير صيب دې غواړي، دغې مېرمنې ته ووايه چې امير صـيب ميټينـګ لـري اوس وخت نه لري بل وخت راشئ.

رڼا يې په غبرګون کې سر وخوځآوه، په خوا کې له خواخـوږي سرتېـري يـې مننـه وکړه، هغه ته يې هم د تلو اجازه ورکړه.

رڼا نوره د هغه روغتون په طرف روانه شوه، چې د پېغلې زده کـوونکې جسـد پکـې ايښی وو.

له لنډ مزل وروسته هلته ورسېده، له ډاکترانو يې د هغوی د پلټنو له مخې د هغې د وژنې لامل پوښتنې پيل کړې.

هغوی وويل: په زده کوونکې جنسې تېری شوی، له هغه وروسته وژل شوې، د دې خبرو په اورېدو رڼا نوره هم غمجنه شوه؛ د حوزې له امیـر نـه يـې د غـچ اخيسـتو ځواک په وجود کې په څپو شو.

ستړې ستومانه د شپې اته بجې د کور په لور روانه شوه په لاره کې يې لومړی ماشومه خپلې کورنۍ ته وسپارله، وروسته يې ځان خپل کور ته ورساوه.

مخکې له دې چې د خوب کوټې تـه لاړه شي مـور تـه ورغلـه، هغـې لـومړی ښـه وښکنځله بيا يې ورته وويل:

دا وخت دی چې ته راځې؟ ته دا توره شپه وګوره او ستا راتګ وګوره. ته دا شرايـط نه وينې، چې هره ورځ له خلکو سره څه کېږي؟ تبښـتول، وژل او بـې عزتـه کـول زموږ د ټولنې معمول ندي او که ځواب دې هو وي نو ولې دومره ناوخته راځې؟

په رڼا لا هم د خفګان وزرې غوړېدلې وې، نرمه مسکا يې وکړه، ويې ويل:

مورې!

ستا دعاوې ما ته فولادي ديوال غوندې دي، له ماسره ستا دعاوې دي، هيڅ څوک به ماته زيان ونه رسوي، خپل دسمال يې د مور په مخ راکش کړ بيا يې مـاچ کـړه ، ورته يې وويل:

سبا ته يو لوی کار کوم، يو لوی اقدام کوم په يوه خطرناکه سره کرښه پښه ږدم، خو مورې! ته دعا راته وکړه چې په دې کار کې بريالۍ شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **د څه شي لوی کار؟ څه ډول سره کرښه لورې!؟ ته څه کول غواړې؟ د کوم گواښ سره بیا ځان مخامخ کوې؟. رڼا لنډه مسکا وکړه ویې وویل:**

**مورې! هیڅ داسې کار نه کوم، چې گواښونده وي، خو په هر واړه او لوی کار کې ستا دعاوې زما لپاره د بریا دروازې پرانیزي. مور یې د خبرې اورېدو سره سم لاسونه لپه کړل، رڼا ته یې په دعاؤ پیل وکړ ویې ویل:**

**لورې! خدای دې لکه ابراهم ع په اور او اوبو کې وساته؛ خدای ج دې لکه یونس ع د ماهي په گېډه کې له خطره وژغوره، خدای دې بری درکړي، خدای دې د هر مظلوم د مظلومیت اواز کړه، خدای ج دې د هر خاین په وړاندې له ملت نه، د دفاع په خاطر لکه سپر وگرځوه.**

**زما دعاوې له تاسره دي لورې!.**

**رڼا د مور په هره خبره لکه بیټری چارچ کېده، انرژي یې اخیسته، همت یې پیداکاؤه، هغه زړه نازړه توب یې له منځه لاړ، چې سبا به د یوه قدرت مند واسطه دار حکومتي مامور د خیانت د ښکاره کولو په وړاندې د راپور له جوړولو منع کوله.**

**رڼا له موره رخصت واخیست، په خپله خونه کې یې د راپور په جوړولو پیل وکړ؛ ټوله شپه یې د هر اړخیز راپور په جوړولو تېره کړه او بلاخره یو بریالی راپور یې چمتو کړ.**

**سهار شو، د دوهمې حوزې امیر له شاتو، پنیر، هگیو او شیدو ډک دسترخوان سره د سهار ناشتې ته ناست ؤ، چې تلویزون کې خبرونه پیل شول.**

**د خبرونو سرټکو ته غوږ شو.**

**ناڅاپه یې د ټلوېزون په سکرین پر خپل تصویر سترگې ولگېدې. ویاند وویل: په سیمه کې د تښتونې او ډار اچونې پېښې زیاتې شوې دي، چې خلک یې په تشویش کې اچولي؛ نن د هغې تښتول شوې او بیا وژل شوې زده کوونکې څرک ولگېده، چې درې ورځې وړاندې د مکتب په لاره نادرکه شوې وه. د ځواني مرگې زده کوونکې په اړه د افغان رسنیز دفتر مرستیالې رڼا داسې اسناد او شواهد موندلي، چې د تښتول شوې نجلۍ په تښتولو کې د دوهمې حوزې امر لاس درلود. د طب عدلي ازموینو ښوده، چې لومړی پر نجلۍ جنسي تېری شوی او بیا وروسته وژل شوې. د دې خبرې په اورېدو، امیر ټکان وخوړ احساساتي شو، په لاس کې ریموټ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې په ځمکه وویشت، جیب ته یې لاس کړ ټلیفون یې راوښکه؛ رڼا تـه یـې زنـګ وواهه، ورته ویې ویل:

اغلې رڼا! دا زه دې تلویزون په شیشه څه ګورم؟ تا د کومې عقدې له مخــې دا کـار کړی؟ تا زما په وړاندې په کوم جرئت دومره لویه دسیسه جــوړه کــړې ده؟ تـه مانـه پېژنې، چې په ارګ کې مې ورور د رئیس جمهور ارشد مشاور دی، زه دلته په خپل زور راغلی یم، وزیر داخله هم زما دنده نشي ځنډولی، زما له زور او زر نه، نا خــبره زما سره سر وهي، تا په دې کار سره د اور سره لوبه پیل کــړه؛ زه درسره ژمنــه کــوم چې د دې کار سزا به درکوم، ته ما نه پېژنې، کمرې او مایکونه به دې سر ته کېږدم، زه درته خبر داری درکوم، چې دغه سودا به درته ډېره قیمته پرېوځي.

رڼا د حوزې د امیر په خبرو نری مسکا وکړه ورته ویې ویل: دا سمه ده چې ته زورور یې تښتونه، وژنه او د عزت لوټونه ستا دنده ده او په دې خبرو سره دې زه نوره هــم ډاډه کړم، چې ما کومه تېروتنه نده کړې، مجرم مې په ریښتوني ډول پېژندلی، مـا سمه لاره غوره کړې دا چې ته ما په مرګ ګواښې، زه له دې خبرو نه ډارېږم؛ ځکـه چې زما ژوند ستا په لاس کې نه دی، زما د ژوند پرېکړه بل څوک کوي، ترڅو چې هغه زما په اړه د مرګ پرېکړه ونه کړي زما یوه ویښته هم څوک نشي زیان منولی، یاد لره، چې ما په دغسې اخطارو نه شې ډارولی او نه داسې اخطارونه زمـا لپـاره نــوي دي، چې ټکنۍ مې کړي، زه ورسره عادي شوې یم.

- په تمه اوسه، زه د اخطار د تکرارولو عادت نه لرم او ډاډه شه، چې زه پــه دې اړ چپ نه پاتې کېږم. هغه نور ټلیفون پرې کړ؛ رڼا هم ســوړ اســویلی وویست له ځان سره یې وویل: اخخخ هېواده کوم ټپ دې وګنډم؟ کومـه بــدبختي دې وژاړم، کــومې نیمګړتیـا تــه دې وځــورېږم؟ چیرتــه، چــې خودسري وي هلته مسوؤلانه دنده څومره ســتونزمنه وي، بــس خــدای ج دې جوړ کړه هېواده. رڼا په دې فکرونــو کــې ډوبــه وه، چــې د دروازې ټک، ټک یې د سوچونو لړۍ پرې کړه؛ د دروازې ساتونکی یې راننووت، ورته ویې ویل:

د ملي امنیت کسان راغلي دي، له تاسره ګوري. هغې ځواب ورکړ: ورته ووایه دننـه راشئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی دې رڼا دفتر ته ور ننه وتل ، د رڼا په دفتر کې د هغې مخې تــه کېناســتل، و یې ویل:

موږ ستا د سهارني راپور جزیات غواړو؟

رڼا دواړه له نظر تېر کړل، له ونې دنګ ښایسته رنګي کس تــه یــې وکتــل ګــرد مــخ اوږدې پوزې او شنو څرڅو سترګو یې جلا جذابیت درلود، ورته ویې ویل: زه به له اسنادو سره یو ځای جزیات درکړم؛ خو دا څه کوئ؟

د پټې دندې پولیس وویل:

که اسناد د باور وړ وي، موږ کولی شو د حوزې امیر ونیسو، عدلي او قضایې ارګانونو ته یې وسپارؤ.

- خو هغه لویې، لویې خبرې کوي، وایي چې ارګ مې خپــل دی، وزیــر داخله مې هم نه شي لرې کولی.
- اغلې رڼا! زه هم ستا غونډې د دې خاورې زیمه وار بچی یم؛ زه د چا زور او زر ته نه تسلیمېږم، ماته د قانون پــه وړانــدې زورور هــیڅ دي، اوس د زور او ټوپک وخت په ختمیدو دی، دلته قانون دی له قانونــه هیڅــوک لوړ نه دي.

رڼا چې له ونې د دنګ سړي خبرې واورېدې، په ســترګو کــې یــې د هیلــه منــدي اوښکې را بیدارې شوې، د خوښي اوښــکې یــې پــه ګــلابي غــومبرو لارې وکــړې، اوښکې یې پاکې کړې، اسناد یې ورته وښودل، ثبت شوی غږ یې هم ورته وسپاره د وژل شوې زده کوونکې، ماشومه خور یې هم ورته راوغوښــته، هغــې هــم شــاهدي ورکړه، چې د حوزې د امیر یو ساتونکي یې د خور په تښتولو کې لاس درلود، چې هغې حوزې ته له راتلو وروسته هغه پېژندلی وو.

د پټو دندو پولسو ته اسناد د دې وړ شول، چې د حوزې امیر ونیسي؛ خپل اجرایــه ځواکونه یې راوغوښتل، حوزه یې محاصره کړه امیر صیب زلمی یې له خپلې ډلګۍ سره یو ځای موټرو ته پورته کړل.

دا صحنه د افغان رسنیز مرکز یوه خبریال ثبت کړه، ماښام بیا د رڼا په اتلولي د امیر زلمي د نیولو او بندي کولو خبر خپور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور، چې ډېر به په خپل دفتر کې نه وو، زیاتره وخت به خپل تجارت بوخت وو؛ ماښام په اطاق کې ناست وه، د شنه چای پیاله یې هم تر څنګ وه، ټلوېزون ته یې کتل، چې د رڼا خبر خپور شو.**

**هغه خبر، چې د یوې حوزې امیر یې له کبله د زندان تر بریده ورساؤه.**

**هغه مسکی شو، له ځان سره یې وویل: رڼا! درباندې ویاړم، ته هغه څه کوې چې زما خوښېږي، ته مې ځکه خوښه یې، چې تل زما د زړه کارونه کوې. ټلیفون یې راواخیست، رڼا ته یې زنګ وواهه؛ هغې ته یې د سلام ویلو وروسته وویل: دا هېواد ډېر کار ته اړتیا لري، ډېرو قربانیو ته اړتیا لري، چې دغه قربانیو ته هر څوک بدبختانه، چمتو نه دي. که موږ د ګوتو په شمېر ستا غوندې څو رڼاګانې ولرو؛ نو د هېواد دا تیارې به له منځه لاړې شي، ظلم به پای ومومي، د چا حق به تر پښو لاندې نشي، څوک به جرئت ونه کړي، چې له قانون نه، سرغړونه وکړي.**

**رڼا چې د شاپور له خولې خپل داسې مسلسل صفت واورېده حیرانه شوه، ویې ویل: دا دومره صفت د څه لپاره؟**

- **رڼا ستا راپور مې واورېد، تا نن ډېر لوی کار ترسره کړی، نن دې د یوې مظلومې پېغلې د معصومو وینو غم وخوړ؛ د هغې غچ دې واخیست، د هغې روح دې ارام کړ، هغې ته دې عدالت وغوښت، له دې کار سره دې د څومره نورو کسانو ژوند ته ګواښ محوه کړ. د هغې د بورې مور د درونډ غم پیټی دې کم کړ؛ د هغې په سینه کې په بل اور باندې دې اوبه واچولې. اغلې رڼا! مننه، چې ته له موږ سره کار کوې.**

**رڼا یې په خبره وخندل، ورته ویې وویل: رئیس صیب! زه کار کوم تاسې پیسې راکوی؛ نو مننه دڅه لپاره؟**

- **ماته نور رئیس مه وایه، ته نوره د رسنیز دفتر مشره یې، زه دې له کاره راضي یم، زه هسې هم په تجارتي کارونو بوخت یم، دا مسؤلیت نور تاته در سپارم ته، چې څه کوې خپلواکه یې نوره اړه نه یې په لوړو پرېکړو کې له ما مشوره وغواړې. ما رسنیز دفتر د همدې لپاره جوړ کړ، چې خلکو ته په همدې سپېڅلي مسلک کې ریښتونی خدمت وکړم، خو تر دې دمخه بریالی نه وم؛ ځکه زه په خپلو تجارتي چارو بوخت وم، نور به مې چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې کار لپاره ګمارل نو، هغوی به خپله شپه تېروله، هیڅ کس مې ستا غوندې مسؤلیت پذیره ونه مونده. ته زموږ دفتر ته خدای ج داسې یوه ډالۍ ورکړې، چې موږ یې له ډېر پخوا تمه درلوده.

- له زنګ سره دې لومړی وډاره شوم مال هسې نه، چې د راپور په لیدو را باندې په قهر شوی نه یې، خو ښه وو خبره سرچپه شوه تا زه لا تشویق کړم، ماته مو همت راکړ، زما حوصله مو را زیاته کړه، زه درنه خوښه شوم او زه درته ډاډ درکوم، چې زه به خلکو ته خبریالي وښیم، چې خبریال څوک دی، څه رسالت لري، څومره اغېزمن او ارزښمن دی.
- رښا جانې! له تا سره چې په ټلیفون په خبرو بوخت یم، یو بل مسلسل زنګ راځي، له تاسره بیا خبرې کوم، زه به دې ټلیفون ته ځواب ورکړم چې ولې دومره په عذاب دی، دا څوک دی او څه وایي؟ هغې په سمه ده ویلو سره اړیکه پرې کړه.

شاپور ټلیفون اوکې کړ، ورته وویل شول:

شاپورګیه! له ځانه دې لوی کارونه پیل کړي، سړی له خپلې بړستنې سره پښې غځوي ته نه پوهېږې، چې ماسره سر وهل سړی له سره خلاصوي، کوما ته یې بیایي او زیاتره وخت بې چاره د بې هوښي په حالت کې له خاورو لاندې کور ته ځي، دې دایمي خوب ته لکه، چې ستا هم اشتها شوې؟

شاپور، په حیرانتیا سره وویل: لطفاً ځان راوپېژنه؟

- د رئیس جمهور مشاور یم.
- نو زما یې څه چې مشاور یې او دا دومره غوصه په څه یې؟
- زما ورور ته مو دسیسه جوړه کړه، هغه مو زنداني کړ، هغه مو د تورو تمبو شاته وغورځاوه، هغه د ورځې په لس ګونو زره پیسې پیدا کولې، افغانۍ هم نه بلکې ډآلر، خو ستا د یوې خبریالۍ له لاسه مو دا هر څه له خولې ووتل. ورور! مې بندي شو خدای ج خبر، چې کله به خلاصېږي، زما شناخت هم کار نه کوي؛ ځکه رسنیو یې خبر خپور کړ، څوک راسره مرسته هم نه کوي.
- نو زه څه خدمت کولای شم، مشاور صیب!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه پوهېږم، چې د راپور په جوړولو او خپرولو کې ستاسې د مرستیالې لاس ؤ، که هدایات ستاسې وي هم راته یې واضح کړئ او که هغې په خپل سر دا کار کړی وي، هم راته یې څرګنده کړئ؟

ځکه چې موږ وخت نه لرو،او نه نور خپلو هلکانو ته قناعت ورکولی شو

- هلکان دې غواړي څه وکړي؟
- هغه به داسې څه وکړي، چې ټولو خلکو ته به عبرت شي، خلک به پوه شي، چې له موږ سره ځان بندول څه مانا لري او پای یې څه وي.

د مشاور خبرو د شاپور احساسات راوپارول خوا و شا یې وکتل ریموټ یې را واخیست د ټلویزون اواز یې ټیټ کړ ویې ویل: مشاور صیب! زموږ په رسنیز دفتر کې رئیس، مرستیال، منشي او خبریال نشته ټول لکه د یو وجود په شان یو، راپور رڼا خپور کړی، په رڼا لاس پورته کول په ما لاس پورته کول دي او په ما لاس پورته کول د هر چا کار نه دی. هر غل، د ملت په ژوند لوبې کونکی، خائن، شراب خور د دې جرئت هم نه لري چې موږ ته پورته وګوري؛ ځکه هغه بې ضمیره، بې ویجدانه، د یوې با شهامته، ایمان دارې، خدای پرستې او په هېواد میینې خبریالې په وړاندې کله د کوم غبرګون جرئت لري؛ که دوهم ځل دې ټلیفون وکړ، مشاوریت به دې سرته درته کېږدم، ما دې ټولې خبرې ثبت کړې، زه به دې یو لحاظ وکړم، چې رڼا ته به یې نه ورکوم، کنه سبا په ټلویزون کې درباندې ګردی مېز جوړ کړي، ستا په تن کې به دا شته کالي هم درنه وباسي، له وروره خو دې د حوزې امیریت لاړ، ستا مشاوریت به هم له عزت سره یوه ځای درته په یوه غیران کړي.

مشاور ټلیفون پرې کړ.

»»»»»»»»»»»»»»»

د ملیحې خور هم د رڼا د زړورتیا کیسه له ټلویزون، نه کتلې وه، د راپور له لیدو وروسته ملیحې ته راغله، په خوا کې ورسره کېناسته، ورته ویې ویل: هغه رڼا نه ده.

- کومه رڼا!؟
- هغه، چې له تاسره یې جنګ کړی ؤ.
- ښه! نو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغې پرون د دوهمې حوزې امیر چې زورواکی ؤ، د هیڅ چا پروا یې نه درلوده، په بندي خانې ننه باسه.
- ولې هغه کومه نظامې چارواکې ده، چې د حوزې امیر بندي کوي؟
- نه، هغې د حوزې دې امیر د فساد او انسان تښتونې راپور خپور کړ، شواهد یې هم موندلي ؤ، امنیه قومنداني اړه شوه، چې دې حوزې امیر په دې شواهدو ونیسي.
- رښا په دې کارو څه غواړې ثابت کړي؟ هغه یوه شیشکه ده، هغه یوه روحي ناروغه ده، هغه یوه کوډګره ده، چې زما کوژدن یې هم د خپلو کوډو په تمثل کې راګیر کړی دی، هغې په خپل راتګ سره زما له خاونده یوه نانځکه جوړه کړه، لومړی یې زما ورور له دندې پرې ګوښه کړ، وروسته یې زما په وړاندې سپین سترګي وکړه، زه یې بې عزته کړم ویې وهلم او ان تر روغتونه ورسېدم، خو مېړه مې په عوض د دې چې هغه ورتې او په دغه غیر انساني کړنې سره هغه له دندې ګوښه کړي، زما د تمې خلاف یې د هغې ننګه وکړه، زه یې ورټلم، زه یې ملامته کړم، نور دا حالت نه شم زغملی، مور ته مې ووایه: زه له فراغته مخکې واده کوم؛ ځکه هغه کوښښ کوي زما خاوند له ما خپل کړي، مور دې د شاپور له کورنۍ سره خبرې وکړي.
- خورې! ستا فراغت ته څلور میاشتې پاتې دي، لږ حوصله ولره، ته چې څه ډول فکرونه کوې دا هسې شیطان په ذهن کې دراچوي. دا زموږ د کورنۍ پرېکړه وه، چې واده به ستا له فراغته وروسته چمتو کوو، زه اوس څه ډول دوی ته قناعت ورکړم؟
- خورې! ته هغه څه نه ګورې، چې زه یې ګورم، ماته مې له پوهنتونه، ژوند غوره دی، یو سمستر له واده وروسته هم ویلی شم، خو که د شاپور په زړه کې یو ځل هغې شیشکې ځای ونیو بیا نو زما ژوند تبا کېږي، هر څه مې له لاسه ځي، زه نه پرېږدم، چې ژوند مې تبا شي.

د ملیحې خور چې بله د خلاصون لاره نه درلوده د هو په دود یې سر وخوځاوه ویې ویل: سمه ده، زه به خپله هڅه وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



»»»»»»»»»»

**شاپور ته د مشاور له زنګه نيم ساعت نه ؤ تېر شوی، چې ټليفون شرنګار يې د غوږو پردې يو ځل بيا په اهتزاز راوستې، د ټليفون په سکرين يې وليدل، چې مشاور بيا زنګ وهلی؛ شاپور د اوکې بټن په کېکاګلو سره په غصه ناکه لهجه، وويل: مشاوره! ما درته وروستۍ خبرې کړې دي؛ نور دې د خبرو لپار څه نه لرم زه ستا له دې مقامه نه ډارېږم، لاس دې خلاص توره دې ازاده، ستا موقف تاته لوړ ښکاري، موږ ته د خدای ج له مقامه وروسته هيڅ هم لوړ نه ښکاري، خبر اوسه.**

**مشاور د شاپور د تمې خلاف لکه مږ شوی اور تودخه نه درلوده، ويې ويل:**

**وروره! رښا ليونی ده. ما د هغې په اړه مالومات واخيستل، هغه ځان د خلکو نماينده ګڼي، د خلکو په مينه کې دومره غرقه شوې چې د ځان په کيسه کې هم نده. زه له دې خبرې تېر يم، زما ثبت ورنه کړې، که ور دې کړ پرته له ځنډه به يې نشر کړي، زه درسره کار نه لرم؛ خو له دې پس دې له موږه هم تېره شي.**

**شاپور يې په خبره وخندل او بيا يې وويل:**

**څه سمه ده مشاور صيب! نور يې ټليفون پرې کړ.**

**رښا د دفتر د کارونو د لا پياوړتيا لپاره پرېکړه وکړه، چې په ولايتونو کې له خپلو ژورنالستانو سره ناسته وکړې او هغه سپارښتنې ورته وکړي، چې د ژورنالېزم د اوصولو په مراعتولو خپلې دندې پر مخ بوځي.**

**اداري مدير ته يې د ناستې جوړولو سپارښتنه وکړه.**

**سبا سهار د دفتر په لور په هغه لاره برابره شوه، چې څو ورځې وړاندې د يوې بې وزلې کونډې زده کوونکې لور تښتول شوې او وژل شوې وه؛ د هغې کور ته په رسېدو سره يې موټروان ته وويل: وروره! موټر ودروه.**

**هغه وويل: خير خو دی اغلې رښا!؟**

- **دلته د هغې کونډې مورکۍ پوښتنې ته ورځم، د چا چې څو ورځې وړاندې لور شهيده شوې وه. رښا له موټر ښکته شوه په ګړنديو ګامونو يې د کونډې مورکۍ د کور په لاره لار لنډوله؛ شاته يې وکتل دوه کسان چې اوربوزونه يې وهلي ؤ له شاه ورپسې ؤ؛ رښا لنډ وخت وروسته د هغې کونډې د کور دروازې ته ورسېده، خو په شا يې هم د سترګو له کونجو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکتل، تر څو د هغو کسانو په موخه پوه شي، چې له شاه ورپسې را روان دي. رڼا مخکې له دې، چې دروازه ټک، ټک کړي د ضربه یي مرمیو نښه وګرځېده په دوړو کې پټه شوه لوړه تنه یې لکه برغنډ چنار په دروازه ور ولوېده، دروازه هم د رڼا په ور لوېدو خلاصه شوه، په کور کې کونډه میرمن چې په برنډه کې ناسته وه، وېرېدلې سترګې یې له دروازې سره نښلولې وې، د رڼا په لیدو په چابکو قدمونو راپورته شوه رڼا یې حویلۍ خوا ته کش کړه، لومړی یې خلاصه دروازه وتړله وروسته یې رڼا په غېږ کې ونیوله، هغې فکر کاوه د ضربه یي مرمیو له کبله به د رڼا په چنار ځواني د بخۍ مرمیو ټپونه ویني، هڅه یې کوله د مړې رڼا سترګې د ځنکدن پر وخت ور پټې کړي؛ خو د هغې د تمې خلاف رڼا لکه زغره وال سپاهي روغه رمټه په نظر ورغله. د رڼا په ګرد سپوږمۍ ډوله مخ باندې یې لاس ور تېر کړ، ګردونه یې ترې پاک کړل، د یخو اوبو څاڅکي یې د هغې پرمخ ور وغورځول، پر مخ یې نرمې نرمې څپېړې ورکړې رڼا تورې ښه ورې سترګې راپورته کړې، یوه او بل اړخ ته یې وکتل.

کونډې مورکۍ چې د رڼا غړېدلې سترګې ولیدې، په شونډو یې د خوښې مسکا خپره شوه، ورته ویې ویل: رڼا لورې! ته ښه یې؟

- هو زه ښه یم؛ خو نه پوهېږم ولې بې هوښه شوی یم؟

هغې رڼا راپورته کړه، له لاسه یې ونیوله؛ رڼا سپین کالي اغوستي ؤ، ټیکری ترې لویدلی ؤ، هغه لږ نوره هم په خود شوه ځان ته یې پام شو، ژر یې پړونی را واخیست، خو پر پړوني یې د قلمي ګوتو سرې نښانې ولیدې، خپلې منګولې ته متوجه شوه ورغوي یې له وینو ډک او سوری ولیده له کونډې مورکۍ یې خپل ټپ، پټ کړ تر څو هغه وارخطا نشي، له هغې سره روانه شوه تر برنډې یې ځان ورساوه.

د دوی له کېناستو سره سم بهر شور شوه، دروازه وټکېده، غږ وشو دروازه خلاصه کړئ، ژر دروازه خلاصه کړئ!. رڼا له ځان سره وویل: لکه، چې تقدیر دې نوره په دې ځمکه پاتې کېدل نه غواړي؟ لکه، چې دانه دې ختمه ده، په لومړی حمله کې خدای وساتلې، خو اوس نه ژغورل کېږې. مور،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوچني ورور او دوه خویندې یې سترګو ته ودرېدې د هغوی د راتلونکي لپاره پښې او لاسونه پسې مړه کېدل؛ شاپور یې فکر ته ورغی، ژر یې ټلیفون را واخیست هغه ته یې زنګ وکړ، ور ته ویې وویل:**

**زما د ژوند وروستۍ شېبې دي، هیله ده زما د کورنۍ خیال وساتې؛ ځکه هغه نور له خدای پرته څوک نه لري.**

- **له تا مخکې دې زه مړ شم، زما ژوند دې هم خدای ستا کړي، ستا د کورنۍ لپاره خو زه یم که ته مړه شې زما لپاره به څو ک وي.**
- **شاپوره! د ټوکو وخت نه دی زه محاصره یم په رغوي او مټ مې مرمۍ خوړلې دي، اوس حمله کوونکي د دروازې تر شا ولاړ دي، وایي دروازه را خلاصه کړئ.**

**شاپور چې د رڼا د زخمي کېدو خبره واورېده اور پرې بل شو په بیړه یې وویل: دروازه خلاصه نه کړئ، ادرس راکړه زه په لسو دقیقو کې در رسېږم. کونډه مورکۍ د دروازې تر شاه ودرېده غږ یې وکړ؛ ظالمانو له مونږ څه غواړئ؟ تاسې نه شرمېږۍ، چې د یوې مېرمنې شاه مو نیولې؟**

**له بهره غږ وشو: مورې! زه د رڼا موټروان یم، ټوپک وال وتښتېدل په موټر سایکل سپاره ؤه، دروازه را خلاصه کړئ، ما موټر د دروازې مخې ته درولی؛ رڼا څنګه ده؟ که ټپي وي، چې ژر یې روغتون ته ورسوو.**

**هغې ځواب ورکړ: لږ شرم وکړئ، په دې دروا‌غو نه شرمېږئ؟ لاړشئ، د کوم نارینه سره وجنګېږئ، د ځان غونډې زورور وګورئ، تاسې د دې تور سرې، نه څه غواړئ؟**

**رڼا حیرانه ناسته ؤه د مرمیو کړسا یې غوږونه کاڼه کړي ؤو، غږ یې سم نه اورېده. شاپور د رڼا موټروان ته زنګ وواهه، له هغه یې د ادرس غوښتنه وکړه هغه ورته ادرس ورکړ، د شاپور موټر په پاخه سړک، نور موټر داسې پرېښودل لکه هغوی، چې په خامه کې روان وي او یوازې ده ته یې پوخ سړک په واک کې ورکړی وي، لکه جیټ الوتکه له هر کتونکي د سترګو په رپ کې پنا کېده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لس دقیقې لا نه وې پوره شوې چې شاپور د رڼا ځای ته ورسېد، له موتر وانه یې پوښتنه وکړه: ته ولې لکه بوت ولاړ یې رڼا ټپي ده او ته بېغمه او بې مسولیته منتظر یې

- د کور خاونده دروازه نه را خلاصوي، وایي: تاسې ټوپک واله یاست، په موږ باور نه کوي او نه موږ قناعت ورکولی شو.

شاپور دروازه په لغته ووهله له هغه خوا یې غږ واورېده، چې دروازه ماته هم شي موږ یې نه در خلاصوو.

شاپور ژر ټلیفون را واخیست، رڼا ته یې زنګ وکړ، ویې وویل:

رڼا جانې! مه وراخطا کیږئ زه د دروازې مخته ولاړ یم، ستا موټروان هم راسره دی؛ دلته هیڅوک نشته بیړه وکړئ دروازه راخلاصه کړئ.

هغې کونډې ښځې ته د دروازې د خلاصولو اشاره وکړه، دروازه خلاصه شوه، شاپور وارخطا کورته دننه شو، تر رڼا یې ځان ورساوه هغې ته یې ښکته او پورته وکتل، بیا یې د هغې د لاس ټپ ته پام شو، د هغې په نازکو سپینو لاسو یې د وینو لیکې ولیدې، په سترګو کې یې اوښکې راغلې، په ژړغوني اواز یې وویل:

شکر، چې بیا ځلې له مرګه خدای بچ کړې، ته به یا مړه کېدې او یا نه، خو په ما دې په ژوندوني مرګ ولید، هیڅ پوه نه شوم چې څه ډول راغلم او په څه ډول تر تا را ورسېدم.

- بس مه خفه کیږه، بلا وه برکت یې نه ؤ.

- سخت دې ورخطاکړم تا، خو هیله له لاسه نه ورکوله او نه دې دومره ځان کمزوری ښوده، د وصیت په ویلو دې ما فکر وکړ، چې نوره دې شاید ژوندۍ ونه ګورم.

- ما هم هیڅ فکر نه کاؤه، چې زه به نوره د ژوند څکه کوم.

شاپور یې خبره ورپرې کړه ویې ویل:

تا دې خدای ج نه وژني، خدای ج دې ډېر ژوند در کړي ستا اجل دې زما شي او زما ژوند دې هم ستا شي.

رڼا ټنډه تروشه کړه خبره پرې ښه ونه لګېده ځواب یې ورکړ:

ستاسې ژوند په خپل ځای مهم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **خو دومره نه لکه ستا.**
- **هغه څنگه؟**
- **ته يوازې د ځان او کورنۍ نه يې د دې ټول بېوزله ولس غړۍ يې، مړې ځوک يو؟ يوازې خوراک کوو، نور مو چاته خير نه رسېږي، ته يې، چې د هر مظلوم لاس نيوى دې کړی، د هر جابر مخه دې نيولې او د هر بې وزله غړ دې پورته کړی.**
- **ته هم مهم يې، خپل ځان، خپلې کورنۍ او خپلې مېرمنې ته.**

**شاپور: افففف**

**رڼا: ولې؟**

**شاپور :د هغې په اړه بيا درسره خبرې کوم، اول دا راته ووايه، چې دلته دې څه کول؟**

- **دغه کونډه ده نارينه اولاد نه لري، ځو ورځې مخکې يې يوه پېغله لور وتښتول شوه او بيا ووژل شوه اوس يې پوښتنې ته راغلم، ما ويل ځه د پوښتنې تر څنگ به ډاډ هم ورکړم، چې ستا د لور قاتل مو په سزا ورساوه، اوس هغه په زندان کې د تورو تمبو ترشا دی؛ خو مخکې له دې، چې تر دې مورکۍ ځان راورسوم، زما مرگ ته تږو ښکاريانو په مرميو کې پټه کړم، خو خدای ج لوی ساتونکی دی هغه د خپل ترحم په سوري کې وساتلم کنه زما بچ پاتې کېدل شوني نه ؤ، بلکې معجزه وه.**

**شاپور وويل: ستا ژوند خو خدای وژغوره خو زموږ نفس دې وکيښ، رڼا د هغه دې خبرې ناراحته کړه، په شاپور کې يې د نارضايت سترگې ونيوې ويې ويل :**

**زه دومره پاملرنې ته اړتيا نه لرم.**

**په دې خبره د شاپور رنگ والوت، له خولې يې ځواب ورک شو خو دا چې دا نيمگړتيا يې احساس نه شي خبره يې په بله واړوله، رڼا ته مخاطب شو ويې ويل: درځئ روغتون ته ځو کنه دلته به د وينې بهېدولو له لاسه مړه شې؛ وروسته به نورې خبرې وکړو.**

**رڼا يې روغتون ته ويوړه، د هغې د چمبې تصوير يې واخيست، د چمبې دوه هډوکي د مرمۍ له وتو سره مات شوي ؤ او مټ کې هم مرمۍ له غوښې وتلې وه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکترانو يې هڅوکي ورته سم کړل بيا يې وروسته ورته پانسمان او ګچ کړل، ښــه پــه ډاډ يې درملنه ترسره شوه کله يې چې حالت نورمال شو تر روغتون رخصت شول؛ رڼا او شاپور په موټر کې کيناستل او د کور په لور يې حرکت وکـړ، دواړو پــه خپــل منځ کې خبرې پيل کړې

شاپور وويل: نن رخصت يې کور ته دې زه رسوم، سبا دې هم که حالت ښه نه ؤ مه راځه. :

- ته خو مې رئيس نه يې، چې ماته رخصت راکوې، زه په خپله بايد پرېکړه وکړم.

شاپور يې په خبره وخندل بيا يې وويل: ښه! وبښه زما پام نه ؤ رئيسې صيب! پرېکــړه بايد ته وکړې نو اوس موږ رئيسې صيب ته په تمه يو، چې څه پرېکــړه کــوي، مــوږ پرې نيوکه نه کوو.

- زه دفتر ته ځم؛ نن مې له ولايتونو خپل ټول ژورنالسـتان راغوښـتي دي، غوښتل مې، چې جلسه ورسره ونيسم خو قسمت بل څه را مخې ته کړل پر وجود مې د ټپونو جوړيدل ليکل شوې ؤو، په ځان دومره نــه يــم خفــه، چې ټپي شوې يم په خپلو خبريـالانو مــې خــوا بــده ده، خوارکيــان بــه ځومره په عذاب شوي وي، خير له وخت وروسته به جلسه ونيسو.

شاپور د دفتر په لور د موټر مخ واړاوه لږ شيبه وروسته دوی دواړه دفتر ته ورسېدل. د رڼا موټروان، چې د مليحې د تره زوی ؤ د دوی له رسېدو نه وروسته ځان ګوښــه کړ ټليفون يې راواخيست، مليحې ته يې زنګ وکړ هغې ته يې وويل:

مليحې! سلامونه.

- : وعليکم سلام، څه حال دی؟
- هيڅ حالت ښه نه دی.
- ولې؟
- ګوره مليحې! زه ستا احسان نه هېروم، زه دې دلته د مېړه پــه دفــتر کــې مقرر کړم، ماته هيڅ چا دنده نه راکوله؛ ســتا لــه برکتــه اوس دلتــه معــاش اخلم.
- اصلي کيسې ته راشه!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خاوند دې سم کارونه نه کوي.
- ولې؟
- رڼا مرستیاله یې اوس د دفتر رئیسه کړه؛ خاوند دې هغې ته ځان غـواړي نږدې کړي، زه نه پوهېږم چې څه موخه لري.
- ملیحه یې په دې خبره د مچۍ چیچلي انسان په څېر وسوځېده، ټلیفـون یې پرې کړ.

سم دستي یې رڼا ته زنګ وواهه، هغې ته یې وویل:
دا چې ته یوه وحشي مېرمن یې او د خلکو په مرګ هم نه یې تړلې دا خـومې درک کړې وه، خو دامې نه وه درک کړې چې  په خپل مکر او فریب به زما له خاونـد نـه هر څه واخلې.
رڼا ددې خبرې په اورېدو حیرانه شوه ویې ویل: تاسې د ټلیفون شمېره غلطه کړې، شمېره مو دوباره وګورئ.
- ما شمیره نه ده غلطه کړې، زه د شاپور کوژدن یم، هغـه پیغلـه چـې څـه وخت وړاندې دفتر ته درغلې وم او ستاسې د وحشيـ کړنـې لـه املـه تـر روغتونه ورسېدم.

رڼا یې په خبره وخندل، بیا یې ورته وویل:
ته ماسره څه ستونزه لرې؟ نجلۍ! تېر ځل دې هم زما په شخصیت نا حقه  تېرى وکړ او دا ځل هم غواړې د خپل شیطاني فکر پنځونې دې په ما ومنې، اخیر څـه خـبره ده؟
- دا پوښتنه باید زه له تا وکړم، ته په کوم حق زمـا خاونـد تـه ځـان نـږدې کوې، غواړې یوه کوژده شوي سړي سره اړیکې جوړې کـړې؟ فکـر یـې بدل کړې او د خپل ځان لور ته یې پام در واړوې،لږ شرم ولره؟

رڼا یو خوا د تېږو درد په تکلیف کړې وه او بل یې د ملیحې سترې کوونکو خبرو نوره هم نارامه کړه  ویې ویل: بخت دې دلته بیدار ده، چې نږدې راسره نه یې، کنه تېر ځل بد وضعیت به دې له یاده وتلی ؤ، زه ستا غوندې ناولیو فکرونو ته په ذهن کـې هم ځای نه ورکوم، تر اوسه له ماسره دې ځان لپاره دا خیال هم نه دی پیداشوی، چې زه دې د یو چا په اړه فکر وکړم تر څو زما د ژوند ملګری شي دا خو لرې خـبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، چې يو کوژده شوی کس خپل کـړم، لـه تـا سره شـيطاني وسوسـې دي، زه د داسې خبرو لپاره وخت نه لرم.
مليحه يې په خبرو لا زياته غصه شوه هغې ته يې وويل:
ښه نو داسې ده، ته دا راته ويلی شې، چې ستا په کوم لياقت زما خاوند تاته د دفتر واکونه درکړل؟ ته پرون راغلې او نن د کومې وړتيا له مخې رئيسه شوې؟
رڼا : ګوره خورې! زه ستا دې بې هوده خبرو ته وخت نه لرم، ته د خپلې ستونزې له خپل خاوند سره شريکې کړه، له هغه سره وغږېږه، له هغه نه وپوښته؛ مـا پـه دې مسلو کې مه دخيل کوئ.
له دې خبرې وروسته رڼا اړيکه پرې کړه
شاپور هم د رڼا دفتر ته د هغې د حالت پوښتنې لپاره راننه وت .
سلام يې واچاؤ؛ خو رڼا ځواب ورنه کړ.
شاپور ورته وويل: رڼا خير خو دی سلام مې واچاؤ خو ځواب نشته ؟
رڼا : حالت مې ښه ندی
شاپور: ولې؟
رڼا : ستا دغه مېرمن، چې وي زما حالت به تر ليونتوبه ورسيږي.
شاپور : ولې، څه شوي؟
رڼا : اوس يې ټليفون کړی ؤ.
شاپور: څه يې ويل؟
رڼا: مزخرفات
شاپور: سم ووايه، چې زه پوه شم.
رڼا: تاته مې زړه بد شو.
شاپور: ولې؟
رڼا : ته به راتلونکی ژوند ددې شکي، بدبينې او تاريـک فکـره مېرمنـې سره څنګـه تېروې؟
شاپور: نن يې لکه، چې بيا خپه کړې يې؟
رڼا: ستا د مېرمنې خبرې زما نفس راتنګوي، ساه مې قيد کوي د خدای ج لپـاره لـږ نصيحت ورته کړه! نوره دې ماسره غرض نه وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور: رڼا لطفا هغه څه ووایه، چې زما کوژدن درته ویلي؛ زه نه پوهېږم، چې څه شوي؟**

**رڼا: بس پرېږده يې، ته ماته ووایه، چې ته له خپلې مېرمنې سره څه ستونزه لرې؟ ولې مو په خپل منځ کې باور نشته؟ هغه د کونډې مېرمنې په کور کې، چې زه ټپيي وم ما درته د هغې نوم یاد کړ او تا زما سوال په افففف ځواب کړ. مېرمن دې هم تل شکایت کوي، ایا زه پوهیدی شم، چې تر منځ مو څه خبره ده؟**

**شاپور: رڼا جانې! زه ښځه غواړم، چې داسې خبرې درته کوم خو ماته ورځ تر بلې ثابتیږي، چې زما مېرمن له ما سره اړیکه د معنوي ارزښتونو لپاره نده ټینګه کړې یوازې غواړي زما په مال او دولت کې شریکه شي. هغه غواړي بډایه شي، غواړي زما غوښې وشکوي او خپلو خپلوانو ته يې ورکړي، هغه مادیات پرسته ده او د هغې دغه نیت ماته ورځ تر بلې څرګندیږي، زه دې پریکړې ته رسیدلی یم، چې ما او هغه خوشبخته ژوند نه شو تېرولی.**

**رڼا خوله خبرو ته جوړه کړه چې څه ووایې خو اداري مدیر په راننه وتو سره يې پام هغه ته شو ځکه پوهیده چې مدیر پرته له کوم مهم کاره نه راننه وځي هغه وویل:**

**جلسه تیاره ده ریسه صیب، ټول تاسې ته په انتظار دي او د ژورنالستانو کورنه هم لرې لرې دي؛ باید جلسه وختي خلاص شي.**

**رڼا له ځایه پاځیده شاپور ته يې وویل: په دې اړه وروسته خبرې کوو. هغه د جلسې خونې ته روانه شوه.**

**شاپور : زه هم غواړم جلسه کې اشتراک وکړم، که ستاسې اجازه وي.**

**رڼا يې په خبره وخندل ویې ویل: ولې نه.**

**دواړه جلسې ته ننه وتل رڼا ګچ شوی لاس په خپل پړوني کې راپټ کړ پر خپله څوکی کیناسته او مجلس پیل شوه.**

**د تلاوت نه وروسته رڼا په خبرو پیل وکړ :**

**درونو ژورنالستانو! په خیر راغلئ.**

**زه رڼا نومیږم؛ ستاسې نوې رئیسه یم له دې خبرې وروسته يې بیا د شاپور لورته وکتل مسکا يې وکړه ویې ویل:**

**زموږ هغه مشر تقاعد شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور هم د هو په دود سر وخوځاوٌ، رڼا وخندل خپلو خبرو ته يې دوام ورکړ:**
**زه يوه خبرياله يم، هسې په زور په دې څوکۍ کينول شوې يم؛ خو د شاپور نه مې په دې ژمنه دا دنده قبوله کړې، چې زه به د دې مسـؤليت سره سره خبريـالي هـم کوم.**
**تاسې ژورنالستان عادي خلك نه ياست، په هېواد کې تـر ټولـو پـر مسـوليته دنـده ستاسې ده؛ تاسې ياست، چې په هېواد کې د بلاستونزو مخه ډب کوی شی، تاسې ياست، چې د بلا غافلو کاڼه غوړونه د اوريدو جوګه کولی شئ ،تاسې ياست چـې د هر ظالم که هغه دې سلو پردو تر شاه هم وي څرك لګوی شئ، دهغو بې وزلـو او محکومو خلکو خپه کړل شوی اواز تر ريښتونو استازو اومسؤلينو رسولی شئ، چې له تاسې پرته بل څوك نه لري.**
**هر زورواك ستاسې په وړاندې کمزوری دی، هر هېواد پلورونکی، مفسيد، غل او چپاول ګر ستاسې په وړاندې دې ټينګې نه دی.**
**هر پټ او ښکاره ظالم ستاسې په واك کې دکيمرې په سترګه مـالومولی، ارزيـابې کولی او تر زندانه رسولی شئ.**
**برعکس ستاسې کم غفلت هم د بلا ستونزو سره دا خاوره مخ کولی شي، هېواد د بې شميره بدبختيو ښکار کولی شي. ستاسې لږ بې غوري، د ولس د کتلوي وژنې لامل کيدای شي، ستاسې له مسؤليتونو تيښته د هر ظالم د ظلم چاړه تېـره کـولی شي، د هغه وحشيانه هوډ پياوړی کولی شي، د هر بغاوت، تېري او افت دروازه خلاصـولی شي، چې پړه او ځواب ويينه يې هم ستاسې په غاړه کيږي.**
**نو زه غواړم، چې د ژوناليزم د بنسټونو برابر تاسې خپلو دندو ته متوجه کـړم، خپـل حلال معاشونه مو په ناغيږي ځان ته مه حراموئ، خپل مسلك ته مو ډيره پـه درنـه سترګه وګورئ، درناوی يې وکړئ؛ ستاسې په لاسونو کې د نړۍ څلورمه قوه ده، له دې ځواکه د خپل هېواد د ستونزو د سمون لپاره ګټه واخلئ، د هېـواد د ابـادۍ لپاره ورنه کارواخلئ، د فساد مخنيوی پرې وکړئ، د ظلم مخه پرې ډب کـړئ، لـه قانونه سرغړونکي پرې رسوا کړئ، جنده يې کړئ؛ ترڅو نور پند ترې واخلي او پـه هېواد کې د شته ګډوډي مخه ونيوول شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله هم ځان اصلاح کړئ، د خبريال ښيګڼه د ټول هېواد ښيګڼه ده او دې خبريال فساد د ټول هېواد فساد دی، د ژورنالست رېښتينولي د ټول هېواد رېښتينولي ته لاره هواروي.

زه په خپلې تېرې ادارې نيوکه نه کوم څه، چې تېر شوي هغه هغوی پورې اړه لري؛ خو اوس اداره زما مسؤليت دی زما د مشرتابه لوی منشور شفافيت، رېښتينې خبريالي، د خپل مسلک درناوی او مسلک ته ژمنتيا ده بس.

رڼا نورې هم خپلې خبرې وغځولې ويې ويل:

زما لويه غوښتنه داده، چې خبريالي ته ژمن پاتې شئ هغه څه، چې ويجدان مو نارامه کوي، هغه مه کوئ، تل د حقيقت پلوي وکړئ سره له دې، چې پوهيږې په زيان مو تماميږي او ګواښ سره مو مخ کوي بيا هم حق پلوي کوی.

زموږ ژوند د انسانانو په لاس کې نه دی، زموږ ژوند د هغه چا په لاس کې دی، چې موږ يې پيدا کړي يو او زموږ په وجود کې ساه ښکته پورته کوي.

زه څو ځله د مرګ له ګواښ سره مخ شوم؛ خو په خدای ج مې باور دی، چې هغه به مې ساتي، هماغسې هغه ج وساتلم، ډېر ځله مې مرګ په خپلو سترګو وليده؛ خو خدای ج وژغورلم، ترڅو مو، چې په دې نړۍ کې دانه نه وي ختمه شوې، څوک مو نشي وژلی او که مو په تقدير کې پر ژوند سره کرښه راوښکل شي بيا د دنيا هيڅ ځواک مو نشي ژغورلی.

زموږ هېواد په سختو حالاتو کې دی، هر څه له سره بايد پيل شي؛ فساد خپل لوړ پوړ ته ځان رسولی، د ورکاوي تر ټولو اغيزمنه لاره يې زموږ مسلک ته په رښتينولي او ژمنتيا سره کار کول دي.

ژورنالستان د رڼا په خبرو لکه نوې ساه، چې واخلي را ژوندي شول، د هڅونې احساس يې وکړ؛ په خپل مسلک باوري شول او خپلو تېرو غفلتونو ته يې پاملرنه واوښته.

هر ژورنالست به په خپل نوبت ژمنه کوله، چې موږ به د ټولنې په سمون او پرمختګ کې له هر چا اغيزمن واقع کيږو، زموږ نيکي هم سل ځله لويږي او زموږ بدې او ناسم کردار هم په ټولنه سل چنده زيات ناسم اغيز پرې باسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور هم د رڼا خبرې په غور اوریدې او د هغې د خبرو سره یې من من غوښې اخیستې، د هغې احساس، اند، کړنې او سپېڅلتیا یې د بې ساري انسان په توګه زړه ته کوزیده.**

**ناسته خلاصه شوه؛ ژورنالستانو خدای پاماني واخیسته.**

**ورستي دوه کسان رڼا او شاپور پاتې شول؛ رڼا شاپور ته مخ ورواړاؤ ورته ویې ویل:**

**ځو؟**

**رڼا :هو ځو؛**

**شاپور خو له تګ مخکې غواړم یو څو خبرې درسره وکړم.**

**رڼا : زه خبرو ته وخت نه لرم کور ته ځم، په ما ناوخته شوی یوازې یوه هیله لرم، چې مېرمنې ته مو زنګ ووهی یا ورسره ووینئ، چې نوره ماته زنګ ونه وهي. د میړه او مېرمنې په ګډ ژوند او مسلو کې زه څه کار لرم؟ او نه دې ما په دې خبروکې شریکوي؛ تاسې هغې ته قناعت ورکړئ، چې زه ستاسې دوو په منځ کې نه یم.**

**شاپور: زه هغې ته قناعت ورکوم بیا به زنګ نه وهي؛ خو تاسې زموږ په مسله کې ځان مه ګوښه کوئ زه تاسې ته اړتیا لرم.**

**رڼا: د څه شي اړتیا؟**

**د شاپور ژبه توتلی شوه ویې ویل:**

**هغه زما سره مینه نه کوي، زما له پیسو سره مینه کوي، که نن هم زه مفلس شم نو اریکه به راسره پرې کړي.**

**رڼا: واه نارینه ؤ څومره پلمې مو زده دي، په تورونو لګولو کې څومره چابک او چالاک یاست اول جینکو ته زاری کوئ، د هغوی د لاسته راوړول لپاره بدې ورځې کوئ او ګریوانونه شکوئ؛ بیا یې، چې په لاس راوړی، د ځان اړخ ته یې جذب کړئ، ویې کاروئ نو کولی شئ، په یوه عادي تېروتنه یې له ژونده لرې کړئ او یا هم کله، چې له هغې بله ښکلې پیدا کړئ نو له ځانه یې د لرې کولو بهانې لټوئ. شاپور جانه! ستا مېرمن یوه تور سرې ده خپل نوم یې ستا په نوم کړی، خپله زندګي یې ستا په نوم کړی او هغه یوه عادي مېرمن هم نه ده د حقوقو محصله ده، سږ کال به له خیره حقوق دانه شي او ته یې پر شخصیت تور لګوې، چې تاسره مینه نه کوې؟ دا خبره له کومه شوه ، له اوله به دې د ژوند پیل نه ورسره کاؤ هغه ستا په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځانته کولو کې دومره حریصه ده، چې ستا د لاسه ورکولو د ویرې له کبله ستا په سر زما سره شخړه کوي، ځان يې مرګ ته وکړ، نږدې زما له لاسه مړه شوې وایې او تـه یې، چې په اړیکه یې نیوکه کوې.**

**نارینه هم جالب وي.**

**له دې خبرې خلاصیدو سره رڼا دسکول اوږې ته واچاؤ روانـه شـوه، چـې وره تـه رسېده شاپور غږ پرې وکړ، رڼا ته یې وویل:**

**زه یې د خیانت ثبوت لرم هغه درګرده لګیا ده زما پـه وړانـدې دې دوښـمن چلنـد کوي.**

**رڼا قدم نیولې شوه، شاپورته یې په شا راوکتل ورته ویې ویل:**

**شاپوره! د مېرمنې راز ساتل ستا فرض دي، ته د هغې په هکله تېری کـوې، چـې د هغې د راز خبرې ماته کوې.**

**او زه تیاره نه یم، چې دا ډول خبرې دې واورم، زه د یوې خواخـوږې پـه صـفت درته وایم، چې خپله ستونزه مو له خپلې مېرمنې سره حل کړئ؛ ما مه پکې دخیـل کوئ او وروستی خبره مې واوره: ستا مېرمن دې ماته ټلیفون نه کوي، مـا دې بـې ځایه نه خفه کوي که داځل یې هم ټلیفون وکړ او بې ځایه خبرې یې وکـړې، تېـر ځل خو خدای ج خیر کړ زما په ګذار له مرګه بچ شوه؛ ډاریږم، چـې دا ځـل یـې خون رانه ونه شي؛ ځکه چې زه د دا ډول خبرو زغم نه لرم، هغه د هوښیارانو خبره له (وژلي وروره پریښی ګومل ښه ده.) مجبوره یم دنده پرېږدم.**

**د رڼا په دې خبره د شاپور په زړه کې څړیکې شوې، سترګې یې ډنډ شـوې، رنـګ یې والوت، د ځمکې لور ته یې زور شوه نیږدې ؤ په ځمکه ولـویږي رڼـا یـې هـم ددې حالت نندارہ کوله ، تر دې د مخه یـې دا ډول بدلونونـه پـه هغـه کـې نـه ؤ لیدلي، ژر یې دسکول کیښود شاپور ته مخامخ کیناسـته پـه لاسـو یـې دواړه اوږې ورته تکیه کړې غږ یې پرې وکړ شاپوره! ته ښه یې، ټنډه او مخ دې ټول خولې دي، څه درباندې وشو؟**

**موټر وان ته به ټلیفون وکـړم، چـې راشي او روغتـون تـه دې یـوسي، شـاپور پـه زګیروي ډوله غږ خبرې پیل کړې:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ښه یم، زه ښه یم یوازې یو ګیلاس اوبه راکړه. هغې په منډه خوا کې جګ نه پـه ګیلاس کې اوبه واچولې، شاپور ته یې ونیوې، هغه اوبه وڅښلې، دې رڼا اوبه هغه ته لکه ابې حیات نوې ساه ورکړه لږ وروسته یې رنګ ورو، ورو خپل ځای ته په راتلو شو.

رڼا : شاپوره! ولې داسې شوې؟ کومه ناروغی خو نه لرې؟

شاپور: ته له ماسره مرسته کوې؟

رڼا : هو ولې نه، تا مې د مور په ناروغی کې له ماسره څومره مرسته وکړه، هغـه زمـا کله هېریږي؛ که زما وینې ته دې هم اړتیا پیداشي زه چمتو یم خپله وینه درکړم.

شاپور : وینه دې خدای ستا په بدن پیرزو کړي، زه یوازې دومره وایم، چـې یـوه خبره مې ومنه.

رڼا :کومه خبره؟

شاپور: مه ځه.

رڼا : ته لیونی شوی یې؟

شپه را روانه ده، دلته دفتر کې شپه وکړم؟

شاپور : نه داسې نه وایم، اوس خو لاړه شه؛ خو زموږ له دفتره مه ځـه!. تـه زمـوږ د دفتر لویه هیله یې، ستا په وجود کې زموږ ټولې هیلې پوره کیږي.

رڼا: مطلب؟

شاپور: دلته تاته عام تام صلاحیت درکول کیږي، که له دې صـلاحیته ګټـه واخـلې هغه څه به تر سره کړئ، چې په زړه کې مو تېریږي.

رڼا: شاپوره! واضح خبرې وکړه، چې زه پوه شم ته څه وایې؟

شاپور : رڼا جانې! تاسې غواړئ، چې د خبریالي سـپیڅلې دنـده دې لا سـپیڅلې شي؛ نو همدلته یې عملي کړئ، همدلته ژورنالستان په همدې روحیه ورزوئ دلتـه داسې یو مرکز جوړ کړئ، چې ربښتوني ژورنالست یا خبریال خلکـو تـه ورو پیـژني، تاسې همدا غواړئ، چې خبریال که ریښتونی وي په ټولنـه کـې انقـلاب راوسـتلی شي، مثبت بدلون راوستلی شي، له همدې مرکزه یې خلکو ته ثابته کړئ، چې دلته ټول ځواک تاسې سره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې هيله ده، چې خبريال بايد ازاد او خپلواک واوسي؛ د چا د اغيزې لاندې دې نه وي؛ همدلته دغه ازادي ورکړئ، خپلې ارادې ته يې پرېږدئ.

زه په بشپړه مانا تاسې احساسوم، چې د خپلو هم مسلکانو لپاره همدا هيلې لرې او همدا کړنې ورته غواړې.

رڼا: غواړم يې همدا مې د ژوند هيله ده، چې خبريال ته د زړه له تله د کار کولو زمينه برابره کړو، خبريال ته موقع ورکړو، چې د ولس غږ انعکاس کړي، ستونزې يې تر مسؤلينو ورسوي، د بې عدالتي او نا انډولي په وړاندې غږ اوچت کړي.

شاپور: نو همدلته يې پوره کړه، همدلته خدمت وکړه، دلته هيڅوک ستا مخه نه نيسي، له همدې مساعيدې زمينې ګټه واخله.

رڼا: نو دا هرڅه ته زما لپاره ولې کوې؟

شاپور وخندل ويې ويل: ولې زه يو ژورنالست نه يم؟ زما نه خوښيږي، چې ژورنالست دې خدمت وکړي؟ زما نه خوښيږي، چې ژورنالست دې ابرومندانه خپله دنده تر سر کړي؟ خپل ځان دې په ټولنه کې ثابت کړي؟ دا چې خپل ځای مې تاته پريښود نو لامل يې دادی، چې په دې کار کې ته له ما ډېره پياوړې ياست؛ خو هيلې د دواړو مشترکې دي.

رڼا : خدای ج دې وکړي، چې ته څه وايې هغه هماغسې ثابت شي.

تياره ماښام شو؛ خو د دوی خبرې خلاصې نه شوې؛ رڼا وويل: زه نوره ځم، مور جانه! به مې په تشويش کې وي. شاپور هم ورسره راووت، رڼا ته يې وويل:

موټروان ته مه وايه، چې موټر راوباسي.

رڼا: ولې؟

شاپور: زه دې رسوم.

رڼا هم نه ونه ويل؛ ځکه بېړه يې وه، چې ژر کور ته لاړه شي. د کروزين شا سيټ ته وخته. شاپور هم د خپل ګنګسيت د ورکولو لپاره دست شوی ته لاړ مخ ته يې اوبه واچولې؛ تر څو يې ګنګسيت ورک شي او موټر سم چلوي وروسته خپل موټر ته راغی دروازه يې خلاصه کړه، له ختو سره يې خپل سر له پاس چت سره وواهه، رڼا هم ژوره په سوچونو کې ډوبه وه، د موټر له چت سره دې شاپور د سر درز دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواکمن ؤ، چې رڼا يې هم وډاره کړه. په خپله څوکۍ کې پورته والوته؛ د شاپور لور ته يې وکتل په زوره يې اخخخخ وويل.**
**د شاپور سر خو هسې هم ګنګس ؤ نور هم ګنګس شو؛ د موټر په سټرينګ يې سر کينبود. رڼا يې د حالت په ليدو وارخطا شوه ژر له خپله سيټه بنکته شوه مخکني دوهم سيټ ته پورته شوه. شاپور يې له مټ نه ونيو له سټرينګه يې د هغه سر را پورته کړ په خپل سيټ کې يې شاته د هغه تنه زور کړه سيټ ته تکيه شو، غږ يې پرې وکړ شاپوره! څه درباندې وشو؟ خو شاپور غږ نه کاوه. ژر يې په خوا کې د معدني اوبو بوتل ته پام شو، له هغه يې په رغوي کې اوبه راواخيستې، شاپور ته يې مخته ور وشيندلې، د هغه د بيداريدو لپاره يې په مخ ورو، ورو وواهه بيا يې غږ پر وکړ: شاپوره! څنګه يې؟ سرې احتياط کوي؛ سر دې خوږ شو؟ هغه په توتله ژبه ځواب ورکړ: بنه يم هسې لږ ګنګس شوم.**
**رڼا : دا نن ولې له تاسره داسې کيږي؟ زه درته انديبنمنه شوم.**
**شاپور : انديبنه مه کوئ زه بنه يم، څه شيبه نور هم شاپور په خپل سيټ کې ناست ؤ، چې لږ يې حالت بنه شوه موټر کې يې کيلي تاو کړه حرکت يې پيل کړ. د رڼا موټروان دوی دواړه وليدل، چې په يوه موټر کې سره کيناستل او مابنام تياره له دفتره ووتل. خپلې تره لور مليحې ته يې رنګ وکړ ورته ويې ويل:**
**خاوند خو دې په رڼا سخت ګرم ورغلی.**
**مليحه : بيا څه شوي؟ ژر يې ووايه حميده!.**
**حميد : زه تر اوسه رڼا ته په تمه وم، چې کورته يې ورسووم؛ خو پرته له دې، چې ما په جريان کې واچوي، ميړه دې رڼا په خپل موټر کې کينوله اوس يې په دې تياره شپه کې کورته رسوي؛ خدای خبر کورته يې وړي او که بل چيرې.**
**مليحې له غوصې ټليفون پرې کړ ،ويې غوښتل چې د رڼا او شاپور په موضوع ځان پوه کړي؛ نو ټليفون يې راواخيست.**
**له لږ مزل ورسته د شاپور ټليفون وشرنګيده؛ ويې کتل، چې د مليحې زنګ دی. شاپور رڼا ته وکتل هڅه يې وکړه له رڼا نه د هغې ټليفون پټ کړي؛ خو رڼا هڅه کوله، چې د ټليفون کونکي په اړه پوه شي؛ ځکه يې شاپور په پټيدو ونه توانيد، اړ شو د اوکې بټن ووهي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ملیحه : شاپوره چیرې یې؟**
**شاپور:کور کې یم، ولې څه خبره ده؟**
**رښا هم ددې خبرې په اوریدو ځیره شوه، چې شاپور چاته دروغ وایې، او ولې یې وایي؟**
**ملیحه: دروغ مه وایه سمه خبره وکړه.**
**شاپور: زه څه اړتیا لرم، چې دروغ ووایم.**
**ملیحه: خو زه ډاډه یم، چې ته دروغ وایې.**
**شاپور: ښه نو ته ووایه، چې زه چیرې یم.**
**ملیحه: ته د هغه نوې نازولې په څنګ کې یې، چې اوس دې پیدا کړې او د دوکې په لومه کې یې راګیر کړی یې.**
**شاپور: ته څوک یادوې؟**
**ملیحه: ځان ناګاره مه اچوه ښه پوهیږې، چې د دفتر رئیسه رښا یادوم، د چا له کبله دې، چې له ماسره هم په چلند کې بدلون راغلی؛ څوک، چې غواړي د ځان پلورنې له برکته دې ټوله دارایي لاس ته راوړي.**
**شاپور یې په خبره سور سپین واووښت ملیحې ته یې وویل:**
**چپ، چې یوه کلیمه هم نوره د رښا په باره کې ونه وایې؛ کله هم، چې د رښا نوم یادوې نو لومړی دې خوله وینځه او بیا دهغې نوم اخله هرې مېرمنې ته د ځان په څیر فکر مه کوه رښا یو له هغو ده، چې په لمن یې لمونځ کیږي؛ د هغې په باره کې نامناسب یو حرف هم ونه وایې او نه یې زه اوریدی شم هیڅ کله اجازه نه درکوم، چې په خپله ناپاکه خوله دې د رښا په اړه څه ووایې.**
**ملیحه: ولې یې ونه وایم؟ ریښتیا مې وویل؛ زور یې درکړ، حقیقت تریخ وي کنه.**
**شاپور: ته د ځان فکر په هر چا کوې، هر څوک ستا غوندې بې ویجدانه نه دي؛ ته وې، چې لس زره ډالر دې رانه غلا کړل، زما له بانکي کارډه دې وباسل؛ خو ما په دې خاطر غږ ونه کړ، چې فکر مې کاؤ شاید اړتیا ورته ولرې او ماته یې مخامخ د ویلو جرئت نه لرې. ټوله کورنۍ دې زما په شرکت کې پر کار وګمارله، د هر یوه خیانت دې په سترګو لیده؛ خو نه یوازې دا چې مخه دې نه نیوله، بلکې نور دې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هم تشويقول، په بدل د دې چې د يوې اصيلې مېرمنې په څېر زما د مال ساتنه وکړې، هغه د لکه دې ليلام توکي، په نورو ډېر ارزانه وپلورل.**
**زه به هغه ريکارډ درته وښيم، چې پکې ويلي دې دي (ما له شاپور سره د هغه د دولت لپاره کوژدن کړې، کنه له قوارې نه مې يې کرکه راځي.)**
**ته څومره حريصه يې؟ له يوې پاکې اړيکې څخه، چې هغه د مېړه او مېرمنې اړيکه ده څومره ناوړه ګټه پورته کوې؟**
**مليحه: وا، وا دا نن؛ خو نوې سندرې غږوې دا هم لکه، چې د رڼا عزت پلورونکې له مايکه کوې؟ شاپوره! ته اوس له ما ځان نشې خلاصولی او نه زه عادي کليواله مېرمن يم، چې په يوه او بله بهانه به مې تېر باسې؛ زه يوه حقوق دانه يم، زما نه چې ځان خلاصوې، د سر وينې به دې ښو ته بوځم او د ښو وينې به دې سرته ورسوم.**
**شاپور: نو ته څه تصميم لرې، څه ويل غواړې؟**
**مليحه: ژر تر ژره مې واده ته ځان چمتو کړه، کنه محکمه کې به دې ودروم، حيثيت به دې په دوه روپۍ کړم.**
**شاپور: واه مېرمنې خپله پټه ناوړه څېره دې نوره هم په دې خبرو کې څرګنده کړه، تا د پيسو لپاره اړيکه جوړه کړې وه او زه به يې په پيسو درته دغه اړيکه داسې ټوټه، ټوټه کړم، چې زرې به يې په زره بين هم پيدا نشې کړای. ستا د ناولې نيت خوبونه نور نه شي اوږديدلای او په ريښتيا بدليدل خو يې خيال او جنون دی.**
**مليحه: زه کومه کليواله جينۍ نه يم، چې په څو پټکو مې وډاره کړې، داسې لاره به درنه ورکه کړم، چې تا يې فکر هم نه وي کړی، زه به په محکمه کې درته زده کړم، چې له سيره څو پخيږي.**
**شاپور: زه هم پوهېږم، چې زما او ستا ستونزه له محکمې پرته بل څوک نشي- حل کولی.**
**شاپور: نور ټليفون پرې کړ، په رڼا کې يې سترګې ونيوې، ورته وېې ويل: تا ټينګار کاؤ، چې له خپلې کوژدن سره دې ستونزې هوارې کړه، ايا زما او د هغې ستونزې د حل وړ دي؟ ايا له تاسره يې د حل کومه لاره شته!؟**
**رڼا يې خبرو ته ځيره شوه په شاپور کې يې سترګې ونيوې هغه ته يې وويل:**
**ايا ما، چې څه واوريدل هغه ريښتيا دي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور: هو ریښتیا دي، دا هغه ریښتیا دي چې زه ورسره له تېرو دوو کالونو مخامخ یم. ملیحې رانه په لکونو روپۍ په یوه او بله بهانه اخیستې، هغه یې د خپل ځان او کورنۍ په ښه کړې، تر دې، چې غلا یې هم ځو ځلې رانه وکړه، زه نه پوهیدم، چې زما کوژدن دې دومره بده شي، چې زما په مال کې دې خیانت وکړي؟ بلاخره د بانکي کارت له مسجه پوه شوم، چې هغه زما له بانکي اکونټه پیسې باسي.**

**رڼا: هغه د دومره زده کړو سره سره څرنګه داسې کولی شي؟ واده خو کومه لوبه نه ده، او نه کومه دنانځکو بازي ده.**

**هغه ولې داسې کوي؟**

**شاپور: زه هم نه پوهېږم، ځینې خلک ظاهرا ښکلي وي؛ خو باطن یې له خځلو ډک وي، ما ډېر کم خلک لیدلي، چې ستا په څېر یې ظاهر له باطن سره یوشان وي.**

**رڼا: ښه زما توصیف پریږده، زه دې په دې حالت ډیره خپه شوم؛ له زړه پرې خفه شوم؛ ځکه، چې ځوک چاته د نکاه د سپیڅلې اړیکې لاس ور اوږدوي، نو باید د ریښتینولي پر بنسټ وي، نه د نورو غوښتنو؛ خو یو شی څرګند دی هغه دا، چې کوږ بار تر منزله نه رسیږي، دا یو ثابت شوی ریښتینتوب دی.**

**شاپور لوی اسویلی وکیښ بیا یې رڼا ته وکتل هغې ته یې وویل:**

**زه په یوه ډیر بد حالت کې یم، ډېر یوازې شوی یم، هیله کوم زما لاس ونیسه.**

**رڼا یې د خبرې په اوریدو تنده تروه کړه، قهرجنې سترګې یې په شاپور کې ونیوې؛ په تونده لهجه یې وویل:**

**مطلب؟**

**شاپور یې دې رویې وارخطا کړ خبره یې بدله کړه، هغې ته یې وویل:**

**دغه کړکیچ درته یادوم ، چې زما او د ملیحې ترمنځ ده ته؛ خو تل د حق پلوي کوې کنه؟**

**رڼا: هو دا خو زما د ژوند یو اصل دی.**

**شاپور: نو ماته دا ستونزه حل کړه ملتیا مې وکړه.**

**رڼا: زه ژمنه کوم، تاته د انصاف در کولو لپاره زه درسره یم له دې بې انصافي دې خلاصوم او نه پریږدم، چې له تاسره ځوک داسې ناروا وکړي. ملیحه مېرمن داسې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوه څوک ده، چې زه شرمیږم هغې ته مېرمن وایم، داسې مېرمنې د ټولو مېرمنو رنګه بدوی؛ کنه مینه او سربښندنه باید له مېرمنو زده شي، اړیکو ته درناوی باید له مېرمنو یاد کړل شي، هره مېرمن ملیحه نه وي او نه د ملیحې په څیر ناوړه فکر ته هره مېرمن په ذهن کې ځای ورکوي.**
**خو یو شرط به وي.**
**شاپور: کوم شرط؟**

**رڼا: زه غواړم ځان پوره ډاډه کړم، تر څو بیا خپل ضمیر ته ملامته نه یم، اسناد به راکوې تر څو ډاډه شم، چې مور په غلطه نه یو او هغه ثبوت به په ما اوروې، چې تاسې د ملیحې په اړه ثبت کړی.**
**شاپور د هو په دود سر وخوځاؤ بیا یې وویل: تر څو دې چې په دې اړه باوري نه کړم هیڅ اقدام مه کوه، د هغې غږ زه د فسبوک له لارې درلیږم نور اسناد هم درته ښیم، په خپلو سترګو به یې وګورې.**
**له څه مزل وروسته د رڼا کور راورسیده، هغه له موټره ښکته شوه، کورته له ننوتو سره سم یې د ناوخته راتلو په اړه د مورغالمغال وزغامه او خپلې کوټې ته لاړه؛ ځکه چې ډېره ستړې شوې وه.**
**سبا سهار د معمول مطابق رڼا دفتر ته لاړه، د ورځې د پلان شویو کارو د پلي کولو لپاره یې د کمپیوټر پر سکرین نقشه جوړوله، چې ټلیفون یې وشرنګیده؛ له ننګرهاره یې د خپل تلویزون استازی ؤ؛ رڼا د ټلیفون د شنې بټن په وهلو سره دې ګیلو پیل ته غوږ شوه، خبریال وویل: اغلې رڼا مېرمنې!**
**زه نور له دندې ستړی شوی یم دلته دګواښونو سره مخ یم ،وړه خیل خانه راله غاړې ده، ماته د مرګ ګواښونه کیږي، د والي صیب! یو د فساد رییفورت مې جوړ کړ بیا زمونږ په تلویزون خپور شو، له هغه وروسته مې څو ځله د فساد ریفورټونه جوړ کړل؛ خو د ګواښونو له کبله مې در ونه شو لیګلای،**
**رڼا : ورور جانه! ته لږ ژوره ساه واخله، ځآن ارامه کړه، بیا په تفصیل راته خبرې وکړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبریال وویل: زه له تاسې مخکې د پایتخت تلویزون سره خبریال وم، د فساد پر ضد به مې، چې کوم خبر جوړ کړ، مرکزي تلویزون ته به مې ولیږه په بدل ددې، چې نشر کړل شي تری تم به شو؛ په هغه تلویزون کې ددې ځای چارواکو لوی لاس ؤ. د هر ریفورټ په نه نشرولو سره به یې پیسې تر لاسه کولې، سم قرارداد غوندې ؤ او د پیسو پیداکولو لپاره یوه لاره بلل کیده. زما ریفورټ له لیږلو وروسته به ددې ځای مشر د تلویزون رئیس ته ټلیفون وکړ هغه به خپلې اداري ته زما د خبر د نه خپراوي امر وکړ. راپور به مې ولیږه خو نشر به نشو، بیا به دلته والي ماته پیغور راکاؤ، چې ودې لید زما زور، ستا مشر مې لا اخیستی ته خو یې وړوکی بچونی یې، لاس دې خلاص توره دې ازاده.

والي صیب! دوه اونۍ مخکې د میلمستیا بلنه راکړه، ټول هم مسلکه ملګري یې غوښتي ؤ، پسونه یې حلال کړي ؤ ویل یې: ژورنالستانو ته مې میلمستیا کړې، زموږ ډېر د ډلې غړي ؤ، چې د میلمستیا په نشه کې خپل مسلك ترې هیر شو، والي ته یې د هر اړخیزې مرستې ژمنه ورکړه؛ خو زه ورته په میلمستون کې جګ شوم، ورته ومې ویل: والي صیب! کیدا شي، چې موږ د میلسمیتا په موخه پوه کړې؟ ځواب مې تر لاسه کړ: بس ستاسې د درنښت لپاره مې کړې وه؛ تر څو په دې پلمه کښینو او څو خبرې هم وکړو. ما ورته وویل: له موږ د ټولنې یتمیان ډېر اړین ؤ، چې هغه مو راغوښتي وای، یو ځای د ډوډۍ ورسره خوړلې وای، د هغوی درد دې اوریدلی وای، د یوه پلار په څیر دې مینه او هیله ورکړې وایې؛ موږ خو له میلمستیا پرته هم هر وخت، چې وغواړې درته راځو.

والي له لنډې مسکا وروسته راته وویل:

وروره! وړاندیز دې بد نه دی؛ خو یوه ورځ به هغه هم راوبولو، ناسته به ورسره ترتیب کړو؛ خو تاسې د ولس ژبه یاست، د نړۍ څلورمه قوه یاست، زموږ او تاسې ته د یوه بل ملاتړ اړین دی، تاسې کولی شئ زما سره زما د کړنو په انعکاس کې مرسته وکړئ؛ تاسې یاست، چې په ملاتړ به مو بریالی او په نه همکاري، که هر څومره کارونه تر سره هم کړم ناکام به وګڼل شم.

ما ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



والي صيب! موږ د کړنو د انعکاس لپاره بې طرفه کار کو، البته کـه تاسـې سـم کـار کړی وي، تيت کول يې زموږ فرض دی؛ که د قانون خلاف او خودسري پکـې وي هم زموږ مکلفيت دی، چې نشر يې کړو.

رڼا وويل:

ښه نور بيا مخکې څه وشول؟

خبريال زياته کړه: مجلس ختم شو؛ خو زه ښه پوهيدم، چې خـبرې مـې پـه والي صيب ښې ونه لګيدې، زما د راوتو په وخت کې يې خپل سکرتر ته په سترګه اشـاره وکړه هغه له ماسره راووت، يو پاکت يې په لاس کې راته ونيو ويې ويل:

همکاري کوه دا به لومړی پاکت نه وي.

ما پاکت ترې واخيست د خلاصولو هڅه مې وکړه خو سکرتر مې لاس ونيو ويې ويل: څه جيب کې يې کړه، کور کې يې خلاص کړه، خو زما انديښنه نوره هم زياته شوه دوه قدمه ترې شاته لاړم پاکټ مې خلاص کړ، پـه زرګونـانو مـې سـترګې ولګيـدې راومې باسل پوره لس زره وې.

ما ورته وويل:

دا پـــــــــه کومــــــــــه خوښــــــــــــي کــــــــــې؟

ځواب يې راکړ: وروره! ستاسې پر موږ ډير حقونه دي.

مــا پيســې بيرتــه پــه پاکــټ کــې کيښــودې، ســکرتر تــه مــې ووـيــل: دا پيسې واخله موږ ته خپل ټلوييزون دومره معاش راکوي، چې ګـذاره مـو پـرې وشي، زه دانشم اخيستی؛ خو د هغه د بار، بار تکرار سره هم ما پيسې وانه خيستې.

ترې روان شوم، له شا يې غږ راوکړ، هيله ده هغه راپورونه، چې د ولايـت بـدنامي پرې راځي نشر نه کړې!. ما ورته وخندل ځواب مې ورکړ،

د راپور ټاکنه خپله خبريال ښه کولی شي، چې کوم د نشر وړ دی او کوم نه ،کوم مناسب دی او کوم نه دی.

رڼا لاس تر زنې ورته نوره هم متوجه شوه، خبريال ته يې وويل:

ورور جانه! لسګونه کلونه ووتل، چې موږ خدای ج له زورواکانو خلاص نه کړو، بيـا يې لاسونه د دعا په پار پورته کړل له سوړ اسويلی وروسته يـې وويـل: ربـه تـه مـو مرسته وکړې له دعا وروسته يې خبريال ته د نور وضاحت وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه، چې د دندې پرېښودو ته يې اړ کړی يې څه دي؟
خبريال: دوه ورځې وړاندې مې له ګمرک سره نږدې کورونو له خلکو واورېدل، چې د شپې ډېر داسې موټر له ګمرکه نا محصول تېرېږي، چې د همدغو چارواکو پکې لاس دی. جالي اسناد ورته جوړېږي او پيسې يې والي صيب اخلي.
دې خبرې ډېر نارامه کړمه اړ شوم د لاسپيناوي په موخه څه اسناد راټول کړم، دوه شپې مې ورته رڼې کړې؛ نا محصول موټر مې وليدل، ومې درول دولايتې شورا غړي هم راسره و، ټول مو په خپلوسترګو وليدل، د موټروانانو غږ مې هم ثبت کړ، چې ويل يې: موږ محصول ندی کړی دلته موږ ته ويل کيږي، چې له ګمرکه موږ ته يولک کمې راکوئ، موږ مو له ګمرکه تېروؤ.
رڼا وويل:
نوتاته ستونزه څه شی ده؟
خبريال: اوس والي صيب خبر شوی، چې ما د ګمرک په اړه سندونه راټول کړي او په دې هم خبر شوی، چې راپور مې پرې جوړ کړی.
رڼا: ښه! نو؟
خبريال: اوس وايي، چې موږ پيسې درکوو له دې خبره تېر شه؛ ما ورته وويل:
زه خپل مسلک ته توهين نه شم کولی، زه مې خپل ضمير نه شم خرڅولی، زه پيسې نه اخلم.
والي وويل:
سمه ده موږ ټينګار نه کوو، چې پيسې واخله؛ خو په دې ټينګار کوو، چې له دې راپوره تېر شه!.
ما ورته وخندل ومې ويل:
دلته د ملت له حق سره خيانت شوی، دلته بيت المال لوټ شوی، دلته د کونډې او يتيم حق ضايع شوی که زه چپ شم په ورځ د قيامت به د خلکو په وړاندې څه ځواب وايم زما له دې خبرې سره والي ټليفون پرې کړ
لږ وروسته دې والي سکرتر زنګ راته وکړ چې:
مسلې مه راته کوه، که ته زموږ ونه منې او زموږ په خلاف دا کار وکړې ډېره درنه به درته تمامه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبريال: د څه درنه؟

سکرتر: که د اولادونو په فکر کې ياست او خپل ژوند درته ارزښت لري؛ نو له دې خبرې تېر شه.

نور نو ټاکنه ستاسې په لاس کې ده؛ زه درنه ټليفون پرې کوم ، والي صيب زنګ وهي خو والي صيب د اخطار د تکرار عادت نه لري؛ ډېر سرزوري يې له لاسه د خاورو ميلمانه شوي دي.

د دې خبرې په اوريدو د رڼا په سترګو کې اوښکې راغلې، مخ يې بل طرف ته واړاؤ دسمال يې راوکيښ تر څو خپلې اوښکې پاکې کړي او خپل دا ضعف د خپلې دروازې له ساتونکي، چې دې ته يې پرميز د چايو پياله ډکوله پټ کړي؛ خو ونه توانيده، سلګو واخيسته، اوښکې يې لکه باران په يو بل پسې د ګريوانه ميلمه کيدې، له ډنډ سترګو سره بيرته را تاو شوه، خبريال ته يې وويل:

ته اړ نه يې، چې دنده پريږدې.

خبريال: خو واړه بچيان لرم.

رڼا: ستا په بچيانو به هيڅ هم نه کيږي.

خبريال: نو له دې راپوره تېريږو؟

رڼا: ولې زما له مرګه دې اوريدلي؟

خبريال: نه خدای ج دې نه کړي.

رڼا: څو، چې د رڼا په تن کې ساه وي، نو هيڅ کله به هم داسې راپورونه له نشرولو، نه پاتې کيږي، ما د خدای نا ترسو د بيت مال غلو ته قسم کړی، چې د سيوري په ډول در پسې يم، که مې دربانديې ثبوب پيداکړ، بيا به مو ژغورل په خدای وي ،پيسې او مقام مو نشي ژغورلی.

خبريال: ښه! نو زه دا خطر ومنم؟ له دې خبرې سره ټليفون پرې شو.

رڼا پوه شوه، چې د خبريال کريډيټ ختم شو. د دفتر له ټليفون څخه يې ورته زنګ وکړ، خبريال ته يې وويل:

وروره! وښه، چې هيڅ فکر مې نشو بايد ما ستا په کريډيټ دومره اوږدې خبرې درسره نه وای کړې؛ خو خير زما سکرتر به کريډيټ درولیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبريال: کومه خبره نه ده اغلې مشرې! نو ايا زه دغـه راپـور درولیـږم او دا گـواښ ومنم؟**

**رڼا: نه وروره! تا او ستا کوچني اولادونه کوم گواښ ته نه شم ورکولی، زه خپله درځم او راپور جوړوم يوازې اسناد وساته.**

**خبريال: خورې ته ولې دا کارکوې؟ ولې ته لکه، چې اولادونه او کورنۍ نه لرې؟**

**رڼا: ورته وخندل، اولادونه نه لرم، لا يې وخت نده راغلی خو کورنۍ لرم.**

**خبريال: خو هغه به څنگه شي؟**

**رڼا: ماته مې مسلک له خپله ژونده هم مهم دی، له کورنۍ هم راته مهم دی، زه لـه خپل ولس سره دومره مينه لرم، چې په وړاندې يې هر څه راته هيڅ دي.**

**دا کار زه د خپلې زيمواري له مخې کوم د غاړې خلاصيدو لپاره يې کوم، د خدای د رضا حاصلولو لپاره يې کوم، د خپل مظلوم ملت د ژغونې لپاره يې کوم او همدغه زما هيله ده، چې په پـوره کيـدو سره مـې زړه سـکون پيـداکوي، ارامښـت پـرې احساسوم او په دې هم ډاډه يم، چې خدای مې نيت او اراده گوري. هغه د زړونـو مالک ده زما د هر حرکت په هدف پوهيږي، زما په هر رگ خـبر دی هغـه بـه مـې ساتنه کوي.**

**خبريال: نور نو ستاسې راتگ ته اړتيا نشته، دا کار زه په خپله کوم ستاسې خبرو مې دومره همت قوي کړ، چې نور د هيڅ چا په کيسه کې نه يم، کورنۍ مې خـدای ج لري، له هغه بل څوک قـوي سـاتونکی نشـته. ستاسـې لـه خـبرو مـې لـوی درس واخيست، ساتندوی خدای ج دی روزي رسـان هـم خـدای ج دی، د چـا مـرگ هيڅوک نشي رامخته کولی او نه يې څوک وروسته کولی شي.**

**رڼا : زه سبا له خيره درغلم، يوازې اسناد راکړه، نورې چارې زه پرمخ وړم.**

**خبريال: ته دا خطر په ځان مه اخله!، ته يوه مېرمن يې له نارينه سره، چې هرڅـه وشي، دومره توپير نه کوي، هغه ډير ظالم دی، ټوپکسالار تېر شوی، اوس يې هـم هغه د زړې واکمني خيال په ذهن کې دی، ډېر خلک يې وژلي، مـرگ ورتـه يـو عادي کار دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا: د حسين رض خبره دې نه ده اوريدلې هغه وايې چې څومره دې چې د ظلم په وړاندې وروسته توره راپورته کړه په هماغه اندازه به ډېرې قرباني ورکړې، نور نه ناوخته کوو.**

**خبريال: خو!**

**تر څو يې چې جمله پيلوله، ټليفون يې پرې شو.**

**سبا سهار خبريال په کور کې په چايو ته ناست ؤ، چې د رڼا زنګ يې موبايل په شرنګا راوست خبريال ټليفون پورته کړ،**

**رڼا : ورور‌ه! زه په مخابراتو څلور لارې کې درته ولاړه يم، ته د هغه ګمرک اسناد او کليپونه راوړه؛ له والي سره مې د مرکې وخت واخيست، نور کارونه زه مخته بيايم.**

**خبريال چاى پريښود په منډه، منډه د رڼا خوا تـه ورسـيده، مخکـې لـه دې چـې کليفونه او اسناد ورکړي، خبريال ورته کړه:**

**خورې! دا کار ګواښونکى دى، ته يې مه کوه، دا کار زه کوم، زه اوس پښيمانه يم، چې تاته مې د دې پېښې شکايت وکړ. رڼا يې په خبره مسکۍ شوه ورته ويې ويل: پوهېږم دا کار ګواښونکى دى؛ د والي تاريخچه هم راته مالومه ده، چې د بدمعاشي ژوند يې تېر کړى دى، د لسګونو خونونو څښتن دى؛ خو له هغه هم زما څښتن ډير ځواکمن دى هغه د لوى قدرت خاوند دى هغه تر ټولو ښه ساتونکى دى.**

**ماته يې هيڅ پروانشته، چې هغه زما په وړاندې څه کوي او يا څه نه کوي.**

**خبريال : ولې زه؟**

**رڼا : زه ستا مېرمن او بچيان سرتور نه شم ليدى، هغوى خوار او زار نه شـم ليـدى، که خداى مه کړه تاته کوم زيان ورسېږي زه به ځان ونه شم ښښلى تل به مـې خپـل ضمير ملامته وي، چې ولې مې داسې وکړل او نه زه له ملامته ضمير سره ژوند کولى شم، زه له دې کارونو سره بلده يم، ته يوازې دعا کوه چې د ظلم په وړاندې بريالي شو، فساد ورک کړو خپل هېواد د تعدل خواته بوځو.**

**هېواد مو د ټولنيز عدالت يوه بېلګه جوړه کړو، هيڅوک د چا حـق ونـه خـوري او هيڅوک پر چا د ظلم کولو جرئت ونه لري.**

**رڼا ساعت ته وکتل بيا يې خبريال ته وويل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د مرکې وخت رانږدې شوی، زه په دې اړه د والي نظر اخلم، د خلکو نظرونه هم غواړم واخلم؛ ستا کلیپونه هم تیار دي، نو والي به یوازې خدای رانه خلاصوي.
رڼا له خبریال نوره خدای پاماني واخیسته؛ د والي د دفتر په لور وخوځېده، د والي سکرتر ته یې زنګ وواهه ورته ویې ویل:
زه رڼا خبریاله یم، والي سره غواړم د افغان ټلویزون لپاره یوه مرکه وکړم ستاسې دفتر رئیس ته مې سهار زنګ وکړ هغه وویل:
موږ نن مرکې ته وخت لرو ته راتلی شې.
سکرتر : تاسې هماغه خبریاله یاست، چې نوم یې د هر چا په ژبه دی.
رڼا: په دې خو زه نه پوهېږم، چې د هر چا په ژبه زما نوم دی خو خلک رڼا راته وایي.
سکرتر په منډه لاړ والي ته یې وویل:
والي صیب! یوه سرتمبه خبریاله راروانه ده، رڼا نومېږي، بس په چا یې سترګې نه ډکېږي، ډېر پام دې وي، چې په احتیاط خبرې ورسره وکړې. والي : هغه خبریاله خو نه ده، چې یوه وخت برمته شوې وه؟
سکرتر : په ځان هغه ده.
والي : اجازه ورکړه چې راشي وبه ګورو، چې څه وایي؟ وبه وینو چې رڼا څه ډول بلبېږي که سمه نه بلیده، نو خاموشه به یې کړو، کله چې رڼا د خوب الوتو سبب کیږي نو خاموشه کول یې اړین کیږي همداسې نه ده سکتره؟
سکتر یې په خبره وخندل د هو په دود یې د والي د خبرې په غبرګون کې سر وخوځاؤ.
رڼا راغله؛ د والي مخکې د یوه غره غوندې همت سره کښېاسته، له روغبړ نه وروسته یې له والي وغوښتل، چې مرکې ته چمتو شي.
والي هم تیاری وښوده، سوال او ځواب پېل شو.
رڼا : والي صیب! له اداري فساد سره مبارزه مو څرنګه روانه ده؟
والي: په ټول وس او ځواک سره هڅه کوو، چې دغه شومه پدیده له منځه یوسو.
رڼا: د ګمرک عایدات مو د تېر کال په پرتله دېرش فیصده کم شوي دي کولی شئ لامل یې راته ووایئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



والي: دا شمېره تاته چا درکړه؟ زموږ عایدات د تېر کال دوه برابره شوي دي.
رڼا: تاسې د خپلې ادعا لپاره څه اسناد لرئ؟
والي: کار پرې روان دی، چې بشپړ شي، ستاسې په واک کې به یې درکړو.
رڼا: والي صیب! موږ د سیمې له خلکو سره مرکې وکړې هغوی وایي: چې د شپې له مخې بې محصوله بار لرونکي موټر تېریږي، پیسې یې شخصي جیبونو ته ځي په دې اړه تاسې څه ویل غواړئ.
والي: دا دروغ دي، هسې د خلکو خبرې دي په افغانیستان کې څوک، څوک کار ته نه پرېږدي، بس خبرې دي، چې کوي یې دروغ او ریښتیا سره یوځای کوي او د پیتاوي مجلسونه جوړوي.
رڼا: والي صیب! خو موږ داسې اسناد تر لاسه کړي، چې په هغه کې ستاسې نوم هم شته، چې په دې موټرو کې خپله حصه لرئ، او ستاسې په ملتیا تېرېږي.
والي: هیڅ اسناد نشته، دا هسې کوم خبریال اوازه خپره کړې ده، هغه غوښتل چې په دې بهانه له موږ څه پیسې وشکوي، هغه له موږه ناروا غوښتنې وکړي، موږ یې غوښتنې ونه منلې بیا یې د اسنادو اوازه په دروغو خپره کړه؛ خو اوس په خپلو خبرو پښیمانه دی، زه په زغرده وایم، چې که چا زما په اړه اسناد پیدا کړل خپاره دې کړي.
رڼا: سمه ده، مننه والي صیب! ستاسې ډېر قیمتي وخت مو ونیو.
والي: هر کله راشئ!
رڼا څه چې غوښتل هغه یې ترلاسه کړل، نوره یې خدای پاماني واخیسته په لاره کې سکرتر ورسره د سیوري په ډول روان ؤ د رڼا ورته پام شو هغه ته یې وویل:
ورور جانه! تاسې تکلیف مه کوئ، موږ لاره لیدلې.
سکرتر :هیله کوم والي صیب وویل:
دوی تر درازې بدرګه کړئ تر دروازې ورسیدل، سکرتر رڼا ته سپین پاکټ ونیو.
رڼا په حیرانۍ سره په پاکټ کې سترګې ونیوې، بیا یې سکرتر ته وویل:
دا څه دي؟
سکرتر : ستاسې د موټر تیل او میلمستیا، والي صیب! وویل: دوی ډوډۍ ته ستانه نه شول بده ده، چې تش لاس ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا ورته وخندل:

تاسې له کوم تخصیص څخه دا پسې موږ ته راکوئ؟

سکرتر: رڼاجانې! ولایت خو دومره امکانات لري، چې تاسې ونازوي.

رڼا: نه وروره! موږ ددې پیسو حقدار نه یو او نه راته دا پیسې مناسبې ښکاري؛ ځکه ماته له دې پیسو د یتیمانو او کونډو د خولې د روزي بوی راځي.

رڼا نوره له دروازې ووته او د کابل په لور وخوځیده، په لاره کې یې خپل خبریال ته ټلیفون وکړ، ورته ویې ویل:

تاته په مرکزي دفتر کې دنده درکوو ستا په ځای بل خبریال دلته رالېږو، همدانن باید کابل ته راشې، چې کومه ستونزه درته پیدا نشي.

نن ماښام د دې مغرور والي، هغه وزرې درته قیچي کوم چې هواته پرې د الوت هوډ لري. نن یې هغه غښتلې متې ورته پرې کوم، چې د بیت المال په انرژي ځواکمنې شوې دي.

ماښام شو رڼا د خبریالي په اصولو پوره ریپوت جوړ او نشر ـ ته چمتو کړ، خپل ټلویزون او هغه پروډکشن ته یې هم واستاوه، چې له هغه نه ټولو رسنیو اخیستلی شوای.

ماښام اوو بجې په ټولو رسنیو کې لومړی خبر همدا شو، چې د ننګرهار والي د ګمرک نا محصول شوي موټر تېروي جالي اسناد ورته جوړوي او پیسې یې په خپل جیب کې اچوي. په ریپوت کې هغه جالي فورمې هم وښودل شوې، چې موټرو ته د تېرېدو لپاره جوړې شوې وې؛ د هغو موټروانانو خبرې هم نشر شوې، چې ویل یې: له موږ نه دلته د ګمرک په نسبت کمې پیسې اخلي او په تېرېدو کې د والي کسان راسره مرسته کوي.

اته بجې شوې، بېړنی خبر د تلویزونونو پر مخ وښودل شو: د ننګرهاروالي دنده د فساد د تور له امله وځنډېده.

خبره د هر کور کیسه شوه، د فسبوک د لیکنو سرلیک شوه او په دې برخه کې د رڼا ستاینه پیل شوه. شاپور هم خبر واورېده، له اورېدو سره یې رڼا ته زنګ وکړ هغې ته یې وویل:

اغلې رڼا!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته څه غواړې، چې ثابت یې کړې؟**
**رڼا: مطلب؟**
**تاسې د یوه قاتل، ټوپک سالار او زورواک سره مقابله کوئ؛ ایا ددې په پایلو پوهېږې؟**
**رڼا : هو پوهېږم هغه، چې څه کول غواړي یا کوم اقدام کوي زه یې پروا نه لرم، د هغه لویه خبره به زما د قتل پرېکړه وي او زه له مرګه نه ډارېږم.**
**شاپور: نو ولې داسې لیونتوبونه کوې؟**
**رڼا: تا خو ژمنه کړې وه، چې زما د خبریالۍ خنډ به نه ګرځې.**
**شاپور: زه خو په خپله ژمنه ولاړ یم، د ټول رسنیز دفتر مسولیت مې درسپارلی؛ خو ستاسې د ژوند او تاته د خطر اندیښنه راسره ده.**
**رڼا: ته مسؤل نه یې، چې زما د ژوند او مرګ په اړه اندیښنه وکړې او نه ورته اړتیا شته.**
**شاپور : اړتیا شته.**
**رڼا: څه اړتیا شته؟ که زه مړه شم بل ژورنالست به پیدا شي او ستا رسنیز دفتر به له سکوته وژغوري.**
**شاپور: خبره د رسنیز دفتر نه ده، هغه دې اور واخلي له هغه وړاندې ستاسې ژوند ماته مهم دی.**
**رڼا: مطلب؟**
**شاپور په تته ژبه وویل:**
**زه له تا پرته ژوند نشم کولی.**
**رڼا: ماته دې په دماغو کې څه فرق ښکاري،بې مسولیته خبرې زما نه خوښېږي ، زه دې د خبرو په مطلب نه پوهېږم چې څه وایې خو هیله لرم چې زما په کړنو نېوکه ونه کړې، کنه ښه به درته نه وي.**
**نور یې ټلیفون پرې کړ:**
**سبا سهار رڼا دفتر ته د تلو په پار له خپلې خونې راووته، د مور کوټې ته لاړه له هغې یې دتګ اجازه وغوښته. هغې اجازه ورکړه؛ خو ورته ویې ویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لورې! په دې شپو، ورځو کې دې ځان ډېر مصروف کړی دومره، چې د خپلې مور روغتیا دې هم له یاده وتلې. رڼا مسکۍ شوه، د مور په لور یې ورمنډه کړه هغه یې په غېږه کې ونېوه، بیا یې ورته وویل: خورې مورجانې ته ریښتیا وایې دومره مصروفه شوې یم، چې ستا روغتیا هم رانه هېره شوې. نن خو فکر کوم ستا د معایناتو ورځ هم ده زه دفتر ته ځم ژر، ژر مې کارونه خلاصوم بیرته راځم او تا روغتون ته وړم.

رڼا ته بیرون د دفتر موټر ولاړ ؤ، دا هم په بیړه ور ووته په موټر کې کېناسته؛ له لږ مزل وروسته رڼا خپل موټروان ته پام شو، چې ځیر ځیر په خپله ښیښه کې ګوري. رڼا ورته وویل:

وروره! څه خبره ده، چې په ښیښه کې ګورې؟

موټروان : یو موټر مو تعقیبوي، له ډېر لرې راپسې دی. رڼا هم شاته وکتل ویې لیدل، چې په هغه موټر کې ناست کسان د دوی له موټره سترګې نه باسي، په دوی کې یې سترګې ټومبلې دي.

رڼا خپل موټروان ته وویل:

موټر څنګ ته کړه ګوښه ودریږه، زه به له هغه درملتون نه څه درمل راواخلم دوی به هم تعقیب کړو، چې څه کوي او څه موخه لري؟

موټروان موټر ګوښه کړ. رڼا درملتون ته لاړه؛ خو تعقیبونکی موټر په بیړه له دوی تېر شو، موټر وان هم ډاډه شو، چې هسې اندیښمن شوی، موټر دوی نه تعقیبوي، لنډ مهال یو موټر سایکل وال د دوی تر شاه له خپل موټر سایکل نه ښکته شو، ځان یې داسې ښوده، چې ګواکې موټر سایکل یې خرابي پیدا کړې. رڼا درمل واخیستل؛ خو د پیسو بکسه هم کور ترې پاتې وه نو اړه شوه موټروان ته یې لاس وښوراؤ تر څو ماتې پیسې ترې واخلي او درملتون وال ته یې ورکړي. په همدې وخت کې د موټر سایکل وال د دوه کیلو ګرامه په اندازه چاودېدونکي توکي د موټر لاندې ځای پر ځای کړل. په موټر سایکل کېناست په لنډو شېبو کې یې ځان ورک کړ. موټروان او رڼا راغله، موټر ته وختل او د یوه خطرناک برخلیک سره په ناپوهي کې مخامخ شول. رڼا له موټروانه وپوښتل: هغه تعقیبونکی موټر څه شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټروان : موږ هسې شک کاوو ، موټر تېر شو داسې ښې نه وې ، چې تـرې مالومـه کړو دوی موږ تعقیبوي.

رڼا : بس رب مو دې وساتي ، کنه د ډېرو ارادې راته ښې نه دي. د رڼا دفتر نږدې ؤ ، لس دقيقې لا نه وې تېرې شوې ، چې رڼا خپل دفتر ته ورسېده. رڼا له مـوټر ښـکته شوه بيا ونه چاوده؛ ځکه چې هغه يو ساعت ته تيار کړل شوی ؤ.

دفتر ته له ننوتو سره جوخته بېرته راستنه شوه موټروان ته يې وويل:

ما له مور سره ژمنه کړې وه ، چې زه بېرته ژر راځم او تا روغتون ته د معاينـاتو لپـاره وړم؛ خو زه نن پرلپسې دوه جلسې لرم.

موټروان : خورې! زه به يې بوځم معاينات به ورته وکـړم او بيرتـه بـه يـې تـر کـوره ورسوم.

رڼا : وروروجانه! لوی کمک به وکړې مور جانه! روغتون ته بوځه او بېرته يې تر کوره ورسوه. موټروان لاړه او رڼا ته هم خپله اداري جلسه منتظره وه.

د جلسې خونې ته ننه وته ، جلسه يې پيل کړه.

موټروان د رڼا کور ته ورسېده ، د هغې مور يوه خور او کوچنی ورور يې راواخيسـته د روغتون په لوري روان شول.

روغتون هم د رڼا ددفتر سره په يوکيلو متري کې ځای درلوده. د رڼا د جلسـې نـيم ساعت لانه ؤ وتلی ، چې يو لوی درز يې تر غوږو شو. دفتر يې ولړزيده ،ښيښې يـې ماتې شوې ، ټول وارخطا شول د هر يوه سترګې له ويرې راووتې.

رڼا وويل:

خدايه خير! ډېره لويه چاودنه وشوه ، بيا به څومره کورونه وران شوی وي ، څـومره ماشومان به يتيمان شوي وي او څومره کورونه به د وير په ټغر کينول شوي وي؟

ژر يې ټليفون راواخيست ، د سيمې اړونده خبريال ته يې زنـګ وواهـه ورتـه ويـې ويل: هله څلورم سړک کې چاودنه وشوه ، د خبر جوړولو لپاره ځان ورسوه.

هغه وويل: اغلې مشرې! زه ډېر سخت نـاروغ يـم ، د سـيروم لانـدې يـم خـوراک راباندې بده اغيزه کړې ، وضعيت مې ډېر خراب دی.

رڼا ټليفون پرې کړ ، پريکړه يې وکړه ، چې پخپله د پېښې ځای ته لاړه شي او راپـور جوړ کړي. کمره او کتابچه راواخيسته په بيړه له دفتره ووته ، له لنډ مزل وروسته دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیښې ځای ته ورسېده. کمره یې له دسکول راوښکله، له موټره ښکته شوه ویې لېدل، چې پولیسو له زیانمن ځایه سرې پټې تاو کړې دي؛ چاته د داخلېدو اجاز نه ورکوي. پولیسو د رڼا د تګ مخنیوي لپاره په هغې غږ وکړ، خو رڼا د کارت په ښودلو سره هغه اړ کړ، چې اجازه ورکړي. رڼا د پېښې ځای ته ورسېده؛ څو مړي پراته دي، څلور پنځه ټپیان هم زګیروي کوي. رڼا تصویر اخیستنه پیل کړه، ټول سوچ یې د کمرې سکرین ته ؤ، چې تصویر اخیستنه خرابه رانشي، ګام په ګام مخته تله، د کمرې پر مخ یې د تمې خلاف یوه تصویر راغی د کورنۍ د غړي تصویر، دخپل ماشوم ورور تصویر، د خور د نازولي وړوکي ګلاب تصویر، هغه مخ یې په وینو لړلی ولېده چې رڼا معمولي ګرد ته هم نه پرېښود حیرانه شوه څو لحضې بلې نړۍ ته لاړه فکر یې وکړ لکه، چې خوب ګوري، ژر یې کمره له مخې لرې کړه ویې ویل، چې د کمرې په لرې کولو سره به هر څه بدل شي؛ خو هیڅ هم بدل نه شول، نه خوب وو او نه خیال د خپل ګلالي ورور جسد یې په وینو لړلی ولېده، لږ مخکې یې نظر پرېوت، د هغې د ځګر ټوټه تر ټولو قیمتی نعمت او پرې ګرانه مورکۍ یې په داسې حالت کې ولېده، چې د سر وېښتان یې سوي وو. رڼا ته تر ټولو ډاډمن او ښکلی مخ باندې وینې او ګردونه پراته وو، بل خواته یې وکتل ځواني مرګ موټروان یې ولېد، چې جسد یې نالی ته لویدلی دی، بله خور یې ولېده، چې ټوټه ټوټه پرته ده.

سر پرې تاو شو لکه لوړ چنار، چې اره شي د قیر شوي سړک په سر ړنګه شوه؛ سر یې په ډېر شدت سره د سړک په سر یوې رالوېدلې تېږې سره ولګېده.

بس همدا ضربه هغې ته په سر باندې د مرمۍ له وېشتلو کمه نه وه، د شاک سره یوځای کوما ته هم لاړه. پولیسو ټپیان پورته کول، یو له هغو پولیسو متوجه شو، چې د رڼا ټلیفون ته زنګ راځي؛ پولیس ټلیفون راواخیست غږ پرې وشو اغلې رڼا! چېرې یې؟ له څه وخته ټلیفون درته کوم اخر ټلیفون ته خو ځواب وایه. له چاودنې خبر شوم تاسې ته مې اندېښنه شوه.

پولیس وویل:

وروره! د دې ټلیفون کس دې څه کېږي؟

هغه ځواب ورکړ: زه شاپور نومېږم د رڼا خپل یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولیس: وروره! دغه مېرمن کوما کې ده، له سره يې وينې ځي په چاودنه کې سخته ټپي شوې، په بيړه ځان ورته راورسوئ.

له شاپور نه ټليفون ولوېد، ژر يې خپل موټر راوباسه، بس نو موټر هوا نه کوله کنه شاپور يې له هغه ګېره هم کار اخيسته.

لندمهال دپېښې ساحې ته په داسې حالت کې ورسېده چې رڼا، نور ټپيان او مړي پوليسو روغتون ته وړي وو. شاپور ددې پېښې په ځای کې ښکته شو؛ د رڼا په موبايل يې سترګې ولګېدې زنګونه ورته راروان وو. شاپور ټليفون راواخېست اوکې يې کړ، غږ يې واورېده: رڼا خورې! دا درز دڅه شی وو، ژر احوال راکړه مور، خور او وړوکی ورور مې ستا په موټر کې روغتون ته لاړل، ټليفون يې کار نه کوي، سخته په اندېښنه يم.

په دې وخت کې شاپور د رڼا په موټر سترګې ولګېدې، چې تيکه، تيکه پروت دی. نور هم وارخطا شو، فکر يې وکړ لکه، چې د رڼا په کور انسان خوړونکي سيلاب راغلی، په چاودنه کې د هغې مور خور او ورور ټول له منځه تللي.

هغه له زنګه پوه شو، چې د رڼا په کور کې پاتې خور زنګ وهلی دی، هغې ته يې وويل:

خورې! زه شاپوريم، رڼا په جلسه کې ده هغه لږ مصروفه ده. ته انديښنه مه کوه، چې خلاصه شي خپله زنګ درته کوي.

د رڼاخور: نو دا چاودنه د څه شي وه؟

شاپور: حکومت چاوديدونکېو توکو ته چاودنه ورکړه، کومه د انديښنې وړ خبره نده.

شاپور له هغې سره خبرې پرې کړې، د روغتون په لوري روان شو.

په لاره کې يې د دفتر اداري مسؤل ته ټليفون وکړ، هغه ته يې وويل:

مدير صيب! چاودنه شوې، رڼا سخته ټپي ده، ژر مالومات راکړئ، هغه چېرې تله؟ نور څوک ورسره وو؟

ځواب يې ترلاسه کړ: رڼا خو د چاودنې په وخت کې زموږ سره وه.

هلته د ريپوټ جوړولو لپاره تللې وه.

شاپور: خو چاودنه د هغې موټر پسې شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مدیر: موټر د هغې سره نه وو، هغې موټر د خپلې مور لپاره لېږلی وو، چې روغتون ته یې د معایناتو لپاره یوسي.**
**شاپور: بس نو رڼا تبا شوه لکه، چې د هغې مور، خـور او ورور هـم پکـې لـه منځـه تللي، زه اوس روغتون ته روان یم گورم یې، چې څه شوي دي؟**
**مدیر: رئیس صیب! نه پوهېږم، خو زه هم اندیښمن شوم، هیله کوم چې مالومـات دې تر لاسه کړل ماته هم احول راکړئ.**
**شاپور: سمه ده نور یې ټلیفون پرې کړ.**
**د هېواد د ټولو رسنیو د سر خبر داشو، چې په ښار کې چاودنـه شـوې او د هېـواد مشهوره خبریاله پکې سخته ټپي شوې؛ ډاکترانو یې حالت نازک ښودلی.**
**شاپور روغتون ته په لاره د موټر له راډیو دا خبر واورېده، موټر یې نور هم تېز کـړ، ځو ژر روغتون ته ورسېږي او د رڼا حالت له نږدې وگوري.**
**گوښه شوي والي هم د رڼا د سخت ټپي کېدو خبر واورېد، له اورېـدو وروسـته یـې لنډه مسکا وکړه، له ځان سره یې وویل:**
**ماسره سر وهي، له ماسره سر وهل له ډېرې سره سر وهل دي.**
**دعا کوه، چې له کوما راونه وځې، راساً هغې دنیا ته لاړه شې؛ که روغه شې دوباره به بیا د مرگ لپاره دومره ستونزې وگالې، چې باور به یې هم نه شې کولای؛ ځکه ته په دې نړۍ کې نور د اوسېدلو حق نه لرې.**
**شاپور روغتون ته ورسېد، د موټر بریک یې د نیم کیلومتر لرې خلکو پام ځان پسې را واړوو.**
**ژر له موټره ښکته شو؛ بیړنۍ خونې ته یې ځان ورساوو، په رڼا یې سترگې ولگېدې، گړگوتي ویښتان یې پرسپین سپوږمیز مخ راپراته وو، د وینو لیکـې یـې هـم لکـه د گلاب وچې شوې پاڼې، پرمخ سریښ وې. غټې تورې اغېزناکې سترگې یې پټې وې؛ ژوره، ژوره ساه یې اخیسته. شاپور یې په لېدو لاسونه سره ومروړل، سترگې یې بـې واکه له اوښکو ډکې شوې، په غبرگو لاسونو یې مخ وموښه راتوېدونکې اوښکو یې به غومبرو لارې وکړې.**
**په دې وخت کې نرسه راووته، شاپور ورته کړه :**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستاسې مشر چیرې کښیني؟ هغې د ګوتې په اشاره د روغتون د رئیس خونې ته د هغه پام راواړاؤ. شاپور په منډه ورغی،**

**د روغتون رئیس ته یې وویل:**

**رئیس صیب! رڼا وژغورئ، دپیسو کیسه کې مه اوسئ، د رڼا د وجود، د تول په اندازه هم روپۍ درکوم.**

**رئیس چې خپله جراح متخصص هم و شاپور ته وویل:**

**دلته کښېنه، رڼا دومره دربادې ګرانه ده؟**

**شاپور: هو**

**رئیس: څه دې کیږي، مېرمن دې ده؟**

**شاپور: نه!**

**رئیس: نو څه دې ده؟**

**شاپور: زما د دفتر رئیسه ده.**

**رئیس: ورورہ! مه خفه کیږه، رڼا د پښې ټپي نه ده، یوه قوي ضربه یې په سر خوړلې فکر کوم؛ کوما ته د همدې ضربې له امله تللې ده.**

**هیله لرو، چې ژرجوړه شي، موږ تر خپل وسه کوښښ کوو؛ ټول امکانات مو په کار اچولي، نور پایله دې الله ج په لاس کې ده.**

**شاپور : رئیس صیب! که یې بل مجهز روغتون ته د تلو اړتیا وي، په ما زړه مه سوزوئ. *اقتصادي حالت مې ښه دی***

**رئیس :زموږ امکانات او وسایل او مجرب ډاکتران په داخل دهېواد کې بل ځای نشته.**

**ته مه خفه کیږه! موږ خپل ټول وسایل په کار اچوو.**

**د پیښې له ځایه څو مړي هم راوړول شوي، موږ په مړستون (مرده خانه ) کې ساتلي دي ستاسې د خپلوانو نور مړي مو هلته کتلی شئ**

**شاپور : شاید زموږ کسان پکې وي، زه ورځم، چې ویې ګورم؛ شاپور په منډه، منډه لاړ او د مړو ساتلو خونې ته ننه وت. لومړی سترګې یې د رڼا په موټړوان ولګیدې وروسته یې د رڼا مور هم وپیژانده، ټول لکه په ارام خوب ویده پراته وو. د ټپونو نښانې یې پر بدن ښکارېدې. د ماشوم په جسد شکي شو، ژر یې د رڼاله ټلیفون نه د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې خور ته زنګ وواهه چا چې يو ساعت مخکې زنګ کړی ؤ؛ خو له هغه لوري يې غږ واوريده، خورې ته له تيرې هم سخت زړه لرې تا لږ هم احساس نه کړه، چې له چاودنې وروسته به په مور څه تېريږي؟ مور، خور او ورور مې ورک دي چاودنه شوې، ما درته څو ځلې زنګ وکړ؛ خو ټليفون به دې خاموش راته.

شاپور : خورې! زه رڼا نه يمه، رڼا نن ډيره بوخته ده. د رڼا خور په ژړا شوه؛ شاپور ته يې په ژړغوني اواز وويل:

زه پوهېږم چې زما خور دومره بې مسؤليته نده، هغې هيڅکله هم له مور سره داسې ندي کړي، کله به چې ښار کې چاودنه وشوه ساعت په ساعت به يې زموږ احوال اخيسته.

وروره! د خدای لحاظ وکړه، په خور مې څه شوي؟ مور ته ووايه رڼا؛ خو زموږ د کور ډيوه ده، که په هغې باندې څه وشي مور ټول په تياره کې پاتې کېږو.

شاپور : خورجانې! زه قسم کوم چې رڼا ژوندی ده، ته بې ځايه انديښنه مه کوه يوازې دومره راته ووايه، چې ستا له مور سره خو بل کوم ماشوم نه ؤ؟

د رڼا خور : خور او ورور مې هم ورسره ؤ. ولې دې پوښتنه وکړه؟

شاپور : خورې هسې مې پوښتنه وکړه بې ځايه انديښنه مه کوئ، کور خو مو په هغه پخواني ځای کې ده؟

د رڼا خور: هو.

شاپور : مور درځو انشاالله په نيم ساعت کې در رسيږو، نور يې ټليفون پرې کړ.

شاپور دوه امبولانسه راوغوښتل، موټروان يې خپل کور ته وليږداؤه، په بل امبولانس کې يې د رڼا د مور، خور او کوچني ورور تابوتونه کيښودل.

خپل موټر يې ترې مخکې کړ، امبولانس يې تر شا حرکت وکړ، کور ته په نږدې کيدو د شاپور زړه درزا زياتېدله او ددې توان يې له لاسه ورکاؤه، چې هغه د رڼا پيغلوټې خور ته څه ډول درې جنازې ور وړي. څه ډول هغې ته ددې ستر غم زغم ورکړي، له ځان سره يې ويل: که رڼا روغه وای هم ښه به وه. د دغې انجلۍ زړه خو به پرې تکيا ؤ. اوس رڼا وګوره، چې په کوما کې ده او دلته يې دغه خور وګوره، چې په يوازې به د کور د دريو غړو دې له لاسه ورکولو غم ووينې .

ډېر ناتوانه شو؛ خو مجبور ؤ، چې جنازې د رڼا کورته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د رڼا کورته يې دواړه موټره ودرول، د رڼا خور او څو خواخـوږې ګاونـډيانې لا لـه مخه په دروازه کې دوی ته منتظرې ولاړې وې؛ خو په خوب او خيال کې يې هـم نه راتلل، چې نن به د دريو جنازو کوربانه وي.**

**خلك راټول شول، درې واړه جنازې يې راښکته کړې.**

**دې رڼا خورحليمه څو لحضې لکـه بـې روحـه کـالبوت سـکوت ولاړه وه د خـبرو ځواك يې نه درلود ژبې يې کار پريښود جنازې يې په غړيدلو سترګو ليدې خو لکه خوبوړی انسان چې څه په خوب ګوري خو دې څه کولو توان نه لري ، يوازې دې پيښې ننداره يې کوله،ښه شيبه وروسته، کله چې په هوش راغله نـو پـه ريښـتوني ډول يې درك کړه چې په سر يې خاورې بايد شوې دي،ټوله کورنۍ يې لـه لاسـه ورکړې ده کوڅه يې چيغو په سر واخيسته. ، چا يې دې ساندو تاب نـه درلـوده، هر يوه اوريدونکي به ځان ګوښه کاوه او له جيب نه په راباسـلي دوسـمال بـه يې اوښکې پاکولې ،درې واړه جنازې په يوه خونه کې قطار کيښودل شوې،دې وير او ماتم ټغر وغوړول شو ،بلاخره**

**شپه شوه دې رڼا خور دې ژړا او کوکو دلاسه خوا اوشا ګاونډيانو خوب ونـه کـړ، کومو مېرمنو به، چې ددې بدې ورځې او چيغې اوريدې هغوی بـه هـم پـه خپلـو کورونو کې په ژړا ورسره بدرګه کولې تر دې چې د حليمې غاړې کيناستې،اوښـکې يې په سترګو کې وچې شوې ،نور يې له ژړا سره اوښکو ملتيا نه کوله ،او نه يـې اواز تر څو مترو لرې خلکو اوريده.**

»»»»»»»»»»»»»»

**ټول خلك خبر ؤ، چې رڼا کوما کې ده يوازې حليمه له دې رازه ناخبره وه سهار وختي شاپور د خيرات له غوښو او وريجو سره يو ځای راورسېيده ،لـه خپـل موټره ښکته شو، د رڼا خور ته يې وويل:**

**هر څه مو، چې نور په کاريدل د رڼا ټليفون له ما سره دی، په هغه شميره زنګ راته کوئ.**

**خيرات پوخ شو، خورا ډير خلك جنازې ته راغلي ؤ خو چا څکه ونه کړه ځکه چې غم دومره درونـد ؤ چې د هر چا اشتها يې له منځه وړې وه . بلاخره هغه وخـت هـم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**راورسيده چې درې جنازې بايد هديرې ته ويوړل شي د رڼا دمور جنازه شاپور پورته کړه په دې وخت کې، شاپور د رڼا خور له ګريوانه ونيوه ورته ويې ويل:**
**اوس به مې مور، خور او ورور د رڼا له ليدو پرته تورو خاورو ته وړې؟ ی، چې اخر ځل خو دوی وګوري ، د هغې له ليدو پرته تاسې داسې ظلم نشی کولی، ايا تاسې زړه سوی نه لري ،په موږ مو زړه نه سوزي له رڼا سره داسې ظلم مه کوئ چې پرته دې هغې له راتلو دوی خاورو ته وسپاری هغه به ډېر خفه شي هيڅ بـه يـې ونشـي زغملی په هغې مورجانه، خور او وروړمې ډېر ګران وو.**
**شاپور : خورې رڼا روغتون کې بستر ده.**
**حليمه: خو يوازې يې دومره راولئ، چې د دوی مخ دې اخر ځل دپاره وګوري، بيا يې بيرته بوځئ.**
**شاپور وويل:**
**رڼا په کوما کې ده، هغه تګ او خبرې نشي کولی، کاشکې رڼا ليدل کـولی شـوی، که چين کې وايې هم رارسوله مې.**
**نور د رڼا د خور حليمې چيغو او سپاربښتنو ته چا غـوږ ونـه نيـو؛ ځکـه د جنـازې د لمانځه وخت تېريده او خلک منتظر پاتې کيدل، جنازې روانې کړل شوې. کوځـه بيا چيغو په سر واخيسته هر چا د رڼا د خور د بې وسي، بې کسي او غمجنې ورځـي درد احساس کاوه؛ بس له دوی سره به يې غم په سړو اسويليو او اوښکو لمانځه نـور يې څه نشو کولی**
**جنازې خښې کړل شوې، شاپور له هديرې نه بيرته روغتون ته واپـس شـو؛ د رڼـا د بستر په خوا کې کيناست، د هغې لاس يې په خپـل لاس کـې ونيـو سر يـې پـرې کيښود، سلګو واخيست له سترګو يې د باران په څېر اوښکې توېـدې، اوښـکو لارې وکړې د رڼا په لاس څک، څک وڅڅېدې.**
**د شاپور اوښکې د رڼا لپاره لکه، په ويده چې د يخو څاڅکو باران وشي تکان ورکړ. وخوځيده سترګې يې نيمه لوڅې کړې، ويې ليدل، چې چا يې لاس پـه لاس کـې کلک نيولی او سر يې پری ايښی، لږ مهال خو يې فکر وکړ، چې خوب وينې. خپل نيول شوي لاس ته يې حرکت ورکړ، د ځان خوا ته يې نـږدې کـړ. شـاپور هـم سر پورته کړ او له ډنډ سرو سترګو سره يې رڼا ته په حيرانۍ وکتل. رڼا له ځان سره وويل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څه دي، شاپور دلته څه کوي، زه چیرې یم، هغه زما لاس ولې نیولی؟ په دې سوچونو کې وه، چې شاپور ژړغونی غږ پرې وکړ: رڼا!

ته په هوش راغلې؟ ته اوس ښه یې؟

رڼا وویل:

شاپوره! ته ولې ژاړې خیرت خو دی؟ زه دلته څنګه راغلې یم، زه چا راوستلې یم؟

له دې خبرو سره رڼا بیرته بې هوښه شوه د شاپور غوړېدلې هیلې لکه تږی ګلاب، بیا مړاوی شوي د رڼا د کټ په زۍ یې سرکیښود، خورا غمجن شو زړه یې درد وکړ، د اوښکو په تویولو یې د زړه د درد د سپکولو هڅه کوله.

په دې وخت کې د رڼا خور هم راورسیده، ویې کتل، چې شاپور د هغې د بستر په څنډه سر ایښی او ژاړي. هغه د رڼا د بستر په خوا کې ودریده، بې واکه یې چغې کړې رڼا ګلې! تا خو مورِ یوازې غمو ته نه پریښودو؟ ته خو به زمونږ په وړاندې د تیز شمال په مقابل کې هم دریدې،

اوس دې ولې یوازې دومره درنو غمونو ته په دې کم عمر کې پریښودم؟

راپورته شه خورې! یوازنۍ هیله مو ته پاتې یې راپاڅه،غیږ کې مې ونیسه زړه مې سل ځای ټپي شوی ګوندې ورغول شي ، هیڅوک مې نشته چې غیږ ورکړم، خپلې اوښکې ورته توې کړم، د تسلي لپاره یې په اوږه سر کیږدم اوهغه ماته تسلي راکړي.

خورجانې!

که ته زما بد حالت په خوب کې هم وینې؛ نو زړه به دې وچوي، اوس ولې غږ نه کوې خورې!؟ ولې تسلي نه راکوې؟ مور جانه، خور او ماشوم ورور مې له تورو خاورو لاندې دي.

ته خبره یې کنه!؟

له دې اوږدو ساندو وروسته یې شاپور ته مخ وراړاؤ، هغه ته یې وویل:

خور مې جوړیږي کنه؟ هغه خو به ما د مور او ورور غوندې یوازې نه پریږدي، کنه شاپوره ورور!؟

شاپور : ته مه خفه کیږه رڼا دومره همت لري، چې داسې وړې پیښې یې له منځه نشي وړلی ،هغه لومړی په دې خاوره کې د ظلم ،فساد او بې انصافي جرړې ورک کوي بیا له نړۍ سره خدای پاماني کوي، تر اوسه یې ډیرې هیلې پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حليمه:**

**شاپوره vروره! زه دې ډېره احسان منده يم، زه به ستاسې دغه ښيګڼه هيره نه کړم، چې په دې بد حالت کې راسره وې، زما د مور، خور او ورور سقاط، خيرات او ټول مراسم دې زموږ د کور د يوه غړي په ډول ادا کړل.**

**زه ژمنه کوم، چې که زما وس ورسي او ستا کوم شي ته اړتياوي، که مې سر هم پکې لاړ شي نه يې دريغوم.**

**شاپور : ته مې لکه خور داسې يې، د خور لپاره ورور دومره څه نشي کولی؟**

**بيا يې د رڼا لور ته وکتل لاسونه يې پورته کړل، دعا يې وکړه: اوس دې رڼا خداى ج ښه کړي، هغه تېر مړي مو ښښلي، صبر مو دی پرې.**

**حليمه :**

**که زه يوه خبره وکړم خفه کيږې خو نه**

**شاپور نه ولې ؟**

**حليمه :زه اوس د رڼا پوښتنې ته دلته دهغې اوطاق ته چې راننه وتم نو تاسې د هغې د کټ په ژی سر ايښی ؤ د هغې لاس مو په خپل لاس کې نيولی ؤ ، نو ايا ستاسې تر منځ خو داسې اړيکې نشته چې زه يې په راز نه يم خبره؟**

**شاپور : نه، رڼا د اړيکو جوړولو دپاره وخت نه لري،**

**حليمه: او ته؟**

**خورې! اوس ددې خبرو وخت نه دی، دعا وکړه چې رڼا خداى ښه کړي، زه رڼا ته ډېر درناوی لرم، ماته يوازنی کس مالوم شوه، چې له ظاهره يې باطن ډېر ښکلی ده.**

**دې هغې ډير لحاظ راباندې ګران ده.**

**په دې وخت کې شاپور د رڼا مخ ته ځير شو، د هغې سر جټکه وخوړه، سترګې يې نيمه پرانيستلې، غږ يې وکړ شاپوره!؟**

**ته دلته څه کوې وروسته يې خپله خور وليده، هغې ته يې مخ وراړاؤ حليمې خورې! دا څه وينم؟**

**شاپور ژر ډاکترانو ته غږ کړ ورته ويې ويل: ژر راشئ، رڼا په خبرو راغله.**

**حليمه په رڼا ورټيټه شوه په داسې حال کې، چې سلګيو نيولې وه، رڼا يې په يوه او بل لوري مخ ښکل کړه بيا يې ورته وويل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاپور خو ګرم نده لږ مخکې یې وویل:
رڼا نه مري، هغه ډېر ارمانونه لري، لومړی هغه بشپړوي بیا لـه دې نـړۍ سترګې پټوي، رڼا د سر د سختې ضربې له امله لا هم له چاپېریال سره اړیکـه نیمګـړې وه، خبرو ته یې کم ځواب ویل. هڅه یې وکړه په خپل بستر کې راجګه شـی؛ خـو ونـه توانیده، هر لورته یې په حیراني سره کتل، فکر یې پـه دې مشـغول ؤ، چـې ولـې داسې شوې؟ مغزو یې بشپړ کار نه کاؤ.
خپل معالج متخصص ډاکتر یې راغی دې رڼا حالت یې ارزیابي کړ، ویې ویل:
رڼا اوس له خطره وتلې ده، په یو ساعت کې یې فکر د بشپړ تمرکز حالت ته راځي، تاسې اندیښنه مه کوئ، څه درمل یې ورکړه او نورلاړ.
ساعت تېر شو، رڼا عادي حالت ته راغله، یادښت یې هم نورمال شو.
په خپله خور حلیمه کې یې سترګې ونیوې، ورته ویې ویل:
مورجانه، خور او کوچنی خاطر مو خښ کړل؟ ډېر ژوبل شوي ؤ؟ زما لیـدو تـه مـو انتظار ونه ویست؟ دومره سزا مو د کومې ګنا له کبله راکړه؟ کم ترکمه د هغوی د مخ د یو ځل لیدو موقع خو به مو راکړې وه؟
غتې، غټې اوښکې یې له خبرو سره له رخسارو تېرېدلې او په ګرېوان کې لویـدې، حلیمې هڅه کوله ونه ژاړي، خپلې ناروغې خور ته همت ورکړي؛ خو د رڼا خـبرې دومره غمجنې وې، چې ځان یې تم نشو کړای، سلګو واخیسته خپلې خور تـه یـې غېږ ورکړه په ژړا ژړا کې یې ګیلې ورته پیل کړې، خورې! دوی ستا په نه شتون کې درې جنازې راوړې. د ورور، خور او مور ستره هیله مو پرې شوه، دا لوی غم مـې ستا په نشتون کې وزغامه.
د جنازې اخیستو په وخت کې مې خلکو ته ډېرې زارۍ وکړې،چې خورجـانې تـه دې دلیـــــــدو موقـــــــــــــــع وکـــــــــــــــړئ:
خورجانه! مې راولئ، دهغې له لیدو پرته یې مه خښوئ؛ خو چا مې غږ نه اوریـده، راته ویل یې، چې هغه په کوما کې ده.
رڼا خپله خور درک کوله چې په دې کم عمر کې څومره دروند غم ګاللی ،پـه ډېـر ستونزمن ډول په خپل بستر کې راکیناسته خپله خـور یـې غېـږې تـه نـږدې کـړه، اوښکې یې پرې پاکې کړې، بیا یې ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خورجانې! ته مه خفه کیږه، یوه ورځ نه یوه ورځ خو باید مړه شو؛ ځکه چې له خدای ج پرته هر ساه کښ باید دمرګ څکه وکړي.**

**د مور، خور او ورور په یوه وار درد زغمل څه اسانه کار ندی؛ خو موږ بله چاره نه لرو، له صبر پرته بله لاره نه ده راپاتې.**

**زموږ د کورنۍ د دریو جنازو په اړه له تاسې نه زما په سینه کې یو درد زیات دی او هغه دا، چې زما سزا زما د کور غړو خور، مور او وړوکي ورور ولیده.**

**شاپور: هغه څنګه ؟**

**د والي د فساد په تور د لرې کېدو نه دوه ورځې وروسته د دفتر په لاره موږ یو تور موټر تعقیبولو؛ موږ یوې ګوښې ته ودریدو، هغه تېر شو، خو زموږ د دریدو په وخت کې دوی زموږ په موټر کې زما د وژلو لپاره بم ځای پر ځای کړی وو. زه په دفتر کې ترې ستنه شوم، موټر مې کورته د مورجانې روغتون ته د وړلو لپاره ولیږه، دوی یې چې راخیستي د بم د چاودنې وخت پوره شوی، ما درز واوریده خورا لوی غږ یې درلوده. د سیمې خبریال ناروغ ؤ زه خپله د راپور جوړولو لپاره هلته لاړم، د تصویر اخیستنې پر وخت مې پام شو، چې کوچنی ورور مې مخې ته مړ پروت دی او زه یې تصویر اخلم وروسته مې د مور، ورپسې د خور او موټروان جسدونه ولیدل، چې تیت او فرق پراته و.**

**نوره پوه نشوم چې څه وشول، خو فکر کوم سر مې د پاخه سړک سره په ډېر شدت سره ولګیده .**

**ځکه بې هوښه شوې وم.**

**کنه زه په پېښه کې نه وم، خوکاش چې وای .**

**اوس به د ژوند تر اخېره دې ته وځوریږم، چې څرنګه زما له امله مې مور، خور او ورور له خاورو لاندې شول.**

**کاش کې زه مړه وای، کاشکې د خپلې مور، خور او ورور دوهمه قاتله نه وای جوړه شوې.**

**شاپور:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا ته په دې خبره ځان مه ملامتوه، بس دا به په تقدير کې ليکل شوي وو، هغـوی خو ستا موټر ته بم ايښی ؤ، ته يې وژلې خو دا چې ته خدای ج وژغـورلې پـه دې کې به هم د خدای ج حکمت وي.**

**مورجانه، خور او ورور مې شهيدان دي؛ ځکه بې گناه مړه شول، لـه شـهادته لـوی مرگ بل څه کيدای شي.**

**رڼا په ټنډه کې تروه شوه، سر ته يې لاس ويوړ، ويې ويـل: د سر د شـا برخـه مـې سخت درد کوي. شاپور وويل: ستا د سر پوستکی پرې شوی ؤ، ډاکترانو ويل، چې اته ټکه مو گنډلی، خو ته مه انديښنه کيږه، ژر ښه کېږي.**

**رڼا سوړ اسويلی وکيښ ويې ويل: ما خو چې د چا لپـاره انديښـنه کولـه هغـه خـو خدای درې واړه رانه واخيستل، اوس به د څه انديښنه وکړم،**

**په دې وخت کې ډاکتر راغی، رڼا ته يې وويل:**

**لورجانې! ته اوس ښه يې؛ خو يوه ورځ بايد نوره هم له موږ سره احتياطاً واوسې.**

**رڼا : ډاکتر صيب! ما همدا اوس رخصت کړه، زما په کور کې اوس يوازې يوه خـور پاتې ده، زما شتون ورسره خورا اړين دی، که څه ستونزه وه بيا هم راتلی شو.**

**ډاکتر :**

**زه مو هم ستونزه اوس ډېره جدی نه گڼم، خـه چـې دا ډول سـتونزه لـرې بيـا مـو رخصتوم، که کومه خبره پيدا شوه؛ نو پرته له ځنډه راشئ؛ ډاکتر نسخه وليکله دوی ته يې ورکړه.**

**شاپور : تاسې دتگ لپاره ځان چمتو کړئ زه ځم درمل رااخلم.**

**شاپور لاړه ټول حسابونه يې خلاص کړل درمل يې راواخيستل او بيرته دوی ته راغی :**

**شـــــاپور: کـــــه چمتـــــو ياســـــت، نـــــو ځـــــو.**

**رڼا : هغه دې روغتون لگښتونه خو بايد ورکړو**

**شاپور : هغه مې خلاص کړل، انديښنه مه کوئ.**

**رڼا : شاپوره! ښه دې وکړل، له موږ سره پيسې هم نه وې، خو زما له معاشونو يې بيا گرځوه، چې هير دې نه شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور مسکی شو، بیا یې وویل: دومره ډېر لګښت نه دی، چې یـاد کـړل شي، ځـو چې کور کې به خلك منتظر وي!.**

**د شاپور په موټر کې درې واړه کیناستل، له لنډ مزل وروسته د رڼا کورته ورسـیدل؛ رڼا ښکته شوه خو، چې حلیمه ښکته کیده، شاپور غږ پرې وکړ : خـورې! دا پیسـې واخله د رڼا معاش دی، کور کې لګښتونو ته په کارېږي.**

**هغې پیسې ترې واخیستې او کوزه شوه، نور شاپور د خپل کور په لور رهي شو.**

**رڼا لومړی د مور خونې ته لاړه د هغې په چپر کټ کیناسته د تېر وخت یادونـه یـې ورته مخې ته راغلل، د حلیمې دې پاره یې له کوکو ډېره وکړه په چوپه خوله یې ډېر وژل، چې ښه ستړې شوه بیرته راوته!.**

**په حلیمه یې سترګې ولګیدې، د وره په خوا کې ورته ولاړه وه، چا چې د رڼا د ژړا سره یوځای ژړل، هغه یې په غیږ کې ونیوله د ډاډ کیسې یې ورته پیل کړې.**

**ورته ویې ویل:**

**خورجانې! ژوند سراسر مبارزه ده، زموږ هېواد قربانیو ته اړتیـا لـري، شـاید لـه دې نورې هم سختې ورځې ولرو موږ باید ځان ورته چمتو کړو.**

**هغه یې ډاډه کړه نوره خپل اطاق ته لاړه ، له زړه یې یو خدای ج خبر ؤ، د خپلـې خور د نه خپګان لپاره یې د زړه درد پټ تېراؤه.**

**کله به چې ګوښه شوه پر مخ به یې لکه باران اوښکې راروانې وې تر هغو بـه جـاري وې، چې ګریوان به یې ښه لوند شو.**

**رڼا درې ورځې په کور کې وه، د مېرمنو فاتحې ته ناسته وه، پـه څلورمـه ورځ یـې حلیمه خور په څنګ کې کیناسته ورته ویې ویل:**

**خورې! یوه پوښتنه وکړم خفه کیږي خو نه؟**

**رڼا په حیراني سره ورته وکتل ویې ویل:**

**نه ولې خفه شم؟**

**حلیمه: ایا شاپور واده کړی؟**

**رڼا : ولې یې پوښتنه کوې ایا ته خو واده نه ورسره کوې؟**

**هغه مسکی شوه ورته ویې ویل: نه هغه خو زما ورور ده ماته خور وایي.**

**رڼا: ښه! نو د څه لپاره دې پوښتنه وکړه ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حليمې په تته ژبه وويل:**
**ايا تاته خو يې د کوژدې وړانديز نه دی کړی؟**
**رڼا: ماته چې د کوژدې وړانديز وکړي، خوله به يې پرې ماته کړم، زه چاته د دې جرئت نه ورکوم، چې داسې راته ووايي او نه زه د واده لپاره وخت لرم.**
**حليمه: خورې! ولې واده کول گناه ده؟**
**رڼا: نه**
**حليمه: نو ولې ددې ټکي په وړاندې دومره حساسه يې؟**
**رڼا: له واده وړاندې زما لومړيتوبونه خورا زيات دي، د هېواد دغه ويجاړ حالت مې ډېره ځوروي، دلته هر اړخيزه ګډوډي مې ډېره خفه کوي، کله چې په هېواد کې سم سمکی وګورم بيا به واده ته وخت ولرم کنه خدای ج خبر، چې واده وکړم. دوی لا خبرې کولې، چې رڼاته دې شاپور زنګ راغی ورته ويې ويل:**
**اغلې رڼا! يو شمير ژورنالستان دې دفتر ته راغلي، غواړي غمرازي درسره وکړي فاتحه درته کوي او تر څنګ پې شايد د خبري کانفرانس له لارې ستاسې نظر هم واوري، که مو مناسبه بلله ورشئ.**
**رڼا : زه تګ ته چمتو يم په دفتر کې دې منتظر شي، ټليفون يې پرې کړ، رڼا د دفتر په لور روانه شوه.**
**له رسيدو سره سم؛ اداري مدير د جلسو په خونه کې ورته خبري ناسته ترتيب کړې وه، هم مسلکو خبريالانو لومړی ورته د مور، خور او کوچني ورور دعا وکړه او وروسته يې د خبري ناستې لپاره د خبرو هيله ترې وکړه.**
**رڼا د مايکونو مخې ته کيناسته خبرې يې پيل کړې، ويې ويل:**
**په لومړي سر کې غواړم له خپلو هم مسلکو ورونو او خويندو، همدارنګه د ټول هېواد له وګړو مننه وکړم، چې زموږ غم يې خپل غم وباله او غمشريکي يې راسره وکړه**
**له ما د خپلې زړه سوانده مور، خور او نازولي ورور سيوری؛ ځکه ويجاړ کړل شو چې موږ د حق پلوی کوو، څوک نه پرېږدو، چې بيت مال ولوټي او يا يې د فساد په وړاندې چپ پاتې شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که د هېواد غله، لوټمار او فساد ګر غواړي زما د کورنۍ په وژنه زما غږ خپ کړي؛ خو دا خوب دې اوبو ته وواييي، تر څو چې زما په تن کې ساه ښکته او پورته کيږي او يا مې هم ژبه په خوله کې خوځښت کوي، زما هڅې به همدغسې روانې وي.**

**ددې هېواد د سمون، پرمختګ، د قانون حاکميت او ټولنيز عدالت لپاره مې مور، خور او ورور له لاسه ورکړل، زما سر دې هم ترې قربان شي.**

**زه وياړم چې د هېواد لپاره قرباني ورکوم، دغه هېواد زموږ قرباني ته اړتيا لري، ترڅو يې راتلونکی نسل په خوښي، مينې، قانونمندي او ټولنيز عدالت کې ژوند وکړي.**

**زما په وړاندې د زورواکو دغه کړنې د دوی زوال او خپل بريالی توب ګڼم، ما څوك په داسې کړنو له مبارزې نه شي جلا کولی؛ د هېواد د ښه راتلونکي لپاره هر راز قرباني ته چمتو يم.**

**ژورنالستانو يې خبرو ته څو وارې چکچکې وکړې.**

**د ځينو خو يې احساسات دومره راوپارول، چې له سترګو يې اوښکې روانې شوې.**

**رڼا وويل:**

**زما کړنې مې په خپلو هېوادوالو کوم احسان نه دې او نه غواړم دوی ته ځان د يوه ښه انسان په توګه ورڅرګند کړم، بلکې دا د دوی په ما حق دی او زه يې په ادا کولو کې له اوږو درونډ بار سپکووم.**

**ناسته خلاصه شوه؛ رڼا خپل دفتر ته لاړه چې کله دفتر ته دننه شوه، ګوري شاپور يې په دفتر کې سر په زنګنو ناست دی. رڼا غاړې تازه کړې شاپور هم سر له زنګنو راپورته کړ، رڼا ته يې وويل:**

**وبښه! غير نورمال ناست وم، کورته نه ځې؟**

**رڼا : نه په کور کې مې زړه تنګيږي، له کار سره راحته يم؛ خو ته ولې داسې انديښمن يې خير خو دی؟**

**شاپور :**

**تا خو له ماسره ژمنه کړې وه، چې زه درسره مرسته کوم.**

**رڼا: دې څه مرسته؟**

**شاپور: ويلې دې ؤ، چې د مليحې په ستونزه کې درسره ولاړه يم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا: نو ولې په ما باور نه لرې؟**
**شاپور: لرم يې خو!.**
**رڼا: نو خو په کوم ځای کې ده؟**
**شاپور: نن يې ټليفون کړی ؤ؛ ويل يې چې په يوه اونۍ کې ماته د واده لپاره ځان چمتو کړه، کنه په محکمه کې عاريضه درباندې کوم.**
**رڼا: خو واده ورسره وکړه، دې کې د خپګان څه دي؟**
**شاپور: ايا د هغو ثبوتونو په اوريدو سره بيا هم ستا خوښه ده، چې د يوې داسې نجلۍ سره واده وکړم، چې هغه واده يوازې دپيسو لپاره کوي؟ هغې د واده له پاکو اړيکو نه تجارت جوړ کړی، هغې ته خاوند ارزښت نه لري؟.**
**رڼا يې په خبرو مسکۍ شوه، ورته ويې ويل:**
**هسې ټوکه مې وکړه، موږ دلته يوځای نمک سره خوړلی، يو د بل همکار يو، د يوه مسلك غړي يو، که ته دا واده کوې هم، زه دې نه ورته پريږدم.**
**شاپور يې په خبره رينګی او تازه شو؛ دغسې د خواخوږۍ خبرې يې د رڼا له لوري پخوا نه وې اوريدلې، له ډېر اوږد وخته ورته په تمه ؤ، چې د رڼا پام خپل اړخ ته راواړوي.**
**نو د رڼا سره سترګې په سترګو شو ورته ويې ويل:**
**اوس څه وکړو؛ زه خو ګنګس يم، نه پوهېږم څه وکړم؟ دا د پښتو وطن او د مليحې دوکه او پست فکري ته حيران يم څه وکړم؟**
**رڼا: د ژوند اړيکه څه ټوکې نه وي شاپوره جانه! او نه په دې اړه کومه بې تفاوتي او شرم په کار ده؛ ځکه د واده اړيکه بيا دې ژوند ترپايه په مينه او وفادارۍ پالل کيږي؛ اوس هم سرې وخت دی زه ډاډه يم که د خلکو له شرمه دغه واده وکړې بيا به هم په طلاق او جدايي تماميږي؛ ځکه بنياد يې په دوکه ايښودل شوی، نو اوس هم ناوخته ندی، چې ددې بلا نه ځان خلاص کړې.**
**شاپور: له تاسره يې د حل لار شته؟**
**رڼا: ته ولې وراخطا يې؟ که اوس راسره نشته خو ورته پيدابه يې کړم، تاسره کړې ژمنه به تر سره کړم.**
**شاپور: اغلې رڼا! موږ کم وخت لرو، يوازې يوه اونۍ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا: له هغې بلا مه ډارېږه، چې په منځ کې يې يوه شپه وي، زه يو پلان ورته جوړوم، زه په دې ډاډه يم، چې ماديات پرست د ټينګې خلک نه دي، هغه د مادياتو لپاره، له هرڅه تېرېږي.**

**بيا يې په شاپور کې سترګې ونيوې ورته ويې ويل: ته اوس لاړ شه، له ما سره طرحه شته د شپې لخوا پرې کارکوم.**

**شاپور له چوکۍ پورته شو هيله مندې سترګې يې په رڼا کې ونيوې ورته ويې ويل: که دې زه له دې ستونزې خلاص کړم د ژوند تر پايه به دې احسان مند يم، رڼا غوښتل ورته ووايي: ځه بابا دومره خبره مه غځوه، خو د ټليفون شرنګهار يې فکر په بله کړ، شاپور هم ووت.**

**رڼا د ټليفون د شين بټن په وهلو سره بلې وويل.**

**ځواب يې تر لاسه کړ ايا تاسې رڼا ياست!؟**

**رڼا : هو! رڼا يم او تاسو؟**

**ورته وويل شول: زه د خوست ښاروال يم نږدې درې مياشتې کيږي، چې په دنده مې کار پيل کړی.**

**رڼا : خوښه شوم ښاروال صيب! چې غږ مې دې واوريده، له رسنيو اورم، چې تاسې هلته بې ساري خدمتونه پيل کړي ولس درنه راضي ده، هغه څه چې تاسې په دې دريو مياشتو کې تر سره کړي دي؛ تېر ښاروال په پنځو کلونو کې نه وو ترسره کړي. له طرحو، پلانونو او د هېواد سره دې له مينې او احساسه مالومات لرم، ستاسې په اړه مې اوريدلی، چې د جمعې په ورځ هم کار کوئ او دا مو هم له هېواد سره د بې کچې مينې ثبوت ده. زه درباندې وياړم**

**ښاروال:**

**خور جانې! دا خو ستاسې لورينه ده حسن نظرمو ده، زه اوس هم د ولس ځان ډېر پوروړی بولم، ما اوس هم په خپله دنده کې غفلت کړی؛ ځکه تر دې هم زموږ ويجاړ هېواد ډېر کار ته اړتيا لري.**

**اصلا خو رڼا خورې! ته دستايلو يې چې د هېواد دخدمت لپاره دې سر په تلي کې ايښی، د هر ظالم، هر فاسد او غدار د سترګو خار دې ځان جوړ کړی، هر ګواښ دې په ځان منلی خو باطل ته نه يې تسليم شوې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا: مننه ښاروال صیب!
خدای ج مو دې هغسې کړي لکه څنګه، چې ته وایې تر اوسه خو نه یو، ښه مهرباني وکړئ! څنګه مو ټلیفون کړی وو؟
ښاروال:
رڼا جانې! بوخته به هم یې، یوازې یوه مسله مې درسره شریکوله، که وخت لرئ!.
رڼا: مهربانې وکړئ ښاروال صیب!
په خوست کې ستاسو خبریال څه نومیږي؟
رڼا: خلیل منصف. ولې؟
ښاروال: خورجانې! زه لومړی ډاډه نه وم، چې دغه خبریال به ستاسې د شبکې وي خو اوس مې چې ستاسې له خولې واوریدل نو ډاډه شوم چې هغه له ستاسې سره کار کوي.
رڼا: څه ستونزه پېښه شوې؟
ښاروال:
تېره ورځ ښاروالی ته راغلی ؤ ماته یې وویل: چې ډېر ښه کارونه مو پیل کړي. ما ورته وویل:
مننه وروره! خو ستاسې رسنۍ له ماسره د کارونو په انعکاس کې مرسته کولی شئ، او له ماسره اړینه مرسته همدا ده.
په ځواب کې یې راته وویل:
زه مرسته کوم خو!.
ما ورته وویل: مننه! خو یې په کوم ځای کې ده؟
ویې ویل: حق الظهور او حق السکوت خو به راکوې.
ما ورته وویل:
جالب اصطلاحات دي، خو زه یې والله که په مانا پوهېږم.
ماته یې وویل: د ا څرنګه ښاروال یې، چې په دې اصطلاحاتو نه پوهیږې،؟
ما ورته وویل:
خو ته مې پرې پوه کړه. ویې ویل: له تا مخکې ښاروال خو ډیر ښه پوهیده، چې حق السکوت غړ به مو پرې وکړ سم دستي به یې جیب ته لاس کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما بيا ورته وويل: هيله لرم چې نيغ په نيغه موضوع ته راشې.
ويې ويل: که د کوم ښه کار کاؤه او موږ هغه ته د رسنۍ له لارې انعکاس ورکاؤه؛ نو په بدل کې باید موږ ته د حق الظهور بدله راکړې او که کوم ناسم کار دې کاؤه او په هغه موږ سکوت کاؤه او له برکته يې ستاسې پرده کيده؛ نو بيا هم حق لرو چې څه راکړې، دې ته بيا حق السکوت وايي.
رڼا :
نو اخېر تا څه ورته وويل:
ښاروال: ما ورته وويل:
زه ډېر افسوس کوم، چې ته د خبريالي سپيڅلې دنده ترسره کوې، خبريال خو د ولس ژبه وي، د ولس اواز وي او د ولس د درد درمان وي. د غلو، مفسدو او خاينانو د جرمونو په وړاندې لکه څراغ داسې وي؛ خو ته دې له دې پاک مسلک څه ډول ناسمه ګټنه کوې؟ ورته ومې ويل که په وس کې مې واى د پوهنتون د فراغت اسناد مې درته په عام محضر کې سوزول او ته مې ترې خلاصولې.
رڼا يې خبره ورپرې کړه، ورته ويې ويل:
ته د هغه په وړاندې کوم ثبوت لرې؟
ښاروال: هو
رڼا: څه ډول؟
ښاروال: زما د دفتر کمرې ټولې خبرې ويډيويي ثبت کړې دي.
رڼا: ته يې ماته په دې......ايمل راوليږه.
ښاروال: سمه ده په سترګو.
رڼا: ور ليږل شوې ويډيو وليده، کټ مټ هغه خبرې وې، چې ښاروال ورته کړې وې.
رڼا د ويډيو له ليدو وروسته سخته خفه شوه.
سم دستي يې ټلييفون راواخيست خليل منصف ته يې ټليفون وکړ، ورته ويې ويل: له کمرې او وسايلو سره يوځاى کابل ته راشه.
خليل منصف : خورې! خيرت خو به وي؟
رڼا: څه دې، چې واوريدل هغسې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور يې ټليفون پرې کړ، رڼا ته د دفتر ساحه تنګه شوه کمپيوټر يې بند کړ، دسکول يې راواخيست د دفتر ساتونکو ته يې وويل: زموږ يو خبريال له خوسته راځـي شـپه ورکړئ ورته ووايئ، چې سبا رڼا درسره خبرې کوي؛ زه اوس کورته ځم.

سبا سهار رڼا کار پيل کړ، له لنډ مهال وروسته يې خليل هم مخې ته ودريده، سـلام يې واچاؤ. رڼا ورته د کيناستو وويل. هغه هم د ميز پـه خـوا کـې پـه يـوه څـوکۍ کيناست سر يې ښکته اچولی ؤ، يوې ويرې يې په زړه منګولې خښې کړې وې؛ ډير بيړنی ؤ چې د راغوښتو په لامل پوه شي. سپيره مخ يې رڼـا تـه ور واړاؤ، ورتـه يـې ويل: اغلې رئيسې صيب! پوښتلی شم، چې زه مو ولې دلته راغوښتی وم؟

رڼا مسکی شوه ورته ويې ويل: ستا د ښه کار کردګي له امله دې تاد تقدير اراده لرو.

خليل: وغوړيده، رينکی شو بيا يې رڼا ته په هيله مند نظر وکتل ورته ويې ويل:

بيا نو داکمرې او وسائل مو ولې راباندې راوړل؟

رڼا په زړه کې وويل: د غله په غره کې هم ځای نه کيږي، د خپلو کړنو تصوير خـو يې له سترګو نه ورک کيږي.

رڼـــــا : ولايـــــــت کـــــــې څـــــــه حـــــال دی؟

خليل : کراري ده.

رڼا: له خپلې دندې سره څرنګه يې.

خليل: ښه يم اغلې! زموږ او ستاسې دنده خو ډيره سپيڅلې ده، بايد د زړه لـه تلـه يې ترسره کړو او خپل مسلک ته بايد ژمن واوسو.

رڼا: که په خپل دې سپيڅلي مسلک کې څوک خيانت وکړي بيا؟

خليل: بيا نو ګنهګار دی، داسې ګناهګار چې د مسلک له مخې نه ښښل کيږي.

رڼا: نو ته ولې خيانت کوې او له دې سپيڅلې دندې ناسمه ګټه پورته کوې؟

خليل: اغلې رئيسې صيب! زه خپل مسلک ته ژمن يم په ايمانداري خپله دنده سرته رسوم، لاړه شه زما ولايت کې پوښتنه وکړه، که چا يوه ويښته خيانت راباندې ثبوت کړ نو بيا زه ملامت يم.

رڼا: ښه! ته ډاډه يې؟

خليل: هو

رڼا: ته حق سکوت په کوم قانون اخلې، حق الظهور په کوم دليل اخلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خلیل: رئیسې صیب! دا تور دی.**
**زما ربنتینولي خلك نشي زغملی، دا یوه توطیه ده.**
**رڼا: شرم دی چې ته هم د ربنتینولي خبرې کوې او زه خجالت باسم، چې یـو هـم مسلکه مې داسې گورم؛ د خپل کمپیوټر سکرین یې ورواړاؤ ویـډیو یـې ورتـه پلـې کړه، دې ده او د ښارول بحث پکې پیل شو، خلیل یې په لیدو لکه خورا کمخونـه انسان زیړ زبیښلی وتښتید.**
**رڼا ورته وویل:**
**ته څه فکر کوې، چې زه به مې په خپل ژورنالست له ثبوته پرته تور ولگوم او یـا بـه یې له ثبوته پرته راغواړم او له دندې یې گوښه کوم، نه هیڅکله نه.**
**خلیل: اغلې رئیسې! یوه تېروتنه رانه شوې په دومره وړه تېروتنه دومره لویه سـزا مـه راکوه!.**
**رڼا: امممم دا وړه تېروتنه ده، چې د خپل مسلك په زور له خلکو باج اخلې؟ ستا غوندې خلك د خبریالي په سپینه لمن باندې تور داغ دي او د هر پاك ژورنالسـت رنگه همدا ستاسو بې ویجدانـه بـدوی، د هغـوی بـاور لـه منځـه وړی، کـه دوکـه کوئ،بـل ځـای ورتـه وگـورئ دغـه بـاوري مقـدس مسـلك ولـې بـدناموئ.**
**خلیل: خورې! ته چې څه وایې هغه ټول سم دي، خو یوه موقع راکړه، وړه خیـل خانه راله غاړې ده، یوازې ماته یې هیله ده، زه ژمنه درسره کوم، چې بیا به داسـې څه نه تکرارېږي.**
**رڼا: ایا تاسې ته هغه معاش کفایت نه کوي، چې موږ یې درکوو؟**
**خلیل: کفایت یې کاؤه؛ خو بس خدای ج چې سړی ووهي بیا همداسې کوي.**
**رڼا: گوره خلیله! ددې ویډیو له مخې مالومېږي، چې تا له دې مخکې ښاروالانو هم دا ډول باج اخیستی ته نور موږ ته د باور وړ سړی نه یې.**
**خلیل له خپله ځایه پاڅیده، هڅه یې وکړه د رڼا پښو ته ځان واچـوي او لـه کـړې پرېکړې یې تېره کړي؛ خو هغې یې ددې کار مخه ونیوله. خلیل ته یې وویل:**
**زه تا نشم ښبلی، ستا خیانت ښبل زما د وس خبره نده؛ خو سـتا د وړو بچیـانو لپـاره دلته په تلویزون کې دنده درکوم؛ پام دې وي چې خلورویشت ساعته زما د نظـارت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې يې او بل ځل نه يوازې، چې له دندې دې ګوښه کوم بلکې خـارونوالي تـه دې هم ورپېژنم.

دوباره دې بيا په بچيانو هم زړه نه سوځوم.

د خليل زړه درزا کمه کړه، تښتېدلي رنګ ته يې وينه ورغله او د لاس په نامه دريدو سره يې د تکرار د نه پيښيدو په عاجزه خوله وويل؛ نور ترې بهر ووت.

د خليل له وتو سره يې ټليفون وشرنګيده، ګورې چې شاپور زنګ وهلی؛ رڼا اوکـې کړ د شاپورخبرو ته غوږ شوه. هغه ورته وويل:

ايا زما په مسله  کې خو دې ژمنه له ياده نه ده وتلې؟

رڼا : نه! زما ژمنه، ژمنه وي په ياد مې دی ،همدا اوس مې غوښتل، چې دې خپلې ژمنې دپوره کولو دپاره  خپله طرحه دې پوه کړم او زنګ درته ووهم؛ .

شاپور : ښه! زه غوږ يم.

رڼا : زه مليحه راغواړم او د پنځوس زور ډالرو د ورکړې  خبره ورته کوم ورته وايـم، چې نه محکمه او نه کوم بل اقدام به کوې بس دا واخله، او نور خپه چوپه لاړه شه؛ له دې اړيکې تېره شه، نو که انکار يې وکړ بيا يو بل چانس هم ورکو؛ ځکه چې موږ ته به دا هم ثابته کړي، چې هغه دا اړيکه د پيسو  لپاره نه ټينګـوي، هـدف يـې لـه تاسره ښه ژوند تېرول دي او که يې واخيستې نو د هغې جـدايې درنـه پـه همـدې قيمار ارزي.

شاپور :

هغه د بل چانس مېرمن نده؛ د خدای ج لپاره ما ترې خلاص کړه او خپله ژمنه پوره کړه؛ ځکه هغه ما بار بار تللې، هيله کوم يو لک ورکړه خو دا لانجه خلاصه کړه.

رڼا:

زه اوس زنګ ورته وهم او څه مې، چې وويل يوازې هماغه کولی شم بس.

له شاپوره يې اړيکه پرې کړه؛ سم دستي يې مليحې ته زنګ وکړ ورته ويې ويل:

که زحمت نه کېږي يو ځل زما تر دفتره راشه!.

هغې ځواب ورکړ: خير خو به وي؟

رڼا : خير دی، زه درته منتظره يم، هغې د سمه ده په ويلو تليفون پرې کړه او لنـډ مهال وروسته د رڼا په دفتر ورننه وته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی دواړو مخامخ خبرې پیل کړې.

رڼا ورته وویل:

زه په یوه مهمه موضوع باندې درسره خبرې کوم؛ خو شرط به دا وي، چې د تېر په څېر غلطیانې تکرار نه کړې. لکه څرنګه چې د یوه لوستي انسان سره ښایي هماغسې خبرې راسره وکړه، زه د تهمتونو او بې ځایه خبرو په وړاندې حوصله نه لرم.

هغې په دې خاطر، چې د موضوع اوریدو ته ډېره لیواله وه د سمه ده په دود سر وخوځاؤ.

رڼا ورته وویل:

ملیحې واده د دوه جوړو د توافق، مینې او یو له بل سره د خوښ ژوند په نیت تـر سره کېږي کنه؟

ملیحه: هو بالکل!

رڼا: او که د زړونو تر منځ فاصله وي، کرکه وي، باور له منځه تللی وي، بیا خو فکـر کوم له دې واده نه، نه واده ښه دی.

ملیحه: خبرې دې ټولې سمې دي؛ خو په څه پورې دې یادې کړې؟

رڼا: ګوره خورې! ستا او شاپور ترمنځ اوس فضا داسې ده، چې یو بل ته نشی نږدې کیدای هغه یا دحقیقت او یا هم د سو تفاهم له امله درباندې باور له لاسه ورکړی.

ملیحه: خلاصه راته ووایه اغلې رڼا!.

رڼا: زه دواړو ته دا ښه ګڼم، چې یو له بله جدا شئ او په خپله خوښه ځان ته د ژوند ملګری وټاکئ؛ ځکه اوس هم سرې وخت دی.

ملیحه: زه هغه په داسې اسانې نه پرېږدم، خلک به څه وایي، زه به خپلو خپلوانو ته څه ځواب وایم، خپلې کورنی ته به څه مخ تورم.

رڼا: زه درته یو وړاندیز لرم.

ملیحه: دڅه شي وړاندیز؟

رڼا: له شاپوره پنځوس زره ډالر درته اخلم، له شاپوره تېره شـه او خپـل ژونـد پـرې جوړ کړه. له دې خبرې سره د ملیحې زړه په ټوپونو شو، ورته ویې ویل:

څه ضمانت دی، چې هغه دومره پیسې ماته راکوي؟

رڼا: ضمانت یې زه کوم، ته به دلته ناسته یې ستا اکونټ ته به پیسې جمعه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ملیحه: زه به ستا په وړاندیز غور وکړم او سبا به راشم.**
**رڼا: نه همدا اوس یې وخت دی، بهر ووځه او له کورنۍ سره مشوره وکړه، زما د خبرې ارمان به وکړې. شاپور ستا په وړاندې د خیانت ثبوتونه لري، ثبت شوی غږ لري او په محکمه کې به هم هیڅ لاسته رانه وړې او په دې خو ته له مانه ښه پوهیږې.**
**ته پوهیږې چې شاپور ولې تیار دی، چې تاته پیسې درکړي؛ ځکه چې هغه نه غواړي خبره لویه شي، خلك خبر شي او نندراه جوړه شي.**
**ملیحه: زه بهر وځم.**
**رڼا: ته تلی شې، خو ځنډ ونه کړې.**
**ملیحه ووتله، له کور سره د اړیکو نه وروسته بیرته راننه وتله، رڼا ته یې وویل:**
**زه د اړیکو پریکون ته چمتو یم، چې شاپور غواړي زه سل ځله غواړم اړیکه پرې کړم؛ خو ماته به نیم جایداد راکوي، همدا مې شرط دی کنه، نه یې منم.**
**رڼا ورته له غوصې نری مسکا وکړه، بیا یې وویل: اغلې ملیحې! هغه پوهنتون دې ګډ شي، چې ته ترې فارغه شوې یې او حقوق دې ویلي، تا او شاپور تر اوسه رسمي واده نه دی کړی، چې ته په هغه دعوه وکړې او نیمایي حق ترې وغواړې، یوازې کوژده مو کړې او هغه هم کوم رسمي سند نه لري.**
**ما چې څه درته وویل دا به دې په ګټه وي او که شاپور در سره مقابله پیل کړه؛ نو شاید هر څه وبایلې او تش لاس کورته لاړه شې؛ ځکه هغه ستا د خیانتونو اسناد لري او که هغه محکمه واوري نو ته شاید نه یوازې خپل خاوند له لاسه ورکړې، بلکې د هغو پیسو په ورکړه به هم مکلفه شې چې د هغه له اکونټه مو غلا کړې دي او ان کېدای شي بندي هم شې.**
**ملیحه د رڼا په خبرو وارخطا شوه او فکر یې وکړ په ریښتیا هر څه بایلي نو رڼا ته یې وویل:**
**ستاخبره منم زه خبره نوره نه اوږدوم؛ خو ماته وخت راکړه یوازې دوه ورځې.**
**رڼا ورته د هو په دود سر وخوځاوۀ او ملیحه یې رخصت کړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريمه ورځ هم راورسيده، مليحه د رڼا دفتر ته راغله دا ځل يې نفس د پخوا په څير نه ؤ، لږ وړوکی شوی وو رڼا ته يې ويل:

زه چمتو يم، چې له شاپور سره اړيکه پرې کړم.

رڼا : بانکي اکاونټ دې راکړه، چې زموږ مالي مسؤل پيسې درته جمعه کړي. هغې د بانګ اکاونټ ورته له دسکوله راوباسه او لږ شيبه وروسته يې له بانک نه مسبج تر لاسه کړ، چې حق يې په لاس ورغی، له مسج سره مليحه پورته شوه، تر څو د تګ لپاره ځان چمتو کړي په ولاړې يې رڼا ته وويل:

زه يوه پوښتنه درنه کولی شم؟

رڼا : ولې نه مهرباني وکړئ؟

مليحه :شاپور سم د سرو زرو چرګ دی، چې درز ورکړې طلا تويوي.

زه له اوله پوهيدم چې تا ولې د شاپور سره د نيږدې کيدو دلچسپي لرله

رڼا: ته په څه پوهيدې؟

مليحه: بس تا وګټله او ما وبايلله

رڼا: مطلب؟

مليحه: ځان دې ناګاره مه اچوه ستا په چلونو زه ښه پوهېږم.

رڼا: د څه شي چل، ته څه وايې؟

مليحه: د شاپور زړه دې په لاس راوړ ستا په سر يې ما غوندې ښکلې نجلۍ پريښوده، تا واک ترې خپل کړی، د هغه روپۍ دي بادوې يې.

رڼا: ګوره خورې! زه او شاپور يوازې د يوه رسنيز دفتر ګډ همکاران يو او بس، کوم څه چې ته فکر کوې داسې څه نشته، تا تېر ځل هم همداسې تېروتنه وکړه او زما عصاب دې راخراب کړل نږدې ؤ، چې د خون ښتنه کړې دې وم.

څه اوس لاړه شه هسې نه، چې نوره مې احساساتې کړې او کومه پېښه رامنځته شي.

هغې خپل تېر ياد سترګو ته ودريده، چې د رڼا په ويشتو کوما ته تللې وه؛ نو پرته له څه ويلو روانه شوه.

رڼا غږ پسې وکړ، خپل مال خو دې تر لاسه کړ ايا ماته ثبوت نه راکوې، چې سبا بيا ستونزه پيدا نشي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ملیحـــــــــــه: د څـــــــــــه شي ثبـــــــــــوت؟**

**رڼا کمره راواخیسته او هغې ته مخامخ یې ونیوله ورته ویې ویل دلته وواېه، چــې زه په سالم عقل او په خپله خوښه غواړم د کوژدن اړیکه له شاپور سره له مینځـه یوسـم او د دې کار په بدل کې یې ماته پنځوس زره ډالر راکړل.**

**هغې همداسې ووېل او رڼا ترې ویډیو وکړه.**

**نوره یې هغې ته اجازه ورکړه او پر خپل مخ لاړه.**

**د ملیحې له وتو سره یې شاپور ته زنګ وکړ، ورته ویې ویل:**

**زما دفتر ته راشه، هغه هم لنډ مهال وروسته دفتر ته ورسېده.**

**رڼا ورته ووېل:**

**رڼا هغه څوک ده، چې خپلې ژمنې تر سره کوي؛ نن مې اوږې سپکې شوې؛ ځکه چې له تاسره کړې ژمنه مې ترسره کړه.**

**د پیسو د ورکړې په وخت کې مې ویډیوي ثبوت هم ترې واخیست؛ خپله کمره یې ورته راوښکله او د هغې اقرار یې ورته وښود.**

**شاپور:**

**ډېره مننه رڼا جانې! ماته دې لوی کار وکړ، زه دې د ټول ژوند لپاره احسانمند کړم، زه به دې دغه پور څرنګه ادا کړای شم؟**

**رڼا : دومره لوی کار مې نده کړی، چې ته فکر کوې، یو عادي څـه ؤ چــې تـرسره مې کړل**

**شاپور:**

**اوس کار نیمګړی مه پرېږده اغلې رڼا:**

**رڼا : نور څه وکړم درته اغلی جناب!؟**

**شاپور: تا خو زه یوازې کړم.**

**رڼا په کټ، کټ وخندل ورته ویې ویل:**

**خو تا غوښتل، چې ځان جدا کړې، دا خو ستا غوښتنه وه.**

**شاپور: نه موخه مې دا وه، چې اوس یوازیتوب شو او د یوازیتوب ژوند سخت وي.**

**رڼا: څه سخت وي ولې دا زه یې چې تېروم.**

**شاپور: ته خو ته یې، ستا غوندې خو هر څوک نشي کیدای.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا: ښه! ډېر توصف مې مه کوه، ووايه دوهم کار څه درته وکړم؟**
**شاپور: ژوند مې تکمل کړه.**
**رڼا: ته هم سړی تر کوره څغلوې، زه نور څه درته نشم کولی، خپل ژوند دې دی او خپل کار.**
**زه نوره ځم، چې سخته ستړې شوې یم. رڼا له خپل ځایه پورته شوه، چې تر وره ورسیده شاپور ته یې وویل:**
**ښاغلی شاپوره! تر اوسه زه نه پوهېږم، چې زه څومره معاش لرم، څومره مې ستا روپۍ لګولې دي او همدارنګه د کور د ستونزو د حل په موخه که دې یوې میاشتې معاش راکړئ نو بده به نه وي.**
**شاپور له جیبه دې بانګ کتابچه راوباسله په سپینه ورقه کې یې لاسلیک وکړ رڼا ته یې په ګوتو کې ونیو ورته ویې ویل:**
**دې ورقې په سپین ځای کې دې چې څومره روفۍ په کار وي ولیکه بانګ ته یې ویسه او وایې خله .**
**رڼا : زما له بانکې چیک سره کار نه شته او نه مې خوښیږي، چې وړیا پیسې واخلم ، څومره مې چې حق وي هغه راکړه.**
**شاپور: جیب ته لاس کړ یولک افغانۍ یې راوباسلې، رڼا ته یې وویل:**
**دا دې د یوې میاشتې معاش دی.**
**که کم وي او ستونزې دې نه پرې حل کېږي نو ویلی شې، چې نور یې هم درته لوړ کړم؟**
**رڼا: ته که ډېرې پیسې لرې غریبانو ته یې ورکړه، چې دعا درته وکړي، ماته مې له کاره ډېرې پیسې مه راکوه!. دا پنځوس زره بیرته واخله، زه چې څومره کار کوم دغه پیسې، چې وا مې خیستې هم پرې ډېرې دي.**
**پیسې یې په دسکول کې کېښودې، نور یې حرکت وکړ. شاپور غږ پسې وکړ، حلیمه خور دې په کور کې یوازې پریښې ده؟**
**رڼا: هو ولې دې داسې پوښتنه وکړه؟**
**شاپور: یانې ستونزمنه ده، چې هغه تل په کور کې یوازې واوسي، سبا یې دفتر ته درسره راوله، ساعت به یې هم تېر شي پام به یې هم په بله شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا يې دغه کار خوښ کړ او د خواخوږي منته يې ترې کړه، ورته ويې ويل:
منته شاپور جانه! تا خو د پېژندګلوي له پيله زموږ سره خواخوږي ښکاره کړې ده، په هره ستونزه کې راسره يې دغه کار زما هم خوښ شو حليمې ستر غم ليدلی ښه نظر دې راکړ، سبا يې دلته له ځان سره راولم .

رڼا کورته لاړه، دروازې ته په داخليدو سره يې خور حليمه جارو په لاس په انګړ کې ولاړه وه، د حويلۍ د جارو کولو نېت يې درلوده. رڼا خپلې کشرې حليمې خور ته غاړه ورکړه بيا يې ترې وغوښتل، چې يو ښه تريخ چای ورته دم کړي، هغې لږ وروسته د څو چاکليټو سره د شين چای پياله د رڼا په مخ کې کېښود. حليمه يې هم په خوا کې کېناسته؛ رڼا د هغې په اوږه لاس واړاؤ، ورته ويې ويل خورجانې! هيڅ د يوازيتوب احساس ونه کړې زه درسره يم، اوس دې زه مور، پلار، ورور او هر څه يم.

حليمه يې په خبرو مسکۍ شوه رڼا ته يې وويل:
همدومره مې زړه دربانديې ډاډه دی، ته مې هرڅه يې او له تا پرته به ځان ډېر يوازې راته احساس شي.

رڼا : زه هيڅکله تا يوازې نه پريږدم.

حليمه: خو ته به واده نه کوې؟

رڼا: نه زه واده نه کوم.

حليمه: ولې دا ښکلې ځواني همداسې زړوې؟

رڼا: نه همداسې يې نه زړوم، د خلکو په خدمت کې يې زړوم.

حليمه: ايا هغه مېرمنې، چې واده کوي، هغه بيا خدمت نشي کولی؟

رڼا: کولی يې شي، خو لومړی تا ودوم بيا به ګورو.

حليمه: خورې! په کور کې ډېره تنګ شوې يم .

رڼا: سبا دې دفتر ته ولم هلته به دې ساعت هم تېر وي او که هغه ځای دې خوښ شوه بيا دې هره ورځ له ځان سره ولم.

حليمه: خورې! ښکلی کار به وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا: شاپور ته دې خدای ج خير ورکړي، دا نظريه خو هغه راکړه، کنه زه دې دلته يوازيتوب ته ډيره ځوريدم؛مکتبونه هم رخصت دي نه پوهيدم چې څه درسره وکړم.

حليمه: شاپور ورور مې ډير ښه سړی دی.

رڼا: هو بد نه دی.

حليمه: ايله همدومره؟

رڼا: ولې شهزاده ورته ووايم، د سلامي سلوټ ورته وکړم؟

حليمه: مسکی شوه، رڼا ته يې وويل:

شاپور له مورې سره ډير ښه کړي، لکه زموږ د کور غړی چې وي، زموږ غم يې خپل غم بللی، څرنګه يې په روغتون کې ستا پالنه وکړه، د مور او خور د خيرات او سقاط ټول لګښت يې له خپله جيبه وکړ، د احسان اړولو لپاره يې هم دوباره خبره ياده نه کړه، چې ما دا خير در رسولی.

رڼا: هو له هغو نېکيو يې سترګې نشو پټولی؛ خو پرون ما هم داسې يو کار ورته تر سره کړ، چې له ده يې لاره ورکه کړې وه.

حليمه: دا نو څه ډول کار وو، چې له ده يې لار ورکه کړې وه؟

رڼا: بس په يوې غلې اوښتی وو او ما ترې خلاص کړ.

حليمه: زه پوه نشوم.

رڼا: خورې! يوې انجلۍ ددې لپاره ورسره کوژده کړې وه، چې دده په مال او دولت باندې ولکه ولګوي، شاپور هم ډير وروسته پرې پوه شوی وو. يوه ورځ يې له ما نه مرسته وغوښته او ما هم ژمنه ورسره وکړه، بس د تل لپاره مې ترې خلاص کړ.

حليمه: توبه خدايه که نړۍ له ښو خلکو ډکه ده، له بدو هم خالي نده.

بيا خو دې د شاپور زړه ګټلی دی.

رڼا: څه، څه خپله څپيړه يې پورته کړه، حليمې ته يې وويل:

ته په دې وختو کې ته ډيره سپين سترګې شوې يې، که بيا دې داسې بې ادبي وکړه، مخ دې درته پړسوم.

حليمې د تسليمي غبرګ لاسونه پورته کړل په خندا، خندا کې يې وويل:

خورې! خورې! ومې نه وهې، بيا مې دې توبه وي، داسې نه وايم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د خويندو تر منځ ټوکې تر هغو روانې وې، چې د دواړو سترګې له خوبه سره ورغلې تر سهاره په ژور خو ب ويدې وې چې خوب يې پوره شو راپاڅيدې .**

**له لمانځه او چاى څښلو وروسته دواړه تر دفتره ورسيدې.**

**رڼا او خور يې حليمه په دفتر کې کيناستې، لا سمې دمه شوې نه وې، چې شاپور هم د دروازې په ټک ټک له دوى د داخليدو اجازه وغوښته!. شاپور، رڼا ته وويل: ډير ښه دې وکړل، چې حليمه خور دې راوسته دلته به لږ ارامه شي ساعت به يې تېر شي، خوارکۍ ډېر غمونه وليدل؛ مننه! چې زما خبره دې ومنله**

**رڼا يې په خبره مسکۍ شوه، شاپورته يې وويل:**

**کله، کله خو دې خبرې د منلو وړ وي. شاپور يې په خبره احساساتي شو له ځان سره يې ورو وويل: کاش زما داخبره هم ومنې، چې زه مينه درسره لرم.**

**رڼا يې دا خبره وانه وريده؛ خو احساس يې کړه چې شاپور څه وويل. له هغه يې پوښتنه وکړه شاپوره! تا څه وويل؟**

**شاپور: نه هسې څه مې ندي ويلي.**

**په دې وخت کې د دروازې ساتونکى راغى رڼا ته يې وويل:**

**د جلسې په خونه کې خبريالان درته له پخوا په انتظار دي، که خلاصه شوې ياست ورشئ!. رڼا تندى وواهه ويې ويل:**

**اه دا خلك خو زما له ياده وتلي ؤ، له خونې د وتو په وخت کې يې شاپور ته وويل: زه لاړم تاسې حليمې ته چاى راوغواړئ، زه هم په يوه ساعت کې راخلاصېږم، رڼا لاړه او حليمه له شاپور سره د رڼا په دفتر کې پاتې شوه.**

**شاپور حليمې ته چاى راوغوښت، پيالې ډکې شوې. شاپور، حليمې ته مخ وروااړاؤ ،ويې ويل:**

**ستاسې دلته راغوښتل زما طرحه وه.**

**حليمه: هو رڼا خور مې راته وويل، تا خو له مورې سره د کورنۍ د غړي په صفت په ستونزو کې ونډه اخيستې، مورې مو نيکي نه هيرؤ، زمونږ ځومره خپلوان دي، ټولو د ستونزو پر مهال له مورې تېښته کړې، لرې رانه اوسېدلي؛ خو ته وې چې زمونږ ستونزې دې خپلې ستونزې ګڼلې او تل راسره د سيوري په ډول مل يې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاپور: نه خورې! ما هيڅ هم ندي کړي زه دې دومره توصيف وړ نـه يـم، دا چـې تاسې زما کوچنۍ مرستې دومره لوی ګڼئ دا ستاسې لويي ده.

حليمه: نه شاپوره وروره! ستاسې مرستې زموږ په زړونو کې د کاڼي کرښې دي او مـا خو په هغه روغتون کې ژمنه درسره وکړه، چې د رڼا د بستر په څنګ کې ولاړ ؤ، که زما وينه مو هم په کار شي نو ژمنه کوم نه يې دريغوم.

شاپور: خورې! هيله کوم نور په دې اړه خبرې نه کو، ما څه نه دي کړي.

حليمه: ښه دا خبرې به پرېږدو زما يوې پوښتنې ته ځواب راکوې؟

شاپور: هو ولې نه!

حليمه: کله چې رڼا په روغتون کې بستر او په کوما کې وه زه درغلم ته د رڼا د بستر په خوا کې ناست وې د رڼا لاس دې په خپل لاس کې نيولی او سر دې له پاسه پرې ايښی ؤ.

کله چې زما په راتګ پوه شوې او زما د پښو ترپا دې واوريده، سر دې راپورته کـړ ماته دې وکتل سترګې دې له اوښکو ډکې وې، نو ايا زه په دې راز پوهيدلی شم؟

شاپور: هسې خورې! کومه خبره نشته.

حليمه: شاپوره وروره! ماته خو دې خور وويل، ته له خپلې خوره کوم څه پټوې؟

شاپور: نه، نه

حليمه: نو ووايه کنه

شاپور: نو څه ګټه به ورسوې؟

حليمه: ولې؟

شاپور: بس هسې

حليمه: يانې چې ستاسې او د رڼا خور تر منځ يـوازې د دفـتر د کـارکونکو پـه ډول خواخوږي ده او بس؟

شاپور: نه

حليمه: نو څه دي؟

شاپور: خورې! رڼا مې ډيره خوښېږي، د دې نړۍ تر ټولو ښه انسان دی، د فرښتې په څېر زړه لري، لومړنی انسان دی، چې له ظاهر نه يې باطن ښکلی دی، لـومړنۍ مېرمن ده، چې له ځانه د هغې په وړتيا سپيڅلي احسـاس او هېـوادنۍ مينـې ډېـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**باورلرم. که ظاهراً هغه د ښکلا یوه بیلګه ده د هغې غیاب هم له ظاهر لا ښه دی. زه د رڼا په څېره دومره نه یم مین لکه د هغې په فکر، د هغې په احساس د هغې په پاک زړه، چې مین یم.**

**حلیمه: نو ایا کله دې هم خپل احساس ورته څرګند کړی دی؟**

**شاپور: نه**

**حلیمه: ولې؟**

**شاپور: هغه مینې کولو ته وخت نه لري، هغه د خپل ژوند د جوړولو لپاره فکر هم نه کوي. د هغې ټوله مینه له خپل هېواد سره ده، د خپل ولس سره دومره خواخــوږي لري، چې ځان یې هېر کړی، د ځان په کیسه کې هم نه ده.**

**هغه د ولس د ښېرازۍ لپاره هرې قرباني ته چمتو ده؛ ته ددې شاهده یې، چې څو وارې یې د خپل ولس لپاره ځان د مرګ خولې ته ورکړ؛ خو خدای ج یې دانــه نــه وه ختمه کړې. په هېواد کې د ټولنیز عدالت لپاره یې خپله مور، خــور او ورور لــه لاسه ورکړل او دا درانه غمونه په پټه خوله زغمي.**

**د خلکو په مخ کې داسې تمثیل کوي چې غمونــو او د کــورنۍ دغــړو پــه لــه لاســه ورکولو دومره نده کمځواکه شوې ،خو چې یوازې شي ،په چیغو او بدو ورځو یې د هوا مارغان ژاړي**

**هغه بله ورځ په خپل دفتر کې یوازې وه، له امنیتي کمرې مې لیدله لکه د باران پــه شان یې اوښکې له سترګو تلې، داسې کلیمات یې له ځان سره ورو، ورو تکــرارول، چې د تېرې زړه یې هم نرماوه.**

**ویل یې: و زما خوږې مورکۍ! څرنګه یې دیدنه رانه لاړې، څرنګه په ناروغتیــا کــې دې کډه رانه وکړه او د تورو خاورو میلمنه شوې، څرنګــه یــې ټوټــه، ټوټــه راتولــه کړې، څرنګه له خدای پاماني پرته رانه لاړې. و زما کوچنۍ وروره! زما نازولیه وروره! تا خو دردونه نشو زغملی، تا خو به یخ شمال ته هم ژړل دا ټپي، ټپي وجود به دې څرنګه زغملی وي.**

**خپل دوسمال یې ټول په اوښکو لوند شو، بیا به یې یوه او بل طرف ته وکتل، چــې څوک یې دا کمزوري ونه ګوري، له ځان سره به په خبرو راغلــه، زمــا ارمــان جنــې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



موري تاسې خو زما لپاره ځانونه سپر کړل، زما د وژل کېدو په بدل کې مو خپل ژوند حق ته وسپاره، زه به څرنګه ځان وبښم.

کله، کله به یې داسې الفاظ هم کارول، چې که د اسمان مرغانو اوریدی هغوی به هم ورسره اوښکې تویولې.

له دې خبرو وروسته شاپور له ځمکې سره ګنډلی سترګې راپورته کړ؛ د حلیمې په لور یې په لمدو سترګو ور وکتل.

د هغې هم په مخ شل ځایه اوښکې راروانې وې، شاپور ورته وویل:

رښا مینه نه کوي او نه وخت ورته لري.

حلیمه: دا رښتیادي، چې ځینې کارونه له انسانانو د بوختیاوو اوپېښو له کبله هېر وي؛ خو که ور یاد کړل شي بیا یې تیت او فرق فکر راټولیږي او اقدام ته چمتو کیږي.

شاپور: رښا دومره اغیزناك ستوری لري، چې سل زړونه هم یو کړم ددې جرئت نه لرم، چې هغې ته دې دا ډول یادښت جوګه شي.

د هغې مخ ته په کتو له سړي هر څه هیر شي.

حلیمې خورې! تا هغه ژمنه په یاد ده؟

حلیمه: کومه ژمنه؟

شاپور: چې راته و دې ویل: که زما وینه دې هم په کار وي، نه یې درنه دریغوم.

حلیمه: هو په یاد مې ده.

شاپور: وینه دې خدای وساته؛ خو د رښا په لاسته راړولو کې مرسته راسره وکړه.

زه له هغې پرته ژوند نشم تېرولی.

حلیمه: رښا که د اوسپنې څپلۍ هم زړې کړي له تا ښه انسان نشي ـ پیدا کولی، زه درسره ژمنه کوم، چې رښا به ستا کور رڼا کوي، هغه ستا لپاره جوړه شوې ده. ستاسې مزاج خواخوږي، احساس او هر څه یو ډول دي.

خو اوس ته پوهیږې، چې موږ سخت غم ځپلي یو؛ لږ څه وخت ته اړتیا ده، چې دې خبرې ته زمینه برابره شي، که بې وخته یې یاده کړو، کیدای شي هر څه رانه خراب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور : سمه ده زه یې هم اوس مناسبه نه بولم، زه د رڼا لپاره کلونه، کلونه هم انتظار کولای شم. زه په دې هم ویاړم، چې رڼا زموږ په دفتر کې کار کوي، زه په غیاب کې د هغې په نوم مېین وم، د هغې په کړنو مېین ؤم؛ خو کله چې تصادفاً ورسره مخ شوم هغه زما د ژوند تر ټولو ښه پیل ؤ. زه په رڼا ډېر باور لرم، له ځانه هم ډېر پرې ډاډه یم؛ ځکه خو مې خپل ریاست هغې ته پرېښود. هغه له ما په کار ښه پوهېږي، له ما خپل مسلک ته ډېره ژمنه ده.**

**حلیمه: شاپور وروره! یوه پوښتنه وکړم؟**

**شاپور: ولې نه، ویې کړه.**

**ایا تا خو ریاست رڼا ته د هغې د جلبولو لپاره ندی ورکړی؟**

**شاپور وخندل بیا یې وویل:**

**نه ما دا کار د هغې د پاملرنې خپلولو لپاره نده کړی؛ ځکه چې زه هغه پېژنم، د هغې فکر په داسې شیانو نه جلبېږي، چې هغې ته ارزښت نه لري، هغه ما مجبوره کړې، چې ریاست وکړي، کنه د هغې اسرار ؤ، چې خبریالي وکړي، هغه له خبریالي سره دومره مینه لري، چې اوس هم کله، کله خپله دې راپور جوړولو پسې ځي او په ما یې دا شرط ایښی ؤ، چې له ریاست سره به خبریالي هم کوي.**

**د رڼا مې دا ځانګړتیا ډېره خوښېږي، چې مادیات یې د ارزښتونو لپاره له پښولاندې کړي دي.**

**څه وخت وړاندې مې د هغې معاش یو لک افغانۍ کړ، خو هغې پنځوس زره تې واخیستې او نورې یې بېرته راستنې کړې.**

**ماته یې وویل:**

**زما له کاره چې ترسره کوم یې، دغه پنځوس زره هم ډېرې دي.**

**دوی خبرې کولې، چې رڼا هم راښکاره شوه دفتر ته راننه وته، حلیمې ته یې وویل: هله خورې! یوه پیاله چای ماته هم واچوه ستړې شوم، هغې چای ورته واچاؤ او بیا یې د شاپور په لور مخ ور واړاؤ ورته ویې ویل:**

**شاپوره! حلیمه ډېره راباندې ګرانه ده، اوس خو مې د کور یوازنۍ هیله همداده. که خدای مه کړه که په دې خور مې هم څه وشي نو زه بیا ژوند نشم کولی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاپور: حلیمه خور! په ما هم ډېره گرانه ده، ډېره کېمینه نجلۍ ده، زه خو دومره نه وم ورسره بلد خو چې اخلاق مې ولیدل نو خورا ښه انسان دی

دوی خبرې کولې، چې د دروازې ساتونکی راننه وت، رڼاته یې وویل:

یوه ځوانه مېرمن راغلې، وایې له رڼا سر کار لرم، اجازه ورکوې، چې راشي؟

رڼا : دایوه پیاله چای دې وڅښم، دوه ساعته مسلسل مې خبرې وکړې ورته ووایه لږ وروسته دې راغواړم.

ساتونکی ووت، مېرمنې ته یې وویل:

رڼا یوه پیاله چای څښي، تاسې لږ صبر وکړئ.

مېرمن وویل:

شاید زه غلطه شوې یم، زه چې کومې رڼا ته راغلې یم، هغه دغه رڼا نده ماته د رڼا اصلي ادرس راکړه

ساتونکي وویل: خورې! خبریاله رڼا ښیې؟

ــــ هو هغه ښیم.

ساتونکي : هغه همدا رڼا ده.

مېرمن: نه دانه ده، هغه رڼا چې په اړه یې ما اوریدلي دومره بې پروا نه ده، چې بهر دې ورته خلک له ډک زړه او دردنو سره ناست وي او دا دې ارامه چای څښي

رڼا هم له کړکۍ د ساتونکي او مېرمنې تبادله شوې خبرې واوریدې، غونی یې ځیـږ شو ، ستونی یې سره ورغی، سترگې یې له اوښکو ډکې شوې

له ځان سره یې وویل:

واه رڼا! ته د خلکو باور ته وگوره او ته ستا دغه بې پروایي ته وگوره.

چای دې ماته زهر شي، هر گوټ دې راته وینه وچه کړي، ما ولې دې بېچاره ته په چای د وخت ضایع کولو سره درد ورکړ: ژر ووته او ناهیلې روانه مېرمن یې له لاسه ونیوله، ورته ویې ویل:

خورجانې! ښښنه غواړم، زه رڼا یم ډېره ستړې شوې وم؛ ما وویل چې یوه پیاله چای به مې ستړیا وباسي، ما فکر نه کاوه، چې تاسې به دومره بېړنۍ ستونزه وي؛ خـو مـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېروتنه وکړه، عمر مې دې ستا شي ته مه خفه کېږه په راتلونکي کې به داسې بېغوري نه تکرارېږي. راځه چې دننه خبرې وکړو.

هغه هم د رڼا له خبرو اغيزمنه شوه، پرته له کوم دليل ور سره يوځای د دفتر په لور روانه شوه.

په دفتر کې دواړه سره کېناستلې.

رڼا له ځوانې مېرمنې وپوښتل: خير خو ۇ، چې دلته مو پېښه راوکړه؟

مېرمن: په ژړا شوه ويې ويل:

خير چيرې ده. زه يوه بېچاره کونډه يم، مېړه مې په يوه چاودنه کې مړ شو وړه خېلخانه راته پاتې شوه، د کور مسؤليتونه زما په غاړه شو، يو څه وخت مو د ميړه په پاتې شويو پيسو ګذاره وکړه، وروسته ورو ورو حلقه راباندې تنګېده، نو اړ شو له خپل کوره ووځو او کور بل چاته په کرايه ورکړو. هغه کرايه د ماشومانو خوراک او پوښاک کړو؛ موږ په اطراف کې د مېړه ميراثي ځای ته لاړو، اوس زموږ په کور يو زورور ننه وتلی، ډېر پيسه دار او د بيت المال توسن دی لوې لوې واسطې هم لري، په محکمو کې يې زما د کور جالي اسناد جوړ کړي، هر چېرې پيسې او واسطې کاروي زموږ غږ څوک نه اوري، هرې محکمې ته چې لاړه شم اسناد بيرته په مخ راوولي.

رڼا: تاسې کومو کومو ځايو ته مراجعه کړې؟

مېرمن: خورې! څارنوالي، محکمه، وکيلان، والي او قومندان ټولو ته مې جولۍ غوړولې؛ خو څوک مې په خبره غوږ نه ګروي، په ژړا پورې مې خاندي، پسخند راپورې کوي، وايي: موږ د قومندان سپين ګل په وړاندې نه شو دريدلی؛ هغه د چا په خون هم ندی بند، ټول وای موږ د هغه زور نه لرو.

رڼا: خورې! ته مه خفه کيږه، که ستا په حق مسؤلينو غوږونه کاڼه کړي وي، زه به يې د غوږو ګڼې پردې به لړزان راولم، ته دعا کوه چا، چې ناغېږي کړې د اسمان ستوري به درته پرې حساب کړم، د عزت خطې به يې وباسم، نوم او دغه جاهل غرور به يې ستا پښو ته ټيټ کړم.

دا مې له تاسره ژمنه ده،او دا دې يوې پښتنې خبريالې ژمنه ده

مېرمن: خورې! زما يتيمان څوک نه لري او نه يې څوک په کيسه کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا: مه خفه کیږه! ستاسې یتیمان زما ورونه او خویندې دي، زه سر له سبا لاس په کار کېږم، زما چې څه له لاسه کېږي نه یې سپموم، بس ته یوازې دعا کوه.**

**په سبا ورځ رڼا د دفتر مهمې جلسې بلې ورځې ته معطل کړې، کمره مین یې له ځان سره روان کړ. لومړی یې له کوره انځور واخیست بیا یې د کونډې مېرمن خبرې ثبت کړې، له هغه وروسته یې له ځان سره محکمې ته هغه اسناد او قوالې واخیستې، چې څو ځلې یې د کونډې مېرمن په مخ ور ویشتل شوې وې.**

**اسناد یې د محکمې مشر قاضي ته په مېز کېښودل، هغه ته یې وویل:**

**ایا ته پوهیږې چې د عمر او عثمان د قضا په څوکی ناست یې؟ ایا پوهیږې، چې د هرې پرېکړې ځواب به خدای ج ته ورکوې؟ ایا د بې وزلو په وړاندې بې انصافي دې نه ځوروي؟ ایا مرګ دې هیر دی، چې یوه ورځ به عزرائل روح درنه اخلي؟**

**د محکمې مشر رڼا ته په حیرانۍ سره وکتل، هغې ته یې وویل**

**اغلې لورې! څه شوي لومړی خو ستونزه راته ووایه، چې څه پېښه ده، وروسته د ماشین د بخۍ په څېر چلانه شه او بیا بل چاته د خبرو وار هم مه ورکوه.**

**رڼا: تاسې به خدای ج ته څه ځواب وایئ، چې تاسې د عدالت په څوکی ناست یاست او یوه یتیمه کورنۍ په خپل کور کې بې کوره ګرځي؟ در په در دروازې ټکوي؛ خو څوک یې غږ نه اوري، ان تر تا هم رارسېدلي دي.**

**دمحکمې رئیس: لورې! ایا کور یې چا ترې غصب کړی؟**

**رڼا: هو**

**دغه بې چاره کورنۍ د ظاهرشاه د وخت اسناد لري، خو اوس یو زورواکی، ټوپک مار او غاصب په دغه کور ترې ننوتی او جالي قباله یې جوړه کړې. وکیلان، وزیران، قومندانان او... پېژني او هغه ځای کې چې د پیسو اړتیا وي پیسې کاروي ،تر څو ددې کورنۍ دعوه باطله او دغه بېچاره کورنۍ دې په خپله دعوه کې مات کړي.**

**اوس ما له دغې کورنۍ سره ژمنه کړې، چې زه به مو خپل حق ته رسوم.**

**د محکمې رئیس: لورې! زه درسره په دغه موضوع کې لکه د سیوري په ډول ولاړ یم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای ج شاهد دی، چې زه د لومړي ځل لپاره په دې پېښه خبرېږم، له دې مخکې ماته چا ددې دوسيې نه دي ويلي.

رڼا: زه نن شپه په تلويزون کې دغه موضوع د هېواد په سطحه مشهوره خپرونه، چې پلټنه نومېږي، څېړم؛ هغه خپرونه رئيس جمهور هم اوري، زه ډاډه يم، چې حـق به حقدار ته وسپارل شي. که چا پکې غفلت کړی وي اويا هم په دې ټګي برګي کې لاس لري انشاالله، چې قانون ته به ځواب ووايي.

د محکمې رئيس: لورې! ته دا موضوع مه رسـنيزه کـوه؛ زه ډاډ درکـوم، چـې دې يتيمانو ته به حق رسيږي؛ که بيا ونه رسيده نو کولی شې، چې خپرونه پرې جوړې کړې، رسنيزه يې کړې او ګردي ميزونه پرې ونيسې.

رڼا: په خپرولو يا نه خپرولو باندې به زه تصميم ونيسم؛ ځکه هغه زما مسؤليت دی او هغه چې ستا مسؤليت دی هغه ته وکړه؛ زه سبا راځم ته بايد دا موږ ته واضح کړې ، چې په دغه قضيه کې څوک لاس لري، چا جالي اسناد جـوړ کـړي او څـوک دې باطـــــــــــــــــــــــــــــل پلـــــــــــــــــــــــــوي دي.

رڼا راووته زېړی مازديګر ؤ، دفتر ته يې ځان راورساؤ. پلټنې خپرونې تـه يـې خپـل چمتو والی پيل کړ؛ پروګـرام يـې برابـر کـړ. ماښـام د هېـواد د ډېـرو کتونکـو او خوښونکو خپرونه، پلټنه پيل شوه.

سمه خوله يې لګوله، راپور او پلټنه دومره زوروره او غمجنه، له مظلوميته ډکه جوړه وشوې وه، چې د هر کتونکي لـه سـترګو يـې اوښـکې وبهـولې، د نـاوې کونـډې مظلوميت او له هغې سره شوی ظلم پکې په رښتوني ډول انځور شوی وو.

خپرونه د تمې خلاف رئيس جمهور وانه وريده، چـې بيړنـی اقـدام وکـړي، خـو د سترې محکمې قاضي القضات ته د تلويزون په سکرين مخې تـه تيرېـده؛ هغـه لـه اورېدو سره موضوع ته يو تحقيقاتي ټيم د څېړنو لپاره وګماره.

د اړوندې محکمې رئيس ته يې زنګ وکړ؛ ورته ويې ويل:

بې کفايتي او فساد مې ليدلی ؤ خو دومره نه. چې اوښ په بډه وهي؛ تاسې خو زما دنده هم تر پوښتنې لاندې راوسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که رئیس جمهور خبر شي، زما باور به هم ورته صفر شي، مخکې له دې چې دغه کار وشي لنډ راته ووایه، چې په دې قضیه کې څوک مقصر دي؟ چا جالي اسناد جوړکړي او د چا لاس پکې دی؟

هغه ځواب ورکړ:

جناب عالي! ما پلټنه وکړه؛ په دې کار کې درې قاضیان او زما مرستیال دخیل دي.

قاضي القضات: په بیړه یې ماته نومونه ووایه!.

هغه نومونه ورته څرګند کړل. قاضي القضات ورته کړه:

ددې کسانو د نیولو امر اوس صادروم ته مې؛ ځکه پرېښودې، چې تر سبا کور تخلیه کړې، که ستونزه وه د حوزې نظامي ځواک وکاروه!. تر سبا باید کونډې مېرمنې ته کور وسپارل شي، تر څو دغې رسنۍ ته د دوهمې خپرونې چانس په لاس ورنه شي، که دا تلویزون والو دوهمه خپرونه هم جوړه کړه نو د عزت خطې به مو وباسي.

رئیس : سمه ده صیب! سبا تر لسو بجو به کور تخلیه شي.

رئیس سم دستي رڼا ته زنګ وواهه، ورته ویې ویل:

خورې! کور تر لسو بجو تخلیه کېږي، هغه کونډې مېرمنې ته ووایه، چې کور تسلیم کړي، هیله مو داده، چې نور زموږ شاه پرېږدې.

ځکه چې ددې قضیې په تور مو څلور نفره، زما د مرستیال په شمول د سترې محکمې په امر ونیول اوس په بند کې دي.

د رڼا له خوښۍ په سترګو کې اوښکې راغلې، په زړه کې یې د خدای ج شکر وویست، بیا یې رئیس ته وویل: رئیس صیب!

سبا زه له کونډې مېرمنې سره درځم تر څو، چې هغه خپل کور ته ننوتلې نه وي، هغې ته د کور کیلي نه وي ورکړل شوې، تر هغو زه د دې مسلې شاه نه پرېږدم.

رئیس : ته بې غمه اوسه!. ستا د سترګو په وړاندې به دا کار کېږي، ستا دکمرې په تصویر اخستو سره به هغې مظلومې ته د هغې امانت سپارل کېږي.

رڼا ټلیفون پرې کړ، له خوښیو په جامو کې نه ځایده؛ ځکه هغې له کونډې ښځې سره د هغې حق ته دې رسېدو ژمنه کړې وه او ژمنه رڼا ته له خپل ژونده هم مهمه وه.

سمدستي یې کونډې مېرمنې ته ټلیفون وکړ ورته ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورې! زيرى.

ـــــــــــرڼـــــــــا جــــــــــانې! د څـــــــــه زيـــــــــــرى؟

رڼا: سبا به درته کور وسپارل شي.

کونډه مېرمن: رڼا خورې! کله به مې بخت دومره کار وکړي. زه دا درې کالــه پســې سرګردانه يم، يو قدم هم مخکې نه يم تللې اوس به چېرې په يوه ورځ کــې راسره د خپل کور سپارلو دومره لويه پېښه وشي.

رڼا: ولې ته دې خپلې خور رڼا په اراده باور نه لرې؟

کونډه مېرمن: زه مې په رڼا ډېر باور لرم که مې په تا باور نه درلودى؛ نــو کلــه مــې خپل عرض دروړ، خو اوس زه ډېره مايوسه شوې يم، زما غريبې اواز څــوک اوري؟ کله به مې بخت دومره کار وکړي، چې زما د يتيمانو حق له دې ظالمه راته واخلي.

رڼا: خور جانې! سبا نهه بجې زما دفتر ته راشه همــدا اوس راتــه ستاســې د اړونــدې محکمې رئيس زنګ وواهه، هغه وويل: چې په پېښــه بانــدې قــاضي القضــات خــبر شوى، هغه جدي امر کړى چې کور بايد اصلي حقدار تــه وســپارل شي، زه درسره ټوکې نه کوم.

کونډه: خورې! رب دې خپلو هيلو ته ورسوه، رب دې لکه ابــرهيم ع پــه اور کــې وساته، رب دې غم مه راوينه، زه به نن شپه تهجد لمونځ وکــړم او تاتــه بــه دعــاوې وکړم.

رڼا يې په دعاوو امين ووايه او بيا يې ټليفون پرې کړ.

له دې وروسته رڼا کور ته لاړه ډېره مطمينه ويده شوه؛ ځکه چې د خير کار سړي ته لوى سکون ورکوي، داسې سکون چې په بل شي کې نه موندل کېږي.

سبا سهار دفتر ته په رسېدو سره کونډه مېرمن هم ورته د دفتر مخې ته منتظره ناسته وه. هغه يې له ځان سره دفتر ته دننه کړه چاى يې ورته راوغوښت؛ هغې تــه يــې د ډاډ خبرې پيل کړې، ورته ويې ويل:

خداى ج له موږ سره دى، خداى ج د حق پلوي کوي، ودې کتل چې موږ وګټلــه همدا نن به تاسې ته کور سپارل کېږي.

کونډه مېرمنې چې ډېر دردونه ګاللي وو لا يې چا د مظلوميت اواز نه وو پورته کړي، رڼا ته په هيله مندي نظر وکتل، سترګې يې پورته کړې ويې ويل: رڼا ګلې! زمــا زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته خو نه لوېږي، چې هغه زورور به موږ ته کور راکړي، هغه له خدايه نه ډارېږي، هيڅ زړه سوی په زړه کې نه لري؛ خو که تاسې خبره رښتيا شي، ما به وګټې. ما او اولادونه به مې په بيه واخلې، موږ به دې په ټول ژوند کې احسان مند شو او زما لپاره به يوه اتله شې، داسې اتله چې زما په زړه کې به د هغې نوم د کاڼي کرښې په څېر ليکل کېږي او زما تر وروستۍ سلګۍ به هم راته ياد وي.**

**رڼا: نن به هغه زورور خامخا تاته کور پرېږدي، که هغه زورور دی، له هغه لوی زورور لرو، هغه زموږ پلوي کوي. که هغه نن کور خالي نه کړې نو قسم کوم، چې د اسمان ستوري به درته پرې وګڼم؛ دوی خبرې کولې، چې د محکمې رئيس رڼا ته زنګ وواهه.**

**رڼا ته يې وويل:**

**رڼا جانې! تاسې چېرته ياست. له تاسې سره د ژمنې سره سم کور خالي شو، هغه ټوپکسالار له زوره کار اخيسته؛ خو موږ د نهمې حوزې نه مرسته وغوښته هغوی يې کالي بهر راوغورځول او د ښاروالي موټرو ته يې واچول اوس ستاسې کور د سرتېرو په واک کې ده، لس بجې ځان راورسوئ، چې د رسنيو په مخ کې هغې کونډې خور ته کور وسپارو.**

**ددې خبرې به اوريدو دې رڼا له خوښې په سترګو کې اوښکې راغلې، د کونډې مېرمن په هيله مندو سترګو کې يې سترګې ونيوې ورته ويې ويل:**

**مادرته نه و ويلي، چې نن به موږ ته کور سپاري؛ دا دی زنګ يې وواهه، وايي: د کور تسليمي ته راشئ، بيا يې رئيس ته وويل:**

**مننه رئيس صيب! سلامت اوسې، کونډه خورکۍ زما سره دی اوس در روانېږو.**

**لس بجې يې له کيلي او يوه بل داسې تائدي سند سره رڼا او کونډې ته کور وسپاره، چې پکې ليکل شوي وو: هغه کس په ناحقه د دوی په کور دعوه کړې وه، د دې کور اصلي مالکه همدا کونډه مېرمن ده.**

**ماښام د پلټنې خپرونه کې رڼا دا ټول جريان واچاوٌ.**

**ټوپک سالار قومندان زلمی د خپلې بې عزتي په فکرونو کې ډوب وو، په دې يې سوچ کاوٌه، چې له کونډې سره داسې څوک دي، چې حکومت يې دې ته اړ کړ،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ما له دې کوره وباسي؟ زما د شان دبدبې او زور يې هيڅ خيال ونه ساته؛ له ځان سره يې وويل: زه بايد دغه کس پيدا کړم.

زه بايد ددې کيسې په راز ځان پوه کړم. نن دغه پېښه راوشوه، سبا بله راکېږي، زما ټول شته خو د خلکو دي، که دا لړۍ دوام وکړي نو زه به تش نست شم.

قومندان زلمی په خپلوغمجنو سوچونو کې غرق ؤ، چې ناڅاپه په تلويزون کې د پلټنې خپرونې پيل يې پام د ځان لور ته واړاؤ.

خپرونه د کونډې مېرمنې په خبرو پيل شوه، هغې په داسې حال کې خبرې کولې، چې د کور کيلي يې په لاس او د دروازې مخې ته ولاړه وه، هغې وويل:

ما هره دروازه وټکوله؛ خو څوک د مرستې لپاره راونه واته، هرې درګا ته لاړم عذر او زارۍ مې وکړې؛ خو هغوی د مرستې پر ځای زما په زاريو پورې وخندل، چيرې چې دې هيلو ځای ؤ هلته لاړم او دې بې وسی چغې مې ووهلې؛ خو غږ مې خپ کړل شو چا راسره ملتيا ونه کړه، يوازې يوې پيغلې مې د تپې شوي زړه اواز واوريده؛ زما اوښکې يې پاکې کړې، له ماسره يې د غږ په پورته کولو کې مرسته وکړه. هغې زما ستونزه خپله ستونزه وبلله، هغې زما ستونزه تر قاضي القضاته ورسوله، زما حق يې ماته بيرته واخيست؛ هغه بل څوک نه، رڼا ده. زما اتله رڼا هغه رڼا، چې د غريبو ملتيا کوي، هغه رڼا چې بې ريا د اړمنو په چوپړ کې لګيا ده. خپل ځان هر ګواښ ته ورکوي؛ خو نور ژغوري پر ځان د هرې بلا او پېښې راتلو پروا نه کوي، خو نورو ته لاس ورکوي.

زه نه پوهېږم، چې له رڼا لورمې څه ډول مننه وکړم!. کاش ما داسې الفاظ درلودی، چې د هغې دغه سپېڅلتيا مې پکې تعريف کولی شوای.

زه به هر ماښام له ډوډۍ وروسته د رڼا د حفاظت، روغتيا او خوښيو لپاره په خپلو يتيمو ماشومانو لاسونه پورته کوم، له هرې ډوډۍ خوړلو وروسته به ورته دعا کوم.

قومندان زلمي سيګريټ له خولې لرې کړ، ګوتو ته يې ټک ورکړ، بيا يې دوباره د تلويزون سکرين ته وکتل.

له ځان سره يې وويل:

افرين اتلې!.

ته په رېښتيا هم اتله يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته دومره جرئت لرې، چې زما مقابله وکړې؟**

**زه ستا دې ارادې ته حیران شوم، چې زما له پېژندنې سره، سره بیا هم زما مخې ته راځې او زما حیثیت په دوه روپۍ کوې.**

**ته په دې هم پوهېږې، چې ډېر ځوانان چې له خیاله به کاږه اورمېږونه گرځیدل، غرور به یې تر اسمانه رسیده؛ خو زما مخې ته به یې، چې د دریېدو جرئت وکړ، د تورو خاورو میلمانه به شول، اوس هیڅ فرصت نه لرې، چې ژوند وکړې.**

**ځه! ښه دې وکړل.**

**خواته بټن یې کېکاږه.**

**ژر ورته سکرتر راغی ورته یې کړه :**

**تر سبا سهاره د رڼا په اړه ټول مالومات غواړم، کمی او زیاتی پکې راته د زغملو نه دی، بشپړ مالومات راټول کړئ!. سیکرتر د ښه صیب! لپاره په سینه لاس کېښود، نور ووت.**

**سکرتر سبا سهار د قومندان زلمي په حضور کې حاضر شو او ورته ویې ویل:**

**رڼا د افغان رسنیز دفتر مشره ده، څه وخت وړاندې یې مور، خور او یو ورور په چاودنه کې له لاسه ورکړل، اوس یوازې یوه خور لري د ټلیفون شمېره مو هم دې دواړو تر لاسه کړې.**

**قومندان : دواړه وڅارئ!.**

**څارونکي راولئ، زه ورته د نورو اقداماتو سپارښتنې کوم.**

**له دې وروسته یې ټلیفون راواخیست، رڼا ته یې زنگ وکړ. د هغې دې سلام ځواب یې په وعلیکم سلام ور نه کړ؛ راساً یې د زړه په خبرو پیل وکړ:**

**رڼا له ماسره دې ښه ونه کړل، زما عزت دې داغمن کړ، زما نوم دې په دوه روپۍ کړ، زه دې وشرمولم.**

**رڼا : وبښئ! تاسې څوک؟**

**قومندان: زه د هغه کور مالک یم، چې بل چاته دې رانه واخیست او ستا په مرسته ما ورته کتل حکومت زما د کور کالي سړک ته راوغوځول؛ ما خو تاسره کومه بدي نه لرله، او نه مې کوم زیان دراړولی ۀ ولې دې داسې وکړل؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا : ورورە! ما هم له تاسې سره کومه بدي نه ده کړې، ما له تاسره خواخوږي وکړه ما د اخېرت يو پېټی درته کم کړ؛ په ورځ د قيامت کې مې د دې بېچاره کونډې له حقه بچ کړې، له خپله ايمانه به دې بدله ورکوله، شکر ته خو ډېر څه لرې، چاته يې ډېره وې، دغو زامنو ته، چې له مرګه وروسته دې په خدای ج که يـاد هـم کـړې؟ ځواب به يې ته وايې او مزې به دې اولادونه پرې کوي.**

**قومندان: ښه تا خو ډېرې ښې مسلې هم زده دي، زما پـه جومـات کـې امامـت نـه نيسې؟**

**رڼا: نه وروره! زه دې په خير لګيا يم او ته پسخند وهې؛ هغـه کونـډه بېچـاره ډېـره مظلومه وه، په خپل حق پسې ډېره ترکيده او زموږ هـم مسـؤليت دي، چـې د بـې وزلو اواز پورته کړو، تر چارواکو يې ورسوو، نوره پرېکړه؛ خو حکومت کـوي حـق حقدار ته هغوی ورکوي موږ د يوه خبريال دنده اجرا کوو.**

**قومندان: خو که ستاسې د هغې سره د غږ په پورته کولو کې مرسته نه وای کړې، دا بريا يې نه په نصيب کېده. له دې مخکې يې ډېر پښې او لاسونه ووهل خو ګټـه يـې ورته ونه کړه.**

**رڼا: ښه دا مرسته خو ما ورسره وکړه په حقيقت کې چې تاسې يې مرسته بـولئ هغـه دې خبريال په ډول زما دنده ده ، مسوليت مې دی چـې دې مظلومـو خلکـو اواز اوچت کړم او تر اړونده سرچينو يې ورسوم.**

**قومندان: خو په ځينې کارونو کې احتياط په کار وي؛ ځکه چې سړي ته بيا ډېره په درنه تماميږي.**

**رڼا: زه پوه نه شوم؟**

**قومندان: خير پوه به شې؛ نور يې ټليفون پرې کړ.**

**په دې وخت کې حليمه هم کوټې ته ور دننه شوه؛ له رڼا يې پوښـتنه وکـړه، ورتـه ويې ويل:**

**خورې! څوک وه؟ څه يې ويل؟**

**رڼا مسکی شوه، حليمې ته يې وويل:**

**خورې! يو بل اختار مې هم وخوړ.**

**حليمه: ولې، چا اختار درکړ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا: هغه د کور غاصب، چې له کونډې يې د هغې کور پــه زوره نيـولی ؤ او جـالي اسناد يې ورته جوړ کړي ؤو؛ اوس يې راته زنګ وکړ ويې ويل:
له بړستې سره سمې پښې نه غځوې، موږ له بړستنې نه بهر پښې پرې کوو.
حليمـــه: خـــورې! هغـــه ســـړی کـــوم جنجـــال درتـــه جـــوړ نـــه کـــړي؟
رڼا: هيڅ هم نشي کولی؛ ځکه چې موږ د الله ج د رضا لپاره د هغه بندګانو تـه خيـر رسوو او چې موږ د الله ج په بندګانو غيرت کوو؛ نو الله تـر ټولـو سـتر غيـرتي زات دی؛ هغه به خامخا زموږ لاس نيوی کوي او د چا چې الله لاس نيوی کوي هغه تـه هيڅوک هم زيان نشي رسولی، ته هيڅ انديښنه مه کوه.
حليمه: خورې! خبره دې سمه ده، خير او شر ټول د الله ج له طرفـه دي، چـې د هغه ذات خوښه نه وي ،په ريښتيا د چا د وسې خبره نه ده، چې چاته زيان ورسوي.
خورې! يوه خبره درته کوم اوريدو ته يې چمتو يې؟
رڼا: هو! ووايه کوچنۍ څه خبره ده؟
حليمه: خورې! که يو څوک له چا سره بې کچــې مينـه ولـري او هغـه لکـه د سـاه غونډې په خپل ژوند کې مهم وبولي نو په دې حالت کې دوهـم کـس تـه څـه پـه کاردي؟
رڼا: اوس وخت کې داسې ډېر کم کسان پيداکېږي، چې څوک دې ورته لکـه سـاه مهم وي. دا ډول خلک پيداکول هسې يو خيال دی، محال دي.
رڼا نورې هم خبرې وغځولې حليمې ته يې وويل: ګوره خورې! ستا عمر له مـا کـم دی اوس دا ډول خبرې لکه د سريالو هسې ځان ښودنه ده، يوازې افسـانه وي بڼـه لري، حقيقت يې د انځر د ګل په څېر دی.
حليمه: خو که د لمر غونډې څرګند وي، هيڅ شک پکې نه وي او هغه سـتا لپـاره، لکه باران اوښکې تويوي نو بيا؟
رڼا: خورې! داسې خو د شاپور کوژدن هم د شاپور لپاره لپې لپې دروغجنې اوښکې تويولې، هغه ته په الفاظو کې يې ټوله ځمکه له ګلونو ډکوله، ورته ويل به يې: تـه مې ټوله نړۍ يې، ستا په قوت مې په بدن کې ساه ښکته او پورته کېږي د ژوند يوه لحظه هم له تا پرته نشم تېرولی او... دې ته ورته لسګونه الفاظ يـې ورتـه کـارول. د هغه زړه يې په لاس راوړ، اړ شو هغې سره د ژوند اړيکـه وتـړي؛ خـو څـه وخـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروسته يې پرې هغه ثبوتونه پيدا کړل، چې څرګندول يې، چې هغې يوازې د شاپور له شتمني سره واده کوي، نه د هغه له شخصيت سره.**
**حليمه: خبره خو دې سمه ده خو؟**
**رڼا: د څه خو؟ لکه چې د ځان لپاره دې کوم شهزاده پيدا کړی؟ ځان ته ژوند جوړوې او ما يوازې پرېږدې؟**
**حليمه: نه، نه ما د ځان په اړه تر دې دمه فکر هم ندی کړی.**
**رڼا: ښه چې د ځان په اړه دې فکر نه دی کړی، نو دا خبرې څه مانا؟**
**حليمه: بس هسې، هغه وشرميده، نوره يې خبره ونه غځوله.**
**سبا دواړه دفتر ته لاړې؛ دا ځل بيا شاپور ته له حليمې سره د يوازې ناستې زمينه برابره شوه.**
**شاپور حليمې ته وويل:**
**خورې! زما لپاره دې هڅه وکړه؟**
**حليمه: هو! هڅه مې وکړه؛ خو هغې ته په يادولو يې ونه توانېدم؛ ځکه چې هغې خبرې نه اوريدې او نه يې له دې خبرو سره دلچسپي درلوده.**
**شاپور: نو اوس څه کول په کار دي؟**
**حليمه: ته يو ليک ورته وليکه، هغه يې له ليدو وروسته حتما له ما سره شريکوي، بيا زه پوهېږم، چې څه وکړم.**
**شاپور: سمه ده همدا نن ورته ليک ليکم الله ج دې مرسته راسره وکړي.**
**شاپور يوه ښه ارام ځای ته پنا ويوړه؛ په ليک يې پيل وکړ، په ډېر دقت سره يې ليک په زرينو کرښو بشپړ کړ. په خپل جيب کې يې واچاؤ او بيرته د رڼا دفتر ته راغی؛ هغه نه پوهېده، چې په څه ډول ليک تر هغې ورسوي. بلاخره يې ليک د حليمې په واسطه د هغې په دسکول کې واچاؤ د رخصتي وخت راورسېده ،رڼا د خپلې خور سره يو ځای د کور په لور د دفتر په موټر کې کېناستل حرکت يې پيل کړ، په لاره کې رڼا سبزي اخيستلو لپاره موټروان ته وويل:**
**وروره! دلته موټر ودروه،له هغه دوکانه سبزي راواخله!. هغه موټر ودراؤ رڼا خپل دسکول ته لاس کړ تر څو هغه ته پيسې راوباسي، ويې کتل يو ليک يې په دسکول**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کې پروت دی، موټروان ته یې پیسې ورکړې لیک یې راواخیست، په سر کـې یـې لوی عنوان لیکل شوی وو:**

**ژونده زه بې تا نه شم اوسېدای!.**

**ددې عنوان په لیدو رڼا وارخطاشوه؛ ځکه تر دې دمه یې  په ژوند کې داسې الفاظ نه و لوستي، د حلیمې لور ته یې د سترګو له کونجو وکتل تر څو هغه وڅاري، چې لیک خو به نه لولي، حلیمې هم ځان ناګاره اچولی ؤ؛ داسې تمثیل یې کاؤ، چـې ګواکې ددې په لیک  شک شوې هم نده یوه شیبه داسې راغله چې د حلیمې  غیـر ارادي  د رڼا لور ته مخ واوښت. رڼا ژر لیک په دسکول کې بیرته کېښود، تر څو پـه فرصت یې وګوري او ځان پوه کړي، چې دا لیک د چا دی او څه یې پکې لـیکلي دي؟**

**موټر وان د سبزي سره یوځای راغی او بلاخره دوی یې کور ته ورسول. رڼا کور ته له ننوتو سره خپل اطاق ته ځان ورساؤه، له داخل نه یې په ځان پسې ور قلف کړ.**

**کاغز یې راوویست، پکې لیکل شوي وو:**

**خوږې رڼا!**

**زه نه پوهېږم له کوم ځایه یې پیل کړم، د ځینو خلکو نـوم د هغـه د شخصـیت سره کټ مټ ورته وي، تاسې یوازې رڼا نه نومېږی، بلکې د رښتونې رڼا په څېر دې ډېرو تیارو د روښانه کولو لامل یاست، ته یو ځانګړی انسان یې، چې د نورو لپـاره ځـان درنه هېر دی.**

**د نورو په  ښېګڼو کې ، لکه د هغوی نسبي خپلوان ځان شریک بـولې، خواخـوږي دې په خټکه کې نغښتې ده، خو یو څوک له ډېر پخوانه لکه ته چې د خلکو په فکر کې یې ستا په فکر کې دی، له تاسره خواخوږي ښی، په تاسې یې تش شمال هم نه لورېږي، تاسې ته په یوه ځـانګړي احـترام قایـل دی، ستاسـې خوشـحالي خپلـې خوشحالي بولي کله، چې ته ناراحته یې هغه هم د ناراحتي احساس کوي، ته اوس د یوه کس ساه ګرځېدلې یې، د هغه نفس ستاسې په قوت د هغه په وجود کې ښکته او پورته کېږې.**

**هغه هیله لري، چې تاسې سره ګډ ژوند پیل کړي؛ البته که ته وغواړې.**

**هیله ده د نه په ویلو د هغه زړه مات نه کړې او هغه پرته له تیغه ټپي نه کړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا شاپور.

رڼا له لوستو وروسته ژر، ژر خط ونغاړه او په يوه ګوښه کې يې کېښود په ځان پسې قلف ور بيرته خلاص کړ.

بهر راووته ،په حليمه يې سترګې ولګيدې حالت يې سم ورته مالوم نشو رڼا پـه بيـړه ورغله دې هغې په خوا کې کيناسته له هغې يې وپوښتل خـورې تـه ښـه يـې هغـې وويل:

هو ښه يم ،نه پوهيږم لاندې رانه څمکه ګرده تاويږي،رڼا ډاډو ورکړ ورته ويې ويـل چې هسې وراخطايې کومه واهمه درسره مل شوې ده لږ اوبه يې ورکړې په خوا کې يې کيناسته ،له ناستي سره يې حليمه هم د سترګو له کونجو څارله، دقيقه په دقيقه د حليمې رنګ زېړېده، يو وخت راورسېده، چې هغه په څمکه راولوېده. رڼا يې په ليدو وارخطا شوه ژر يې شاپور ته زنګ وواهه، ورته ويې ويل:

شاپوره! هله ژر راشه!.

شاپور: خير خو دی، ته ولې وارخطا يې؟

رڼا : حليمه ښه نه ده.

څو دقيقې لا نه وې پوره شوې، چې شاپور راورسېده. حليمه يـې خپـل مـوټر تـه پورته کړه رڼا هم ورسره وخته په خوا کې کېناسته؛ د هغې سر يې په خپـل زنګانـه کېښود. له لږ مزل وروسته يوه شخصي روغتون ته چې خورا مجهز وو ورسـېدل. د روغتون خدمت ګارانو حليمه په متحرک کټ کې واچوله د بيړنی خونې تر بستر يې ورسوله.

په دې وخت کې حليمه هم پرته له درملو په هوښ راغله، دوی ټول خوښ شول؛ د ډاکټرانو له معاينې وروسته ورته د نورو معايناتو په څنګ کې سي ټي سـکن هـم توصيه شو.

دې لابراتوار ډاکتر وينه ترې واخيسـته او هغـه شـاپورله ډاکـتر سره تـر لابراتـواره ويوړه. رڼا او حليمه دواړه د سي ټي سکن ځـای تـه لاړې، هلتـه يـې حليمـې تـه سپارښتنه وکړه، چې ته بايد کالي بدل کړې ستا په دې کاليو کې معاينـه نـه تـر سر کېږي. هغې وويل:

خو نور کالي موږ له ځانه سره نه دي راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سي تي سکن کس وويل:**
**مورې د تصوير اخيستو لپاره ځانګړي کالي لرو؛ بيا يې د ګوتې په واسطه اشاره وکړه، دلته د کاليو بدلولو خونه لرو.**
**رڼا، حليمې ته مخ ور واړاؤ، هغې ته يې وويل:**
**ورځه هغه خونه کې کالي بدل کړه، بيرته راشه، چې سي تي سکن ازموينه دې وشي.**
**هغه لاړه لږ تياره خونه وه، د جامو په بدلولو يې پيل وکړ د کميس بدلولو په وخت يې لکه د شپې بريښنا سترګو ته يو څه وپړکېدل، ورسره يې د کمرې د تصوير اخيستو ترس غږ هم واوريده حيرانه ودريده خوا وشاه يې وکتل خو کوټه خالي وه هيڅوک يې هم تر سترګو نه شول.**
**کالي يې ژر، ژر بدل کړل او وېرېدلې له کوټې بهر راووته، په وارخطا څېره د خپلې خور خواکې ودريده؛ هغه يې څنګ ته کړه ورته ويې ويل:**
**خورې! په خونه کې مې د کاليو بدليدو پر مهال لکه، چې څوک مې په کېمره تصوير اخلي رڼا او دکمرې د تصوير اخيستو غږ واوريده، هغه ورته مسکی شوه لاس يې د هغې په اوږه کېښود ورته ويې ويل:**
**هسې واهمه در سره پيدا شوې، نن دې روحي شاک تېر کړی؛ ځکه داسې وېره درسره پيدا شوې ده.**
**حليمه: خورې! زه ډاډه يم، چې تصوير مې واخيستل شو، که په داسې حالت کې زما تصوير خلک ويني زه به ځان وژنه وکړم.**
**رڼا : خورې! چا له تا تصوير اخيسته؟ د معاينې کس خو دلته د خپل ماشين سره ولاړ وو، زه هم دلته درته ولاړه وم او خونه هم بله دروازه نه لري، چې څوک پرې در ننه وځي او تصوير دې واخلي، هسې يو خيال دې په فکر کې ګرځي.**
**په دې خبرو يې د حليمې تسلې وکړه، وروسته د سي تي سکن ماشين په تخته پريوته او ماشين ور دننه کړه، ازموينه تر سره شوه.**
**رڼا دې ازموينې له کس نه پوښتنه وکړه، ورته ويې ويل:**
**کله به د ازموينې پايله ګورو؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تیکنشن: دوه ورځې اخلي خو که فسبوک لرې نو ادرس یې راکړئ، چې نتیجه یې راغله؛ زه به یې د مسنجر له لارې درولېږم.**
**رڼا : فسبوک مې شته خو زه ورته وخت نه لرم د حلیمې خور سره مې وي دا........... یې ادرس دی.**
**کس د فسبوک ادرس ترې واخیست او دوی په خپله مخه لاړل معالج داکتر ته ورغلل هغه یې معاینات ولیدل، چې تر سره شوي ؤ، څه درمل یې ورته ولیکل او ورته ویې ویل: چې تر څو د سي ټي سکن نتیجه راځي دا درمل خوره انشآ الله بیا به د هغې مطابق نور درمل درته لیکم.**
**دوی نسخه ، درملتون ته ویوړه او درمل یې له درملتونه واخیستل. د ازموینو او د درملو د لګښت ورکولو خونې ته لاړل، هغه یې د مسلسل نمبر شمېره، چې په کمپیوټر کې ووهله خپل د پیسو صندق ته یې لاس کړ دوی ته یې پنځه زره افغانۍ ونیولې.**
**رڼا حیرانه شوه، ورته ویې ویل: داڅه دي ؟**
**د بنک کارکونکي وویل:**
**ستاسې پیسې مخکې له مخکې داخلې شوې دي، له لګښت نه مو دا پنځه زره زیاتې شوې؛ ځکه مې درکړې.**
**رڼا : چا پیسې درکړې؟**
**له شاه شاپور غږ وکړ: څه پلټنې مو پیل کړې دي راځئ! ځو نه کورته.**
**د بنــــــــــک مــــــــــامور وویــــــــــل:**
**همدې ځوان ستاسې پیسې داخلې کړې دي.**
**رڼا په شاپور کې سترګې ونیوې، ورته ویې ویل:**
**شاپوره! ته ولې داسې کوې؟**
**شاپور: حلیمه زما خور ده، ایا یو ورور د خپلې خور لپاره دومره وړوکی کار نه شي کولی؟**
**رڼا : خو**
**شاپور : خو مو نشته ځئ چې ځو!.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور، رڼا او د هغې خور خپل کور ته ورسولې د هغوی د ښکته کېدو پر مهال شاپور وويل:**
**که سبا ته د حليمې روغتيا ښه نه وه نو مجبور نه ياست، چې دفتر ته راشئ.**
**رڼا: وخندل بيا يې ځواب ورکړ:**
**زه د افغان رسنيز دفتر مشره يم، اړتيا نشته چې څوک راته د دفتر د تلو او نه تلو ووايي او نه دا صلاحيت چاته ورکوم.**
**شاپور يې هم په خبره مسکی شو، ويې ويل:**
**سمه ده رئيسې صيب! زه ښښنه غواړم.**
**کورته په ننه وتو سره حليمې رڼا ته وويل:**
**ته کله، کله له خپله بريده وځې .**
**رڼا په حيراني سره د خپلې خور مخ ته وکتل، ورته يې کړه:**
**ولې؟**
**حليمه: شاپور درته کومه بده خبر ونه کړه؛ خو تا هغه ته په سپکاوي ځواب ورکړ.**
**رڼا: نو په دې خبره مې غېږ ورکړې وای؟**
**حليمه: نه خورې! د ښې خبرې ځواب په بدې خبرې او يا هم داسې خبرې، چې چاته سپکاوی وي سمه خبره نده.**
**رڼا: ته ډېره د شاپور پلوي کوې ،ايا زه ددې کار لامل پوښتلی شم؟**
**حليمه: خورې! چې څوک دې درناوی کوي، نو د انسان فرض گرځي، چې متقابل کس درناوی وکړي؛ ته وگوره په نن ستونزه کې لکه له مونږ سره د ورور په شان تر هغه موجود ؤ، چې تر کوره راورسېدو، ټول لگښتونه هغه وکړل؛ مونږ ته يو خپلوان هم په کار رانغی همدا شاپور دی، چې د سيوري په ډول له مونږ سره په هره ستونزه کې ولاړ دی.**
**مونږ خو د کوم زيارت منجوران او يا هم د پير اولاده نه يو، چې خلک دې راته په درنښت قايل وي؛ خو دا دشاپور انسانيت دی.**
**رڼا: بس کړه نور مې عصاب مه خرابوه، هيڅوک هم د خدای ج لپاره نه دي لگيا، پشه مونږک د ثواب لپاره نه نيسي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به دې د شاپور له پټې څېرې ډېره ژر خبره کړم، ته په څه نه پوهېږې څکه بک، بک کوې.

حليمه يې هم په خبره وشرمېده له ځان سره يې وويل:

کېدای شي ما شاپور په پوره مانا نه وي پېژندلی؛ څکـه چـې د انسـان پېژنـدګلوي ستونزمنه وي؛ کېدای شي خور مې په حقه وي.

دواړه کور ته ننول، د ماښام خوړو په تياري باندې لګيـا شـوې خـواړه تيـار شـول دواړو ډوډې وخوره او بيا د لمانځه نه وروسته ويده شول

سبا سهار په رڼا پسې د دفتر موټر راغی هغه يې دفتر ته ورسوله.

په دفتر کې له ناستې سره سم يې شاپور ته زنګ وکړ، ورته ويې ويل:

زه دفتر کې درته منتظره يم!.

شاپور: اغلې رڼا! خير خو دی؟ حليمه ښه ده؟

رڼا: هو ټول ښه دي غواړم په ځينو شخصي خبرو درسره وغږېږم.

شاپور: لکه غوټۍ، چې وغوړېږي تر او تازه شو ،له ځان سره يې وويل:

څه شاپوره! ګاډی د پټلۍ ته ولويده، د شهزادګۍ زړه ته دې لاره پيدا کړه، هيلـې دې په پوره کېدو دي، بيا يې غبرګ لاسونه پورته کړل دعا يې وکړه ويې ويل:

پاکه ربه! زه په دې نړۍ کې هيڅ هم نه غواړم، بس يوازې رڼا غواړم هغـه، چـې د هرې تيارې لپاره بله ډيوه ده. هغه چـې د يـوه پـاک زړه خاونـده ده، هغـه چـې انسانيت بايد له هغې زده شي، هغه چې د نفس په نوم څه نه پېژني، يوازې د ولـس سره مينه يې عشق دی، ټول ژوند يې په همدې راڅرخي او هيڅ ناروا فکـر تـه پـه کپرۍ کې ځای نه ورکوي. خدايه دا لويه هستي زما کړې زما ژوند د پسرلي غوندې پرې ښکلی کړې، زما ملا پرې را محکمه کړې، زما هيلې پرې بشپړې کړې.

نور يې لپه لاسونه پر مخ وسرويل او د رڼا دفتر په لور روان شو.

له لنډ مزل وروسته د رڼا مخې ته کېناست. رڼا عادت لاره، چې تل بـه يـې سـترګې ښکته اچولې وې او له اړتيا پرته به يې چاته مخامخ نه کتل

خو د شاپور له ننوتو سره يې د هغه تر کېناستو پورې له شاپوره سترګې ونـه ښـکلې، شاپور فکر کاوه، چې رڼا يې ليک اغېزمنه کړې او هغه ته د نور نزدېکت هيله لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوپتیا وه، دفتر خاموشه و؛ خو هغه مهال رڼا چوپتیا ماته کړه، چې بې له مقدمې یې په برنډو سترګو او قهرجنه څېره شاپور ته وویل:

تاسې زموږ لپاره څومره لګښتونه کړي؟

شاپور: اغلې رڼا! خیر خو دی؟ زه پوه نه شوم.

رڼا: زه غواړم پورونه دې درکړم.

شاپور: ما خو یې غوښتنه نده کړې نو بیا یې څه اړتیا ده؟

رڼا: اړتیا شته زه یې اړتیا احساسوم

شاپور: رڼا هیله کوم، دا خبره همدلته پرېږده، ستاسې مور زما مور ده او ستاسې خور زما خور ده. ایا هغوی په ما دومره حق نه لري، چې دومره کوچني کارونه ورته وکړم؟

رڼا: زه چې ژوندی یم، تاته اړتیا نه شته، چې زما د مور او کورنۍ لپاره پیسې ورکړې.

شاپور: زه نه پوهېږم، چې ته ولې داسې وایې؟ ایا کومه ستونزه پیدا شوې؟

رڼا: ته څه فکر کوې، چې ته به په پیسو د خلکو عزت واخلې، ته له موږ سره همدردي ددې لپاره کوې، چې موږ وپیرې؟

ملیحه خو ګرمه نه وه، چې په ما یې د خود فروشي تور ولګاوه، هغې ته ستا ناولې غوښتنې مالومې وې، تا به نورو انجونو ته، څومره د پیسو په لګولو دوکه ورکړې وي.

شاپور : اغلې رڼا! دا ته څه وایې؟ ته په کوم سوتفاهم کې لوېدلې یې، زه دې په دې خبرو ډېر خفه کړم؛ هغه څه چې ته یې وایې خدای ج شاهد دی، چې ما یې په اړه خیال هم نه دی کړی، هیله کوم له دې خبرو تېره شه.

رڼا: حقیقت خو تریخ وي طبعي ده، چې انسان خفه کوي.

شاپور: لږ دې هم فکر ونه کړ، چې دا خبرې دې ماته له څومره سپکاوی ډکې دي؟

رڼا: هو زه پوهېږم، دا سپکاوی دې زه هم غواړم، چې تا سپک کړم، تا ته درس درکړم، چې داسې کړنې بیا په ژوند کې هم له چاسره تکرار نه کړې.

شاپور یې په خبره جدي شو، رڼا ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښنه غواړم اغلې رڼا! ما څه داسې تر سره کړي، چې په بدل کې یې پرته له دې، چې فکر وکړې داسې خبرې کوې؟**

**رڼا له دسکوله د هغه لیک راوکیښ او په دواړو لاسو یې د هغه مخې ته ونیو، ورته ویې ویل:**

**زه ستا له دې لیک نه څه مطلب واخلم؟ پرته له دې، چې تاسې زما لپاره پکې د یوې بې ثباته مېرمنې او د هوس پالونکې مېرمنې نظر ولرئ بل کوم مطلب ترې اخیستل کېدای شي؟**

**شاپور: اغلې رڼا! ته زما له ښې روېي ته ناسم برداشت کوې، په ریښتیا زه دومره خوږ شوی یم، چې خلک مې ښوی تېروي.**

**رڼا: هو ته ظاهره خوږ شوی یې، خو باطن دې له پلیتیو ډک دی.**

**شاپور: هیله کوم، نور یې بس کړئ!. زه نور ددې خبرو د زغم وس نه لرم، زما حوصله نوره مه ازمایه.**

**رڼا: ته به څه وکړې هه!. ما به له دندې لرې کړې؟ زه په خپله ځم او همدا نن دنده پرېږدم.**

**زه تاسې غوندې خلکو سره یوه شېبه هم کار نه کوم.**

**شاپور: اغلې رڼا! هیله کوم نورې خبرې نه اوږدوو؛ ځکه زما د هر دلیل ویلو سره ته موضوع نوره هم پېچلې کوې او تر منځ مو فاصله زیاتوې.**

**رڼا: زموږ تر منځ کله نزدېکت ؤ، چې فاصله پیدا شي؟**

**شاپور: اغلې رڼا! ته په حقه یې زه تاسې ته قناعت نه شم درکولی، ماته له دې هم نورې سوې سپورې خبرې وکړه، ومې رټه، بدګماني راباندې وکړه، سل تورونه راباندې ولګوه. زه نه خفه کېږم؛ خو یو سوال درته کوم زموږ مسله د دفتر مسلې پورې مه تړه، دغه دفتر له مانه هم تاسې ته ډېره اړتیا لري، که ته لاړه شې، هر څه به ونړېږي، ستاسې هدف به هم له خاورو سره خاورې شي، دغه رسنیز مرکز اوس ستاسې له برکته په ډېر لوړ مقام کې ځای لري، که ته وغواړې زه درنه لرې ځم؛ نور دلته سر هم نه راښکاره کوم خو ته دا ځای مه پرېږده.**

**رڼا په قهرجنه لهجه وویل: دلته نور مه راځه، همدا مې شرط دی، چې زه دلته کار ته دوام ورکړم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور: سمه ده! نور نه راځم ته خپل کار ته دوام ورکړه.**

**شاپور له دې وېرې، چې رڼا کومه بله خبره د تلو لپاره پلمه نه کړي، لکه برېښکۍ له دفتره ووت.**

**د رسمیاتو له ختمېدو سره رڼا هم خپل کورته ورسېده، حلیمې ورتــه ســتړې مشــې ورکړه بیا یې یوه گرمه پیاله چای ورته مخې ته کېښود. په خوا کې یې کېناسته ورتــه ویې ویل:**

**خورې! زه د هغې خبرې له اورېدو را په دې خوا ډېره اندیښمنه یم.**

**رڼا: دکومې خبرې په اورېدو؟**

**حلیمه: هغه چې تا وویل: چې د شاپور پټه څېره درته په ډاکه کوم.**

**رڼا ددې خبرې په اورېدو له خپل جیبه د شاپور هغه لیک راوویست، چې حلیمــې یې ورته د لیکلو مشوره ورکړې وه.**

**حلیمې ته یې ونیو، ورته ویې ویل: دا دی د شاپور اصلیت!.**

**مخکې له دې، چې دغه لیک حلیمې ته ورکړي، خبرو ته یې دوام ورکـړ هغــې تــه یې وویل:**

**نن مې داسې درس ورکړ، چې پېړۍ، پېړۍ به یې نسل یاد ساتي، بیا به زما مخ ته د راتلو جرئت ونه کړي؛ وروسته یې په لاس کې نیول شوی لیک هغې ته ونیو.**

**هغې لیک ترې واخیست ټول یې ولوست بیا یې لنډه مسکا وکړه، د رڼا مخ تــه یــې ځیر، ځیر وکتل ورته ویې ویل:**

**خورې! په دې لیک کې خو داسې څه نشته، چې کومه بد نیتي پکې وي، یــا هــم کومه شومه اراده تمثیل کړي.**

**دا چې تا ددې لیک په اړه شاپور ته سپکې سپورې ویلــې، دا دې تېــری کــړئ، د هغه په حق کې مو تجاوز کړی دی، هغه مو بې ځایه ښکنځلی دی.**

**رڼا: نو ولې میلمستیا مې ورته کړې وی؟**

**حلیمه: نه، خو د دې وړ هم نه ؤ، چې هغه تــه دې بــدې ردې ویلــې وای، حــال داچې هغه بې گنا دی.**

**رڼا: څه ډول هغه بې گنا دی؟ هغه په لیک کې لیکلي، چې په ماگرانه یې، زه غواړم یو ځای درسره واوسم، تاسې ته ناز درکړم او... دا څه مانا لري؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حليمه: خورې! هغه له تا سره مينه لري، که مينه کول گنا وي، نو ته يې ووايه. هغه د زړه له تله غواړي تا خپله کړي، تاسره د خاوند او مېرمنې په سپيڅلې اړيکه ځان در گډ کړي؛ نو اوس ته ووايه شاپور ورور مې کومه گنا کړې؟**

**ايا واده کول او د واده لپاره يو څوک خوښول گنا ده؟ ايا د دې پاکې اړيکې د خپلولو لپاره هڅه گنا ده؟**

**رڼا: ته څه پوهېږې، چې هغه داسې نېت لري؟**

**حليمه: زه پوهېږم، هغه زه په جريان کې اچولې يم، زه غواړم د هغه د زړه خبره درته وکړم. هغه ماته ويلي: سره له دې، چې رڼا له بريد وتلې ښکلې ده، خو زه د هغې په څېره نه يم مين، د هغې په پاک زړه مين يم، د هغې په پاک احساس مين يم او د هغې په هغه خواخوږي مين يم، چې د خپل ولس سره يې لري.**

**رڼا : ته ډاډه يې، چې هغه داسې نېت لري؟**

**حليمه : هو زه ډاډه يم، زه له ځانه هم په شاپور ډېر باور لرم، هغه د نړۍ تر ټولو ښه انسان دی.**

**رڼا: ته څرنگه داسې خبرې بې له ثبوته کولی شې؟ ته څنگه په يو پردي انسان دومره باور کولی شې؟**

**حليمه: زه ثبوت لرم، هغه ثبوت زما د سترگو ليدلی حال دی.**

**رڼا وويل: څه؟**

**حليمه : په هغه ورځ، چې ته بې هوشه په روغتون کې پرته وې موږ د مور، خور او ورور له خښېدو وروسته ستا خواته درغلو ستا اطاق ته په ننوتو، مې په خپلو غږېدلو سترگو وليدل، چې هغه ستا لاس په خپل لاس کې نيولی، سر يې پرې ايښی ؤ کله هم، چې هغه زما د قدمو ترپا واوريده او سترگې يې راپورته کړې سترگې يې له ډېرې ژړا تکې سرې وې، سخت وشرمېده او هڅه يې کوله له ما د خپلې بهوسي اوښکې پټې کړي.**

**داسې څنگه کېدای شي، چې څوک د چا سره مينه ونه لري او د هغه لپاره دې وژاړي، د هغه لپاره دې هرې قرباني ته چمتو وي.**

**رڼا : دا دليل نه شي کېدای.**

**حليمه: ولې نشي کېدای؟ نور څه وکړي په دار ځان راوځړوي، ځان وژنه وکړي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا: زه يوه پوښتنه کولی شم؟**
**حليمه: هو! ولې نه.**
**رڼا: ته ولې د شاپور مدافع وکيله جوړه شوې يې؟**
**حليمه: زه هغه څه وينم، چې ته يې نه وينې، ته د شاپور په څېر انسان بل نشې پيدا کولی.**
**رڼا: ولې د انسانانو قحطي ده؟**
**حليمه: هو قحطي يې ده، د هغو خلکو قحطي ده، چې د زړه له تله له چا سره مينه لري، د زړه له تله يو څوک مني او د زړه له تله ورته درناوی لري.**
**رڼا: ته څرنگه په پوره ډاډ سره داسې خبرې کولی شې؟**
**حليمه: هغه زما سره دا خبره شريکه کړې ده، ما په هغه ورځ، چې ته په روغتون کې بې هوشه پرته وې او شاپور درته لکه عسکر ولاړ ؤو، ما له هغه سره ژمنه کړې، چې زما سر دې هم په کار وي،درنه دريغ به يې نه کړم؛ ځکه هغه زموږ مور، خور او کوچنۍ ورور داسې خښ کړل لکه د شهزاده د کورنۍ غړي، ټول لگښتونه هغه وکړل.**
**له مانه يې ته غوښتې يې، د زړه له تله درسره مينه کوي او زه په دې ډاډه يم، که ډاډه نه وای هيڅکله به مې هم د هغه پلوي نه وه کړې، وروسته يې نوکانو ته وکتل ورو يې وويل:**
**هغه ليک، چې ته يې په اړه په قهر شوې يې او شاپور دې پرې خفه کړی په هغه کې د شاپور هيڅ گنا نه وه، ما ورته مشوره ورکړې وه، چې داسې وکړه کنه هغه نه غوښتل.**
**رڼا د حليمې غوږ ونيو، تاؤ يې کړ بيا يې هغې ته وويل:**
**ښه! نو دا ستا او د شاپور گډه هڅه ده؟**
**حليمه: هو! هغه زما ورور دی، يوه خور د ورور لپاره دومره نشي کولی، چې د هغه د مينې په لاس ته راوړلو کې له هغه سره مرسته وکړي؟**
**رڼا : ښه! ته دا بابولالې پرېږده، زه په رښتيا هم د شاپور په وړاندې په سهارنيو خبرو خفه شوم، ماته هم مالومه شوه، چې ما د هغه په اړه کوم غلط فکر کاؤه، زه تېروتلې وم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیا یې وویل:**
**خیر تېر په هېر، نوره دا خبره دلته ترړو،**
**خو حلیمه یې په خبره کې وروغورځیده رڼا ته یې وویل:**
**چې تېروتې یې نو باید جبران یې کړې.**
**رڼا : څه ډول یې جبران کړم؟**
**حلیمه :له هغه سبا ښځنه وغواړه.**
**رڼا: له پردیو خلکو ښځنه زما په کلتور کې نشته، څه د پلار او نیکه پټې مو ور سره شریک ده، خپل کار به کوي.**
**شپه ناوخته وه د خوب په ورتلو ددوی بحث هم پرې شو ، نور دوی څملاستل گروفونه یې مړه کړل.**
**سبا سهار رڼا دفتر ته لاړه او حلیمه د کور له کارو خلاصه شوه. لمر غوړي ته کېناسته د ځان د بوختولو لپاره یې فسبوک پاڼه راخلاصه کړه، له خلاصېدو سره سم یې د مسنجر زنگ د یو څه د راتلو خبره کړه. حلیمه هم نېغه مسنجر ته لاړه، له یوې نامالومې آی ډي نه ورته یو تصویر لېږل شوی ؤ. حلیمې چې په تصویر سترگې ولگیدې، ټکان یې وخوړ ،یوه او بل لورته یې وکتل تر څو پوه شي، چې کوم خیال نه وي؛ خو احساس یې کړه، چې نه خیال دی او نه خوب. د ځان ډاډه کولو لپاره یې خپلې سترگې وموښلې تر څو یې دید سم شي؛ خو هغه څه چې مخکې یې لیدلي ؤ کوم تغیر ونه کړ، هماغه تصویر ؤ، چې څو لحظې مخکې یې لیدلی ؤ په کوم کې چې د حلیمې بدن نیمه لوڅ ښکاریده. راساً پوه شوه، چې کله یې د سي ټي سکن معاینه کوله هلته یې تصویر اخیستل شوی، هغه کومه کاذبه رڼا نه وه، چې په هغه وخت کې دې لیدلې وه. هغه دکمرې رڼا وه، چې د انځور اخیستنې پر وخت حلیمې لیدلې وه، حلیمه په همدې سوچونو کې ډوبه وه؛ خولو یې پر وجود لارې وکړې،په خوله کې یې ژبه وچه شوه او یو شاک ته ورته حالت پرې راغی، په دې وخت کې په مسنجر باندې ورته ټلیفون وشو.**
**د سلام له ویلو پرته ورته وویل شول:**
**تصویر دې ولید؟**
**حلیمه: ته څوک یې او څه غواړې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه کټ، کټ وخندل، ورته ويې ويل:**
**مه وارخطا کېږه، دومره د وارخطايي خبره نده.**
**حليمه: ته مور او خور نه لرې، چې له انجونو سره داسې کوې.**
**ځواب ورکړل شو:**
**ما څه کړي؟ ماخو کوم بد کار ندی کړی يوازې مې د يـوې ښـکلې نجلـۍ تصـوير اخيستی.**
**په دې کې نو څه ستونزه ده؟**
**حليمه:**
**که دا ډول تصوير ستاسې له خوره څوك واخلي، نو تاسې ته به ښه مالومه شي؟**
**ورته وويل شول: که غواړې دغه تصوير دې په فيسبوك او رسنيو کې نشر نشي نو، له ماسره ووينه.**
**حليمه: د خدای ج لپاره داسې ونه کړې. زما انځور سره دومره بې انصافي ونه کړې، که ته دا کار وکړې، نو زما په مرگ به تمامه شي او زما خور رڼا چې په ټـول هېـواد کې نوم لري، دهغې نوم به له خاورو سره خاورې شي.**
**سړي ځواب ورکړ:**
**هو رڼا خو د هېواد ټول خلك پېژني، ښه شهرت لري؛ خو د نورو د شهرت خيال نه کوي.**
**حليمه: څه مطلب؟**
**ورته وويل شول: مطلب دا چې هغې تل هڅه کړې، چې د خلکو د عزت په ځپلـو سره خپـــــــل شـــــــهرت تـــــــه لاره هـــــــواره کـــــــړي.**
**حليمه: زما خور هيڅکله داسې نه کوي، چې د چا شته عزت خراب کړي.**
**سړي وويل:**
**نه ،داسې نده چې ته فکر کوې، هغه خپله لوړتيا د نور په راپرځولو کېويني، نـور له پښولاندې کوي او د هغوی په سر خيژي ځان پرې لوړو پوړو ته رسوي.**
**حليمه: زه هيڅ نه پوهېږم، چې ته څه وايې خو د خدای ج لپاره له مـا سره داسـې ونه کړې زما عزت وساته .**
**هغه ځواب ورکړ: که داسې غواړې نو ماسره ووينه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حلیمه: چېرې درسره ووینم؟**

**ځواب ورکړل شو: شاه دوشمشره ولي زیارت کې سره ګورو، هغه هم سبا دولس بجې؛ خو ګوره! خور به دې نه خبروې، که هغه دې خبره کړه، په ډېر زیان به درته تمامه شي، خپل تصویرونه به په ټولنیزو رسنیو کې پرته له ځنډه وګورې.**

**اړیکه پرې شوه.**

**حلیمه لکه تش کالبوت ټلیفون پر لاس حیرانه ولاړه وه نه پوهیده، چې څه وکړي. له اوږده ځنډه وروسته یې فکر ته راغله، چې له پېښې شاپور خبر کړي؛ د هغه د ټلیفون شمیره یې د ټلیفون په سکرین راواړوله، خو مخکې له دې چې ټلیفون ورته وکړي د هغه کس خبره وریاد شوه، چې که نورڅوک خبرکړې نو تصویرونه به یې خپاره کړي ،ځکه بیرته د هغه له خبراوي پښیمانه شوه.**

**د نورو خپلوانو په اړه یې فکر وځغلاؤ؛ خو هیڅوک ورته د ستونزې د ویلو ښکاره نه شول لکه اوبو اخیستل شوی ځک هر لور ته یې خوځښت جریان درلوده خو ثبات یې نه وو.**

**هغه کس ته یې په مسنجر زنګ وواهه ورته ویې ویل:**

**زه نن درسره ګورم، تر سهاره به مې ترک زړه وچوي، زه غواړم پوه شم، چې تاسې ولې زما تصویرونه اخیستي او په بدل کې یې څه غواړې؟**

**هغه ځواب ورکړ:**

**ته چې دومره ناقراره یې نو زه څه ستونزه نه لرم، زه به هلته درته منتظر یم.**

**حلیمه: ته ټلیفون بند نه کړې، چې زه دې پیدا کړای شم.**

**سړي وویل:**

**زه ټلیفون نه بندوم؛ ځکه همدا مې ماموریت دی او همدا مې موخې ته د رسېدو وسیله ده، زه هلته درته په تمه یم او پام چې زه د څارم که کومه تېروتنه دې وکړه؛ پولیسو او یا هم کوم بل چاته دې د راتګ وویل، نو ډېره درنه به درته تمامه شي زما نورملګري دې څاري که دا غلطي وکړې نو زه به بندې شم خو ستا عزت به هم لوټ شي، ټول خلک به دې بربنډ تصویرونه وګوري، هیله لرم دا تېروتنه ونه کړې.**

**حلیمه: زه هیڅ کله داسې نه کوم او نه چاته وایم، ماته مې له عزته نور څه مهم نه دي؛ زه غواړم خپل عزت وساتم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلیمه له کوره بهر شوه، له وېرې لکه پاڼه رپېده، ټیکسي کې سپره شوه، وچه خوله نهاره نهوره یې د عزت لوټونکي خواته حرکت وکړ.

((((((((((((

رڼا هم په دفتر کې د خپلې ایمانداري مسؤلیت اداکاؤه. په هېواد کـې د سـمون او فساد اوړدمهالې ستونزې د ورکاوي په فکر کې ډوبـه وه، چـې د دفـتر دروازه یـې وټکېده. هغې دې راځه ورته وویل.

ګوري یو نا پېژانده ځوان یې دفتر ته دننه شو، رڼا هم هڅه کوله ویې پېـژني، خـو مغزي پلټنې یې پرې کار ونه کړ.

رڼا ښه راغلاست ورتهووایه.

هغه هم د منني په څنګ کې د ناستي اجازه وغوښته. رڼا ورته د څوکی لـور تـه پـه ګوتو اشاره وکړه، ورته ویې ویل:

مهرباني وکړئ کښېنئ!.

ځوان کېناست له څېرې او عداتو خورا کمینه مالومېده

رڼا ورته د چای راغوښتو سره سم وویل:

کېدای شي د راتګ په موخه مو پوه شم؟

هغه ورته کړه: بلې اغلې!

زه په فراه کې د الجزیره تلویزون خبریال یم غواړم پـه یـوه مهمـه موضـوع درسره خبرې وکړم.

رڼا : مهرباني وکړئ! زه یې اورم.

هغه وویل:

ډېره هیله مې وه، چې درسره وګورم، شکر چې نن مې دا هیله پوره شوه.

رڼـا پـه لنـډ مسـکا د هغـه خـبره پـرې کـړه، ورتـه ویـې ویـل: داسې څه ځانګړتیاوې لرم، چې زما لیدو ته یې دومره لیواله کړی وې؟

هغه وویل: ته د هېواد یوه اتله یې، د رښتوني خبریالي یوه بیلګه یې، وطن پالنـه، ولس پالنه، زړه سوی خدمت، سرښندنه او قرباني باید لـه تـا زده کـړای شي. سـتا احساس، له نورو خورا توپیر کوي هغه قرباني، چې ته یې د هېـواد لپـاره ورکـوې هیڅ څوک یې د اداینې جرئت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا : مننه ځوانه!.
دا خو ستا لویی ده، چې ماته دومره لوی الفاظ کاروې،البته چې زه یې وړ هم نه یم. ما چې څه کړي او یا یې کوم، مسؤلیت مې دی، دنده مې ده. خدای ج تـه د خپلو مسولیتونو د ادا د ځواب د پیدا کېدو په لټه کې یم؛ خو بیا هم ډاډه نـه یـم، چې خدای ج ته به زموږ کړنې د منلو وي که نه او خـدای ج بـه مـو پـه دې کـارو وبښي او کنه.
ځوان وویل:
اغلې رڼا! ستاسې کړنې زموږ لپاره یو درس دي، یو پند دي زه ډاډه یـم، چـې پـه خلکو هم مالومې دي احسان دې مني او ډاډه یم، چې ستاسې ریښتونې هڅـې بـه خدای ج هم قبولې کړي؛ ځکه خدای ج کړنو تـه نـه ستاسـې د زړه اخـلاص تـه ګوري او د اخلاص کمی په تا کې نشته.
رڼا : سلامت اوسې ښاغلیه! مننه درنه کوم، ستاسې خبرې ماته ډاډ راکوي.
خبریال وویل:
اغلې! زه د یوې ډېرې مهمې خبرې لپاره راغلی یم.
رڼا: مهرباني وکړه!.
ــــ: زه بیا هم تکراروم، چې ستاسې په ربښتینولي باندې ډېر باور لرم، خـو ستاسـې یو خبریال، چې ستاسې د تلویزون د فراه ولایت مسؤل دی، له ما سره یو ځای کار کوي.
رڼا وویل:
ښه! ساحل غمخور ښیې؟
خبریال: هو!
رڼا: نو؟
خبریال: هغه چې کومې کړنې تر سره کوي، تاسې ترې خبر یاست؟
رڼا: هو! هغه زموږ خبریال دی.
خبریال: داخو سمه ده، خو له خبریالي یې ستر تجارت جوړکړی.
رڼا: هغه څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبريال: زه نور تفصيل نه شم ورکولی دا مالومات په خپله وکړئ؛ ځکـه کـه يـې زه ووايم فکر به وکړې کومه شخصي ستونزه ورسره لرم.

رڼا: نو ستاسې د دې شکايت په ويلو کې موږ ته څه ګټه ده؟

خبريال: که تاسې د هغه په رازونو پوه شئ؛ نو ستاسې رسنيز دفتر ثبات ته يې ډېره ګټه رسېږي. اغلې رڼا! زه ډاډه يم هغه چې کومې کړنې تـرسره کـوي، ستاسـې لـه پاليسي سره ورته نه دي، ستاسې پاک نوم او باور ته زيان رسوي، ستاسـې د رسـنيز مرکز لوړ نوم او باور لپاره لکه د ونې چينجی دی، هر څه مو بربـادوي، زه پـه دې کار کې هيڅ کوم شخصي غرض نه لرم خو؛ ستاسې په نوم او باور مې زړه بدېږي. د يوه مسؤل خبريال په صفت درته راغلی يم، دا چې تاسې زما په خـبره کـوم اقـدام کوی يانه ماته توپير نه کوي؛ ځکه ما خپل مسؤليت ادا کړ نـور ستاسـې خپـل کـار دی.

رڼا: ته چې څه وايې خدای ج دې وکړي درواغ نه وي او که دروغ ثابت شي نو بيا به زما نه بده مېرمن بل څوک نه وي. زه به تل د هغه چا په وړاندې ودرېږم، چې زما د خبريال سپکاوی کوي.

زه همدا نن فراه ته ځم او د خپل خبريال په اړه څېړنې پيلوم.

خبريال وويل:

مخکې له دې، چې تاسې څېړنې پيل کړئ، زه څه مالومات درته واضح کوم: هغـه چې ستاسې سره کار پيل کاؤه، يو زوړ سايکل يې درلوده اوس موټرې لري، پاخـه کورونه لري، ته يوازې ددې پلټنه وکړه، چې هغه دا شتمني له کومه کړه؛ نور هيڅ څه ته هم اړتيا نه شته. که زه په ناحقه وم کارت يې له جيبه راوکيښ د رڼا په مېز يې کېښود بيا يې وويل:

دلته مې د ټليفون شميره شته، ما راوغواړه په دار مې کړه.

رڼا : سمه ده، زه ستا په خبرو پلټنه پيلوم؛ خو که ادعا مـو ناسـمه وختـه همداسـې کوم.

رڼا خپل موټړوان ته زنګ وواهه د فراه د تګ لپاره يې ورته د چمتـووالي هـدايت وکړ.

هغه هم خبره ومنله، رڼا د فراه په لور روانه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



((((((())))))))))))

حلیمه هم د خپلې ستونزې د پوهاوي دپاره شاه دوشمشیره زیارت ته ورسېده؛ لالهانده یې یوه او بل لور ته کتل، چې ناولی تصویر اخیستونکی پیدا کړي او د هغه په موخه ځان پوه کړي.

ټلیفون یې وشرنګېده، ویې کتل چې د مسنجر په وسیله د تصویر اخیستونکي زنګ وهلی؛ حلیمې ټلیفون اوکې کړ.

هغه کس چې بختیار نومیده وویل: زه دې وینم، هیله لرم څوک دې په جریان کې نه وي اچولي، که تا دا کار کړی وي؛ نو زه پوهېږم، چې وبه نیول شم، بندي به شم خو زما نور ملګري تیار فسبوک ته ناست دي ما څاري که ونیول شم ما ورته ویلي، چې پرته له ځنډه ستاسې تصویرونه نشر کړی؛ نوکه څوک دې په جریان کې اچولي وي ماته ووایه، چې درسره ونه وینم او د تصویرو له خپریدو د مخه ونیول شي؟

حلیمه: نه، ما څوک نه دي خبر کړي، زه له خپل عزت سره لوبې نه کوم؛ خو ته چیرې یې؟ له ما سره ژر ووینه، زه بیرته په بېړه تګونې یم ته ډاډه اوسه چاته مې د خپل راتګ ندی ویلي او نه څوک راباندې خبر دي.

بختیار ځان ډاډه کړ؛ لنډ مهال وروسته د حلیمې مخې ته په خوښې ډوله څېره ودرید ورته ویې ویل: دلته نږدې هوټل شته هلته ځو.

حلیمه : زه په هوټل کې څه کوم؟ ته ما هوټل ته دې څه شي لپاره بیا یې؟ هر څه، چې راته وایې همدلته یې ووایه!.

بختیار : زما او ستا کیسه خو دومره لنډه نه ده، چې په څو لحضو کې ختمه شي.

حلیمه: زه نه پوهېږم، چې ته څه موخه لرې. ماته مو خپله موخه ووایئ، چې زه خپله پرېکړه درته ووایم.

بختیار کټ کټ وخندل ځواب یې ورکړ:

له دې وروسته ته اړه یې، چې د ریموټ په ډول زما د اغېزې لاندې خپلې چارې تر سره کړې.

حلیمه : مطلب؟

بختیار: نور به ما سره ساعت تېروې، زه چې څه وایم هغه به منې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حلیمه: څه مې، چې وس کې وي منم يې هغه څه چې زما له وسه تېره وي نو نه يې شم منلی.**
**بختیار : ته اوس هم د خپل وس خبره کوې لږ هم د خپل عزت خيال نه ساتې؟ تـه نه احساسوې، چې ستاسې تصويرونه نشر شي څومره رنګه به دې بده شي؟ څومره به د خلکو له پامه وغورځې؟**
**حلیمه: هو پوهېږم ځکه خو د همدې لپاره دلته راغلې يم، چې عزت مـې وسـاتل شي.**
**بختیار: نو په ارامه سره هر څه، چې درته وايم هغه ومنه.**
**حلیمه: نو زه څه ومنم؟**
**بختیار: ما سره به ملګرتيا کوې، زما غوښتنې به پرته له پلمې منې.**
**حلیمه: لکه کومې غوښتنې؟**
**بختیار: هرڅه ان تر دې يو ځای لماستی.**
**حلیمه: دا ته څه وايې؟ ته خپله خور او مور نه لرې؟ ته غيرت نه لرې او ته د انسانيت په نوم څه پېژنې؟**
**ستا خپلو خبرو ته پام دی، چې ته څه وايې؟**
**بختیار: هو ما مې خپلو خبرو ته پام دی، همدا زما دنده ده.**
**حلیمه: ته ولې له ماسر داسې کوې؟ ما څه ګناه کړې؟ ايـا کـه دې تـا لـه خـور سره څوک داسې وکړي ته به څنګه احساس وکړې**
**بختیار: زه غواړم ستا خور رڼا ته درد ورکړم، هغه وځوروم له ژونده يـې زړه ورتـور کړم غرور يې مات کړم.**
**حلیمه: رڼا څه ګناه لري، څه بد يې درته رسولي؟**
**بختیار : ډېره بده مېرمن ده، د خپلو ګټو لپاره د نورو د عزت سره لوبې کوي، زموږ د قومندان نوم يې له خاورو سره خاورې کړ، د رسنيو مخکې يې ابرو ورتوې کړه.**
**حليمـــــــــــــه: کـــــــــــــــوم قومنـــــــــــــدان؟**
**هغه ځواب ورکړ:**
**دا به وروسته څرګنده شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بختيار يوه او بل خواته وکتل ويې ويل: له لرې پوليس زموږ په خوا راروان دي، زما وېره ترې راغله، شک راباندې ونه کړي، که رانږدې شي نو زه بيا حرکت کوم خو ته همداسې هوښياره نجلۍ له ځانه جوړه کړه زما او ستا په راز بايد څوک خبر نشي.**

**هغه لا ولاړ و، چې د شاپور موټر له دوی سره له نږدې سرکه تېر شو. شاپور دواړه وليدل، چې سره ولاړ دي خو مناسبه يې ونه بلله، چې ورته ودرېږي؛ ځکه چې فکر يې وکړ حليمه شايد د ژوند د راتلونکي ملګري په لټه کې وي.**

**په لاره کې د شاپور سره نور سوچونه هم پيدا شول، له ځان سره يې ويل:**

**حليمه بې مور او پلاره يتيمه انجلۍ ده رښا هم ټوله ورځ په دفتر کې وي هسې نه، چې ناسمه لاره يې غوره کړې وي.**

**له ځان سره يې پرېکړه وکړه، چې زه بايد حليمه وڅارم، هغه زما مسؤليت دی، هغه زما خور ده، هغه له ما پرته بل غمخور نه لري. زه بايد د خپلې خور په وړاندې مسؤليت ادا کړم.**

**کورته له رسېدو وروسته يې د کار جامې بدلې کړې، ځمکې ځای ور نه کړ پريکړه يې وکړه، چې حليمې ته ورشي او په دې راز ځان پوه کړي بهر راووت د هغې د کور په لور يې د موټر ګېر ور بدل کړ.**

**لنډ مهال وروسته يې کورته ورسېد دروازه يې ټک، ټک کړه حليمه هم د دروازې شاته لمر غوړي ته ناسته وه، دې دروازې له ټک،ټک سره بهر راووته ويې ليدل چې شاپور ولاړ ده له سترې مشې وروسته دواړه کور ته ننوتل. حليمې له ځانه سره شکرونه باسل، چې په ډېر سم وخت کې له شاپوره مخکې کورته رسېدلې، کنه شاپور به له بندې دروازې سره خور ته ټليفون کاؤه او زما له نه شتون به يې ورته ويلي وو.**

**شاپور له کېناستو سره سم حليمې ته په اصلي خبرې ژبه پرانيستله :**

**شاپور: خورې نن مې د شاه دوشمشيره ولي زيارت سره وليدې.**

**حليمه وارخطاشوه، خوله يې وچه شوه، په توتله ژبه يې په داسې حال کې، چې سترګې يې له ځمکې سره ګنډلې وې ، ورته يې کړه:**

**هو وروره!**

**زيارت ته لاړم سر مې ډېر خوږېده، مال که خدای ج شفا راکړي.:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور :تاسې د سي تي سکن معاینه راوړه؟**
**حلیمه : هو رامې وړه دوه ورځې مخکې ورپسې ورغلې وم ډاکتر ته مې هم وښوده.**
**شاپور: نو ډاکتر بیا څه ویل؟**
**حلیمه: ډاکتر وویل: د کوم تشویش وړه خبره نده ستاسې سر کې داسې کومه خطرناکه ستونزه نشته.**
**شاپور :ښه! شکر چې د اندیښنې وړ څه نه وي.**
**خو هغه بل کس څوک ؤ؟**
**حلیمه نوره هم وارخطا شوه : ویې ویل کوم ؟ څوک؟ چیرې؟**
**شاپور: هغه چې زیارت ته څېرمه له تا سره ولاړ ؤو او له تاسره یې، چې خبرې کولې؟**
**له دې خبرې سره د حلیمې رنګ نورهم والوت ، په بنده، بنده ژبه یې ځواب ورکړ:**
**هغه زما د مکتب ټولګي وال ؤ، تصادفاً مخامخ شوه، د مکتب نوټونه یې په کار ؤ؛ ځکه مو خبرې اوږدې شوې.**
**شاپور یې درواغ احساس کول،ځکه خو یې اندیښنه نوره هم زیاتیده،دې نور وضاحت دپاره یې ترې وپوښتل: اوس خو د ژمي رخصتي ده نو بیا د نوټونو خبره له کومه شوه؟**
**حلیمه: هغه ناکام شوی وو؟ اوس یې د دوهم چانس ازموینې دي؛ ځکه یې زما نوټونه رانه غوښتل.**
**شاپور: خو د هغه سړي څېره زده کونکي ته نه پاتې کېده؟**
**حلیمې د ځان خلاصولو لپاره نوره جدي شوه؛ ښه پوهېده، چې شاپور یې لکه ورور خیال ساتي، شخصیت یې ژغوري خو ، اړه وه جدي شي، په شاپور کې یې سترګې ونیوې په زړه کې یې وویل: ومې ښه وروره! زه پوهېږم زما د ښه والي لپاره دا پوښتنې رانه کوې، خواخوږي راسره کوي؛ خو زه سخته ګیر شوې یم، له خدای ج پرته مې له دې مصیبته بل څوک نشي خلاصولی، زه ښنه غواړم وروره! ته به زما په خبرو خپه شې خو زه بله لاره نه لرم؛ په قهرجنه لهجه یې شاپورته وویل: وروره! ته دومره ډېرې پوښتنې له ما ولې کوې؟**
**په کوم مسولیت یې کوې ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته زما څه کېږې؟**

**شاپور ورته وخندل، بیا یې وویل:**

**ولې ورور دی نه یم؟ ورور د خور نه پوښتنه نشي کولی؟**

**وروسته یې خبرو ته دوام ورکړ: ښه څه کومه خبره نه ده، زه نورې پوښتنې نه درنه کوم، خو ډېر کوښښ کوه، چې هر څه ډېر په پاملرنې مخته بوځې، دلته ژوند اسان نه دی، ته مور او پلار نه لرې، چې خیال دې وساتي رښا هم کله کور وي او کله نه وي له ځان سره ډېر پام کوه.**

**اوس خلک ډېر چالاکه شوي دي**

**تا غوندې معصوم انسانان په ډېرو دامونو کې راګېرولی شي، ژوند ته به ډېر پام کوې، بیا له خپله ځایه پورته شو، د تلو په وخت کې یې حلیمې ته مخ ورواړاؤ ورته یې کړه:**

**ته مې ورور مه ګڼه خو زما خور وې او خور به مې یې.**

**هر کله چې کومه ستونزه کې راګېر شوې ماته زنګ کوه زه به لکه د اسمان پړک په شېر هلته حاضر یم.**

**حلیمه یې په خبرو په ژړا شوه لمدې سترګې یې په شاپور کې خښې کړي ویې ویل:**

**ما په تېرو خبرو وبښه شاپوره ، زما هم ورور یې، د زړه له تله راته له ورور نه کم نه یې اړینه نه ده، چې یو څوک له یوې مور او پلاره پیداوي هغه د ورونه وي، د وروګلوي اړیکو ته د زړه رښتین توب تر ټولو لومړیتوب لري.**

**مجبوریت سړی اړ کړي هغه څه ووایې، چې نه یې غواړي.**

**شاپور: څه مطلب؟**

**حلیمه: هسې**

**شاپور هم پوه شو، چې حلیمه له هغه څه پټوي، نوره یې په هغې د فشار راوړلو هڅه پرېښوده، په ځنګ کې په توشک ایښی تلیفون یې راواخیست او بهر ووت**

((((((((((

**رښا فراه ته ورسېده لکه زړ ور زمری په ناامنه ولایت کې یې په ډاډه زړه خپلې پلټنې پیل کړې، لومړی یې د هغه ځای ژورنالستان راټول کړل یو یو یې جدا ولیدل له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هر یوه یې لومړی دا پوښتنه کوله، چې زموږ خبریال سره دې اړیکې څنګه دي که به یې ویل چې خوښ مې ندی نو نورو پوښتنو ته یې ادامه نه ورکوله؛ خو که به یې ځواب د ښو اړیکو ؤ له هغه به یې مالومات راټولول.**

**پلټنو وښوده، چې د هغې خبریال، د خپلې رسنۍ له قوته زښته زیاته ناوړه ګټه پورته کړې، له هر چا یې کلنګ اخیستی هره عایداتي سرچینه او حکومتي اداره یې په دې خاطر ګواښلې او وېرولې وه، چې منفي راپور در پسې خپروم، که زما برخه رانه کړې.**

**رڼا ځینې اداري داسې هم موندلې، چې د هغوی د لاسته راوړنو د خبر خپرولو اوجوره ترې اخیستل شوې وه**

**ځینو خو رڼا ته د هغه د اخلاقي فساد خبره هم تر غوږو ور ورسوله ورته ویې ویل: ستاسې خبریال به د نظر اخیستو په بهانه له انجونو سره اړیکې ټینګولې، ویډیو یې بلاک میل به یې تر سره کاؤ، او بیا به یې له دې لارې ګواښلې.**

**رڼا له خپلو پلټنو وروسته خورا ډېره خفه شوه په ځان په قهر شوه.**

**د خپل خبریال د شتمن کیدو، خودسریو او بې وجدانه کړنو سخته وځوروله، خپل ځان ته یې تو کړل ویې ویل:**

**اخ رڼا ستا په مشري کې داسې بې ضمیره خبریالانو هم دنده تر سره کړې او ته یې په اړه خبره نه وې.**

**د ځان د لا ډاډه کولو لپاره ګمرک ته لاړه، هلته د ګمرک د مسؤلینو سره وغږېده، هلته یې یو وطن دوست مامور پیدا کړ له هغه یې د خپل خبریال د کړنو پوښتنه وکړه ځواب یې تر لاسه کړ: ستاسې خبریال له ګمرکه د میاشتني معاش په ډول پیسې اخلي.**

**رڼا : هغه له دې ځایه په کوم حق پیسې اخلي؟**

**مامور : دلته فراخه فساد روان دی، د راز د پټ ساتلو لپاره دوی اړ دي هغو کسانو ته پیسې ورکړي، چې له رازه یې پرده پورته کوي، ستاسې خبریال به د ګمرک رئیس ته راغی د اخطار په ډول به یې ورته ویل:**

**یا خو هره میاشت زما برخه راکوه اویا هم له فساده دې پرده پورته کولو راپورونو ته چمتو شه!.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه اړ ؤ هره میاشت ده ته پیسې ورکړي.
له دې مالوماتو راټولو وروسته رڼا ښاروالي ته لاړه؛ هلته هم ورته د حق سکوت او حق ظهور اجوره یاده شوه. ښاروال چې یو وطن دوسته انسان ؤ رڼا ته وویل:
زما له راتګه مخکې دلته بل ښاروال ؤ په فساد کې ښکیل وو، له هغه به یې په شوي فساد کې برخه غوښته او په دې به یې ګواښه، چې که ور یې نه کړي راپورونه به ورپسې خپاره کړي.
ښاروال رڼا ته نور هم تفصیل ورکړ، ورته ویې ویل:
ستاسې خبریال ستاسې سره د دندې په لومړیو کې یو زوړ بایسکل درلوده اوس هره اونۍ یو موټر اخلي او بل بدلوي.
په رڼا کې د ځواب ورکولو جرئت نه ؤ، د ځان ملامتي له کبله یې خوله وچه، وچه کېده. یوازې د سر په خوځولو یې هغه ته د خبرو د دوام تشویق ورکاوه. د خپل خبریال د هر جرم په اورېدو به یې شونډې له غاښو لاندې کولې او د خپلې بې غورې اوښکې به یې له سترګو څڅېدې.
د ښاروال له خبرو وروسته له خپله ځایه اوچته شوه، د مېز په سر د چایو پیاله یې ډکه پرېښوده، د تلو په اراده یې خپل د لاس دسکول راواخیست.
ښاروال ورته وویل:
خورې! ستاسې چای خو ډکه پیاله پاتې شو، لږ تم شه چای مو وڅښئ بیا لاړه شئ!.
رڼا : وروره! زه له اوږد مهاله د یوه نه ښونکي جرم په ګناه مرتکبه یم، شاید ددې ګناه، چې زما بې غورې ده خدای ج مې ونه ښښي، ما څرنګه داسې یو لوی غل او خاین د خبریالي په پاکه جامه کې ساتلی ؤ؟ زه ولې د هغه له دې ناروا کړنو نه ومه خبره؟ بیا یې د ښاروال نه اړول شوی مخ بیرته ور واړاؤ هغه ته یې وویل:
ددې خوار ملت بیت المال دومره اسانه نه دی، چې د رڼا په مشرې کې به یې یو څوک هضم کړي، زه نه پرېږدم، چې د خوار، یتیم او کونډې ګېډه پانګه، چې بیت المال دی څوک رانه وخوري.
زه به خپل خبریال داسې برابر کړم، داسې سزا به ورکړم، چې د تریخوالي مزه به یې د مرګ تر وروستی سلګی هېره نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نوره په چټکي د ښاروال له دفتر ووته، په موټر کې کېناسته، ټلیفون یې راواخیست د افغان رسنیز مرکز د فرا څانګې خپل خبریال ته یې زنګ وواهه.**

**د سلام له ویلو وروسته هغه خپله روږدی هنر پیل کړ، رڼا ته یې وویل:**

**اغلې رئیسې صیب! ستړې مشې، زه خبر شوم، چې فراه ته راغلې یې، نن زما مېلمنه یې پسه به درته حلال کړم.**

**رڼا : میلمنه به دې شم؛ خو پسه په حلالو پیسو اخلې او که د کوم کمېشن لـه برکتـه دې پسه  په ستوني چاړه تیره وې؟**

**هغه د تملق خندا وکړه، ځواب یې ورکړ: قدرمنې رئیسې صـیب! دا تـه څـه وایـې؟ ستاسې درناوی ماته تر هر څه ډېر ارزښت لري، حرامې له کومه کړم د خپل اولاد له خولې یې سپموم او تا ته پرې مېلمستیا کوم.**

**رڼا یې خبره ورپرې کړه، ورته یې کړه:**

**د پسونو د حلالو خبرې عادي خلك نـه کـوي، دا د سرمایـه دارو سـت وي، چـې میلمنو ته یې له خولې وځي او تا ته چې موږ څومره  معـاش درکـوو هغـه ددې نـه جوګه کېږي، چې ماته د مېلمستیا لپاره پرې پسه واخلې او د اولادونو دې هم وشي.**

**خبریال کټ کټ وخندل ویې ویل:**

**ماشومان خدای ج لري هغه یې روزي رسان دی، هیڅوك لـه لـوږې نـه دي مـړه شوي.**

**رڼا : کور دې ودان، زه د مېلمستیاؤ لپاره نه یم راغلې، د خپلې بېغورې، جبران تـه راغلې یم د خپل ناغېړې له لاسه پر اوږو دې پیټې کمولو لپاره راغلـې وم، د خپـل وجدان له ملامتې د خلاصولو لپاره راغلې وم اوس بیرته کابل ته ځم، ډېر کارونه مې په مخکې دي، چې پرته له ځنډه یې باید تر سره کړم.**

**خبریال : نو امر وکړئ! زه څه کولی شم؟**

**رڼا : ټلیفون مې ددې لپاره درته  وکړ، چې سبا دې د تیـارې ټیکـټ وکـړه، کابـل مرکزې دفتر ته له ځنډ پرته راشه.**

**خبریال: خیر خو دی اغلې!؟**

**رڼا: هو خیر دی؛ خو په دې خیر کې د ولس خیر نغښتی دی، نه زما او ستا.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رڼا له خبرو سره د خبریال زړه ټکان پیل کړل، یوه وېره یې په زړه کې خپره شوه له ځان سر یې وویل:

لکه چې رڼا دې د خبریالي په رازونو پوه شوې ده، لکه چې نور دې دې غوړیو لـه دیگه لاس وخوت ، لکه چې نور دې د پیسو سره د لوبو وخت په ختمېدو شـو. زړه نازړه یې د سفر لپاره چمتو والی پیل کړ؛ خو بیا یې هم په بشپړ ډول سره د خپلـې وېرې په اړه باور نه راته، چې رڼا دې د هغه په رازو خبره وي، ځان ته یـې پـه دې تسلي ورکړه، چې شاید دا هسې زما واهمه وي.

((((((((((

حلیمې په کور کې د خپلې ستونزې د پایلې او د سرېښو په ډنډ کې د لوېـدو نـه د ژغونې سوچونه کول، لاره ترې ورکه وه د خپل فکر په نړۍ کې به یې کله یو غر په بل ا وکله بل غر په بل ویشته.

خو د ژغورنې لاره یې نشـوه مونـدلی؛ ځکـه یـوه خامـه پیغلـه وه د فکـر ځغلـونې لیدلوری یې دومره پیاوړی نه ؤ، چې د ځان د نجات لپاره یې پکـې د رڼـا څـرک لیدلی وای.

هغه د خپلو بدبختیو په خیالي ټالونو کې زنگېده، چې ټلیفون یې رڼا او بیا د مسنجر زنگ پرې راغی؛ حلیمې د سکرین په کتو سره ولیدل، چـې هغـه پخـوانی نـاولي انسان ورسره بیا اړیکه ټینگه کړې،دې چا سره چې دې حلیمې نیمه لوڅ انځورونـه وو.

حلیمې په ریږدېدلیو گوتو د ټلیفون شنه بټن کیکاگله ورته وویل شول:

نن راسره د حضوري چمن په یوه څنډه کې وگوره.

حلیمه: د څه لپاره؟

بختیار: غواړم څو خبرې درسره وکړم.

حلیمه: بېکاره انسانه ،ته له ما څه غواړې؟

بختیار : په ټلیفون کې خبرې نه کېږي یو ساعت وروسته له ماسره ووینه کنه ښه بـه درته نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حلیمې پر تن د وېرې لړزه یو ځل بیا خپره شوه، د خپل عزت د ژغورلو لپاره یې له مجبوریته ورته د هو وویل.

بختیار یې په خبره د راتګ ډاډ تر لاسه کړ، بیا یې ورته خبره نوره هم وغځوله هغې ته یې وویل:

ګوره نجلۍ د تېر په څېر یوازې راشه، څوک درنه خبر نشي؛ ځکه چې بیا به د داسې څه سره مخ شې، چې جبران به یې درته ستونزمن وي.

حلیمې د سمه ده په ویلو، د ټلیفون اړیکه پرې کړه.

د تګ لپاره یې تیاری ونیو په یو ساعت کې د چمن حضوري هغه ځای ته ورسیده، چې ژمنه ترې اخیستل شوې وه.

یوه او بل لور ته یې په وارخطایي سره کتل، خو هغه کس چې مخکې یې ورسره لیدلي ؤ په نظر ورنه غی.

د سړک په یوه خواکې یې په یوه کس شک راغی، چې ددې په لور راروان ؤو، حلیمې هم د هغه لورته کتل، چې د بلې خوا نه یې یو سړی خوا کې ودرېده ورته ویې ویل:

کوم چاته خو به دې د راتلو نه وي ویلي؟ حلیمې مخ ورته راواړاؤ ویې کتل چې بختیار دی

حلیمه :ژر، ژر راته ووایه ته څه غواړې؟

بختیار: ولې دې بیړه ده، چیرې ځې؟

حلیمه: تېر ځل مې هم خپلوانو له تاسره لیدلې وم او بیا مې په ډېره ستونزه د هغوی نه ځان خلاص کړ، که دا ځل ولیدل شم نو ځان نه شم ژغورلی.

بختیار یې خبریالې رښا ته ورته لښته او تنګی ځواني له ځیرو سترګو تېره کړه، بیا یې د هغې ځرځو سترګو ته د سوداګر په سترګه وکتل، مسکی شو ورته ویې ویل:

زما او ستا اړیکه د بیړې نه ده، راځه ځو هوټل ته، دلته د لارې سر دی خلک به پر ځان نه شکمنه ؤو.

حلیمه: ته ماته ولې هر ځل هوټل، هوټل یادوې، مطلب دې څه دی؟ روښانه خبره وکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بختیار: مه وېرېږه! زه ستا تصویرونه نه خپروم؛ خو دا يې شرط دی، چې زما له خبرو به سرغړونه نه کوې.**

**زه چې څه درته وایم هغه به منې.**

**حلیمه: گوره ته چې کوم خوبونه وینې دا هسې خیال دی،خوب وینې، د ځان لپاره دې دروغجنه خوښي ده او هسې دې ځان خوشحاله کوې.**

**زه پوهېږم، چې که زما تصویرونه نشر کړې زما لپاره به تر مرگ سخته وي، زه به د خپلو خلکو، ان د خپلې کورنۍ له نظره لوېږم، خو خدای ج به راسره وي، هغه ته به مې مخ تور نه وي ،زه ډاډه یم چې هغه به رانه خفه نه وي.**

**زما لپاره د خدای ج رضا د انسانانو له خوښي غوره ده.**

**ته چې کوم مردار فکر د هوس مړولو لپاره زما په وړاندې لرې او ما پـه دې تصـویر ډاروې؛ تر څو زه ستاسې ناولې غوښتنې ومنم دا ناشونې ده.**

**هسې دې ځان په عذابوې، هسې خواري کوې او هسې په زړه کې گوړې ماتوې.**

**داسمه ده، چې زه ستاسې په لومه کې گېره شوې یم، خو له دې فکرونو تېر شه، داسې څه وغواړئ، چې زما تر وسه پوره وي.**

**بختیار : سمه ده، زه به ستا خبره ومنم.**

**خو یو بل کار وکړه!**

**کوم کار؟**

**رښا ته ووایه، چې هغه زما د قومندان زلمي کوم سپکاوی يې کـړی ؤو او د هغـه لـه لاسه يې د یو میلون په ارزښت کور له گوتو باسلی ؤ نو بیرته دې جـبران کـړي یـو راپور دې خپور کړي چې زه تېروتې وم. قومندان زلمی پـه حقـه دی، مـا د ناسـم پوهاوي له کبله د هغه په حق کې تېری کړی.**

**حلیمې ورته لنډه مسکا وکړه، ورته ویې ویل:**

**ته بیا هم داسې غوښتنې کوې، چې هغه شونې نه دي، رښا د حق د پلـوي لپـاره د خپلې مور، ورور او یوې خور څخه تېره شوه، حق تـه د رسـېدو لپـاره یـې خپلـه کورنۍ له لاسه ورکړه خو د حق پلوي يې پرینه ښوده. زه ډاډه یـم، چـې هغـه بـه خپل مرگ قبول کړي خو دا غوښتنه به ونه مني؛**

**بیا يې د بختیار سره سترگې مخامخ کړې ورته ویې ویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ددې کار لپاره، چې ته یې غواړې زه رڼا ته د ویلو لپاره چمتو نه یم؛ ځکه نه یې زما خور مني او نه د هغې مبارزه دومره کمزورې ده، چې له کبله به یې هغه د داسې وړو خبرو پروا وکړي.**

**بختیار : ښه نو هغې ته ستاسې د عزت له منځه تلل وړه خبره ده؟**

**حلیمه: نه زما عزت د هغې لپاره وړه خبره نده، له خپله ژونده هم ورته مهمه ده؛ خو له دې هم ورته خپله مبارزه مهمه ده بله داچې زه هم نه غـواړم د هغـې مبـارزه د خپل عزت قرباني کوم.**

**بختیار : ښه نو بیا د خپلو انځورونو خپرېدو ته په تمه شه.**

**د حلیمې زړه په درزا شو، بختیار ته یې وویل:**

**د یوې پیغلې لپاره د هغې عزت ډېر مهم وي، ته دا ظلم له ماسره مه کوه، فکر وکړه زه دې هم یوه خور یم، یا دې لور یم او که دا هم نه منې داسې فکر وکړه، چې که ستاسې د خور او یا هم لور سره داسې یو څه څوك وکړي ته به څومره وځورېږې؟**

**ته ما نه درك کوې، چې په دا دریو ورځو کې په ما څه تېرېـږي؟او ایـا زه پوښـتی شم، چې ته موږ ته د کومې ګناه سزا راکوې؟**

**بختیار: لومړی خو زه د دا ډول خبرو سره هیڅ دلچسپي نه لـرم، کـومې چـې تـه کوې.**

**دوهم ته زما د کړنو دلیل غواړې کنه ،نو واوره ،ماته دنده سپارل شوې، چـې سـتا خور رڼا دومره وځوروم، چې له ژونده یې زړه ورتور کړم، غـواړم پـه دې کـار سره هغه وشرموم، د هغې شخصیت ورخراب کړم، د خلکـو سره د هغـې بـاور لـه منځـه ویوسم، د هغې غټې، غټې خبرې په خوله کې ور وچې کړم.**

**حلیمه : ته غواړې چې رڼا وځوروې؟**

**بختیار: هو**

**حلیمه: ته زما انځورونه مه خپروه زه به داسې لاره درته وښیم، چې د هغې له کبلـه به رڼا سخته وځورېږي، ډېره به وکړېږي، ستا د وینا مطابق له ژونده به یـې زړه تـور شي.**

**بختیار: زما هم همداسې څه په کار دي، چې د رڼا د ځورېدو لامل شي، هغه لکه په اور کباب، کباب شي؛ ځکه چې له دې امله ماته شل زره ډالر انعام راکول کیـږي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که دا کار ونه کړم دارقم مې د لاسه وځي نو ژر يې راته ووايه، هغه څه دې چې رښا پرې وځورېږي؟**

**حليمې خپلې مظلومې سترګې د بختيار په لور ور پورته کړې، ورته ويې ويل: کار درته وښيم؛ خو زما تصويرونه مه خپروه زما عزت د خپلې خور عزت وګڼه، له ماسره د يوه پښتون په ډول ژمنه وکړه.**

**بختيار: کار را ته وښيه که خوښ مې شو، زه ژمنه کوم، چې ستاسې تصويرونه نه خپروم او نه دومره دلچسپي ورسره لرم، زما د خپل رقم سره کار ده، قرضداره يم، راګير شوی يم؟ ژر کار راته ښايه.**

**حليمه: ما ووژنه، زهر راکړه زه به يې ستا په مخ کې وخورم.**

**په دې کار به دې خپل هدف په لاس راوړې، زما په وژنې به زما خور دومره وځورېږي، چې ستا په وينا له ژونده به يې زړه تور شي؛ ځکه هغې ته زه ډېره ګرانه يم، ماته د ژوند خطاب کوي، زما په وژلو به د هغې نه ژوند واخيستل شي.**

**بيا يې سوړ اسويلی وکيښ ښکته يې وکتل ويې ويل:**

**زه په مرګ نه خپه کېږم خون مې هم دربښلی؛ خو په دې شرط چې زما له مرګ وروسته به زما تصويرونه له منځه وړې.**

**هر څه به ډېلټ کوې.**

**بختيار : وړانديز مې دې خوښ شو، دا کار به مې د قومندان هم ډېر خوښ شي، خو د زهرو وړانديز مې دې خوښ نه شو.**

**حليمه: ولې؟**

**بختيار: ولې ځواب به سبا تر لاسه کړې سبا دې يو ځای ته غواړم زما د زنګ په تمه شه.**

**په داسې حال کې، چې يوه او بل اړخ ته يې کتل بختيار صحنه ترک کړه او نور لاړه.**

»»»»»»»»»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا هم سترې ستومانه تر کابله راورسېده، مخکې له دې چې کور ته لاړه شي، لا رسميات نه وو ختم شوي، نېغه څارونوالي ته لاړه هلته يې د خپل خبريال ټول اسناد او ثبت شوي غږونه څارنوالانو ته وسپارل، ورته ويې ويل:

دا کس زموږ د رسنيز دفتر او خبريالي نه ناوړه ګټه پورته کړې، په فساد کې ښکيل او لسګونه دوسې لري، زه يې سبا مکتوبي رالېږم او که رانه غی،حاضر نه شو، هيله ده د خپلو سرتېرو په وسيله يې د قانون منګولو ته وسپارئ او د ملت حق يې تر ستوني راوباسئ.

هغوی چې د رڼا رښتينولي وليده يوه او بل ته يې وکتل، ويې ويل:

نېرۍ خدای ج په څومره توپير پيدا کړې ده، موږ وګوره او دا مېرمن وګوره، زموږ بې مسؤليتي وګوره او د وطن دغه اصلي مېرمنې احساس وګوره، هغه مساوات غواړي، د بيت المال ژغورنه غواړي، سمون غواړي او موږ يو چې د پيسو په بدل کې حق په ناحقه او ناحقه په حق بدلوو.

د څانونو له ملامتيا وروسته يې رڼا ته ډاډ ورکړ، هغې ته يې وويل:

اغلې رڼا! موږ د ستاسې له احساسه ډېر خوښ شو، موږ ته مو هم د پند په ډول يو الهام راکړ،له دې وروسته موږ هم درسره ژمنه کوو چې نور به دې وطن سره خيانت نه کوو ،رشوت به نه اخلو ،حق به حق دار ته سپارو ، ته نوره ډاډه اوسه، چې ستاسې نارامه زړه به ارامو او تورن کس به جلبوو.

رڼا په مننې سره ترې رضايت وښوده.

بيا يې ترې خدای پاماني واخيسته

رڼا د کور په لور رهي شوه کله هم چې د کور کوڅې ته داخله شوه د خپل موټر مخکې يې يوه پياده روانه نجلۍ وليده. د خپلې خور حليمې ګمان يې پرې راغی، له انجلی نه په تېرېدو کې ورته متوجه شوه، ويې ليدل چې دغه انجلی په ريښتيا حليمه ده په مخ يې لس ځايه اوښکې راځي او په بې وسه قدمونو د خپل کور لاره لنډوي؛ خپل موټروان ته يې وويل:

وروره! بريک ونيسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا ژر له موټره راښکته شوه او مخامخ د حليمې په وړاندې ودرېده. هغې يې په ليدو سره هڅه وکړه، چې خپلې ناوسې اوښکې له هغې پټې کړي؛ خو ډېر ناوخته شـوی ؤ؛ ځکه چې رڼا يې اوښکې لا دمخه ليدلې وې.

رڼا خپله خور په غېږ کې ونيوه ورته ويې ويل:

خور جانې! څه خبره ده؟ ولې دې په مخ لس ځايه اوښکې راځي، خيرت خو دی ؟

حليمه : هو خورې! خيرت دی، هسې مې مور، خور او کوچنی ورور راياد شو، تـه هم رانه مسافره وې بس چيټې مې زړه راډک شو.

رڼا يو ځل بيا خپله خور په غېږ کې ونيوه  په يوه او بل اړخ مخ يې ښکل کـړه ورتـه ويې ويل

خور دې درنه ځار شي ،دادی زه بيرته راغلم ،ته مه خپه کيږه ،څه چې ځو کورتـه لا يې دوه قدمه نه ؤ اخيستې رڼا دې خپلې خور حليمې په اوږه لاس کيښـود ورتـه يې ويل :خورجانې! کومه بله خبر خو به نه وي له  ماخو څه نه پټوې کنه؟

حليمه: نه خورجانې! له تا به څه پټ کړم، بله هيڅ خبره نشته.

رڼا موټر وان ته وويل:

وروره! ته لاړه شه زه او خور مې نور پياده ځو دادی کور هـم دوه ګامـه کـې دی، موټروان يې رخصت کړ.

رڼا او حليمه دواړه يو بل ته د لاس پنجې ورکړې او په قدم، قدم تر کوره ورسېدې.

رڼا خورا ستړې وه، له ډوډۍ، چای او لمانځه ورسته نوره تم نه شوه، د خوب بستر ته لاړه په بستر کې اوږده وغځېده. د حليمې خواشيني حالت انديښـمنه کړه،ځکـه چې حليمه يې احساس کړه چې دې کوم ژور خفګان لاندې ده ،دې ډوډۍ خوړلو په وخت کې يې له دې سره يې دوه ګولې وکړې نوره له دسـتر خوانـه جګـه شـوه ويلې يې زه مړه يم.

رڼا په چورتونو کې ډوبه شوه دې ځان سره په خبرو کې شوه ،حليمـه ولـې دومـره خفه ده؟ د هغې له مسکا ډکه څېره ولې داسې مړاوې شوې؟ د هغې له خـولې هغـه خندا، چې کړسا به يې تر دريم کوره رسېده ولې خپګ شوې؟ نن يـې دوه ګـولې ډوډۍ هم راسره  ونه خوړه، څېرې يې د يوه ژور خپګان ښکارندوي کوله حتما څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره؛ خو ده رڼا په دې سوچونو کې وه، چې حلیمه یې کوټې ته راغله، د رڼا پـه خواکې کېناسته، هغې ته یې وویل:
خورې! ډېره ستړې راته ښکارې، زه به دې چاپې کړم، د هغې په غځېدلو پښو یې د کېکاګلو پیل وکړ، بیا یې د رڼا لاس په لاس کې را واخیست، د خپل لاس سره غبرګ یې په سینې پورې ونیو، رڼا ته یې وویل:
زما غیرتي خورې! زما همت ناکې خورې! زما ژونده.
رڼا : څه خبره ده، چې نن دې زما تعریفونه پیـل کـړي، پـام دې وي، چـې کـوم فرمایش رانه کړې او بیا دې د هغه ورور شاپور سرینده راته ونه غږوې.
حلیمه : خورې! زموږ مور، خور او وړوکی ورور مړه شول، بس زه او ته پاتې شو.
رڼا : بس همدا مو تقدیر ؤ، همدا به راته لیکل شوي ؤ اوس دې تـا خـدای ج راتـه لري.
حلیمې په ژړغوني اواز په داسې حال کې، چې سترګې یې لمدې وې رڼا ته وویل:
شاید له دې بدې ورځې هم راباندې راشي،خو هیله لرم چې خپل د فولادو په څیر همت مات نه کړې، خپله مبارزه پرېنه ږدي، تل د حق پلوي وکړي.
رڼا یې خبره ورپرې کړه، په ځیر ځیر یې د هغې څېرې ته وکتل خپـل لاس یـې د هغې په خوله ورکېښود په لوړ اواز یې هغې ته وویل:
خوري! هیله کوم، نورې داسې خبرې مه راته کوه زړه مې د پاڼې په څېر رپېـږي، موږ ډېرغمونه زغمل له نورو غمو مو د خدای ج وساتي.
خورې! ته ولې داسې خبرې کوې؟ زما ژونده ولې مې زړه له سینې باسې؟
ته ولې داسې وایې څه پېښه شوې؟ خیر دی داسې څه دي، چې زه ترې خـبره نـه یم.
حلیمه: خورې که زه د خوا کې نه وم وارخطا نشی، هیڅ وخـت خپـل همـت ونـه بایلې، اونه ژاړې
پام دې وي، چې اوښکې د څوک ونه ویني؛ ځکه چې اوښکې د کمزورۍ مانـا وي خپل ځان نورو ته کمزوری ونه ښې او شاپور د تا لپاره یو غوره ټاکنه بولم، د هغه په اړه بیا، بیا فکر کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا : خورې! مه مې زړه چاودې کوه ؟ولې مې لیونۍ کوې؟ ایا ډاکتر خو درته د کومې خطرناکې ناروغي نه دي ویلي؟**
**حلیمه مسکی شوه، ورته ویې ویل:**
**خورې! هیڅ هم ندي شوي، اوس مې ناروغي هم ښه ده، بس هسې مې ستاسې زغم مالوماوه؛ دا مې مالوموله، چې زه دربانديې څومره ګرانه یم.**
**رڼا خپله خور له غوږه ونیوله ورته ویې ویل:**
**شوخکې! زما زړه خو دې له خولې وکیښ، داسې خبرې څوک کوي؟ ته خو زما نفس یې، له تا پرته په دې نړۍ کې زما څوک دي؟ که ته مې په خوا کې نه وې زه خو مړه کېږم، اوس خو ستا په همت ژوند مخته بیایم کنه هر څه رانه پاتې دي.**
**ددوی خبرې نورې ډېرې اوږدې نه شوې ځکه چې دې شپې ناوخته شوی ؤ رڼا حلیمې ته د لمانځه سپارښتنه وکړه ورته ویې ویل لمونځ وکړه بیا ویده شه خو له خوب مخکې دې درود شریف هیر نشي حلیمه لاړه او سم دستي**
**رڼا خپل ټلیفون راواخیست، شاپورته یې زنګ وکړ.**
**هغه ته یې وویل:**
**شاپوره!**
**ته خو د خپلې کابینې پوښتنه هم نه کوې، نه وایې چې چیرته تللې وې؟ د څه لپاره تللې وې، کله لاړې او کله راغلې؟**
**شاپور ورته لنډه مسکا وکړه، بیا یې ویل:**
**ته خو خپله رئیسه یې! زه څه کاره یم، چې له تا وپوښتم، هغه ورځ مې په یاد ده، چې راته ودې ویل:**
**زه ریسه یم ،دې چا مشورو ته مې اړتیا نشته نه د چا سپارښتنو ته اړتیا نه لرم.**
**رڼا : ښه نورې ټوکې پرېږدو، د یوې جدي خبرې لپاره مې درته ټلیفون وکړ.**
**شاپور: خیر خو دی؟ مهرباني وکړه!**
**رڼا: حلیمه راته سمه نه ښکاري، چې له فراه نه راغلم په کوڅه کې راتېرېدم، دا هم کورته را روانه وه په لاره کې مې ولیده، چې ژړل یې پر مخ یې سل ځایه اوښکې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلې. اوس مې خوا کې کېناسته، داسې خبرې يې راته کولې، چې زړه يې له سينې بسکه. ماته يې ويل، چې که زه مړه شم ته به نه خفه کېږې.

حيرانه يم، چې په دې نجلۍ څه شوي؟

شاپور : ستاسې تشويش بې ځايه نه دی؛ زه خبر نه يم، چې په هغې څه شوي خو ډاډه يم، چې هغه د کومې داسې ستونزې سره مخ ده، چې د ويلو جرئت يې نه لري؛ خو ته مه خفه کېږه، زه سر له سبا هغه څارم. زما دوه کسان به ورپسې لکه د سيوري په شان وي، زه خپله هم هغه له سترګو نه خالي کوم؛ تر څو مو چې د هغې د ستونزې سر نه وي پيداکړی زما د څار لاندې به وي.

رڼا : حليمه دې هسې هم خور ده، د هغې ساتنه ستا فرض ده.

زه هم د لومړي ځل لپاره درته سوال کوم، چې په هغې پام وکړه، ويې څاره او په دې کار به دې ډېره احسان منده يم.

حليمه سره ددې، چې په ستونزه کې ده اوس يې هم ستا غم خوړ، ماته په عبثياتو لګيا وه.

شاپور : څه يې ويل؟

رڼا ورته وخندل، بيايې ويل:

ته يې څه کوې؟ اړتيا نشته، چې درته ويې وايم.

شاپور : چې حليمه خور مې دومره په غم کې ده بيا خو زه خپله د هغې نه ساتنه کوم.

په دې وخت کې حليمه هم اطاق ته راننه وته، رڼا شاپور ته وويل:

ښه ځه! ښه شپه بيا خبرې کوو.

شاپور ټليفون پرې کړ، ټليفون يې له غوږ راښکته کړ، له زنې سره يې ونيو، په يوه ژور سوچ کې لاړ، له ځان سره يې وويل:

حليمه حتماً د هغه کس له خوا د کومې ستونزې سره مخ شوې؛ په کوم دام کې يې راګېره کړې. خپل کسان يې راوغوښتل،له جيبه يې د حليمې تصوير راوکيښ ورته ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه جلی وځارئ کور يې درته ښيم سهار وختي به يې کور ته ځان رسوئ، کله چې له کوره دغه نجلۍ راوځي هر چيرې، چې ځي تعقيب يې کړئ، زه هم تاسې پسې يم که، کومه ستونزه پيدا شوه ما په جريان کې اچوئ.

هغوی ښه صيب! وويل:

نور د شپې ناوخته شوی وو، ټول ويده شول.

سبا سهار رڼا د دفتر په لور وخوځېده او د شاپور کسان هم د رڼا د کور خوا او شاه په دنده شول.

رڼا په خپل دفتر کې کېناسته، د فراه ژورنالست يې دروازه وټکوله. هغه راننـه وت، رڼا څوکۍ ته ګوته ونيوه.هغه ته يې د ناستې وويل:

- کېنه!
- اغلې رئيسې صيب! زه دې اندېښمن کړی يم، سهار مې هوټل کـې چـای هم ونه څکه؛ ځکه چې ستا خبرو او وينا له اوريدو مخکې ډير نارامه يم ژر يې راته ووايه چې څه خبره ده وروسته به زه دلته چای وڅکم.

رڼا : موږ پښتانه يو، زما دفتر به خامخا تاته چای چمتو کوي، چې ته يې وخـورې، کنه ته د دې ځای د چايو څکلو لياقت هم نه لري؛ خو بيا به هم اشـپز درتـه چـای راوړي خو که زما له خبرو وروسته دې ورته اشتها پيدا شي.

خبريال : هيله کوم ژر يې راته ووايه، څه خبره ده؟ کومه ګناه مـې کـړې، چـې زه پرې داسې ځورېږم، زما ستونزه څه ده؟

رڼا : ته څه فکر کوې، چې د رڼا په شتون کې بـه تـه داسـې خپـل سري وکـړې؟ د افغان رسنيز مرکز له ځواکمنې لوګو به د ځان په ګټه کـار واخلـې؟ خلـک بـه پـرې وويروې؟ د بيت المال سره به پرې خيانت وکړې، د خبريال په نامې به لوبې وکړې، تجارت به پرې پيل کړې؟

او رڼا به د په دې جنايتونو پرده واچوي، او هو زه خو ستا دې نـاولې مفکـورې تـه دومره احساساتي کېږم غواړم په خپله درته داسې سزا درکړم،داسې سزا چې بيا دې په ژوند کې هم داسې ناسمې مفکورې ته په ذهن کې ځای ور نه کړې،خو ارمـان چې قانوني محدوديت نه وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا له مرګه دې لکه چې اوريدلي وو، خو ډاډه اوسه !رڼا ژوندی ده او هغه به د سيوري په ډول درپسې وي، تر هغې به وي، چې تر څو دې له ګېډې د کونډې او يتيم حق له ستوني راونه باسي.

رڼا له خپله روک نه يو مکتوب راوکېښ خبريال ته يې ونيو، ورته ويې ويل:

لاړ شه، څارنوالي کې خپل ځان بې ګناه ثابت کړه، څارنوالي درته منتظره ده. هغه په لړزېدليو لاسو مکتوب واخيست.

او له دفتره دې وتو لپاره يې څوګامونه واخيستل رڼا ورپسې غږ کړ: صبر وکړه چای مې درته راغوښتی دی.

خبريال وويل: اشتها نه لرم.

له وتو سره سم د څارنوالي سرتېري هم پسې را ورسېدل او زولنې تړلی يې له ځان سره بېوست.

هغوی شواهدو ته په کتو سره خبريال په اوه کاله بند او دولس لکه افغانۍ نغدي جريمې دوسيه ورته جوړه او بيا محکمې ته په لېږد سره په همدغه سزا محکوم شو.

»»»»»»»»»»»»»»

حليمه لمرغوګي ته په دې تمه ناسته وه، چې کله به د پېغلو دې عزت سوداګر بختيار زنګ وهي دا به غواړي، او دې وژلو پرېکړه به يې کوي. هغې همدا سوچ کاوه، چې ټليفون ورته راغی هماغه وحشي ځناور ؤ، چا چې خامه پېغله په خپل داسې دام کې راګېره کړې وه، چې دې هر څه منلو ته چمتو وه.

حليمې ته يې وويل:

زه درته منتظر يم د څرخي پله زندان نه مخکې د سرک په سر درته ولاړ يم، څه خبرې بايد وکړو.

حليمه پوهېده، چې هغه د وژلو لپاره غواړي، خبرې کول يې هسې بهانې دي، له ځان سره يې وويل:

د هغه په زهرو راکولو زړه نه يخېږي غواړي په سره توره مې ووژني او وينې مې په رڼا وګوري،خور مې په زړه ټپي کړي هغې ته روحي شکنجه ورکړي، هغې احساس کوله، چې نوره واپس زما راتګ يې ناممکن دی، خو د حيا او عزت خبره يې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته يې د سمه ده په ځواب ويلو ټليفون پرې کړ، دوه رکعته لمونځ يې وکړ او بيا له کوره ووته.

د شاپور کسانو له وتو سره وپېژندل او د هغې په تعقيب کې شول، هغوی شاپور ته هم زنګ وکړ، ورته ويې ويل:

ستاسې راکړل شوی هدف راووت، په يوه نامالوم لور روانه ده؛ خو زموږ له سترګو لاندې ده

ـــ هغه اوس چيرې دی؟

ـــ اوس ټکسي کې سپره شوه.

شاپور: بې غوري ونه کړئ سترګې هم ونه رپوئ؛ ځکه چې هغه به درنه بې درکه شي او که هغه له کوم ګوانې سره مخ کېده نو تاسې ورته سپر شئ لومړی مرمۍ په خپل ځان ومنئ، کنه ستاسې زيمه واري به ماته د منلو وړ نه وي.

زه هم در روان يم څو شېبو کې به در ورسېږم

\\\\\\\\\\\\\\\\

بختيار په خپله تمانچه کې مرمۍ تېره کړه، په موټر سايکل تيار سپور ناست ؤ غوښتل يې د حليمې په ليدو په هغې باندې ګولی وچلوي او وتښتي د هغې په وژلو اجوره واخلي او خپل پوروونه پرې خلاص کړي ځکه يې راتګ ته بې صبرانه منتظر ؤ له لږ ځنډ وروسته شاپور خپلو کسانو ته ټليفون وکړ ورته ويې وويل:

چيرې ياست؟ ايا دې ښار لاندې کس خو به مو له نظره نه وي خالي کړی؟

هغوی ځواب وکړ: رئيس صيب! همدا شېبه زموږ مخکې مانع راغله موږ ودريدو ،ټکسي رانه مخکې لاړه هغه په قهرجنه لهجه ورته وويل:

دا راته ونه وايې، چې هدف رانه ورکه شوه. دوی په غلي اندازه ځواب ورکړ: ټکسي زموږ له سترګو پنا شوه.

شاپور : اه، بې کفايته انسانانو ماسره همدا وېره وه، چې تاسې به دا دنده په سمه توګه سرته ونه رسوئ، اوس دا راته ووايی، چې ټکسي په کوم لور روانه وه هغه په لنډو ځواب ورکړ

د پلچرخي په لين!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور خپل موټر د څرخي پل په لور لکه برېښنکۍ والوزاوه؛ خو ډېره ناوخته شوې وه هغه له لنډ مزل وروسته د سړک په غاړه ډله خلك وليدل ، چې د يو سخت ټپي انسان په په خوا گرد راتاؤ دي ، شاپور خپل موټر ورته ودراوه تر څو ځان پوه کړي چې دلته څه خبره ده خلکو ته په ورنږدې کېدو سره د خلکو شور ماشور ته غوږ شو؛ ځينې وايي ژر کوئ روغتون ته يې يوسئ او ځينې بيا وايي مړه شوې، ساه نه اخلي. په دې وخت کې شاپور هم د خلکو خواته ورسېده ويې کتل د چنار ځواني برغنډ پرته ده په وينو لته پته ده، سپين کالي يې سوري، سوري دي وينو يې لکه گلاب پر جامو رنگونه غوړولي، پټې سترگې لکه سترې خوبوړی، چې ژور ويده وي بڼورې سترگې يې، پټې نيولې پرته ده. په داسې حال کې يې شاپور مخکې ودرېده، چې د هغې د کيچه مار په څېر تاو راتاو ويښتانو يې مخ پټ کړی ؤ، شاپور يې له مخ ويښتان لرې کړل ويې ليدل، چې حليمه خور يې لکه بې خاونده مال د سړک غاړې په تيږو او خاورو کې نيم ژواندې ساه گاږي .**

**په بېړه يې نبض ونيو، حرکت يې درلوده غېږ يې ترې تاو کړه موټر ته يې جگه کړه کله، چې په جلب کېناسته نو تر هغو يې خپل کسان هم راورسېدل خلکو وويل: دلته يو موټر سايکل وال وويشته؛ په دغه لاره لاړ.**

**شاپور خپلو ملگرو ته وويل: کس پيدا کړئ او بيا راشئ کنه يو مې هم نه ياست په کار؛ ستاسې د دې بې غوري له امله اوس د خپلې خور د بې سرنويشته حالاتو شاهد يم، موټر ته يې پونده ورکړه لنډ مهال وروسته يې**

**حليمه روغتون ته ورسوله عملياتخانې ته يې ننه باسله.**

**شاپور د عمليات خونې خواته ورته منتظر شو، له ځان سره يې وويل:**

**زه بايد رڼا ته خبر ورکړم؛ ټليفون يې راوباسه خو مخکې له دې، چې رڼا ته زنگ ووهي د ټليفون پر سکرين يې د خپلو کسانو زنگ وليد، ژر يې پورته کړ له هغوی يې واوريدل کس مو گير کړ لږ وړاندې له موټر سايکل لويدلی ؤ، ټپي ده خپل موټر ته مو راواچاؤ سمې خبرې نشي کولی نو اوس ستاسې هدايات غواړو مخکې څه وکړو.**

**شاپور : پولسو خو نه يی ليدلي**

**هغوی وويل: نه هيڅا نه يو ليدلي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور : کوم روغتون ته يې ونه گرځوئ، نيغ په نېغه يې زما کورته يوسئ په خاص خونه کې يې واچوی او ډاکتر شريف زما ملگری دی هغه ورته راولئ ټپونه دې وگنډي او داهم ورته ووايه، چې درملنه يې پټه وساتي.**

**هغوی ښه صيب! وويل.**

**له دې وروسته شاپور رڼا ته زنگ وکړ، ورته ويې ويل:**

**رئيسې صيب! غواړم يو څه درته ووايم؛ خو هيله ده چې ارامه واوسې، د کومې وارخطايي خبره نده.**

**رڼا: شاپوره څه شوي؟ د خدای ج لحاظ وکړه ژر يې ووايه، حليمه څنگه ده؟ په هغې خو څه ندي شوي؟**

**شاپور چې د رڼا وارخطايي وليده نو غلی شو نه پوهېده څه ووايي، په دې وخت کې رڼا غږ پرې وکړ: شاپوره! ولې غلی شوې پام دې وي، چې د حليمې په اړه مې د کوم بد خبر نه خبره نه کړې؛ لا له اوسه مې زړه په درېدو دی.**

**شاپور پوه شو، چې رڼا بايد ډاډه کړي، هغې ته يې وويل:**

**د کوم تشويش وړخبره نده، هسې حليمه لږ خوږ شوې، افغان روغتون ته راشه خو پام مو وي، چې کومه بېړه ونه کړې؛ ځکه د اندېښنې وړ خبره نده، روغتيا يې د هيڅ تشويش وړ نده.**

**هغې ددې خبرې په اورېدو سره لکه پړک ځان تر موټره ورساؤ، لنډ مهال وروسته د شاپور په خواکې ودرېده، هغه يې له گريوانه ونيو ورته ويې ويل:**

**ژر راته ووايه په حليمې څه شوي؟**

**اوس چيرې ده؟**

**هغه يې له خپل گريوانه لاسونه خلاص کړل ورته ويې ويل:**

**د هغې د ټپي کېدو په لامل خو تر اوسه زه هم نه پوهېږم، هغه اوس په عمليات خونه کې ده، خو ډېر ژر به پوه شو، چې هغه ولې ټپي شوې.**

**رڼا : نو څرنگه به پوه شو؟**

**هغه کس مې نيولی، چې حليمه يې ويشتلې.**

**رڼا : د پولسو په توقيف کې دی؟**

**شاپور: نه هغه زما په توقيف کې دی، په هغه پولس نه دي خبر.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوس دعا کوه، چې حلیمه خور مې ښه شي نور به خدای ج خیر کړي. دوی خبرې کولې، چې یو ډاکتر راووت وارخطا وارخطا یوه او بل لورتـه گـوري دوی ورمخـې شول، ورته ویې ویل: مورِ د ټپي ناروغ خپلوان یو هغه څنگه ده ډاکتر ځواب ورکړ د ناروغ عملیات وخت غواړي ستاسې ناروغ په سر مرمی خوړلې شـاید دوه سـاعته نور ونیسي د هغې دوینې کمبوت سره مخ یو منفي بې وینه یې پـه کـار ده تاسـې د وینې بانک ته لاړ شئ وینه وگورې نور خپلوان هم راوغواړې کنـه د نـاروغ حالـت ساعت په ساعت خرابیږي رڼا د وینې بانک په طرف منډه کړه خو شاپور لـه شـا غـږ پسې وکړ مه وارخطا کیږه زما وینه منفي بې ده هغه ورسره سـمون خـوري زه همـدا اوس وینه ورکوم**

**رڼا په هیله مندو سترگو ورته وکتل شاپور ته یې وویل:**

- **ته ریښتیا وایې؟**
- **په دې وخت کې هم دروغ ویل کیږي؟**

**رڼا یې خبره پرې کړه، ورته ویې ویل:**

**تاسې په ریښتیا ښه انسان یاست، حلیمه خو ملامته نه وه چې تل به یـې سـتا پلـوي کوله.**

- **راځه چې وینه ورکړو اوس ددې خبرو وخت نه دی شـاپور ۱۰۰۰اسي سي وینه ورکړه له بستره راپورته شو په داسې حال کې چې په خپل لاس باندې یې مالوچ نیولي وو، رڼا ته یې مخ ورواړاؤ ورته ویې ویل:**
- **زه ځم کور ته هغه کس به یې اوس زمـورِ کـور تـه رسـولی وي غـواړم د حلیمې خور د ټپي کېدو په راز ځان پوه کړم؛ خو پـام چـې د هغـه پـه نیولو چې ما توقیف کړی چاته ته دې له خولې څه ونه وځي.**
- **سمه ده زه څه نه وایم؛ خو څومره چې ژر کیږي ځان تر هغه کس ورسوه.**

**شاپور یې د خبرې په اورېدو حرکت وکړ، څو گامه یې لا نه ؤ اخستي، چې له شـاه یې د رڼا غږ واورېد، ورته ویې وویل:**

**د څو لحظو لپاره زه هم درسره ځم، غواړم دا کس په خپله ووینـم، چـې د کـومې کینې له مخې یې له مورِ سره دومره لویه مقابله پیل کړه.**

- **حلیمه چاته پرېږدې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د رڼا په سترګو کې اوښکې راغلې، بیا یې وویل: زما خو له دې ځایه زړه نه کېږي، خو اړه یم یو ځل زما د خور د وینو تږی په خپلو سترګو وګورم.**

- **سمه ده راځه، هغه د څو لحظو لپاره ګورو بیا بیرته ژر راځو، هسې هم د حلیمې عملیات وخت نیسي.**

**دوی حرکت وکړ، د شاپور او رڼا د تګ څو لحظې نه وې تېرې شوې، چې د هغه کس خواکې هغه ته مخامخ ودرېدل شاپور چې هغه ولیده نو ویې پېژانده هماغه کس ؤ، چې د حلیمې سره یې د شاه دوشمشېره ولي په خوا کې لیدلی ؤو، د هغه د ټپي حالت پروا یې ونه کړه، نېغ په نېغه یې د هغه ګریوان ته لاس ور وغځاوه، ورته ویې ویل:**

**ته پوهېږې، چې دلته مې د صحرایي محکمې لپاره راوستلی یې، د قاضي له حکمه پرته داسې سزا درکووم، چې خپل مرګ په سوال رانه وغواړې، دلته دې هیڅوک هم له مانه نشي خلاصولی، قسم کوم چې غوښې دې په امبور شکووم، ووایه چې زما خور دې ولې وویشتله؟ هغې څه ګناه کړې وه؟**

**کس وویل:**

**زه ډېر ګنګس یم ځکه چې سخته ظربه مې خوړلې، خو په خپلو کړو پښېمانه یم، حلیمه یوه شهیده ده، د هغې له ویشتو وروسته، چې لږ مخکې لاړم ،پښو او لاسو مې کار پرېښود موټر سایکل مې له کنتروله ووت سر مې په ځمکه ولګېده.**

**اوس هم د هغې د وژنې چغې زما په ذهن کې انګازې کوي، هغه مې ارام ته نه پرېږدي. هغه سلګو واخیست او بیا بې هوښه شو.**

**رڼا، شاپور ته وویل:**

**زه ځم کور ته، بیا به بیړه روغتون ته ځان رسوم، حلیمه به خدای ج خبر په څه حال وي.**

- **په کور کې څه کوې دا وخت د کور د تلو دی؟ مستقیماً روغتون ته لاړه شه، دغه کس چې په خود کې راشي، نو د مالوماتو اخیستو نه وروسته زه هم درځم.**
- **د روغتون پیسې را اخلم.**
- **اړتیا نه شته، چې له کوره یې راوړې، ما سره پیسې شته.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه زه ځم، ته خو مو تر قیامته زیمه وار نـه یـې؛ زه پیسـې راوړم بیرتـه ژر راځم.
- هیله کوم دا ناندرۍ له ما سره مه کوه، ژر روغتون ته لاړه شـه زمـا او سـتا پسې یو دي، که ته یې یو نه بولې بیا به یې راکړې.
- تېر قرضونه دې هم لا پاتې دي، زه لاړم خو چې له دې ځایه خلاص شـې ژر روغتون ته راشه، زه ستا په شتون کې ډېر ډاډ احساسوم.

رڼا ووته د هغې لـه وتـو سره سـم بختیـار پـه هـوش راغـی شـاپور لکـه وږی چـې دسترخوان ته منتظر وي د هغه خبرو ته په تمه ؤو د هغه په هوښ راتلو سره یې پـه زوره له خولې چیغه ووته ژر راته ووایه: حلیمه دې ولې ووشتله؟

- ماته دنده راکړل شوې وه چې رڼا او د رڼا کورنۍ بې عزته کړم عفت یـې لوټ کړم د کورنۍ غړي یې ووژنم، تر څو رڼا پرې وځورېږي، غـرور یـې مات شي او له هغې غچ واخیستل شي.

دې شاپور غوصه په چپو شوه دې بختیار گنډل شوي ټپي ورون ته یې پـام شـو، دې ورون په ټپ کې یې یې گوتې ننه باسلې زور یې کړ کوکونه یې وشکیدل ورته ویې ویل:

ایا زما د خور عزت دې لوټ کړ، دې هغې حیا د واخیسته بختیار چغې کړې شاپور ته یې وویل:

نه، مادې هغې حیا نده لوټ کړې، هغه په خپله حیاډېره مینه وه مرگ یـې قبـول کړ مرمیو ته یې ځان چمتو کړ خو زما غوښتنې یې ونه منلې !

شاپور یې په خبره شین سور شو یو ځل بیا یې د هغه گریوان ته لاس ورواچاؤ ورتـه یې ویل:

ژر ووایه په کوم دام کې دې راگیره کړې وه چې هغه د مرگ ته وغوښته او زموږ له خبرولو پرته درغله

هغه وویل:

دې تصویرونو له خپرولو ډاریده مابه چې څه ورته ویل هغې به منل .

شاپور یې یو ځل بیا په دوهم لاس د ورون ټپ په غښتلو منگولو کې چنگاؤ کړ هغـه چیغه کړه زیږ زبېښلی شو شاپورته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اخخخخخ مړ دې کړم هيله کوم، نور يې مه زور کوئ ټپ مې دومره درد کوي نيږدې دی چې بې هوښه شم، ما خوشې کړه، هغه په چيچلو غاښو ځواب ورکړ ورته ويې ويل:**

**تر هغو به دې چيغې باسم چې حقيقت دې راته نه وي ويلی**

**هغه په زګيروي ډوله اواز په خبرو پيل وکړ،ويې ويل : ما له هغې نيمه لوڅ تصويرونه هغه مهال واخيستل چې د سي ټي سکين معاينې لپاره يې جامې بدلولې بيا مې هغه انځورونه هغې ته دې فسبوک دې لارې ورواستول هغه مې وګواښله څو ځلې مې راوغوښته چې خپلې غوښتنې پرې عملي کړم خو هغې مې يوه خبره هم ونه منله يوازنی لاره چې هغې وټاکله هغه دې هغې وژل ؤ، زه هم اړ شوم چې بلاخره هغه مړه کړم ځکه چې ماته د هغې دې مرګ لپاره پيسې راکړل شوې وې ما هماغسې وکړل، د وژلولپاره مې راوبلله هغه مې وويشته ، له تيښتې وروسته زه شل شوم موټر سايکل رانه بې واکه شو او سر مې په سړک ولګيده بيا ستاسې کسان راغلل ماويل چې خواخوږی راسر کوي روغتون ته مې وړې خو خبر نه وم چې تاته مې سپاري**

**شاپور بيا د هغه په ټپ کې خپلې ګوتې ننه باسلې زور يې ورکړ دهغه پاتې ټکونه يې وشکول د هغه چغو کوټه په سر واخيسته بيا يې په خوا کې مالګه راوخيسته د هغه په دې لوی ټپ يې ودوړوله، د هغه چيغې نورې هم لوړې شوې په خوله يې بالښت ورکيښود د بالښت لاندې هغه د خپلو دردونو له امله لکه نينه ترکېده، ښه ساعت يې د هغه اواز خپ کړی ؤ نور هغه دې درد له لاسه بې هوښه شو**

**بالښت يې ترې لرې کړ اوبه يې پرې واچولې بيرته په هوښ راغی، ورته ويې ويل:**

**دعا کوه چې په حليمه څه ونه شي، کنه داسې سزاګانې به درکړم چې خپله زاری وکړي او مرګ د خيرات په ډول رانه وغواړې**

**شاپور نور د بختيار له بندخونې ووت، خپلو کسانو ته يې وويل:**

**ډاکتر راوغواړئ ټپ يې بيرته ورته وګنډئ او کلکه ساتنه يې وکړئ کمه تېروتنه هم نه منم**

**شاپور نور د روغتون په لور د موټر ګير بدل کړ، په لاره کې يې رښا ته زنګ وواهه ورته ويې ويل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته روغتون ته رسیدلې یې هغې ځواب ورکړ نه !
ولې؟
د صندق کیلي رانه بې درکه ده
شاپور: اغلې رڼاد خدای ج لحاظ وکړه دا بې مانا کارونه پرېږده زه دې روغتون په لاره یم ژر راشه، چې د حلیمې غم ډېردروند دی، یوازې یې نه شم زغملی که ته راسره یې نو لږ به راباندې بوج کم شي
هغې وویل: دادی راغلم خو د خور حالت به څرنگه وي؟
شاپور: چې ورسیږم احوال درکوم خو ته هم ځنډ مه کوه
رڼا: زه درځم ډېره ژر به درشم
شاپور د عملیات خونې ته لا سم نه و رسیدلی چې د عملیات خونې دروازې خلاصې شوې گرځنده بستر ترې راووت، د حلیمې په ښکلي مخ سپینه تیکه پرته وه ،نرسان وارخطا، ښکارېدل هغوی نارې پیل کړې د حلیمې پیوازان چیرې دي؟
شاپور یې د غړونو سره زړه په درزا شو اوچت قدمونه یې واخیستل د هغې په لوري یې ورمنډې کړې غږ یې پرې وکړه ورته ویې ویل:
ناروغ زموږ دی خیر خو دی نرسان چپ پاتې شول د شاپور د رنگ زیړوالي دوی هم زبون وهي کړل شاپور د بستر خوا کې ودریده په هر یوه نرس کې یې جلا جلا سترگې نیولې ،ورته ویل یې څوک شته چې ماته څه ووایي ؟
دحلیمې وضعیت خو ښه دي کنه؟
په دې وخت کې ماسک لرونکی ډاکتر د عملیات له خونې راووت شاپور ور منډې کړې ورته ویې ویل:
ډاکتر صیب! دوی ولې څه نه وایې ؟
خورخو مې ښه ده کنه ؟
ـــ موږ خپله ټوله هڅه وکړه، خو ژوند د خدای ج په لاس کې دی موږ بې وسه شو ستاسې خور نوره په دې نړۍ کې نشته، هغې په سر کې مرمی خوړلې وې مغز یې شیندلي ؤ، ژغورل یې ناممکن ؤ
شاپور په سر تاؤ شو پر ځمکه کیناست ، لږ یې چې حالت ښه شو بیرته ودرېده، د حلیمې له مخه یې سپینه تیکه لرې کړه ،حلیمه یې ولیده تکې تورې پټې سترگې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه په خوب ویده یې ولیده د هغې تېرې کیسې ورياد شوې، ژمنې یې سترګو ته ودریدې، بې واکه یې څو سوې سوې کوکې له خولې ووتې
په خواکې نرسان یې هم په ژړا کړل لږ یې چې حالت سم شو دوی ته یې وویل:
خور مې غسل خانې ته ویسئ غسل ورکړئ زه به نور ترتیبات ونیسم
حلیمه نوره د غسل شوه د خپل ژوند شپاړسم پسرلی یې خاوروته د تیاري کال شو ، غسل ورکونکې میرمنې لاس په کار شوې حلیمه یې د غسل ځای ته ویوړه ،اوشاپور د روغتون د بانګ په لور روان شو، په لاره کې رڼا ور پـه یـاد شـو دځـان سره یـې وویل:
که رڼا خبره شي زړه به یې وچوي د هغـې خـو حلیمـه یـوازنی هیلـه وه هغـه هـم وریژیده، رڼا به هیڅکله هم دا ونه شي زغملی
پریکړه یې وکړه :
رڼا چې نیم ساعت وروسته خبره شي هم غوره دی، زه به څرنګه هغه خبره کړم، زه کله دومره زړه لرم چې هغې ته ووایم یوازنی نازولې خور دې د مړه شوه هغه به کله دا غږ وزغمي، هغه به کله ددې همت پیداکړي چې د خپلې یوازیني خور له مړینې وروسته خپله مبارزه دوام داره وساتي
ژریې ټلیفون راوکیښ!رڼا ته یې ټلیفون وکړ ورته ویې ویل: ته ژر مه راځه، زه دلته یم، تاته ډیره اړتیا نشته، که اړتیا شوه زه درته ټلیفون کوم .
ــــ شاپوره دا ته څه ډول خبرې کوې ؟زه څرنګه درنه شم ایا هر څه خـو سـم دي کنـــــــــــه ، حلیمـــــــــــــه ښــــــــــــه ده؟
ــــ هو ښه ده
ــــ زه په لاره کې یم زه څرنګه له خوره لرې پاتې کېدای شم
رڼا ټلیفون پرې کړ
شاپور هم لګښتونه ورکړل ، بیرته راغی د غسل خاني مخې ته غلی کیناست
رڼا روغتون ته ور د ننه شوه نیغه د عملیات خونې تـه ورسـېده، ګـوري چـې هلتـه هیڅوک هم نشته وراخطا شوه، ټلیفون یې راواخیست شاپور ته یې زنګ وکـړ ورتـه ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تـــه چیـــرې یــــې دې عملیـــات خـــونې خـــواکې خـــو نـــه یـــې ؟**
**هغه ورته وویل:**
**دوهم پوړ ته راشه پنځلسم نمبر اطاق ولتوه زه دلته یـم هغـه پـه بیـړه پورتـه وختـه نمبرونه یې لټول پنځلسم نمبر خونه باندې یې له لرې نظر ولګېده پرې لیکل شوي ؤ ، غسل خانه !**
**رڼا ټکان وخوړ په بیړه د دروازې مخې ته ودرېده ویې کتل چـې شـاپور د دروازې سره ناست دی، سر یې په ځنګون ایښی ده ، هغه هم د سترګو له کونجو ولیده خـو جرئت یې نه درولوده چې هغې ته پورته وګوري، له ځمکې سره په ګنډلو سترګو یې رڼـا تـه وویـل: حلیمـې خـو مـوږ یـوازې پریښـودو، هغـه لـه مـوږ لاړه ! له پاسه یې کټ کټ خندا واوریده، شاپور پـه ډنـډ سـترګو او حیـراني سره پورتـه وکتل، رڼا بیا ځلي وخندل !**
**په شاپور یې غږ وکړ حلیمه مړه شوه !خور مې بې وفا شوه !زه یې یـوازې پریښـودم !شاپور ورپورته شوه!**
**رڼاته یې وویل:**
**ایا دا هم د خندي وخت دی،؟ ایا تا د خپل زړه ټوټه له لاسه نده ورکړې؟، ایا ستا د چنار په څیر دنګه ځوانه لبته خور په ملا نده ماته شوې؟**
**ته خاندې؟ څه شو ستا مسولیت ؟څه شو سـتا کـورنی مینـه ؟څـه شـو سـتا غیـرت؟ د رڼا اوښکې لکه شړکنده باران تویې شوې خو په خوله یې بیـا هـم مسـکاخپره وه شاپورته یې وویل:**
**هو زما دا عمل د غندنې دی؟ د رټولو دی ؟خو زما په مسـکي مـخ حسـاب مـه کـوه شاپوره !**
**که زما د زړه فریاد واورې، ستا د زړه مراندې به وشـکوي، زمـا د زړه چغـې دومـره زوروږې دي چې د اسمان مخلوق به یې هم واوري، په بدحالت به مې دهوا مرغان هم وژاړي، سپوږمی به تته شي، ستوري به ځلا پریږدي**
**ان د تیږو په څیرسخت زړونه به هم زما په حال ماتم وکړي زما پـه حـال بـه وژاړي خو ته دا وګوره له جیبه یې لیک راوویست ماته زما د زړه ټوټې څه لیکلي، له مرګ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې يې وصيت راته ليکلی همدا اوس مې د هغې له ګوتې تر لاسه کړ شاپور هغـه ترې واخيست حليمي پکې ليکلي ؤ
خـــــوږې، زړه ورې او زمــــــا همــــــت نـــــاکې خـــــورې !
شايد له دې ليک وروسته دې ونه ګورم، زه شايد مړه شم خو قسم درکوم چې زما په مرګ به نه ژاړې کله هم چې زما جسد ته ودريږې مسکا به کوې، که ته وژاړې زه به ډېره په تکليف شم، زه د خپلې همت ناکې خور ژړا نشم زغملی
ستا خندا به ماته ډاډ راکړي چې ته له منځه نه ځې، تا څوک نشي ماتولی تا څـوک له خپلې لارې نشي اړولی، ستا مبارزه نشي ټکنې کولی له خپل ولـس سره سـتا بـې کچې مينه نشی کمولی ستاسې بې ضميره مخاليفين چې ګټې يې ستا په مبارزه کـې د ګوابڼ سره مخ شوې هغوی غواړي تا ودردوي تا کمزورې کړي خو ته هيڅ کلـه هم د دوی دغه ارمان پوره نه کړې، زه ډاډه يم چې زما مرګ به تا سـخته ودردوي خو خپل درد به هغوی ته نه څرګندوې ، ځکه هغوی به ستا له دې کمزوري سخت خوند واخلي هغوی ته به ددې خوند موقع نه ورکوې
زما په مرګ به نه مړاوې کيږې خپل همت به سـاتې اوکـه داسـې ونـه کـړې سـتا د مبارزې سر سخته بې وجدانه مخاليفين به په اساني سره خپلې موخې ته ورسيږي
شاپور ليکل لوستل او خپلې اوښکې يې په دسمال ورسره پاکولې .
خوږې خورې زما ا ودهېواد وياړه !
زه هم ستا دمبارزې قرباني يم، ما خپل ژوند حق ته وسپاره، ما د خپل مرګ انتخاب وکړ ځکه چې زما ژوند ستا له مبارزې غوره نه ؤ زه دې نه يـم خـو سـتا مبـارزه دې ژوندی وي، بې وجدانه دوښمن غوښتل ما وکاروي، زما عزت لوټ کـړې، خـو مـا خپل خدای ته سپين مخ وړی، ستا سر مې ندی ټيټ کړی وژل کېدل عيب ندي، بې عزتي عيب دی ما ځکه ته پرېښودې چې په شتون کې مې ستا هڅو، مبارزې او عزت ته زيان رسېده کنه داسې په اساني مې ستا ملګرتيا نه خوشې کوله
خورې ما وبښه ته مې يوازې پريښودې، خو دې يوازيتـو ب غـم مـې دې خـوړلی شاپور به دې لاس ونيسي، د هغه غځيدلی لاس تش مه پريږده
خور مو حليمه
شاپور د ليک له لوستو وروسته ژور سوړ اسويلی وويست له ځان سره يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مردارخور قاتله، زه به دې هم په داسې مرګ مړ کړم چې سل وارې مړشې او بیا ژوندی شې دومره دردبه ونه وینې

رڼا ته یې وویل:

اغلې رڼا ته په حقه یې نن به نه ژاړې نن به مې دخور روح نه نارامه کوې، هغې ډېر درد لیدلی نور، هغې ته درد نه ورکوو

دوی خبرې کولې چې کفن شوې حلیمه یې راوباسله، د ګرځنده (موبایل) بستر نه ښکته او پورته تېره وه

د سر له ویښتانو یې څاڅکي څاڅکي سور رنګه اوبه تویدې

رڼا ښکته او پورته ورته وکتل بیا یې د اسمان لور ته خوله پورته کړه دوعا یې وکړه ویې ویل:

خدایه ته صبر راکړې، ته ماته د زغم قوت راکړه، لویه ربه !د دې درونـد غـم د زغملو حوصله راکړه، لویه ربه ته وس راکړه چې د خور وصیت پر ځای کړم .

درڼا د دعا له بشپړیدا سره سم امبولاس راغی حلیمه یې ور پورته کړه ، کورته ویوړه او د ټولوافغاني او مذهبي مراسیمو وروسته تانده ځواني مرګه حلیمه دې تورو خاورو تل پاتې میلمنه شوه

شاپور قبر پرې جوړ کړ ، جنډې یې پرې لګې کړي

رڼا ، شاپور اونور ټول دوستان دې یوه ژور خفګان په ګاللو سره د حلیمې لـه قـبره راستانه شول

رڼا به د څو ګامونو اخیستو وروسته بیرته د خپلې خور قبر ته وکتل او دې یوه سوړ اسویلي سره به ترې بیرته روانه شوه

رڼا خپل کورته لاړه د ماخوستن لمانځه نه وروسته نهاره نهوره څملاسته د خپلوانـو مېرمنو ډېر د ډوډۍ ستونه ورته وکړل خو رڼا یې په ځواب کې ویل

زه دې تورې خاورې وخورم، زما د ګل په شان نازولې خـور پـه ښـکلي مـخ بـه د خاورو ګردونه پراته وي او زه به ډوډۍ خورم، زما دومره بې پروایـي بـه هغـه ډېـره خفه کړي، هغوی به دتقدیر په پرېکړه رڼا ته تسلي ورکوله او بیا ځلي به یې د خوړلو سپارښتنه ورته کوله خو رڼا په دې پلمه ځان ترې خلاص کړ چـې سـتونی پـې سره ورغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**گوله قدري يې هم تر ستوني نه تېرېږي**
**د شپې تر ناوخته رڼا ته خوب نه ورته، ان نيمه شپه شوه خو د رڼا سترګې هماغسې له چت سره نيښتې وې**
**له بستره پورته شوه، اودس يې وکړ او بيا يې دوه رکعته لمونځ وکړ**
**لاسونه يې خپل خدای ج ته لپه کړل دعايې پيل کړه !**
**اې ربه!**
**زه خو ډېره يوازې شوم، وروستۍ هيله حليمه مې دې تورو خاورو مېلمنه شوه، خدايه ج زه نوره د دې ازمايښت زور نه لرم**
**زړه مې ډېر کمزوری شوی، له سختو حالاتو سره مخ شوم خو ستا په مرسته مې د هرې ستونزې په وړاندې مقاومت وکړ، اې ربه! بيا هم انسان کمزوری دی ،خامخا له موږ نه به کومه تېروتنه شوې وي ته موږ ته ښښنه وکړه.**
**زما له ارمانونو سره تللې خور باندې مې ورحمېږه، هغه وبښه، ماته توان راکړه چې د هر جابر، فاسد غل او د بيت المال لوټمارانو په وړاندې وجنګيږم**
**له دې وروسته يې جای نماز راټول کړ، ودريده مخامخ يې د خپلې ځواني مرګې خور په تصوير چې هغې ډېر په ناز جوړ کړی ؤ نظر ولګيده**
**هغې خپل تصوير له وېرې خندنی خولې سره اخيستی ؤ او شاوخوا يې د نرګس ګلان ترې راتاؤ کړي ؤ**
**تصوير يې له چوګاټ سره راواخيست، ډېر يې ورته وکتل، د هغې نصيحتونه ورته ياد شول دې تصوير په ليدو کې ژوره لاړه !**
**خور ته په خبرو کې شوه ، ويې ويل خورې! تر اوسه مې ستا د وصيت سره سم په خوله مسکا وه ، اوس خو راسره هيڅوک هم نشته ټول ويده دي**
**زما دوښمنان زما غږ نه اوري،چې له ژړا او بدو ورځو مې خوند واخلي، ماته اجازه راکړه چې ښه ډېر وژاړم، زړه مې ډېر ډک دی، اخر انسان يم تاب يې نه لرم ،ګوندې ژړا مې له غمونو ډک زړه سپک کړي، لږ مې ارامه کړي**
**له دې وروسته يې بې واکه چغې کړې، سوې، سوې کوکې يې وکړې، چغې يې دومره په زوره شوې چې ان د ګاونډ دې مېرمنو له سترګو يې هم خوبونه والوزول،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغوی هم بریښناوې رڼا کړې او له رڼا سره یې په غیاب کې دې همـدردۍ اوښـکې تویولې**

**کله چې په ژړا ستړې شوه ، ځان ته یې پام شو، ګریوان یې لکه چـې بـاران لونـد کړی وي، په اوښکو داسې لوند شوی ؤ**

**لږ په خود کې شوه ،خپل ګډوډ وېښتان یې بیرته منظم کړل ورسره پـه کـور کـې د خپلوانو مېرمنې چې ددې په ویر راپورته شوې وې له هغوی نه یې ښـنه وغوښـته، هغوی یې هم خپلو کوټو ته د تګ لپاره تشویق کړې او خپله هم نوره ویده شوه**

**سبا سهار رڼا له میلمنو سره ناسته وه چې دې شاپور زنګ یې ټلیفون په شور راوسـت ورته ویې ویل:**

**له بندي څخه دې څه موادو د تر لاسه کولو لپاره ته باید دلته راشې، سـتا راتلـل اړین دي رڼا هم لږ شیبه وروسته هلته لاړه، دواړه د بندي خونې ته ننوتل او د هغه مخې ته ودریدل**

**شاپور هغه ته وویل:**

**ستا له لاسه خو زما خور مړه شوه او ما درسره ژمنه کړې وه چې که خور مې مړه شي داسې عذابونه درکوم چې خپل مرګ د رانه د خیرات په ډول وغواړې**

**دا ځل شاپور له ځان سره د غوندې ستن هم وړې وه مخامخ یې په بندي ور منـډه کړه ،ستن یې د هغه د مټ له غوښې وکښله او لکه سپرخی هغه یې تاؤ کـړه بنـدي چیغې کړې شاپور ورته وویل:**

**ووایـــــــــــه هغـــــــــــه تصـــــــــــویرونه د څـــــــــــه کـــــــــــړي؟**

**هغه ځواب ورکړ ،هغه زما په کمپیوتر کې دي ما خوشی کړئ چې درته رایې وړم زه کومه لېوالتیا نه لرم چې هغه نشر کړم**

**شاپور د هغه غوښې نورې هـم پـه غونـدې سـتن کـې تـاؤکړې ورتـه ویـې ویـل: موږ ته یې ادرس راکړه**

**د هغه په بدن باندې له درده خولې راماتې شوې، شاک ته نږدې حالت یـې غـوره کړ شاپور ته یې وویل:**

**غوښه مې نوره تاو نه کړې شکیدوته نږدې شوې، نور یې درد نشم زغملی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاپور : ایا کله د دې نورو په هکله هم سوچ کړی چې د هغوی غوښه هم ستا غوندې درد لري؟

هغه وویل:

تېر وتلم، اوس یو ښه راسره وکړئ ما خوشې کړئ لومړی هغه کس وژنم چې زه یې د حلیمې خور مرګ ته چمتو کړم، بیا کمپیوتر راوړم له هغه وروسته خپل خون دربښم چې هر څه راباندې کوئ زه کومه نیوکه نه لرم.

شاپور : نور به دې څومره خلک په دې مکارو خبرو غولولي وي، د څومره معصومو ځوانانو قتل به دې کړی وي

هغه ځواب ورکړ:

زه قسم کوم دا مې اول ځل دي ډېر قرضداری وم له مجبوري مې دا هر څه وکړل

شاپور یې نوره هم غوښه تاؤ کړه ،بندي له درده شاک ته لاړ

د هغه له لیدو سره رښا شاپور ته په خبرو راغله ویې وویل:

دا کس پریږده که ته اوس دا کس مړ هم کړې مور ته به څه ګټه وکړي؟

ایاحلیمه به راژوندی کړي ؟

نه کنه !

نو د ده ځورونه مور ته هیڅ ګټه نه رسوي

په دې وخت کې بندي بېرته را په خود شو رښا لا هماغسې شاپور ته منتونه کول ورته ویې ویل داکس سمه ده چې ګناهګار دی، سمه ده چې زما د خور قاتل دی خو مور به لري خویندې به لري، شاید کوچني ماشومان به لري مور به یې د هغوی لپاره پریږدو

شاپور وویل:

وینه مې په جوش راغلې تر څو چې مې د وینو جوش نه وي ارام شوی نه یې پریږدم، که یې د کورنۍ بل غړی هم په لاس راشي صرفه پرې نه کوم بیا یې بندی ته وکتل، ورته په خبرو شو ، ظالمه تا وکتل چې د څومره مهرباني کورنۍ سره دې دومره ظلم کړی سره ددې چې ځوانه خور دې ورته ووژله بیا هم ستا د بچیانو، مور او خور غم ورسره دی

له دې خبرې سره یې بختیار یو محکم سوک په خوله وواهه ورته ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په بېړه دې کمپیوټر ادرس راکړه چیرې دې ایښی، هغه وویل تاسې یې نشـی پیـدا کولی ؟شاپور ځواب ورکړ یوازې ځای یې راته وښایه نور موږ پوهېږو چې څـه ډول یې پیدا کړو**

**هغه د خپل کور ادرس ورکړ د خپلو کسانو په وسله یې نیمه شپه د هغه کور محاصر کړ، په داخل کې یو نارینه ، درې مېرمنې او ماشومان ؤ نارینه یې په سر پـه کنـداغ وواهه بې هوښه یې کړ او مېرمنو ته یې وویل:**

**مه ډارېږئ، موږ دلته یوازې کمپیوټر په کار ده هغـوی دکمپیـوټر ځـای وروښـود دوی له ځانه سر واخیست**

**کمپیوټر یې شاپور ته په مخکې کېښود شاپور له لیدو سره کمپیوټر له پښو لاندې کـړ خچ پچ یې کړ او بیا یې اور پرې بل کړ**

**رڼا دا هر څه لیدل او د شاپور هرې قربانۍ حیرانوله ورو ورو یې باور د شک ځـای خپلاؤه**

**د کمپیوټر له ماتیدو وروسته شاپور بندي کس له ګریوانه ونیو، له کټـه یـې لانـدې رواغوځاوه، وروسته یې له مټه ونیو په ځمکه یې د هغه په کشولو پیل وکړ په داسـې حال کې چې پښې او لاس یې تړلي ؤ د حویلۍ په کونج کې دده لپاره ژور شـوي سل متري کوهي ته یې ژوندی ګـذارکړ.**

**رڼا ورته وویل:**

**شاپوره !**

**تا ښه کار ونه کړ، هغه د باید نه وایې وژلی ، کم تر کمه د هغه د مـور لپـار دهغـه د اولادونو لپاره**

**تا خپل ورور او د کورنۍ غړی له لاسه نه دی ورکـړی ځکـه د هغـه چـا پـه درد نـه پوهیږې چې د کورنۍ غړی یې دلاسه ورکړي وي**

**شاپور په غوصه شوه ویې ویل:**

**ولې ما مې حلیمه خور له لاسه نه ده ورکړې؟**

**رڼا: خو ته له هغې سره دې وینې شراکت نه لرې؟**

**شاپور : موږ د ورور او خور دې اړیکې پاللو له یو بله سره ژمنه کړې وه، دې زړه له تله مو په دې اړیکه یو بل منلي وو نو ماته یې درد د سکنۍ خور نه کم نه دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلا ته حليمه سكنى خور نه بولې ، كنه د ښځې خبرې به دې هيڅ كله له خولې نه راوتې ،زما په شان به د دې د انتقام اور په سينه كې بل ؤ

رڼا ورته وويل:

زه هم لوى درد احساسوم ، ډېره خفه يم ، خو د هغه په وژنې مـور تـه څـه پـه لاس راغلل ؟

هيڅ!

كاشكې د هغه وژنه د حليمې د بيا را ژوندي كيدو لامل كېداى بيا يې پروانه كوله اوس خو مو يوه بله خور كونډه كړه ، څو ماشومان مو يتميان كړل

بيا كاشكې دلته مو صحرايې محكمه نه واى ورته جوړه كړې ، عدلي مراكزو ته به مو سپارلى واى هغوى پوهيدل او كار يې

شاپور : زما په سينه كې د هغه لپاره د انتقام بل شوى اور يوازې او يوازې د هغه پـه وژلو مړ كېده بله لاره راته نه وه پاتې ، دې بې ضميره كاشكې يوه د حليمې د وژلـو گنا كړې واىې بلكې د هغې د عزت دې لوټولو پلان يې هم درلوده

دې بې وجدانه به نورې څومره پيغلې داسې په لومـه كـې راگېـرې كـړى وي او د هغوى په عفت باندې به يې لوبې كړې وي

په دې وخت كې رڼا ته ټليفون راغى ورته وويل شول زه د شاكره خورلڼه دې يـم ، فاتحې ته راغلې يم دكور سره د ولاړه يم ته نه يې كه راتلى شې درته ماتل كېـږم او كه ناوخته كيږي نو زه اوس ځم بيا بل وخت راځم

رڼا ورته وويل:

خورې زه په شلو دقيقو كې رارسېږم ته منتظره اوسه

رڼا كور ته راغله او د ميلمنو سره بوخته شوه

ورځې او شپې تېرې شوې دوه اونۍ ووتې د فاتحې خلك هم تمام شول نـور رڼـا هوډ وكړ چې دفتر ته لاړه شي

د دفتر موټر يې راوغوښته ، او له لنډ مزل وروسته دفتر ته ورسيده !

له رسېدو سره سم د جزيرې ټلوېزون خبريال خبره ورياد شوه ، چې دې ته يې ويلي و ، چې ستاسې د فراه خبريال په فساد كې ښكيل دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه ادعا ورته ثابته شوه دا ورته څرګنده شوه، چې هغه دروغ نه دي ویلي او نه یې کومه شخصي موخه لرله، یوازې خپل احساس دې ته اړ کړی ؤو، چې رڼا ته شکایت وکړي.

هغه د رڼا په فکر کې یو صادق انسان راغی سم دستي یې د هغه کارت را واخیست هغه ته یې ټلیفون وکړ، ورته ویې ویل:

ورور جانه! ستا ریښتینولي او هېوادنی احساس ماته مالوم شو، تا دروغ نه و ویلي، هغه کس لکه چې تا یې په اړه ویل له هغه سل چنده نور هم خاین راووت، نو زه منته درنه کوم چې زما پټې سترګې مو خلاصې کړې، زه مو له ګنا وژغورلم، زما ولس مو له مظلومیته خلاص کړ، یو مجرم د خبریالي په پاکه جامه کې خپلې شومې موخې لټولې او د خبریالي له ویاړلي نومه یې ناسمه ګټه پورته کوله؛ مور هم هغه د خپلو ګناهونو په سزا ورساؤه، هغه د ښلو نه ؤو اوس په زندان کې دی.

وروره! زه ستا غوندې پاک زړو کسانو ته اړتیا لرم، ته باید په فراه کې له موږ سره کار پیل کړې او خلکو ته وښیې، چې خبریال څه وي او خبریالي څومره سپېڅلی مسلک دی.

هغه ورته وویل:

زما هم هیله ده، چې ستاسو غوندې مسلک ته ژمنو کسانو سره کار وکړم، زه د پیسو وږی نه یم بس دومره پیدا کول غواړم چې کورنی مې نورو ته اړه نشي-، زه په صداقت خپل ولس ته خدمت وکړم او بس

رڼا ورته وویل:

سره له سبا ته زموږ خبریال شوې زه دې نن اداری مدیریت ته مکتوب لاس لیک کوم نور زموږ سره کار پیل کړه احسان مند به دې هم موږ شو

خبریال :خو اغلې رڼا! هغه بل دفتر کې مې معاش د کور لګښتونه پوره کوي.

رڼا وویل:

ته اندېښنه مه کوه، دلته به هم هماغومره معاش در کړل شي.

هغه سمه ده وویل، په فراه کې د افغان رسنيز دفتر تـه لاړ ،کمره او نور اړین او وسایل یې تر لاسه کړل په کار یې پیل وکړ

((((((((((()))))))))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د رڼا لکه غره غونډې نه ماتېدونکی همت هماغسې ژوندی ؤ بیا یې هم تل په خپل دفتر کې دسمون لپاره فکر مشغول ؤ تل به یې پلټنه کوله، چې د مفسدو غلو راز پیداکړي او برملا یې کړي، له یوې خوا هغوي خپلې تېروتنې ته متوجه کړي له بلې خو ولس د هغوی له ظلمه خلاص کړي**

**یوه ورځ د یوه پلان په جوړولو بوخته شوه خپل اداري مدیر یې را وغوښت هغه ته یې وویل:**

**د ټولو ولایاتو خبریالان سبا راوغواړه زه له هغوي سره اړین بحث لرم هغه ښه صیب وویل:**

**رڼا په دې پلان کې فکر مشغول ؤ، چې شاپور یې دروازه وټکوله؛ رڼا ورته دننه راتلو وویل.**

**هغه راغی، خو راتګ یې له پخوا ډېر توپیر درلود، رڼا پورته شوه له هغه سره یې په لاس سترې مشې وکړه، له زېړ رنګه پتنوس څخه یې پیاله را واخیسته، له چایو یې ډکه کړه، لرګینه الماری یې خلاصه کړه، له رنګارنګ مېوې ډک قاب یې را واخیست د شاپور مخ ته یې له پیالې سره یو ځای کېښود.**

**شاپور هم حیران شو، لږ یې ځان وګراوه، فکر یې وکړ چې خوب نه وي وړی، د ځان په ګرولو ډاډه شو، چې ویښ ده له ځان سره یې وویل: شاپوره! لکه چې ګاډی د پټلی ته لوېدلی، د رڼا پام دې ځان ته اخېر هم را وا ړاؤ**

**رڼا ورته خبرې کوي، خو شاپور په خپل خیال پلو کې غرق ده د هغې نه اوري، رڼا عادت لاره چې بې اړتیا یې چاته نه کتل په خپلو خبرو کې یې د هغه نه وپوښتل چې سبا مې د ولایاتو د خبریالانو ناسته رابللې ته خو پکې کوم اعتراض نه لرې ؟**

**شاپور په خپل زړه کې دې رڼا لپاره ګوړې ماتولې ځواب یې نه ورکاؤ**

**رڼا ورته د خپل مېز مخ لکه د قاضي څټک، چې ووهل شي، ودرزاؤه، شاپور ټکان وخوړ رڼا ته په کتو یې مخ له شرمه سور شو، د شرم مسکا یې وکړه بیا یې رڼا ته وویل:**

**اغلې تا څه ویل؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغې يې په حالت وخندل ورته ويې وويل:**
**شاپوره! له څه وخته را په دې خوا درته خبرې کوم، خو ته يې نه اورې خير خو دی؟ کومه ستونزه خو نه لرې؟**
**هغه په توتله ژبه ځواب ورکړ ورته ويې وويل:**
**نه، نه څه خبره نشته درته پام مې وه.**
**رڼا ورته وويل ښه نو ما څه وويل؟**
**تا وويل چې اول ځل دی چې چای درته اچوم**
**هغې بيا وخندل ورته ويې ويل پام دې بل چيرې دی خير په هر حال زه سبا يوه جلسه راغواړم د ولاياتو خبريالان مې راغوښتي ته خو کومه نيوکه نه لرې؟**
**شاپور : او هو، زه به څه نيوکه ولرم، خپل کار دې دی، ته د دې ځای مشره يې زما پکې څه کار دی.**
**رڼا: ښه نو تا دلته څنګه پيښه را وکړه؟**
**شاپور : زه غواړم چې نوره خپل کور ته لاړه نه شې ؟**
**رڼا: ولې؟**
**شاپور: بس نه به ځې**
**رڼا: اخير ولې؟**
**شاپور: ته هلته يوازې يې، زه تا يوازې نه شم پرېښودی.**
**رڼا: ته په کوم صلاحيت ماته دا خبره کوې؟**
**شاپور: نوره دې خپلې سر زورې ته نه پرېږدم.**
**رڼا: د کومې زيموارې له مخې؟**
**شاپور: ته ماته د يو چا امانت يې.**
**رڼا: زه پوه نه شوم؟**
**شاپور: ته زما د ځوانې مرګې خور حليمې، يو څه کېږې.**
**رڼا: مقصد دې؟**
**شاپور :زه نه غواړم په تا څه وشي،که ته هره ورځ خپل كور ته لاړه شې او هلته يوازې واوسې نو شايد دې کوم ګواښ سره مخامخ شی او زيان درته ورسيږي**
**رڼا: که په ما څه وشي بيا؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور: زه به يې ونه شم زغملی، زما لپاره به ستونزمنه وې ، ان د اورېدو تاب هم ولرم.**

**رڼا: نو چيرې دلته په دفتر کې بستره راته وغوړوم؟ د دې ټول سټاف په منځ کې ويده شم.**

**شاپور: نه دا خو زه هم نه غواړم.**

**رڼا: نو بيا؟**

**شاپور: د دفتر په خوا کې مې درته يو کور نيولی، ټولې امنيتي چارې مې هم بشپړې کړې، څو نورې ښځينه خبريالانې به هم درسره اوسي، که کومه ستونزه وه ماته به ټليفون کوئ، زه به د بريښنا غوندې ستاسې په خوا کې حاضريم.**

**رڼا: زه مې د مور د کور څراغ نه شم مړ کولی، هلته مورې خاپوړې کړې، که زه د خپل کور ور را قلف کړم، مور او حليمه به په ګور کې رانه خفه شي له هغه کور سره زمورې يادونه تړل شوي، زه هغه ځای نه شم پرېښودی**

**شاپور: ګوره رڼا! زه دې درک کولای شم، ته په حقه يې، که زه هم ستا په ځای وای همدا ضيمواري مې تر سره کوله؛ خو دلته خبره د ګواښ ده، د هېواد يو خاين دې هم په ارامه نه دی پريښی، د هغوی سينې درته د انتقام له يوه نه خاموش کيدونکي اوره ډکې دي هغوی په کراره نه کيني**

**نو هيله مې ده، چې ضد ونه کړې او خبره مې ومنې.**

**رڼا : منم يې، ستا خبره منم انديښنې دې پر ځای دي، زه له مرګه نه وېرېږم، خو هيله مې ده، د يو څو ورځو مهلت راکړې، چې د خاينينو چاره وکړم بيا که مړه هم شم پروا نه کوي، خبره يې بشپړه نه کړه، ځکه د نورو الفاظو د مخنيوي لپاره يې د شاپور لاس په خپله خوله سريښ وليد**

**رڼا ددې کار په کولو سره ورته په حيراني ښکته او پورته وکتل شاپور ته يې وويل:**

**شاپوره دا ته څه کوې؟**

**شاپور : ومې بښه! زه پوهېږم چې داسې کارونه ستاسې نه خوښېږي، خو ستاسې د مرګ خبرې د اورېدو تاب نه لرم**

**رڼا يې په خبره وخندل، شاپور هم ورو، ورو احساس کوله چې رڼا يې خواته تمايل پيداکړی، او د هغې دباور وړ ګرځيدلی دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور له ځایه پورته شو د خوښي نښې یې په څېره کې ښکارېدې، په تلو کې یې رڼا ته مخ ور واړاؤ ورته ویې ویل:**
**مننه اغلې رڼا چې زما خبره دې ومنله**
**رڼا: مسکی شوه او ځمکې ته یې وکتل، هغه ته یې وویل:**
**سلامت اوسئ، تاسې زما په خیر غړېږئ.**
**شاپور دوه ګامه واخیستل لا بهر شوی نه ؤ رڼا ته یې وویل:**
**زه دې له اوسني چلنده خوښ یم، تاسې اوس زما د خبرو په اړه منفي فکر نه کوئ.**
**رڼا : په ریښتیا چې ما ستاسې په پېژندګلوي کې ناوخته کړی، بیا یې خپلو نوکانو ته وکتل، ورو یې وویل: تاسې یو ښه انسان یاست.**
**شاپور یې په خبره لکه د لاټري ګټونکی، رینه کی شو او لکه بریښنا له دفتره ووت**
**رڼا له دفتر سره نږدې په یوه عصري کور کې استوګن شوه او تر ناوخته به د کار په دفتر کې بوخته وه ځکه د لارې اندیښنه یې ورکه شوې وه**
**سبا سهار د ژورنالیستانو جلسه چمتو شوه د ناستې ترتیب کونکې رڼا ته د ور تلو هیله وکړه رڼا هم له دفتره پرته له ځنډه ورووته، ځکه غوښتل یې خپلو خبریالانو ته ځینې مهمې خبرې وکړي**
**ناسته پیل شوه او رڼا د غونډې پرانسته وکړه هغې وویل:**
**زه خوښه یم چې د خپلو هم مسلکانو سره یوځای د خبرو زمینه راته مساعده شوې، خبریالان زما اتلان دي، تاسې هر یوه د خپل هېواد سره خپله مینه څرګنده کړې په سختو شرایطو کې مو دنده اجرا کړې، ګواښونه مو منلي خو چا مو غږ نه دی خپ کړی، که تاسې خپله دنده همداسې مخته بوځئ هغه ورځ لرې نده چې زموږ هېواد به له فساده خلاص شي، ټولنیز عدالت به رامنځته شي، زورواکي به له منځه لاړه شي، استدلال به حاکم شي، نور به مظلوم، مظلوم پاتې نشي.، دهغوي دحقوقو د لاسته راوړلو کې به څوک خنډ جوړ نه کړي،**
**په دې وخت کې د ننګرهار ځانګې خبریاله پاڅیده او د رڼاخبرې یې ورپرې کړې، هغې ته یې وویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موږ پوهېږو چې تاسې موږ هڅوئ تر څو دنده ښه او مسؤلانه پرمخ بوځو، خو کاش دا ځانګړنې موږ درلوداى، تاچې کومې ځانګړنې وښودې دا د یوه ریښتوني خبریال ځانګړنې دي او له تاپرته په بل چا کې نشي لیدل کیداى**

**د ښکلا په خبرو رڼا مسکی شوه ، ټوکرنده یې وویل:**

**څه بابا، چېرته عزیزخان چېرته ملنګ عبدالرحمن، دا خو ستاسې لویي ده ،چې ما په داسې لویو الفاظوستایئ**

**ته چې کومې خبرې کوې، ستاسې سپیڅلتیا له ورایه څرګندوي، دنده ښه پرمخ بیـا یې خو بیا هم ځان نیمګړی بولئ، دا د ښه خبریال نښه ده**

**تاسې هر یوه له ما ښه او له اخلاصه ډک کار کړئ ،څکه خو یې نن پایلې پـه خپلـو سترګو ګورو ډېر څه اصلاح شوي دي، او ډېر لا پـاتې دي چـې لـه وخـت سره بـه اصلاح شي په دې شرط چې موږ خپله مبارزه ژوندی وساتو، دحق پلـوي وکـړو او باطل ورټو**

**د باطل څښتن لکه لمر د هر چا مخې ته ودرؤ، د هغوی پټه کثیفه څېره بربنډه کړو رڼا خپلو خبرو ته دوام ورکړ: زه غواړم څو مهمې خبرې درته وکړم زما د دندې دپیل سره ما فکر نه کاؤ چې زه کمزوری او دټولنې د کلتور مطابق ضـعیفه انسـان بـه کلـه وکولی شم چې د خپلې خبریالي په مرسته دومره ستر، ستر کارونه وکړم، خـو اوس راته مالومه شوه چې خبریالي، ځواکمن مسلک ده، هیڅکله یې په وړاندې باطـل که هر څومره ستر هم وي د درېدو ځواک نه لري که یې د درېدو اراده هم وکـړه، نو ریښتونی خبریال یې لکه لوی طوفان په خپلو څپو کې رانغاړي او د ځمکې تـل ته یې رسوي**

**زما سپارښتنه هم تاسې ته داده چې یوازې خپـل مسـلک تـه ریښـتوني واوسـئ، د خدای ج له ویرې پرته د بل چا ویرې ته په زړه کې ځای مه ورکوئ**

**په دې ډول به خدای ج له تاسې سره وي او بیا به وګورئ چې تاسې څـومره قـوي خلک یاست څومره ستر ستر کارونه کولی شئ، د څومره بدلونونو لامـل ګرځیـدای شئ**

**بیا یې سترګې لندې شوې خبرې یې نورې هم وغځولې ناستې ته یې وویل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور باید هر راز قرباني ته چمتو اوسو، د هېواد او دهېواد بچيانو ته د عدالت او مساوات لپاره که له کوم ګوانښ سره مخ کيږو هم باید قبول يې کړو

ځکه دا ملت ډېر ځورېدلی، بې وزله شوی، د مظلوميت په وروستۍ برید کې دی، څوك غمخوار نه لري، ډېرې سترګې يې مور ته دي او مور يې باید هيلې وساتو

درښا خبرو ته خبريالان لکه کالبوت چې ساه نلری ټول سکوت ؤ درښا هره خبره يې د زړه په غوږو اورېده ځکه د رښا له زړه راپورته کېدې او د هغوی په زړونو ننه وتې

رښا وويل:

خبريال که ښه وي نو ترې ښه نشته او که بد شي بيا تر ټولو بد ځان ثابتولی شي

تاسې به په هېواد کې په خپلو سترګو ګورئ چې ځينې رسنۍ پردیپالې دي د نورو لپاره کار کوي د نورو د ګټو لپاره هڅې کوي هغوی لګيا دي زمور ملي ګټې ننګوي، زمور د يو موټي ملت په منځ کې د نفاق درز واچوي، هغوی په ژبې، سيمې، او قوم باندې وويشي

زمور ضعف زمور په بيل والي کې ګوري، هغوی په دې کار کوي چې دلته څه ډول يوالی زيان من کړي، څه ډول دا نه بېليدونکی ولس سره جدا کړي او خبريال دغه د دوی شومه پروسه پر مخ بيايې هغه دخو روفيو په بدل کې له دوی سره کار کوي پرته له دې چې مسؤلانه خپله دنده وپېژني، د نورو په لومه او جولی کې ځان اچوي يوازې خپلې ګټې پالي دهېواد ګټو ته ژمنتيا له یاده باسي

نو تاسې هم خبريالان ياست او په هغوی هم د يوه خبريال نوم پروت دی چې د ځمکې او اسمان توپير مو په منځ کې شتون لري

نو ځکه مې وويل چې ښه خبريال دې ټولنې تر ټولو ارزښتناك او بد خبريال لکه ونې ته زيان رسونکی چينجی هېواد په بل مخ اړوي

رښا نورې خبرې پای ته ورسولې او ټولو خبريالانو د هغې سره په دې ژمنې چې مور به د ژوند ترپايه ستاسې لاره تعقيوبو خدای پاماني واخيسته

هغه ستړې ستومانه خپل دفتر ته راغله

د چايو يوه پياله يې راوغوښته، هغې لا پياله نه وه خولې ته کړې چې د دروازې ساتونکي ورته راننه وت ويې ويل:

يوه پېغله او يوه بله مېرمن غواړي له تا سره وګوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا خولې ته نږدې کړې پیاله بېرته په مېز کېښوده هغه ته یې وویل:**
**ژر یې را دننه کړه بهر یخ دی**
**هغوی رانه وتل رڼا هغوی ته هم چای راوغوښت، بیا یې له هغوی د خپل راتګ موخه وپوښتله**
**د پېغلې انجلۍ مور په ژړا شوه رڼا ته یې وویل:**
**لورې!، هیله یا لویو غرو ته کېږي یا لویو سړو ته !**
**رڼا : مورې ځان ارام کړه ژوره ساه واخله بیا ووایه چې څه ستونزه ده او زه څه درسره کولی شم**
**میرمن : دې پاخه عمر یو ،سرمایه دار سړي ډېره په تنګه کړې یم، دومره یې ازار کړې یم ،چې اوس په خپل مرګ راضي یم**
**رڼا :مورې اصلي خبرې ته راشه او ما پوه کړه چې څه شوي**
**میرمن : دامې لورکۍ ده ته یې بې سارې ځواني ګورې چې ور پورې اور شوی ، د ښکلا یوه بیلګه ده هغې ته یې مخ ور واړاؤ ورته ویې ویل!**
**ته چادري پورته کړه چې رڼا دې مخ ووینې هغې خپله چادري پورته کړه رڼا چې ورته وکتل په ریښتیا د ښایست یو مثال ؤ معصومه څېره یې درلوده، مخ یې د ځوارلسم سپوږمې په څېر رڼا کوله**
**د رڼا حوصله ختمه شوه هغې ته یې وویل:**
**مورې اوس راته ووایه چې کیسه څه ده ؟**
**مېرمن: دې هغه دولت مند کس عمر شپیته کاله دی، هغه زما لور چیرته لیدلې وه بیا یې له ما غوښتنه وکړه چې زه خپله لور هغه ته ورکړم هغه دوه نورې مېرمنې هم لري په مخکې قومندان تېر شوی، ځان ته په سیمه کې یو زور ور هم وایې خو ما انکار ترې وکړ لور مې دې هغې په خوښه دې هغې د ترور زوی ته ورکړه خو زوم مې له واده مخکې چا وواژه ځواني مرګ شو**
**اوس هغه سپین ږیري بیا احوال رالیږلی چې لور دې راکړه، که سل ځله مېړونه ورته وکړې هم له واده مخکې به بلې نړۍ ته لاړ شي، زه فکر کوم چې هغه کس همده وژلی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نو د خدای (ج) په لحاظ له مورِ سره مرسته وکړه، زه کونډه مېرمن یم له خدایه ج پرته بل څوک نه لرم**

**رڼا : د خدای ج لعنت دې په داسې بې ضمیره خلکو شي، د چا چې ښکلې لور او یا هم خور شي نو ددې ورستو بې وجدانه خدای ناترسه لېاره دې چې دوی دې خپلې غریضې پرې خړوب کړي او د هغې ژوند دې په اور لاهو کړي**

**هغې ورته وویل:**

**رڼا لورکی! ماته یې دوه اونۍ وخت راکړی ویلی یې دي که په دې وخت کې راضي نه شوې نو مورِ به دې لور له کوره په زوره وباسو**

**رڼا له ډېره قهر سره شنه شوه مېرمنې ته یې وویل:**

**ته بې غمه اوسه، د زورورو، زورور بل دی او هغه له مورِسره دی، دولت مند به ځان ته دولت مند وي مورِ ته د یوه واښه قدر ارزښت هم نه لري داسې به یې درته سپک ورک کړم چې بیا نور د واده نوم هم وانه خلي**

**سمدستي یې د هغه شمېره ترې واخیسته زنګ یې ورته وواهه**

**ورته ویې ویل زه رڼا نومېږم د افغان تلویزون کارکونکې یم غواړم درسره مرکه وکړم هغه ځواب ورکړ کله ؟**

**رڼا وویل: همدااوس**

**هغه وویل: سمه ده راشه زه په کور کې یم**

**رڼا انجلۍ او د هغې مور ته نوی حجابونه ور واغوستل چې هغه یې ونه پېژني درې واړه د هغه تر کوره ورسېدې**

**کله چې هغه رڼا او دوه نورې مېرمنې ولیدې لږ وارخطا غوندې شو خو بیا یې ځان په دې ډاډه کړ چې دا بل څوک دي هغه ددې جرئت نه لري چې د خپل مظلومیت اواز تر خبریالانو ورسوي**

**رڼا د قومندان په خوا کې کیناسته ورته ویې وویل:**

**ته چمتویې چې زه مرکه پیل کړم**

**هغه وویل:**

**هو**

**رڼا کېمره مین ته وویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته هم چمتو يې**

**هغه ځواب ورکړ:**

**هو**

**رڼا مرکه پيل کړه له قومندانه يې پوښتنه وکړه چې ايا دراييي او سرمايه خلك د دې لپاره په لاس راوړي، چې نورو خلکو ته پرې ازار ورسوي او کـه د دې لپـاره چـې خپل ځان پرې بسيا کړي؟**

**قومندان ځواب ورکړ:**

**دولت خلك د ځان د بسيا لپاره پيداکوي!**

**رڼا وويل:**

**که ستا لور ښکلې وي او يو سپين ږيری دولت مند يې درنـه غـواړي تـه خپلـه لـور ورکوې ؟**

**هغه وويل: نه، زه به هيڅکله هم دې کار ته چمتو نه شم**

**رڼا: که هغه له زوره کار اخلي او ته د هغه په اړه بې وسه يې نو ستا او ستا په لور بـه څه تېريږي**

**هغه وويل:**

**قيامت، به راباندې تېريږي او د هغه د وژلو هڅه به وکړم کنه ځان به پرې مړ کړم**

**رڼا: ولې؟**

**قومندان: نو ورته وگورم او سيل يې وکړم ؟خپله لور مې د هغه د لوبو لپاره لويه کړې !**

**رڼا:**

**ښه مننه**

**خو که دا کار ته د بل چا دې لور سره کوې هغه ظلم نه درته ښکاري**

**له دې خبرې سره قومندان پوه شو چې کيسه بله ده، او ناسته مېرمن او خوا کې لور يې هغه دي چې ما د واده غوښتنه ترې کړې نو د ځان خلاصولو هڅه يې پيل کـړه**

**رڼا ته يې وويل:**

**دا ته څه وايې ؟**

**رڼا کونډې مېرمن ته وويل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مخ دې لوځ کړه ځان ورته وښیه او بیا هغه کیسه وکړه چې ماته دې دفتر کې وکړه، هغې همداسې وکړل کېمره مین د خپلې کمرې مخ دې کونډې مورکۍ په لـور را واړاؤ قومندان نور هم وارخطا شوه هغې ټوله کیسه وکړه د کیسې په پای کې یـې دا هم وویل چې زما د لور خاوند له واده مخکې مړ کړل شو او زه په لوی گمان ویلی شم چې دده کسانو هغه وژلی دی**

**رڼا قومندان ته مخ ورواړاؤ ورته ویې ویل:**

**په مشهوره خپرونه پلټنه کې دې دغه مرکـه اچـوم او ددې انجلـۍ د مېـړه د وژلـو دوسیه هم درباندې خلاصوم**

**که ته له دې کیسې تېر نه شې !**

**د قومندان په وجود لړزه راغله رڼا ته یې وویل:**

**لورې! زه د نوم سړی یم که ته داسې وکړې، زما شهرت او درناوی به لـه خـاوروسره خاورې شي**

**ته صبر زه کورته ځم بیرته ژر راځم**

**هغه ژر پاڅېده ،رڼا هم په تشویش کې شوه چې سړی د څـه لپـاره کورتـه ننـه وت کومه وسله راباسي او که کومه بله خبره ده**

**لږ شېبه لا نه وه تېره شوې چې سړي په لاس کې دوه بنډله افغـانۍ رانیـولې د رڼـا مخې ته ودرېده هغې ته یې وویل:**

**لورې !ته زموږ کور ته نوې راغلې یې دادې ټیکری او باقې پاتې شوه دا بله خـبره، په هغې همدلته خاورې اړؤ**

**فکر وکړه چې نه تا څه اوریدلي او نه موږ څه کړی، اونه به په راتلونکي کې دا ډول څه تکرار شي**

**رڼا ست ونه غوښت ورپاڅېده هغه دواړه بنډلونه یې تـرې واخیسـتل د کونـډې مېرمن په لور روانه شوه دې دوه گامه په اخیستو سره یې په شا راوکتل قومندان تـه یې وویل:**

**څه ضمانت به راکړې چې دغه خبره د تل لپاره له خاورو لاندې شـوه او بیـا بـه نـه تکرارېږي**

**هغه د وراخطایي مسکا وکړه بیا یې رڼا ته وویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که بیا دې داخبره واورېده نو د ډېرې ویښتان خوبیرته راشنه کېږي غوږ او پوزه مې پرې کړه، ما دغه پروګرام له زامنو نه پټ پیل کړی ؤ هغوی ته مې ویل چې یو څوک په خوښه واده راسره کوي که هغه زما په د راز خبر شي چې ما له زور زیاتي کار اخیستی . نو له کوره به مې وشړي، هغوی خو د نن زمانې تعلیم یافته ځوانان دي، وایې زور زیاتی د انساني حقونو خلاف دی**

**رڼا د کونډې مېرمن په خوا کې ودرېده هغه دوه بنډله روفی یې هغې ته ورکړې ورته ویې ویل دا زما له اړخه تاسې ته د عزت د سپکاوي جبران وروسته یې د قومندان په خبره وخندل بیا یې ورته وویل:**

**ستا ټولې خبرې مې ریکارډ کړې ان ستا سې دپېسو بنډلونه هم پکې راغلي، دا به زما سره په ارشیف کې ثبت وي که په دې اړه مې غوږونه هم وبریږي چې تا د کونډې مېرمن ته د هغې د لور په اړه کوم مزاحمت کړی نو بیا به خپله څېره پر تلویزون وګورې بار بار به دا کار تکرار شي تر هغې به دوام وکړي چې ستا ټول خپل او خپلوان په ځانګړي ډول ستا کورنۍ او ټول هېواد وال به د دې څېرې دوهم مخ وګوري.**

**هغه وویل:**

**بس که بیا مې دغه کار تکرار کړ همداسې راسره وکړه، خو چې اوس کوم لېونتوب ونه کړې**

**رڼا ځواب ورکړ زه اوس دا کار نه کوم خو پام دې وي چې په خپله ژمنه ودرېږې کنه بیا به یې په نشرولو کې فکر ونه کړم او پرته له ځنډه به دې ثبت شوې ویډیو نشر کړم**

**رڼا له دې خبرې وروسته دسکول را واخیست کونډې مېرمن او د هغې لورته یې وویل:**

**درځي چې ځو!**

**دوی بهر راووتل د رڼا د دفتر په موټر کې کېناستل ،کونډې مېرمن وویل موږ کورته ورسوه او ته به خپل دفتر ته لاړه شې خو موږ نه پوهېږو چې له تانه څه ډول مننه وکړو چې له دې سرزوري او جابر کس نه دې وژغورلو**

**رڼا وویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**منني ته اړتيا نشته ستا لور زما خور ده او يوه خور بايد د خپلې خـور لپـاره دومـره کارونه د يوې زيمه وارې په ډول تر سره کړي، خو تاسې کورته مه ځئ زه غواړم له ماسره دفتر ته لاړې شئ او په لاره درته ځينې مهمې خبرې هم لرم**

**هغې د سر په خوځولو د هو وويل**

**رڼا او دوی د دفتر په لور حرکت وکړ په لاره کې رڼا کونډې مېـرمن تـه چـې شـاه سيټ کې ناسته وه ور وکتل هغې ته يې وويل:**

**خورې ستاسې د لور په ژوند کې اوس داســې څـوک شـته چـې واده ورسره کـول غواړي هغې وويل: نه نشته خو ولې دې دا پوښتنه وکړه ؟**

**رڼا ورته وويل:**

**زه ډارېږم چې دغه ليونی سپين ږيری بيا کوم اقدام ونه کـړي ښـه بـه دا وي چـې ستاسې دې لور سرنويشت دې يو چا سره وتړو**

**هغې وويل:**

**تاسې لکه چې زما له زړه خبره ياست زه هم په همدې فکر کې يم، زما لور ته هـم د هرچا سترگې وراوړي ځکه چې خدای ج پرې د ښکلا لورينه کړې ده نو که لـه چـا سره يې تړون ونه شي کېدای شي دې ته ورته نورو ستونزو سره مخ شو**

**رڼا وويل:**

**نو ايا په ما باور کوې چې يو مناسب کس ورته انتخاب کړم؟**

**کونډې مېرمن وويل:**

**هو ستا ټاکنه ماته د سر په سترگو قبوله ده ځکه چې ته هيڅکله هـم د چـا بـدي نـه غواړې**

**له دې خبرې سره سم دستي رڼا ټليفون را واخيست او شاپور ته يې زنگ وواهه ورته ويې ويل که وخت لرې يو ځل دفتر ته راشئ ، هغه دې هو په ځـواب سره ورتـه د ورتلو وويل**

**رڼا او دوه نورې مېرمنې په دفـتر کـې کيناسـتې دوی تـه لا د چـايو پيـالې نـه وې اېښودل شوې چې شاپور هم راورسېده دفتر ته په ننوتو يـې چـې نـورې مېرمنـې وليدې نو رڼا ته يې وکتل بيا يې وويل زه ښښه غواړم ستاسې به خاص مجلس وي زه به لږ وروسته راشم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا له شا غړ ور پسې وکړ ورته و يې ويل:

ودرېږه، موږ کوم خاص مجلس نه لرو ،دلته کېنه ،هغه ښــکته ســترګې اچــولې وې بيرته راستون شو او په څوکۍ کيناست رڼا ورته وويل:

مخامخ پېغله مېرمن وګوره !

هغه غلې سترګې راپورته کړې انجلۍ ته يې وکتل حق حيران شو د هغې ښکلا بلا رڼا ګانې کولې بلا کيسې يې په څېره کې پرتې وې د لږ ځنډ نه وروسته يې رڼا ته وکتل غوښتل يې څه ووايې خو رڼا خبرو کولو ته پرېنه ښوده هغې وار پـرې لـومړی کـړ ورته ويې ويل:

ښکلې ده کنه ؟

شاپور وويل:

دا پوښتنه له ما ولې کوې دلته خو د ښکلا سيالي نده روانه ؟

رڼا وويل:

ته سم وايې ،خو زه غواړم ته مخامخ پېغله د سوداګر په سترګو وګورې

شاپور : زه پوه نه شوم

رڼا : شاپوره ته له دې ښکلې مېرمن نشې پيدا کولی، زه غـواړم لـه دې انجلـۍ سره ستاسې واده وکړم

هيڅ کمی نه لري، زما ډېره خوښه شوې که زما ورور ژوندی واې له دې پرته مې بل څوک ورته نه ټاکله

زه ډاډه يم دواړه به سره خوښ ژوند تېر کړئ دا زما ټاکنه ده او زما ټاکنه بده نه وي

شاپور لنډه مسکا وکړه بيا يې وويل:

ما ستاسې د خبرو مطلب واخيست او که د دوی کار خلاص شوی وي ،زه غواړم تـا سره په دې اړه په يوازې وغږېږم

رڼا : سمه ده، مور او لورته يې رخصت ورکړ دوی دواړو تـه د يـوازې خـبرو کولـو زمينه برابره شوه

شاپور رڼا ته وويل:

واه:

همدغه ستا انصاف ؤ، همدا دې له ماسره همدردي وه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا يې په خبره وخندل ورته وې ويل:
خو ښه ښکلې ده، معصومه ده، بهترينه قواره لري، که يې هر څوک وګوري نو ورپيسې ليونی کيږي
ځکه مې په دې ټوله نړۍ کې په تا ولوريده
شاپور ورته وويل:
اوس خو تا پر ټپونو دمالګې دوړولو چل هم زده کړی
رڼا په حيراني سره دې هغه سترګو ته وکتل ورته ويې ويل:
شاپوره! ما څه کړي، خدای دې نه کړي، چې زه به د چا په زخمونو مالګې ودوړوم، ما خو کومه بده خبره نه ده کړې ؟
شاپور يې په ځواب کې وويل:
له مېلمه هم وپوښته چې شکنه خوري او کنه !
رڼا يې په خبره وخندل بيا يې وويل:
شاپوره ! که ريښتيا درته ووايم په دې ښکلې انجلۍ مې سخت زړه وسوځېده، ته وګوره که داد يو مهم سړي لور وای څومره قدر به يې درلوده لکه سپوږمۍ له مخه يې نور اوري، خو او س بې سرپرسته ده د هر چا د لوبو ښکار شوې ده سپين ږيری هم غواړي ځان ته يې واده کړي، زړه سوی پرې په کار ده له يوې خوا خو به يې سر پټ شي د هر ناولي او بې کاره شخص له ځورونې به خلاصه شي او له بلې خوا زه ډاډه يم چې په دې نړدې سيمه کې يې ساری نه ليدل کيږي
شاپور پرته له ځنډه ځواب ورکړ ورته ويې ويل:
ولې ته !
رڼــــــــــــــــــــــا: مطلـــــــــــــــــــب!
شاپور: له دې انجلۍ ته سل وارې ښکلې يې ؟
رڼا يې په خبره مسکی شوه شاپور ته يې وويل:
هی غلی شه !
چيرته عزير خان چيرته ملنګ عبدالرحمن!
شاپور : له ټولو ارزښتمنه خو داچې ستا له ظاهري صورت نه باطن بيا ښوځله ښکلی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا سر ښکته واچاؤ شاپور ته یې وویل:
هی بریک شه تا بیا هغه پخوانی خبرې پیل کړې، زه واده نه کوم !او زما واده کول ستاسې له وسې هم پوره نه ده څه چیرې دې بل ځای غم وخوره !
شاپور وویل:
زما په وس پوره ده زه یې پوره کولی شم زه ستا هره غوښتنه پوره کوم ، ان که دې ژوند په بدل کې هم وي زه به ورته نه ونه وایم
رڼا وخندل بیایې شاپور ته وویل:
ته دې سریالونو هوایې خبرې کوې، زما هوایې خبرې نه خوښېږي په نن زمانه کې هر سړی مین دی خو به درواغو، له زړه مین مې لا نه دی لیدلی کله چې په تشو خبرو انجلۍ ته دوکه ورکړي نو مین توب بیا ترې په هوا شي تېرې خـبرې یـې لـه یاده ووځي، بیا نو کبر شروع کړي، انجلۍ ته وایې ته خو ما نه کولې لـه تـا نـورې ښکلې انجونه راته پیدا کیدې او ....
شاپور وویل:
نن زه د خپلې مینې ازموینې ته چمتو یم ووایه څه غواړې ؟
زه ستا لپاره څه کولی شم ؟هغه څه را په گوته کړه چې ستا پرې بـاور کېـږې او بیـا هغه څه عملا وگوره چې زه دې باور لاسته راوړی شم کنه
رڼا وویل:
زما داسې غوښتنې دي چې ته به یې په اوریدو حیران شې، ځکـه زه پـوهېږم څـه چې زه غواړم ستا د تمې خلاف دي په اوردېدو به ټکان وخورې !
شاپور وویل:
اغلې رڼا خبره مه اوږده وه که ستاسې غوښتنه داوي چې اوږد راتـه وغځېـږه او پـه چاړه دې مری درنه پرې کوم هم زه به چمتو شم
رڼا دې حیرانې په پار شونډې بوخې کړې شاپور ته یې وویل:
له دې هم سخته غوښتنه لرم
شاپور وویل خو ویې وایه بیا ما پرې وازمایه چې کولی یـې شـم کنـه؟ زره مـې دې راوچاوده
رڼا وخندل بیا یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه غواړم چې ته دې افغان رسنيز مرکز په شمول ستاسې ټول جايداد زما په نوم کړې

شاپور په ملا مات شو په زوره، زوره يې وخندل بيا يې د رڼا په طرف وکتل ،هغې ته يې ورته کړه

تا ريښتيا ويل:

چې زما غوښتنه به ټکان درکړي، په ريښتيا يې ولړزولم ژبه يې په تالوکې راوچه کړه، تا هغه څه وويل چې ما يې فکر هم نه کاوه ما هيڅکله باور نه کاوه چې دې رڼا په زړه کې به دې مال او دولت مينه وي، رڼا مې بل ډول تعبيروله، هغه چې ارزښتونو ته درناوی او لوړې توب ورکوي، هغه چې تر هرڅه ورته معنويت مهم دی خو هغې نن دې جايداد شرط کېښود هغه نن د خپل هغه ځان قيمت کېښود چې ما ويل ټوله نړۍ يې هم بيه نشي پرې کولی

رڼا يې په خبرو په قهر شوه شاپورته يې وويل:

قصيدې مه وايه او دسريالونو تمثيل مه کوه زما بدې راځي هيله کوم، ته له دې ځايه لاړ شه، زه نور ستاسې د خبرو د اوريدو تاب نه لرم

زه پوهيدم چې ته تمثيل کوې، زه پوهېدم چې ته په دې خبرو ماته دوکه راکوې

شاپور : زه تمثيل نه کوم، او نه د خلکو غوندې دوه مخی او سل زړی يم هيڅ وخت مې درته دروغ نه دي ويلي او نه غواړم خپل ټول ژوند له درواغو سره تېر کړم

رڼا يې په خبره کې ور ولويده ورته ويې ويل:

څه چې ماوويل تا واوريدل، له هغو زياتې خبرې د کولو لپاره راسره نشته بيا يې شاپور ته دې وره په لور گوته ونيوله ورته ويې ويل:

زه نه غواړم نور څه واورم ته نور تلی شې !

شاپور وره ته ورسېده، خو پښه نيولی شو مخ يې بيرته راوگرځاؤ رڼا ته يې وويل:

تاته خپله کورنۍ هم ارزښت نه لري ؟

رڼا په تروشه ټنډه هغه ته وکتل ترې ويې پوښتل:

ولې؟

هغه ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کم ترکمه د حليمې خور وصيت ته دې هم ونه کتل هغې له مرگ مخکې ليک کې څه درته ليکلي ؤ هغې درته زما د لاس نيوي نه و ويلي؟

رڼا بيا هم په تروه تندۀ ځواب ورکړ:

زما ژوند زما ژوند دی د حليمې ژوند نه دې چې د يو چا لپاره يې برباد کړم او د يوه لاپو سره واده وکړم ، زه ډاډه يم چې زما د خور به هم زما پريکړه خوښه شي ځکه که هغې ته ستا دوهم مخ مالوم وايې شايد دا وصيت يې نه وی کړی

شاپور د وتو لپاره گام کېښود رڼا ورپسې غږ وکړ شاپوره وبښه چې نن مې خفـه کـړې نن مې داسې خبرې درته وکړې چې تر دې دمخه مې چاته نه وې کړې

شاپور له اوښکو ډکو سترگې په رڼا کې ونيوې هغې ته يې وويل:

نه دې ښنم، هيڅکله دې هم نه ښنم

رڼا يې په خبره مسکۍ شوه خو دې ويلو دې پاره يې څه نه لرل

شاپور له دفتره ووت.

رڼا له ځان سره په فکر کې مشغوله شوه، ويې ويل:

دا سړی دې حليمې له مرستې کولو وروسته ښه راباندې لگېږي، د هغه لپاره مې په زړه کې يو ځانگړی احساس پيدا شوی داسې احساس چې تر د دې مخه مې په زړه کې نه وو ،ان فکر کې هم د يوچا لپاره راسره نه گرځېده

خو نه پوهېږم چې دا څه دي؟ او څه به ترې جـوړ شي، خيـر مـالوم بـه شي چـې شاپور زما د وړانديز لپاره څه کوي او زما لپاره چې څه په خوله وای هغو ته په عمل کې څومره ژمن دی

رڼا دا خوږ سوچ نور هم غځاوه خو د دروازي ټک، ټک يې د فکر تسلسل وشکاؤه د راځه په ويلو سره يې وليدل چې اداري مدير يې څه پاڼې د لاسليک لپاره ورته پـه لاس کې نيولې دي

رڼا هغه ته وويل:

مدير صيب راځه پاڼې به درته لاسليک کړم ته مې د يوه بل کارد لپاره هـم رابللـې، خو ښه شوه چې خپله راغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه چې یو سپین ږیری سړی وو د رڼا سپېڅلی احساس یې درک کاوه له همدې خاطره یې د رڼا ډېرقدر کاوه لاس یې په نامه ونیول رڼاته یې وویل په سترګو لورکی امر وکړئ**

**رڼا : ! د کابل په شمول د ولایاتو ټول مسولوخبریالانو ته ووایه چې یوې څېړنیزې مبارزې ته ځان چمتو کړي دا دنده چې زه دوی ته سپارم څه اسان کار ندی له ځان سره ګواښونه لری خو اړ یو خپل ولس ته دې چوپړ په موخه دا ګواښ پر ځان ومنو**

**مدیر وویل! اغلې رئیسه صیب زه دوی ته څه ووایم !**

**رڼا: هیله کوم ماته رئیسه مه وایه نه مې خوښیږي، زه یوه خبریاله یم،او تل به اوسم، که په لوړ او یا هم ټیټ موقف کې وم مهمه نه ده، ان که وزیره هم شم زه به خبریالي کوم ځکه چې همدامې د ژوند اصل دی**

**مدیر: نو اغلې خبریالې زه دوی ته ستا له اړخه څه ووایم**

**رڼا: ورته ووایه چې د ځمکو د غاصبینو پلټنه وکړي، نومونه یې په لیست کې ولیکي، د ثبوتونو سره یو ځای یې په مرکز او ټولو ولایاتو کې نومونه افشا کوو که حکومت څه نشي کولی نو ولس خو به کم تر کمه خپل دوښمنان وپېژني او دهغوی په دروغجنو څېرو خو به نه غلطیږي**

**مدیر وویل سمه ده**

**هغه مرکز او ټولو ولایاتو ته دې رڼا پیغام ایمیل کړ**

**رڼا هم کورته لاړه ځکه چې ډېر ناوخته شوی ؤ**

**له ډوډی خوړلو او لمونځ کولو وروسته ویده شوه ،ځکه د ورځې ډېره ستړې شوې وه، سهار وختي پاڅېده، لمونځ یې وکړ بیا یې د معمول تمرین نیم ساعت بشپړ کړ وروسته د دفتر په لور روانه شوه، پیاده یې حرکت پیل کړ ځکه دفتر په څو قدمي کې ؤ**

**دفتر کې کېناسته تر څو دې کابل ښار د ځمکو غصب لیست له اسنادو سره یو ځای خپله جوړ کړي په دې فکر کې وه چې له کوم ځایه یې پیل کړي چې ټلیفون یې وشرنګېده ویې کتل یوه نامالومه شمیره وه**

**شین بټن یې کیکاګله غږ پرې وشو اغلې رڼا مبارک دي وي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورې ته خو دې ځان ډیر پا ک، خواخوږی، هېواد پال معرفي کاؤ ته خو اوس بلا راووتي

رڼا یې خبره ورپرې کړه هغه ته یې وویل:

وروره لومړی ځان را وپېژنی، وروسته مې سمه پوه کړه چې ته څه وایې زه دې په خبره نه پوهېږم

هغه وویل:

زه دې ښاري محکمې قاضي یم څه وخت وړاندې دې د مورې ته مراجعه کړې وه

رڼا وویل:

د څه لپاره ؟

هغه وویل: ولې هیر دې شو، څه وخت وړاندې د یوې کونډې مېرمن د کور خلاصولو لپاره چې راغلې وي، کوم چې یوه زور واکي غصب کړی ؤ بیا مورې درته دهغه جعلي اسناد له منځه ویوړل

او هغې ته مو خپله قباله تائد کړه

رڼا وویل:

ښه نو اوس؟

هغه وویل:

مبارکي یې درته وایم

رڼا : دې څه مبارکي ؟

هغه وویل:

ځان ناګاره مه نیسه، دومره لویه خبره څنګه پټېږي ؟

رڼا ځواب ورکړ وروره زه ستاسې په خبره نه پوهېږم، که لطف وکړې او په لنډو واضح ووایې چې څه خبره ده نو زما او ستاسې دواړو دو خت د زیانه به مخنیوی وشي

هغه وویل:

دلته یوه لویه دوه سوه جریبه ځمکه چې تاسې اخیستې ده ستا په نوم کیږي قباله یې درته جوړېږي او افغان رسنیز مرکز ،تلویزون او راډیو ستا په نوم کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا راته ووايه چې دومره پيسې دې له کومه کړې، او زموږ برخه پکې څومره دی

رڼا ځواب ورکړ:

ښاغلی قاضي، زه ستاسې بې هوده خبرو ته وخت نه لرم، هيله کوم زه ډير کار لرم زه ټليفون پرې کوم

رڼا ټليفون پرې کړ د ټليفون پر څوکه يې زنه تکيا کړه په يو ژور سوچ کې لاړه دې ځان سره يې وويل:

واه شاپوره مننه درنه کوم، ته خو په ريښتيا د عمل سړی يې لکه څرنګه چې ما فکر کاؤ له هغه نورهم لوړ وختې، ته په ريښتيا چې د قربانۍ او سرښندنې سړی يې، حليمې سم ويلي ؤ ته بې جوړې يې زه يوځل بيا اقرار کوم چې ما دې په پيږنګلوي کې ډېر ناوخته کړی، له دې وروسته دې نه ځوروم، ته زما لپاره پيدا شوی او هغه څوک يې چې دې چا لپاره مې خوبونه ليدل، هغه ته يې، بل څوک نشي کيدای زما وجود ستا د پاره جوړ ده، زه به دې ډېر ژر خپل کړم

رڼا په همدې چرتونو کې وه چې يوځل بيا يې د ټليفون زنګ د فکرونو لړۍ پرې کړه ويې کتل هماغه قاضي ده رڼا ته يې په ټليفون کې وويل:

اغلې رڼا موږ درته په تمه يو دلته ستاسې لاسليک ګوتې او د تذکيرې شميرې ته اړتيا ده هيله ده ژر راشې، رڼا بيا دې ځان سره په سوچ کې شوه ويې ويل:

اغلی شاپوره ما غوښتل چې دا مالوم کړم ته زما سره څومره مينه لرې، زما لپاره څومره قرباني ورکولی شې، کنه زه خو دې مال جايداد او ځمکې هيڅ وړې نه يمه وروسته يې قاضي ته

لنډځواب ورکړ:

زما قبالې موالې او داسې اسنادو ته اړتيا نشته، هيله ده نور زنګ ونه وهې.

ټليفون يې پرې کړ.

دې ځمکو د غصب دې پلټنې په پلان بوخته شوه، لا يې لومړني مواد نه ؤ چمتو کړي چې شاپور يې اسناد په لاس مخې ته ودريده

په قهر جنه څهره يې په رڼا کې سترګې خښې کړې هغې ته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته لا نور ځومره ریشخند په ما وهې لومړی وایې چې جایداد دې زما په نوم کړه اوس مې چې دا کار وکړ نو د لاسلیک لپاره محکمې ته هم نه راځې، اسناد یې په میز ورته په زوره وویشتل، هغې ته یې وویل دې ځمکواو جایداد ورې دادي اسناد مې درته چمتو کړل ټول مې ستا په نوم کړل یوازې ستاسې لاسلیک ته اړتیا لري، رڼا د خپل طبیعت خلاف، لکه چې څوك ګونګې تـه خـبرې کـوي، هـیڅ عکـس العمل نه ښوده، بلکې کله کله خو د شاپور خبرو ته مسکی کیده، شاپور ته به د هغې مسکا نوره هم د درد باعث شوه

شاپور اړ شو دې هغې چوپتیا ماته کړي، هغې ته یې وویل:

او هو زه دیوال ته خبرې کوم، دا وګوره په عـوض ددې چـې خجالـت وبـاسي لا خاندې هم

رڼا: هم نوره چوپتیا ماته کړه شاپورته یې وویل:

نور نو اړتیا نشته چې ماته ځان ثابت کړې زه نور له ځانه هم په تاډېر باور لرم، ستا د ریښتینولي ازموینه پای ته ورسېده، ستاسې کار پای ته ورسېده اوس زما کـار پیـل شوه

ته مه وارخطا کېږه، ستا هیله داده چې ما خپله کړې کنه، شاپور چپ غریـو نیـولی ولاړ ؤ څه یې نه ویل:

رڼا خپلې خبرې ته په خپله ځواب ورکړ ویې ویل:

هو ستاسې همدا هیله ده، زه نوره ستا شوم، زه نه ستاسې د جایداد ورې وم او نه د کومي بلې مادي سرچینې، یوازې ما غوښتل پـوه شـم چـې تـه زمـا لپـاره څـومره ریښتونی یې، زه درته څومره ارزښت لرم او زما لپاره څومره قرباني ورکولی شې

زه اوس ډاډه شوم چې ته زما لپاره هر څه کولی شې ان له ژونده هم تېریدلی شې، خو ما وبښئ چې ته مې وځورولې، کاش کې ما دومره تکلیف نه وای درکړی

شاپوره زه نوره ستاسې یم، زما وجود باندې له شرعی تړون وروسـته یـوازې تاسـې حق لرئ ته نوره اندیښنه مه وهه

زه دې په خواکې یم او تل به اوسم

شاپور ددې خبرو په اوریدو د خوشحالی سلګو واخیست د رڼا په لور یـې قدمونـه اخیستل پیل کړل، فکر یې وکړ چې نوره رڼا د هغه شوه نوره هغه هستي چې له ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږد وخته یې ورته انتظار کړی ؤ نوره یې خپل مال شوه، غوښتل یې ځان ورته دومره نږدې کړي چې خپل لاسونه د هغې له نرۍ ملا تاؤ کړي او زړه ته یې نږدې کړي خو رڼا ډېر ژر د هغه په موخه پوه شوه لا د هغې تن رسېدو ته یې یو ګام پاتې ؤ چې رڼا غږ پرې وکړه شاپوره ته څه کوې ؟ همدلته ودرېږه

هغه وویل: خو په خپله خوله دې وویل چې زه ستایم نو اوس بیا څه وشول

رڼا : زه هم منکره نه یم خو له نکاه وروسته

شاپور : سمه ده بیګا ته یو محفل نیسو، دکوژدې په مراسمو کې نکاه هم تړو، رڼا ځواب ورکړ:

ما خپله پریکړه درته واوروله نور مخکې کارونه خپله تنظیم کړه زه پرې اعتراض نه لرم .

ماښام رنګین چاپیریال جوړ شو د دفتر ملګریو د محفل په جوړولو کې خورا خواری کړې وه هر طرف ته رنګونه او رڼا ګاني خپرې وې، خوشبویي لکه د پسرلي موسم تر هر چا رسیدله دې هیڅ څه کمی نه وو

شاپور او رڼا جوړه د تخت لورته لکه شهزادګان راغلل، دواړه دنګې ونې لکه جوړه چنار د تخت خوا کې ودریدل، محفل کې ناست خلك هم دې دوی په درناوي له څوکیو پورته شول، لومړی دوی کناستل بیا د محفل مېلمانه په خپلو څوکیو ناسته پیل کړه، رڼا په نوې جوړه کې سمه رڼا کوله غټو بڼورو سترګو کې یې له ډیره لرې تور او سپین مالومیدل، هر طرف ته له اړولو سره به یې د ناستو خلکو راښکون کاؤ رومانتیك ماحول ؤ، دې دوه بې جوړو، کسانو، جوړه د هر لیدونکي لپاره زړه راښکونکې وه

د کوزدې مراسم په شاندارو ولولو پیل او پای ته ورسیدل، نکا هم وشوه تر تیب کونکو اعلان وکړ چې یوه اونۍ وروسته به ددې جوړې د واده مراسمو شاهد هم واوسئ

تر ډېره ناوخته خلکو ساعت تېری وکړ او له نیمې شپې څه وخت تېر ؤ چې محفل پای وموند

رڼا هم د خپلو مېرمنو خبریالانو سره یوځای ددې لپاره سینګار شوې هغې خونې ته لاړه چې شاپور ورته په ګرایه نیولې وه ، شاپورهم په خپل تګ کې قدمونه سستول

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې ګونډې رڼا به ورته ست وکړي چې همدلته چې رڼا اوسېږي پاتې شي خو له شاه یې دې رڼا غږ واووریده ورته ویې ویل:**

**شاپوره ته کورته ځې هغه وویل:**

**هو خو که تاسې وایې دلته پاتې شئ زه کوم اعتراض نه لرم، رڼا ورته وویل:**

**بې شرمه غلی شه څوک به یې واوري، ژر خپل کورته له ځنډ پرته لاړ شه، سبا سهار چایو خوړلو ته ځان راورسوه چې زه غواړم درسره په ځینو مسئلو خبرې وکړم هغه هو وویل بیا د خپل کروزین په لور په اوچتو ګامونو روان شو ، رڼا له شا غږ پسې وکړ شاپوره هغه قدم نیولی شوه شاته یې راوکتل دې رڼا غږ یې واوریده هغې ورته وویل:**

**په ځان دې پام کوه**

**شاپور وخندل بیا یې ورته وویل امر دې پر ځای کیږي ،خو مخکې دې ولې نه ویل:**

**رڼا ځواب ورکړ اوس خو مې ضیمه واري شوه، تاته پام زما مسولیت شو او زه ډېره مسولیت پذیره یم خبره اوسه**

**شاپور: ستاسې ضیمه واره اوسیدل ماته کومه نوې خبره نده، نور یې د خپل موټر په لور حرکت وکړ رڼا هم خپلې خونې ته لاړه سخته سترې شوې وه خو د لمانځه نه مخکې ویده کیدل یې نه خوښیدل اودس یې وکړ جامې یې بدلې کړې او په ارامه یې لمونځ وکړ بیا یې سر په بالښت کیښود له بالښت سره د سر له وصل کولو سره یې سترګې هم سره ورغلې**

**سبا سهار یې د سترګو له پرانیستو سره دې شاپور په څېره سترګې ولګیدې، حیرانه شوه سترګې یې وموښلې، فکر یې وکړ لکه چې خوب دی خو خوب نه ؤ دې سترګو په بیا پرانیستو سره یې په مخکې شاپور لکه سلامي سرتېری ولاړ ولیده رڼا راپورته شوه هغه ته یې وویل:**

**شاپوره ته دلته څه کوې، هغه ځواب ورکړ:**

**ولې خو تابیګا راوغوښتم**

**رڼا : سمه ده چې ما راوغوښتې، خو د چاې خوړلو خونې ته نه زما د خوب کوټې ته !**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاپور یې په خبره وخندل بیا یې وویل:**
**د بیګنۍ شرعي پریکړې له مخې ستا شته ،زما او زما دې ستا دي هر څـه زمـوږ ګـډ دي زما اوستا پکې نشته**
**رڼا ورته وخندل:**
**هغه ته یې وویل:**
**دا خوب دې اوبو ته ووایه، اوس لا وخته دی، له واده وروسته دا خبرې وکړه**
**شاپور: په یوه اونۍ کې به واده هم وشي**
**رڼا وویل:**
**ځه ته اوس لاړ شه د چای څښکلو خونې ته زه لمونځ کوم چـې قضـا کیـږي ځـان چمتو کوم زه هم درځم په ګډه به چای وڅکو او خبرې به هم وکړو**
**شاپور ووت او رڼا هم خپل عبادت وکړ وروسته شاپور ته مخامخ دې چایو میز ته په څوکۍ کیناسته هغه ته یې وویل:**
**تاسې ولې دومره بیړه وکړه**
**شاپور: د څه ؟**
**هغې وویل:**
**تاســـــې ولـــــې دومـــــره ژر د واده کولـــــو د پـــــاره بیـــــړه لـــــرئ ؟**
**شاپور یې په خبره وخندل هغې ته یې وویل:**
**خو پرون سهار تاسې وویل:**
**چې ما خپله پریکړه وکړه، نور مخکې کارونه ستاسې دي او زه پرې اعتراض نه لرم نو اوس اعتراض له کومه شو؟**
**رڼا: زما مطلب دادی چې په یوه اونۍ کې دې واده تیاریانې اسان کار ندی هسې نه چې خلک راپورې وخاندي؟**
**شاپور : پرون ماښام پروګرام دې خوښ شو؟ هغې وویل هـو ډیـر پـه زړه پـورې ؤ شاپور ځواب ورکړ دا د سهار نه تر ماښام د پروګرام تیاری وو شاپور ته د داسې ساده سړي فکر مه کوه هغه یوازې تاسې ته د مینې په وړاندیز کې زړه نه شـو کـولی پـه نورو کارو کې ډیر زړه ور دی په یوه اونۍ کې به داسې تیاریانې ونیسي چې خلک به ګوته په غاښ حیران ورته ولاړ وي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا وويل:**

**زه دربانديې باور لرم، ته چې څه وايې د هغو دعملې كولو ځواك هم لرې تـه هغـه څه كولى شې چې نور خلك يې نشي كولى**

**خو زه يو ډيره مهمه دنده پر مخ وړم، تر څومې چې هغـه نـه وي تـر سره كـړې زه واده نه كوم**

**شاپور ورته وويل:**

**دې څه دنده ؟**

**رڼا غواړم د هېواد د بيت المال غله او دې بيت المال د ځمكو غاصـيبين افشـا كـړم ،ټولو ولاياتو خبريالانو ته مې دنده سپارلې، چې مالومات او اسناد راټـول كـړي، د كابل مركز دنده ما په غاړه اخيستې**

**شاپور وويل: اغلې رڼا ولې له واده وروسته داكار نه كوې؟ كـه لـه واده وروسـته تـا څوك كار ته نه پريږدي ته ولې اوس بيړه لرې**

**رڼا ځواب وركړ:**

**زه د هېواد د دوښمنانو ډيره بده ايسم ته پوهيږې چې هغه زما وينې هم څكې زه هر وخت د مرګ د ګواښ سره مخ كيـداى شـم، كـه دا ماموريـت رانـه پـاتې شي نـو ځنكدن به رابانديې ډير سخت تېر شي**

**شاپور ورپاځيده دې هغې په خوله يې لاس وركيښوده بيا يې هغې ته وويل:**

**د خداى ج لپاره نوره يوه كليمه هم ونه وايې!، نوره د مرګ خـبره پـه خولـه وانـه خلې، زه يې دې اوريدو تاب نه لرم، زه ډاډ دركوم ستا هيلې به هـم پـوره شـى او واده به هم وشي**

**رڼا : خداى ج دې ستاسې خبره ريښتيا كړي، زه هم هيله لرم چې تا غوندې يـوه كس سره ژوند تېر كړم، ما فكر نه كاؤ چې ماته به مې د خوبونو شـهزاده پيـدا شي، ځكه زما فكر دې نورو نه جلا دى، غوښتنې او هيلې مې نورو سره توپير لري، خـو زه څه خبره وم چې شاپور هغه غښتلى سړى دى چې زما دې باور لپاره بـې جـوړې اراده او زغم لري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاپوره زه ډېره خوشحاله شوم چې ته مې په لاس راوړې، ته مې د خوبونو تعبیر وې ته مې د خیالونو دې ټال جوړه شوې نړۍ وې خو دې سترګو مخکې مې بیا هم رانه ورک وې
زه دې ډېر قدر کوم، زه به ډېره مینه درکړم ځکه چې ته دې ډېرې مینې وړ یې تـه بې جوړې یې ته ډېر پاک زړه لرې
کوم چې زما لپاره پکې بې مثاله مینه نغښتې ده
شاپور وویل:
هیله کوم زما له توصیف نه تېر شئ، زه د داسې الفاظو وړ نه یم خو له دې وروسته د مرګ خبرې ونه کړئ، ځکه ستاسې دې ژوند سره زما ژوندهم تړلی، که ته ونه اوسې نو بیا به زه څه کوم زما په وجود کې خو ستا په قوت ساه ښکته او پورته کیږي، دې زړه هره درزا مې تا یادوي، په هر رګ کې مې ته یې ستا په برکت مې په وجود کې وینه چلښت کوي کنه روان بهیر به یې ودریږي او هر څه به دې منځه لاړ شي
رڼا یې خبره ورپرې کړه ورته ویې ویل:
ته چای هم څکې او که یوازې خبرې کوې ،زما دفتر ته دې تګ وخـت دی ،ژر، ژر که چې ناوخته کیږي
شاپور :
ظالمې نن خو د دې کـوزدې لـومړۍ ورځ دی، رخصـتي وکـړه نـن زه پـه خپـل صلاحیت اجازه درکوم
رڼا وخندل، زه د افغان رسنیز دفتر مشره یم دا له یـاده مـه باسـه چـې زه دې چـا اجازې ته اړتیا نه لرم
بیا د شاپور مخته ځیره شوه هغه ته یې وویل:
هی !ستا مخ خو له غمه سم پړسیدلی، ته مه خفه کیږه، زه نه مرم، لومړی تا سـپین ږیری کوم بیا به دې مرګ لپاره تیاری نیسو، هسې ټوکې کوم ته زما ټوکې هم جدي نیسې
شاپور :
نور په غلطي کې هم دې مرګ نوم وانه خلې، رڼا یې خبره ورپرې کړه شاپور ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مرګه خو خلاصون نشته ، دې خدای ج له وجوده پرته هر ژوندی باید دې مـرګ څکه وکړي ، خو خدای ج دې مونږ ته مهلت راکړې چې لومړی د خپلو مسلمانانو په خدمت کې ښه ستړي شو ویښتان مو سپین شي بیا که مرګ راشي هم پروانه کوي له دې وروسته یې دسکول راواخیست شاپورته یې وویل:

زړګیه زه دفتر ته ځم چـې خپلـه راسـپارل شـوې دنـده تـر سره کـړم او د ولایـاتو خبریالان هم تعقیبوم چې کارونه یې تر کومه سرتـه رسـولي ، خـو کـه زمـا پـه دې ماموریت یوکال هم وځي ته باید د واده نوم وانخلې

شاپور دې هو په دود سر وخوځاؤ: غوښتل یې چې رڼا ته یوه خبره وکـړي خـو لـه شرمه یې مخ سور شو بیا یې هم دې خبرې جرئت وکړ رڼا ته یې وویـل مننـه چـې زړکی دې راته وویل ته نه پوهیږې چې ماته دغه کلیمه څومره ارزښت لـري او دې جملې ته مې څومره انتظار ویستلی دی رڼا یې هم په خبره مسکی شوه شاپورته یـې وویل:

ځه زموږ د کور زومه ، دا خو وړه خبره ده اوس به دومره مینه درسره وکړم چې نړۍ به درنه هیره شي خو پام چې په دې هیره شوې نړۍ کې زه درنه هیره نشم ځکه زه هم د نړۍ یو جز یم رڼا نوره دې خپل دفتر په لور وخوځېده ، لنډ مهـال وروسـته یې په خپل دفتر سر ور دننه کړ لا په څوکی نه وه ناسته چې په دسـکول کـې یـې فون وشرنګید ټلفیون یې راواخیست وې کتل چې د هرات ولایت دې سمت مسول خبریال دی دې سلام له ویلو وروسته یې رڼا ته وویل ماته راسپارل شوې دنده مـې تر سره کړه د ځمکې د غصب راپورمې ټول له اسنادو سره تیار کـړ رڼـا ورتـه وویـل راپور دې په خپل غږ ثبت کړی هغه وویل هو نو بل څوک یې راته ثبت کړي

رڼا: ته راپور په خپل غږ مه ثبتوه د اسنادو سره یې لیکل شوی مـتن ماتـه راولیـږه راپور زه په خپل غږ خپروم !

هغه وویل:

ولې؟

رڼا : زه تاسې په کوم خطر کې نه شم اچولی !

هغه ځواب ورکړ اغلې رئیسې صیب خو دنده اومسولیت مو دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا : اول خو ماته رئيسه مه وايه ، نه مې خوښيږي ، يواځې دخبريالې پاک نوم راتـه بسنه کوي ، همدا راته له پاچاهي هم ستر نوم دی**

**بله خبره دا چې دا سمه ده چې ستاسې مسولیت هم دی او هېواد پـه مـوږ مسـاوي حق لري هر يوه دې پور په ډول ددې ولس قرضداري يو ، بايد چې له مرګ مخکې يې دا حق اداکړو خو چې زه ژوندی يم تاسې کوم خطر او ګواښ ته نشم ورکولی ، لومړی بايد زه درته سپر شم بيا له ما وتلې ګولی که په تاسې ولګيږي نو زه بـه ځـان ډير مسوله نه ګڼم ځکه چې له وسه به مې بهر وي**

**خبريال غوښتل نور دلايل هم ووايې خو رڼا خبرو ته پرينه ښوده هغه ته يې وويل زه چې څه درته وايم هغه وکړه**

**رڼا اداري مدير ته زنګ وکړ ورته ويې ويل:**

**دې ټولو ولاياتو خبريالانو ته ووايه چې د ځمکو د غصب اسناد راټـول کـړې راپـور دې په خپل غږ کې نه ثبتوي يوازې متن دې له اسنادو سره ماتـه راوليـږي ، زه نـه غواړم زما په شتون کې دوی دې کوم زيان سره مخ شي**

**هغه سمه ده صيب وويل بيا يې ټليفون پرې کړ**

**رڼا هم نوره لاس په کار شوه دې شخصي اړيکو او دولت کـې د مخلصـو مـامورينو دې پيدا کولو په لټه کې شوه تر څو ليست وار د هغو خلکو نومونه پيدا کـړي چـې دې بيت المال د ځمکو د غصب يې کړی چټک کار يې پيل کړ ، ځکـه خـو لا دوه ورځې نه وې وتلې چې خپل هدف ته ورسېده**

**داسې راپور يې جوړ کړ چې دې غاصبينو دې زړه پر ځمکه يې دې تزلزل خپراؤ او دې چاړو ګذار پرې کيده**

**دې هغې له راپور چمتو والې سره دې لسو ولاياتو راپورونه هم خپرولـو تـه چمتـو راوليږل شول**

**رڼا د پلټنې مشهورې خپرونې له خوا اعلان وکړ**

**غواړی هغه څېرې درو پيږنم چې ستاسې په مری يې د خپک کولو لپاره پښه ايښې ، غواړی هغه بې وجدانه در وپيږنم چې ستاسې د کونډې ، يتيم او دې بې وزله حـق يې تر ستوني تېر کړی او خپله مرداره ګيډه يې پرې پړسـولې ، غـواړئ چـې هغـه څوک در وپيږنم چې په ظاهره ستاسې غمخوار ځان بولې خو ستاسې وينې زبيښي!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که لیواله یاست او ځواب مو هو وي نو نن شپه نه بجې زما پلټنه خپرونه مه هیروی ولس ددې اعلان په اوریدو سره لکه ویده چې راویښ شي حیران شول ځکه له دې مخکې چا ددې غټ خبټو په اړه څه نه شول ویلی که به یې ویل هم نو ځای به یې هدیره ؤ .

اعلان د فسبوک، ټویټر بااحساسه ملګرو دپوستونو سر لیک شو، تر ټولـو خونـدور پوست خلکو ته دې رڼا ددې کار پیل او دې زور واکو پـه وړانـدې دریـدل ؤ پـه کمنتونو کې به خلکو رڼا ته ځانګړی لیکل کول

رڼا دې ولس ریښتونې استازې، رڼا دې ولس خواخوږې، رڼا د خپل هېواد سره دې ځانګړي مینې څښتنه، رڼا د هېواد دې توروتیارو روښانه څراغ، رڼا لـه خپـل ولـس سره دې مینې سمبول او په لسګونو نورو ښکلو نومونو یادیده

رڼا د هېواد هر یوه فرد وپېږنده او د خپلو حقونو صادقه مدافعه یې وبلله

خلک دې شپې نهو بجو ته لکه دې روژه ماتي ماښام ته په تلوسه ناست ؤ

خپرونه پیل شوه، رڼا د ځمکو د غاسبینو لیست پیل کړ، دې لسو ولایاتو شتمنو هغه وړو نومونه او هغه ځایونه یې ذکر کړل چــې دوی پـه زبردسـتي نیـولي ؤاو خپـل کورونه، مارکیټونه او ښارګوټي یې پکې اعمار کړي ؤ.

په دې نومونو کې دې هرې طبقې زورواکو څېرې خلکو ته ښکاره شوې ځینې خو یې هغه هم ؤ

چې دې اسلام او هېوادنی مینې په خاطر یې خلکو ته سـبقونه ورکـول، دې اوږدو ږیرو لاندې یې پټ شیطانان خلکو نه پټول.

رڼا پروګرام پای ته ورساؤ په پای ې کې یې وویل:

سبا و بل سبا هم په تمه شئ ستاسې به دې دا ډول حیرانونکو څېرو سره اشنا کړم له ولس سره خواخوږي او جفاګر به درته وښیم

رڼا له دې خپرونې وروسته لکه دې څوارلسم سپوږمي دې هـر چـا دې سـترګو پـه مخکې او زړه کې ځای ونیو

د هر چا په ژبه د مجلس کیسه شوه، دې هر چا دې بـاور یـوه سرچینـه وګرځیـده، زیاتره د فسبوک او ټویټر خاوندانو خو یې تصویر په فورپایل ولګاؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غاصيبين زور واکي هم خاموشه ؤ ځينو خو شکرونه باسل چې زه خو خدای ج ترې بچ کړم  زما نوم خو يې وانه خيست

رڼا سبا هم  خپله خپرونه مخته بوتله او دې لسو نورو ولاياتو غاصيبينو  نومونه يې واخيستل

دريمه او ورستی ورځ راغله رڼا  ليست په لاس نهه بجې دې ټلويزون سټوډيو ته ننوته

په خپرونه يې پيل وکړ ورستی ليست يې څرګند کړ او د هغو سلګونو جريبه ځمکو نومونه يې هم واخيستل چې دوي په بډو وهلي وه

رڼا وويل:

ما مې خپل مسوليت ادا کړ ، که مې وس وی ددوی له ستوني مې ستاسې حق راباسه خو کاش چې دا کار مې کولی شوای ، ځه لږ تر لږه مې زړه سکون شو چې تاسې خپل ريښتوني دوښمنان وپيږندل ، هغه چې ظاهري بڼه يې په سپينو جامو کې پټه وه او تاسې يې خپل موريدي ته رابللی

نور نو د حکومت کا ردی چې وروسته څه کوي

رڼا خپرونه ختمه کړه نوره له سټوډيو راووته

بهر شاپور ورته موټر درولی ؤ تر څو يې خپل استوګنځي ته ورسوي ، هغه سره موټر کې کيناسته موټر حرکت وکړ ، هغه ته يې وويل:

غواړې يوه خوش خبرې درته واوروم ؟

هغه وويل:

ولې نه  ژر يې وايه

رڼا وويل:

له دې وروسته دې واده تياردياني نيولی شې هغه څه چې ما غوښتل دې يوه ضيمه وار خبريال په توګه مې تر سره کړل

شاپور يې په اوږه لاس کيښود رڼا ته يې وويل:

سم وواية ، ته خو توکې نه کوې ؟

رڼا يې له خپلې اوږې لاس لرې کړ شاپورته يې وويل:

شاپوره لاس دې لرې کړه موټر به چپه کړې ، لارې ته ګوره ، زه تاسره کله ټوکې لرم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه يې په خبره وخندل بيا يې وويل:**
**موږ له هغه اولې ورځې کارونه پيل کړي، هر څه چمتو دي که ستاسې غوښه وي سبا نه بل سبا به مراسم پيل کړو**
**رڼا ځواب ورکړ:**
**ايا په دومره لنډ وخت کې به هرڅه ممکن شي**
**شاپور وويل:**
**دا زما دې خوښې واده ده، زه هر دقيقه په دې فکر کې يم چې هيڅ کم پکې نه وي**
**رڼا وويل:**
**چې ته ډاډه يې نو زه هم کوم اعتراض نه لرم**
**شاپور: بس سبا نه بل سبا دې واده ورځ وټاکل شوه خپل دوستان رابلل شې**
**رڼا سوړ اسويلی وکيښ شاپور ته يې وويل:**
**ماما مې د هېواد نه بهر دی نوره کورنۍ خو تا وليده چې له خاورو لاندې شوه زه خو ظاليمانو له کورنۍ خلاصه کړم بس چې نور څوک په خيال کې راځي بلن ليک به ورولېږم**
**دوی کور ته راورسېدل رڼا خپل د خوب کوټې ته ننه وته ور يې راپورې کړ شاپور لکه بيګانه دې بند وره تر شاه پاتې شو په رڼا يې غږ وکړ او هو تا خو ور رابند کړ داسې نه وايې چې خاوند مې بيرون پريښود رڼا بيرته ورتاؤ شوه ور يې ورخلاص کړ هغه ته يې وويل:**
**ته خپل کور نه لرې، هغه وويل:**
**لرم يې خو هسې ګيله راته ودريده رڼا ځواب ورکړ ورته ويې ويل:**
**ګيلې در سره وساته بيا به يې دې واده په شپه کوو، نور يې ور ورپسې بند کړ**
**له دې وروسته رڼا ټليفون راواخيست دې لومړي ځل لپاره يې فيسبوک خلاص کړ پوست يې وکړ دوشنبه زما واده ده، ما ويل ما سره به دې ناوې توب په ورځ دې مور دعاوې اوکورنۍ راسره وي خو ظاليمانو هغه ټول رانه په دې ګنا واخيستل، او له توروخاورو لاندې شول چې ما مې ددوی ظلم دې خپل ولس په وړاندې نه شو برداشت کولی، ددوی په وړاندې ودريدم خو اوس لکه اوبو راوړې بې کورنۍ يمه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه پوهېږم چې دې ناوې توب په ورځ راسره خپله کورنۍ نه وي څومره سخته به راباندې تمامه شي، په هر حال داچې خپل ولس ته مې تر خپله وسه هلې ځلې وکړې بس دا به راته یو څه ډاډ راکوي**

**پوست نه ؤ سمې کانې یې وکړې، نږدې یو نیم لک خلکو لایک او پنځوس زورو خلکو پرې کمنټ کړی ؤ ټولو دې رڼا سره خپله خواخوږي ښودلې وه هریوه لیکلي ؤ رڼا خورې ته مه خفه کېږه تا دې دې ملت لپاره ستره قرباني ورکړې مور یې نشو هیرولی، مور دې هم ورونه او خویندې یو**

**مور به درسره دې واده په ورځ خامخا ګډون کوو**

**ستاسې دې واده ډالۍ او برخه به دې یوې خور په شان کوو، او ستاسې دې واده په خوښی کې به لکه دې کورنۍ غړي ونډه اخلو**

**سهار رڼا چې خپل فیسبوک خلاص کړ دې خلکو مینه یې ولیده یونیم لک لایکونه یې ولیدل، کمنټونو کې یې دې ولس مینه ولیده نو له ډېرې خوښی یې په سترګو کې اوښکې راغلې دوهم پوست یې هم وکړ ویې لیکل په ریښتیا چې تاسې زما ورونه، وریرونه خویندې یاست، زه اوس پوه شوم چې زمور د هېواد وکړي سخت احسان منونکي دي، که په ریښتوني څوک ورته څه وکړي نه یې هیروي بیا یې دې خپل واده دې مراسمو ځای، وخت او ادرس هم ولیکه**

**شاپور یې راوغوښت هغه ته یې وویل:**

**وژنیه !**

**ما خو خپل خپلوان راوغوښتل هغه ځواب ورکړ چې نږدې دوه سوه خو به وي رڼا یې په خبره وخندل بیا یې ورته وویل:**

**نږدې پنځوس زره دي !**

**شاپور : دا دې ټوکو وخت دی ؟**

**رڼا : زه ټوکې نه کوم ایا دومره خلکوته تیاری نیولی شې کنه !**

**هغه وویل:**

**تیاری نیولی شم خو پنځوس زره خلك دي څوك؟**

**رڼا ورته خپل د فیسبوك پوست ښکاره کړ بیا یې ورته وویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کمنټونو لیکونکو پنځوس زرو ټولو ژمنه کړې چې مونږ در ځو نو ما هم ښه پوخ ادرس ورته ولیکه مال ځه چې شاپور خپه نشي هسې هم زما دې کورنۍ دې رابللو ارمانجن ؤ**

**شاپور : نو هوټل کې دا خلک نه ځایږي، هوټل کې شاید لس زره خلک ځای شي باید بله چاره وکړو**

**رڼا وویل:**

**ته دې شل زور تابیه ونیسه ځنګ کې بل لوی هوټل هم شته نیم به هلته سمبال کړو فکر نه کوم له دې زیات شي هسې هم د فسبوک ژمنې دي کیدای شي ټول رانه شي.**

**شاپور : اوکه رانشي ؟**

**رڼا : او که راشي؟**

**شاپور: ښه ځه که رانشي لګښت به یې ته ورکوې ځکه چې زما بې ځایه لګښت نه خوښیږي رڼا یې په خبره وخندل هغه ته یې وویل:**

**ولې تا خو ویل زه دې تا لپاره هرڅه کوم اوس نو ولې ؟**

**شاپور : زه درته هر څه کولی شم، هیڅ منکر نه یم ته خو دوه هوټلونه ښیې لس هم نیسم، ستا هر کس ته هم ځان ته هوټل نیسم**

**رڼا ورته وویل:**

**ماته دې ازموینه راکړې، ته چې هر څه وایې دې عمل ځواک یې هم لري**

**دې رڼا دې واده ورځ راورسېده، رڼا خپلو هم مسلکو پیغلو په منځ کې کینه وله ،دې واده جوړې د انتخاب او نورو اړینو موضوع ګانو لپاره یې ترې رایه وغوښته هغې وویل شاپور هوټل ته ټول وړاندیزونه لیږلي هر څه هلته تر سره کیږی، خو یو شی ترې کم کړي هغه دا چې زه سینګارتون ته نه ځم هغوی ورته وویل:**

**لامل یې ؟**

**رڼا : دې لامل پوښتنه مه کوئ، هغوی وخندل بیا یې وویل:**

**مونږ یې په لامل پوهیږو ته په خپله ښکلا باور لرې، او باید چې ویې لرې، ځکه چې ښکلي خلک په هر حال کې ښکلي ښکاري، سینګار خو بدرنګو ته په کار وي همداسې نده رڼا ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا : په ژوند مې سينګار ندی کړی، ناوې ته په کاروی چې سينګار وکړي، هغه کـه ښکلې وي يا نه خو زما زړه زور نه اخلي او په دې اړه هيله ده چې تاسې ټينګار ونه کړئ.

دې رڼا ملګرو ووېل:

سمه ده مور ټينګار نه کوو خو ته ځان چمتو کوه خپل اطاق ته لاړه شه يـو سـاعت پاتې ده چې بايد هوټل ته لاړ شوو،

رڼا : سمه ده زما چمتو والی ډېر وخت نه نيسي زه په ټاکلي وخت تلو ته چمتو کېږم رڼا خپل اطاق ته لاړه غسل يې وکړ بيا يې دوه رکعته لمونځ وکړ بيا يـې خپلـې مـور خور او کورنۍ لپاره د ښېلو دعا وغوښته، دې مړې مور سره پـه خيـالي خـبرو کـې بوخته شوه هغې ته يې ووېل:

مورې، ولې دې يوازې پرېښودم، اوس به ماته څوک دعـا راکـوي څـوک بـه دې خدای پاماني دود تر سره کوي، څوک به مـې پـه سر لاس راکشـوي، زمـا خـوږې نازولې خورې څرنګه دې زما واده يو ارمان ؤ ويل به دې په واده کې به دې ډېـرې سندرې وکړم، ډېر به ووياړم چې زما دې ښاپيرۍ په څېر خور دې نـاوې تـوب پـه جامه کې ووينم

هو دا هيله دې تر سره نه شوه زما واده ده او ته دې تورو خاورو لاندې يې، خو ځه ستاسې مړينه دې سلګونو بې وزلو دې ژوند لامل شوه زرګونو خلکو ته پـرې نجـات ورکړل شو، دې سمون لپاره ستاسې شهادت يو ديوال او تهداب کيښود

خدای دې هر چاته داسې مرګ ورکوي، چې دې نورو لپاره قربان شي، خدای ج دې زما هم داسې مرګ په نصيب کړي چې دې نورو لپاره قربان شـم خـو زمـا پـه مرګ نور وژغورل شي

وروسته يې په مخ سپين رغوی او قلمي ګوتې را کش کړې، پاڅيـده او دې نـاوې توب جامې يې واغوستې، يوازنی سينګار يې داؤ چې اينـې تـه ودريـده او خپلـې بادامي تورو سترګو ته يې يوه، يوه سلايې ورکړه

په دې وخت کې شاپور ورته دروازه راوټکوله غږ يـې وکـړ رڼـا دروازه خلاصـه کـړه شاپور چې هغه وليده زبون وهلی شوو ژبه يې له ويلو پاتې شوه يوازې د ګونګي په ډول يې ښکته اوپورته ورته کتل دې هغې په کتو نه مړيده، رڼا ورته ووېـل شـاپوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خير خو ؤ څرنګه دې هرڅه پريښوده او دلته راغلې شاپور يې خبرې نه اوريدې بس خپلې سترګې يې د هغې په ښکلې څېره کې ټومبلې وې
رڼا اړه شوه چې د هغه په اوږه لاس کيږدي هغه وښوروي، له داسې کولو سره شاپور خپلې اوږې ته وکتل بيا يې رڼا ته وکتل رڼا ته يې وويل:
رڼا ته خو بل رقم شوې يې رڼا مسکۍ شوه هغه ته يې وويل:
ته زما دې خبرې ځواب راکړه کارونه دې ټول پريښي ته دلته راغلې هغه وويل:
ژر کوه چې د هوټل واله زنګ کړی ؤ ويلې چې تاسې خو واده ته ټول افغانستان راغوښتی ژر راشئ دا خلك سمبال کړئ
هوټل وال دا هم وويل:
ټولو ډالۍ راوړې په لاسونو کې ورسره ګلان دي قطار، قطار ولاړ دي تاسې ته انتظار کوي
رڼا : شاپوره ژر کوه چې ميلمانه خفه نشي زه چمتو يم خو موټر دې راوستلی هغه وويل:
ستاسې يوې ځانګړی مينه والې ډير قيمتي موټر سينګار کړی دې دروازې مخکې ولاړ دی هغه مېرمن هم پکې دی تاته منتظره ده هله زر کوه چې ځو رڼا ورته وويل:
ما مه وراخطا کوه زه چمتو يم ته دروځه زه هم درغلم دوی موټر کې سپاره شول او لنډ مهال وورسته هوټل ته ورسېدل رڼا او شاپور د خلکو په ليدو حق حيران شول لکه يو ملي محبوب مشر چې دې هېواد د خلکو په زړه کې ځای لري دې رڼا واده ته خلك په کتلوي ډول راټول شوي ؤ
رڼا دې هغوی په ليدو دې خوښی اوښکې تويولې، ځوانان او پيغلې لکه ترږې للمه چې دباران شيبې شماري دې رڼا راتګ ته په تمه ؤ شاپور او رڼا دواړه له موټره ښکته شول د خلکو ځوك او شور حيرانوکی ؤ، څو شيبې چاپيريال چکچکو او د لاسونو پړکا غړونه تت کړي ؤ خويندو او ورونو دې رڼا په لاره کې د هغې قدمو ته ګلان شيندل رڼا هم ټولو ته په خپل زړه دې درناوي لاسونه ايښي ؤ
سړکونه تړل شوي ؤ ځکه چې نږدې کوڅې او ميدانونه او لارې له راغلو خلکو ډکې وې، رڼا دې ته دې درناوي په موخه دې ولاړو خلکو سر ته ورسېده هغې انجلۍ چې رڼا ته يې موټر ګل پوش کړی ؤ رڼا ودروله ،دې جوړ شوي دريځ( ستج) مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته يې ورته دې لاس په اشاره د تلو بلنه ورکړه رڼا دې دريځ مخې ته ودريده ځکه نجلۍ غوښتل راغلو ميلمنو ته څه ووايې بيا خپله رڼا ته دې خبرو موقع ورکړي

هغې د دريځ مخکې خبرې پيل کړې ويې ويل:

نن زموږ دې يوې داسې خواخوږې واده ده چې موږ يې لکه د کورنۍ غړي داسې پاللي يو، دامېرمن رڼا نوميږي، رڼا زموږ د حقونو لپاره مبارزه پيل کړه د هر غدار، فاسد، غله او وطن پلورونکي په ړواندې ودريده، هغوی، څو وارې د رڼا دې وژلو قصد وکړ خو رڼا زموږ لپاره د خپل ژوند په کيسه کې نشوه مبارزې ته يې دوام ورکړ ظالمانو ورته مور ووژله، خو دې هغې اراده يې بدله نه کړه، ورور او خور يې ورته په بم ټوټه ټوټه کړل دې پيښې ځای خلکويې غوښې په څادرو کې راټولې کړې رڼا دغه ظلم په غړيدلو سترګو وليده خو خپله لاره يې بدله نه کړه هماغسې لکه غر د خپل هدف لپاره ولاړه وه ،رڼا بله پيغله خور له لاسه ورکړه ګنا يې دا وه چې رڼا ولې دې اولس حقونه غواړي په دې کار سره يې هم دې رڼا عزم کمزوری نه کړ

اوس دې خپل کور يو غړی نه لري چې د هغې سره د هغې د واد مراسم ولمانځي هغې دا ټول زموږ لپاره وکړل، د خپلو خلکو لپاره يې تر سره کړل د خپل هېواد سره دې مينې لپاره يې تر سره کړل

د رڼا ددې خبرو په اوريدو دخلکو چکچکو د اسمان فضا نيولې وه ځينو خو يې همت ته سلامونه کول او ځينو خو يې مظلوميت او قربانيو ته ژړل

وروسته رڼا ته موقع ورکړل شوه

هغې خلکو ته خبرې پيل کړې ويې ويل:

زما دې هېواد د ژوند له مصؤونيته او له حقونو بې برخې ولسه!

زه به کله داسې الفاظ پيدا کړم چې نننۍ ستاسې راکړل شوې مينه پرې وستايم، هيله ده ما وبښئ ستاسې د تعريف دپار ماسره الفاظ نشته ما فکر کاؤ چې نن د واده ورځ به مې دې موراو خويندو او کوچنی ورور پرته ډېره سخته رابانـدې تمامه شي ځکه هغوی له ډېرو ارمانونو سره ظاليمانو له خاورولاندې کړل

خو تاسې په خپل راتګ سره زما دغه دردونه ټول رانه واخيستل، ما نه مو دغه درانه غمونه هير کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه مو ډاډه کړم چې ما ستاسې حق یو څه اداکړی ده زما دې اوړو بار کم شوی دی ځکه چې تاسې موږ ځوان نسل باندې خورا زیات حقونه لرئ**

**ستاسې راتګ ماته یو بل درس هم راکړ هغه دا چې زموږ ولس احسان پراموشه نه دی، هغه د خپلو خلکو چې د زړه له تله ورته خدمت کوي نه هیروي، هغوی ته دې سترګو په لیمو کې ځای ورکوي**

**کاشکې زما سل ځله مرګ وایې او هر ځل ستاسې د حقونو لپاره مړه شوی وایې زما ژوند درنه ځار، زما کورنی درنه ځار او زما مال او وینه درنه ځار شه !**

**رڼا خبرې ختمې کړې بیا یې په خواکې ملګرې خلکو ته وویل !**

**موږ یو ځل بیا دې تاسې له راتګ او ډالیو مننه کوو هغه ورونو چې ډالی راوړې دوه لوی موټر ولاړ دي هلته یې تسلیم کړئ**

**خلک هلته وخوځیدل لا نیم ساعت نه ؤ پوره شوی چې موټر رڼا ته دې کالیو، څپلیو ساعتونو، او دې سرو زرو له غوړوالیو ډک شو**

**رڼا له دوی مننه وکړه**

**او بیا هغه تالار ته ننوته چې دې ناوې لپاره جوړ شوی ؤ د خپل تخت سره ودریده مېرمنو ورته ګلان راوړل ډالی یې ورکولې د دوی په قطار کې یوه حجاب لرونکې مېرمن هم ؤ چې قطار کې ولاړه وه نوبت یې راورسیده له مخ یې نقاب لرې کړ رڼا وکتل چې نارینه دی، په لاس کې ګل دسته یې د هغې پښو ته وغورځوله، په بل لاس یې له جیبه تمانچه راوباسله مخامخ یې دې رڼا سینې ته ونیوله هغې ته یې وویل:**

**تا دې ډیرو معزیزینو په عزت باندې لوبې وکړې او له دې لارې شهرت ته ورسیدې خو نوره موقع نه درکوم چې دې عزت مندو عزت له پښولاندې کړې، زما پلار دې پرون په تلویزون وښود چې غصب یې کړی هغه روسانو ته ماتې ورکړې، هغه ستر قوت مات کړی هغه دا هېواد ازاد کړی دې هغه له برکته ته اوس دلته بک بک کوې، تا لږ هم دهغه دعزت خیال ونه ساته**

**رڼا هغه ته وویل:**

**ورورە دلته ننداره مه جوړه وه ستا پلار سمه ده چې ددې هېواد پاره مبارزه کړې ده خو د هغه د خلکو دې جایداد سره څه ؟چې ترې غصب کړی یې ده، مبارزه خو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دخدای ج لپاره او د هېواد لپاره کړې ددې لپاره خـو يـې نـده کـړې چـې د کونډې يتيم او بيت المال ځمکه غصب کړي

سړی نور هم په غوصه شو

دې هغې سينې ته يې دې تمانچې ميل برابر کړ تالار کې مېرمنو چيغې کړې رڼا دې وسله وال د تمانچې ميل ته لاس ورواچاؤ ميل لاس ته ورغی خو هغه په ماشه گوتـه نيولې وه تمانچه فير شوه مخامخ يوه پيغله ولگيده تالار کې چيغې نورې هم زيـاتې شوې

وسله وال وارخطاشو په رڼا کې يې غصه ناکې سترگې وتومبلې هغې ته يې وويل:

زما دې پلار له عزته ستا ژوند سل ځله صدقه شـه، ځـه نـوره دوزخ تـه، دې هغـې سينې ته يې تمانچه سيخه کړه څو مرمی دې رڼا له سينې ووتې

له پنځومرميو سره رڼا له ديـوال سره سريښ کيـده خـو دې ولاړې تـوان يـې لاره شپږمه يې دې زړه له کوره تېره شـوه هغـه دننگـه چنـار ونـه راپريوتـه پـه ځمکـه وغورځيده سپينې دې ناوی جامې يې لکه دې گلاپو پاڼې چې پـه واوره غوړيـدلې وي رنگ واخيست

غټې غټې سترگې يې خلاصې پاتې شوې

وسله وال دې رڼا په ويشتو لکه کالبوت پاتې شوه لاسونه يې نور شل شول تمانچه يې په لاس کې پاتې شوه له غږه ووت مېرمنې راغلې وسله يې ترې واخيسته څاپيړې او سوکان يې ورته بند کړل ويې غورځاؤ له پښو يې لاندې دې لغتو ځای پرې نه کيده ساتونکې هم راورسېدل هغوی لکه گونگيان او کاڼه نه پوهيدل څه شوي او څه بايد وکړي په دې وخت کې يوې خبريالې شاپور ته زنگ وواهه

ورته ويې ويل:

په بيړه راشه، شاپور ځواب ورکړ خير خو دی هغې وويل:

ژر راشه دلته هيڅ هم سم ندي

دې خدای ج لپاره راشه رڼا چا وويشته

شاپور د خلکو ډالی په لاس کې نيولې وې هغه ددې غږ په اوريـدو سره پـه ځمکـه ترې ولويدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مېرمنو دې تالار په لورپه منډو شو لنډه شيبه دې رڼا مخــې تــه ودريــده هغــې تورې غټې ، سترګې پټې کړې وي دې ناوې توب ګيډۍ ، ګيډې کميس يې خواوشا پروت ؤ له غړ لويدلې وه

شاپور يې سرته کېناست دې هغې سر يې له ځمکې راپورته کړ په خپل زنګــون يــې کېښود چغې يې کړې ساندې يې پيل کړې

اې خدايه خو بدبخته شومه

رڼا مې لکه چې له نړۍ ارمانونو سره وکوچيده په خوا کې يې دې اوبو ګيلاس ايښی ؤ دې هغې څاڅکي يې د رنا پر مخ وپاشل بيا يې يوه سوې چيغه لـه خـولې ووتـه ويې ويل وخدايه لکه چې رڼا ګله مې دې تل لپاره له لاسه ووته ، وظالمـانو زمـا رڼـا څه ګناکړې وه دې شاپور اوښکې لکه بـاران روانــې وې څــو يــې دې رڼـا پــه مـخ ولويدې له دې سره دې رڼا سترګې په حرکت راغلې شـاپور کـې يــې نيمــه لــوځې سترګې په زيړ زبيښلې مخ سره ونيوې هغه ته يې وويل:

شاپوره مه وارخطا کيږه ، ولې ټول نه مرو ، شکر وباســه چــې د خلکــو د حقونــو دې ترلاسه کولو لپاره مرم نه دا چې دې مظلومو د حقونو دې خوړلو لپـاره اخيــرت لــه پليتيو ډکوم

په نکريزو سينګار شوي لاس يې دې لومړي ځل دپاره دې شاپور لاس ونيو هغه تــه يې وويل نړۍ څومره له ارمانونو سره ده ،هيلې پکې نه بشپړې کيږي ،اوس مې دې اولس په څنګ کې ته هم يوه هيله وې چې يو ځـای مــې ژونـد درسره کـړی وای ،خو قسمت وګوره ،څه کانې کوي ،شاپوره جانه ما وبښه ستا په وړاندې مې ډيره بې انصافي کړې ته مې ازار کړی يې تاته مې غمونه درکـړي ســتا پــه ريښــتينولې مــې شکونه کړي دي ،ته مې تل بې ځايه څورولی يې ،سره ددې چې زه دې بښلو نه يم ،خو ستا لوی زړه او نرم ميراج هيله مندي راکوي ، دې رسنيز مرکز ټولـوملګرو تــه مې سلام وايه بيا ورته ووايه زما روح که خوشحاله ساتل غواړی نو زما لاره کـه درتــه مناسب مالومېده هغه تعقيب کړې

او بل هغه ډالی چې دې واده لپاره ميلمنو راوړې دي،هغه بې سرپرسته کورنيو تــه ورکړه ، ټولې په يتم خانو باندې وويشۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوبله وروستی خبره له دې سره دې رڼا ژبه ودریده یوه وړه سلگی یې وکړه  ښی لورته یې ورمیږ تاؤ شو**

**پای**

**پکتیا**

**۱/۲/۱۳۹۷**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**